

Ketabton.com

# د اقتصاد لکچرنوټونې

د هغو کسانو لپاره بنه لاربنود چې غواړي، په ماسترۍ امتحان کې کامیاب او یا د اقتصاد په یو څه ماهیت ځان پوهول غواړي.

JULY 28, 2022
WWW.YAREDUCATIONALCOMPANY.COM
Afghanistan,Nangarhar,Chaparhar,Dawlatzai

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحیم

http://photoshop20.ir

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


فهرست........ 2
د پيل خبرې........ 3
ډالی........ 4
مننلیک........ 5
د اقتصاد عمومي معلومات........ 6
کاروبار پيژندنه........ 7
کوچنی اقتصاد........ 7
لوی اقتصاد........ 22
عامه اقتصاد........ 29
احتمالات........ 34
د بشري منابعو مديريت........ 35
منطقوي (سيميز)اقتصاد........ 51
تهيه او تدارکات........ 58
بررسي او کنټرول........ 62
ستراتيژيک مديريت........ 68
تمويل........ 75
مالي محاسبه........ 82
مالي مديريت........ 103
کويک بوکسquick books........ 109
د مصارفو سنجش........ 110
اقتصادي سياستونه........ 113
د عامه مالي چارو بنسټونه........ 125
احصايه........ 137
نړيوال اقتصاد........ 142
د نړيوال اقتصاد دوهمه برخه........ 147
اسلامي اقتصاد........ 156
بريښنايي تجارت........ 156
عامه بودجه........ 166
بودجوي سياست........ 180
بودجوي سياست بله يعني دوهمه برخه په لنډه توګه........ 186
مارکيټينګ (بازارموندنه)........ 190
پولي(پيسو) اقتصاد........ 200
سټندرډ........ 206
د اقتصادي پرمختيا تيوري........ 211
پانګه اچونه........ 221
منجمنټ(مديريت)........ 223
اداره........ 234
بانکداري........ 236
د تشبثاتو مديريت........ 242
د څيرنې ميتودولوژي........ 251

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پیل خبرې

ددې لیکنې لیکل مې د شوق او ضرورت له امله وه په دې معنا چې شوق مې داوه غوښتل مې یو اثر ولیکم او ضرورت مې داوه چې هیله مې درلوده چې کله مې اړتیا پیداشي چې زه په خپل بخش کې یو موضوع وپلټم نو باید چې نژدې او په خپل موبایل یا کمپیوټر کې په اسانۍ سره یې پیداکړم ، انګیزه یې داوه چې یوه ورځ ما یو امتحان لپاره څه خلص نقاط د کتاب نه راټول کړې وه ، نو هغه مې یو ټولګیوال ته وښودل هغه راته وویل دا د ځان سره ساته په راتلونکې کې به دې په کار شي نوماهم داسې وکړل او د هرکتاب نه به مې چې خلص نقاط اخیستل هغه به مې په یو څو ورقو کې رالنډول او دامتحان لپاره به مې لوستل او ددې کتاب نوم ځکه (د اقتصاد لکچر نوټې) ایښودل شوی دی چې ددې کتاب زیاتره برخې د استادانو لکچرنوټې دي . هره لیکنه کمی لري دا چې انسان فطرتا کمزوری پیدا شوی دی نو له مخکې یې بخښنه غواړم او له تاسو هیله چې د لابښه والي لپاره یې رانه مشورې ونه سپموی.

په درنښت یارمحمد شیرزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

ګرانې نیا جانې، او خپلو خوږو زیارکښو، مینه پالو ، او مهربانه والدینو(مور او پلار) ته مې چې د ژوند په هیڅ سختۍ کې یې یواځې نه یم پرېښی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننلیک

مننه کوم له درنو: ورونو، خویندو، ملګرو او دوستانو چې د کتاب چمتو کولو په وخت کې يې لازمې لارښوونې رانه ونه سپمولې .

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د اقتصاد عمومي معلومات

اقتصاد د انساني ژوند سره سم رامنځ ته شوی دی که وګورو هیڅ انسان حتی حیوان هم نه شي کولای بغیر د غذا څخه ژوندی پاتې شي، نو کله چې غذا (خواړه) ترلاسه کوو نو کار ته اړتیا لرو او کار د اقتصاد د علم یوه اهمه موضوع ده، نو ویلای شو چې اقتصاد د ژوند سره سم پیدا شوی .د اقتصاد علم په ټوله کې په دې بحث کوي چې څنګه د محدودو منابعو ځینې لامحدودې اړتیاوې پوره کړو او څنګه کولای شو په ټولنه کې ټولنیزه رفاه، مساوات، د عاید عادلانه ویش، اوداسې نور په درست ډول برابرکړو .

لاندې د ځینو مشهورو اقتصاد پوهانو نومونه ذکر کوم :

Warlus, Karl Markx, J.S. Mill, malthus, Ricardo, Pigou, Jevons, pareto, Marshal, Bawerk, Tinbergen, Hicks, Robbins, Keynes, Schumpeter, Artherlewis, Tobin, Leontief, Kuzentes, Kindle Berger Milton Friedman, Rabertlucas, Stiglitz, Solow, Samuelson, Robert aumann, J. Stigler Nash, Stiglitz, Vernon smith, Amartyakumarsen, todaro, Granger, M.S. Sholes. Paul Krugman Robert Mundell, Schelling.

# کاروبار پیژندنه




په کاروبار پيژندنه کې په دغه پورته مسايلو بحث کيږي چې دا ټول بیا په راتلونکو مضامينو کې راځي دلته يي نه ذکر کوم .

# کوچنی اقتصاد

کوچني اقتصاد د کوچنيو مسايلو په اړه څيړنه کوي لکه د افرادو، د تصدیو او کورنيو په اړ وند. تقاضا اوعرضه : تقاضا د یوجنس دغوښتلو او د هغه د تاديي له توانايي څخه عبارت ده په عادي ډول کله چې قيمت ټيټ وي خلک زيات شيان اخلي او کله چې قيمت لوړوي خلک لږ شـــيان اخلي په دې خاطر د قيمت او تقاضـــا دمقدار ترمنځ معکوســـه رابطه ليدله کيږي اودغه ارتباط ته د تقاضـــا قانون وايي .عرضـــه د یو جنس هغه مقدار چې توليدونکي يا خرڅونکي ددې رضـــایت ولري چې په مختلفو قيمتونو يې په خرڅلاو ورســـوي. په عادي توګه که قيمتونه پورته لاړشـــي توليدونکي غواړي چې زيات شـــيان خرڅ کړي عرضـــه له قيمت سره مثبت ارتباط لري.اقتصادي ماډل: اقتصاد پوهان څېل مطالعات داقتصادي ماډلونو په واسطه تنظيموي، اقتصادي ماډل ديو حقيقي حالت څرګند تصوير دی په کوم کې چې ډير مهم عوامل يامتحولين د مطالعې لپاره انتخابيږي .،اوله نورو څخه صـــرف نظر کوو.لکه په بازار کې دجنس لپاره تقاضا شايد دډيرو عواملو په واسطه متاثره شي (په زياته يا کمه اندازه متاثره شـــي)خو دځيلي مطالعې دممکن کيدو په خاطر دافرض کوو چې قيمت ډير مهم عامل دی چې تقاضـــا مقدار تعينوي . نور عوامل لکه عايد ثابت پاتې کيږي يا کم تاثيرات لري چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دصـــــرف نظر وړ وي،دبـازارد تقـاضـــــا دغـه څرګنـد تصــــوير تـه دتقـاضــــــا مـاډل وايي.Abstractionخيالات: اقتصـــــادي تيوريګاني ټول خيالات دي ، فکري وجود لري او دژوند مکمل واقعي حالات نه ښـــيي، خيالات تيوريګاني نه اغيزمنوي.حقيقت ډيرپيچلی دی معنا لرونکې نتايج تري ترلاســـه کړو . دخيالاتو په مرســـته دغير اقتصـــادي او نامربوطه حقايقو دلري کولو په واسطه تشريحات کموو. اوپه دې توانيږو چې دژواندانه له مغلقو حقيقي حالاتو څخه له مانا ډکه پوهه حاصـله کړو.فرضـيات : داقتصـاد دعلم دمطالعې يو مهم بخش دی .دحالاتو داســانۍ اوپوهې په خاطر اقتصـــاد پوهان ځينې فرضـــيات رامنځ ته کوي چې عوامل داســـې فرض کيږي چې نه خو تغيريږي اويا دمطالعې لاندې مســـلط باندې کم تاثير لري. همدارنګه شامل عوامل داسې فرض کيږی چې په مشخصه لاره کې رفتار وکړي.مثلا ديوجنس لپاره تقاضـا دزياتو عواملو په واسـطه متاثره کيږي، مګر دمطالعې دممکن کيدو په خاطر داسې عوامل فرض کووچې تقاضا په مقدار کې تغييرات يواځې دقيمت له وجې رامنځ تــه کيږي او نورعوامـل ثـابـت او يـا کم تـاثيرلرونکي فرض کيږي. کلي نتيجـه : Generalizationکلي نتيجه هغه بيان يا وضعيت څخه عبارت دی چې يوه مشخصه مطالعه په عامه اصـطلاحاتو کې وښـودله شـي. نودغه داسـې نورو ورته حالاتو ته هم تطبيق کيدای شـــي. زمونږ دژوند دزياتو مشـــکلاتو لپاره په انســـاني ډول ناممکنه ده چې په هغه وخت کې چې حادثه پيښـــيږي مطالعه او مشـــاهده شـــي. نو يواځې څو حالتونه (چې نمونه ورته ويلای شـو)وروسته بيا دغه اصـول په عامه بيانيو کې تنظيم کيږي، چې ټولو داسـې ورته حالاتو ته تطبيق کيدای شي.اقتصادeconomyيا اقتصادي وضعيت:اقتصاديو توليز سيستم دی چې په کې اقتصــادي فعاليتونه په کارلويدلي وي . همدارنګه په يوې مشــخصــې ســاحې يا هيواد کې داقتصـادي فعاليتونو مجموعې سره تړاولري.اقتصـادي فعاليتونه د اجناسو اوخدماتو توليدولو او مصـــــرفولو پورې مرتبط دي.کله چې اقتصـــــاد په خراب يا ښـــــه حالت کې توضـــيح کوو داداقتصـادي حالت مفهوم ارايه کوي يعنې ښـه يا بد اقتصـادي حالت.دغه سـاحه شـايد په هره اندازه وي او هرڅومره خلک په کې شـــامل وي په دې اســـاس دمحلي اقتصـــاد ،(کلي)يا ملي چې ټول هيواد احاطه کوي(دافغانستان اقتصاد) يا دنړۍ اقتصاد چې دنړۍ اقتصاد چې دنړۍ ټول هيوادونـه پـه کې شـــــامل دي،څخـه خبره کوي.چې نورشـــيـان ثـابـت وي ceteris paribus:اقتصـــــاد پوهان دنورو ســــاينس پوهانو په څير غواړي چې مطالعات يې ســـــاده اودکنترول وړواوســـې دوی غواړي چې له اشـــتباهاتو څخه مخنيوی وکړي او ګټوره پوهه حاصـــله کړي . دوی په يو څو شـــيانو تمرکز کوي او د other things being equal يا ceteris paribusيا other things constantفرضـيه قبلوي چې مفهوم يې که نور شـيان ثابت پاتې شـــي يانورشـيان ثابت وي څخه عبارت دی.داپه دې معنا چې اقتصـــاد پوهان ټول متحولين لـه هغـه يوڅخـه پرتـه چې ترمطـالعې لانـدې وي ثـابـت فرض کوي. مثلا،کلـه چې دخلکو داخيستلو دسلوک په باره کې حالات تحليلوي داسـې فرض کوي چې يواځې قيمت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدار تغییر کوي په داسـي حال کې چې مسـتهلک عاید، ذوقونه اودنوروشـیانو قیمتونه چې نورشـــیان ورته ویل کیږي تغییرنه کوي. په یاد ولرئ چې ســـاینس پوهان په فزیک،کیمیا، اوداســې نورکې نورعوامل ثابت ســاتي، مګر اقتصــاد پوهان یواځې نورعوامل ثابت فرض کوي کله چې یو فزیک پوه وغواړي چې دګاز په اندازه باندې دحرارت تاثیر مطالعه کړي فشـار ثابت سـاتي .غوښـتنې wants:داقتصـاد دعلم شـروع کیدونکې نقطه دانسـاني غوښـتنو مفهوم دی او دهغو شـــیانو او خدماتو دحاصـــلو څخه عبارت ده چې افاده ولري. غوښـــتنې مختلف اقسام لري لکه دغذا، سرپناه، کالیو او داسې نورولري،دغوښتنو دتسکین لپاره خلک باید کوښـــښ وکړی او یو څه فزیکي یا دماغي کاروکړي . دغوښـــتنو ډیره مهمه برخه ځانګړنه داده چې لامحدوده وي.مســـتهلکconsumer:هغه شـــخص چې دځپلو غوښـــتنو دمسـتقیم رضـایت لپاره اجناس یا خدمات اخلي مسـتهلک ورته ویل کیږي، کله چې په هیواد کې داجنـاســـولپـاره دتقـاضـــا څخـه خبره کیږي مســـتهلیکینو تـه کورنۍ هم ویلـه کیږي.firmتصدی(فابریکه)یو اقتصادي واحد دی چې دګټې دلاسته راوړلو په خاطر اجناس او خدمات تولیدوي اودتولید اوداجناسو دبازارموندنې په باره کې په کارکولو او تصمیم نیولو کې مستقل دی.قلت(کمبود)scarcity:قلت داقتصـاد دعلم یوه بنسـټیزه اصـطلاح ده او له هغه حالت څخه عبارت ده ، په کوم کې چې انســـاني غوښـــتنې ترموجوده منابعو زیاتې وي . دمنابعو قلت زمونږ دژوند یو تریخ حقیقت دی . ډیرکم شـیان چې خلک یې غواړي وړیا دي (لکه هوا). متداومه هڅو ته ضــرورت دی چې منابع پیدا او غوښـتنې پرې تســکین شــي . داقتصــاعلم داســي یوه مطالعه ده چې څرنګه خلک دکمو منابعودمؤثر اســتعمال په واســطه لامحدوده غوښتنې تسکین کړي.منابع resources:منابع هغه عوامل دي چې دهغو شیانو او خدماتو دتولید لپاره اســـتعمالیږي چې خلک یې غواړي. شـــیان او خدمات کم دي ځکه چې منابع کمې دي. منابع په څلوربخشونو ویشلې کیږي.۱-ځمکه : چې ټولې طبیعي منابع په کې شاملې دي لکه هوا، اوبه ،نباتات، اومنرالونه.۲-کار: چې انساني هڅې او ضروري مهارتونه په کې شامل دي چې دعملي استعمال لپاره په کې طبیعي منابع په کاریږي. ۳-پانګه : مخکې تولید شـوي شیان: په کې شـامل دي چې(دنوروشـیانو دتولید لپاره اسـتعمالیږي)لکه تعمیرات وســـایل ، او انســـاني مهارتونه.۴-دخلکو تشـــبثاتي توانایي او مدیریتي مهارتونه: دکومو په واســـطه چې دوی نورې منابع ترکیبوي چې ګټور اجناس تولید کړي .همدارنګه منابعو ته دتولید عوامل هم وایي.دمنابعو تخصیصallocation of resourcesدمختلفو مقاصدو لپاره دمنابعو اسـتعمال او توزیع ده . دبازار لوړ قیمت منابع دکم ارزښـت له اسـتعمال څخه دلوړ ارزښـت اسـتعمال ته جذبوي.اجناس اوخدماتGoods and services:هرهغه فزیکي شـــی چې خلک یې غواړي اسـتعمال کړي دجنس څخه عبارت دی. خدمات هغه انسـاني فعالیتونه دي چې دنورو خلکو غوښـتنې تسـکین کوي. کله چې خلک کارکوي دوی اجناس او خدمات تولیدوي.ثروتWealthهغه شیان یامنابع  چې دانساني غوښتنو دتسکین لپاره ضروري مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړيا نه وي ثروت بلل کيږي.تعادل equilibrium:ديوشـــي تعادل په دې معنا دی چې په اوســـني حالت کې يا خو تغير نه کوي اويا په يوه مقداراواندازه تغيير کوي په اقتصـــاد کې مونږ دغه لفظ بيابيا اســـتعمالوو .دبازار تعادل څخه مونږ هغه وخت خبري کوو کله چې دعرضـې او تقاضـا ځواکونه سـره مسـاوي او يو متعادل قيمت رامنځ ته شـي. اودمسـتهلک دتعادل څخه هغه وخت خبري کيږي کله چې مســـتهلک دخپل عايد څخه اعظمي تســـکين حاصـــل کړي او دخپل داخيســـتني دېلان دتغيير غوښـــتنه ونه لري. همدارنګه دfirmتعادل دملي عايد تعادل دپيسو بازار تعادل اونورتعادلونه وجود لري.فرصـتي مصـارف : داقتصـاد دعلم مرکزي اصـل: دمصـارفو دسـنجولو په وخت کې اقتصـاد پوهان دفرصـتي مصـرف مفهوم اســتعمالوي ديو شـــي فرصـــتي مصـــرف عبارت له هغه څه څخه دی چې ديو شـــي دحاصلولو په خاطر يي له لاسه ورکړي وي. دمنابعو دقلت له وجې خلک هرڅه چې غواړي لاس ته يي نه شـي راوړی ، نودوی بايد دانتخاب ياد تصـاميمو معامله وکړي چې يو مقصـد لاسته راوړي اوبل له لاسه ورکړي.که يو شخص په تعليم زياتې پيسې مصرفوي هغه بايد په کاليو لږې پيسې مصرف کړي اوهمدارنګه ټولنه هم داسې انتخاب کوي.په انګليسي ژبې کې اجناسو ته commodities هم استعماليږي اومختلف طبقه بندي لري دمثال په ډول داستعمال مطابق او دقلت مطابق وغيره.اســتهلاکي اجناس: هغه اجناس دي چې دانســـاني غوښـــتنو دتسکين لپاره په مستقيم ډول استعماليږي. دغه اجناس افاده لري او ډوډۍ ، موټر ، قلم اونور په کې شـــامليږي.توليدي يا ســـرمايوي اجناس: هغه اجناس دي چې دنورو اجناســـو دتوليد يادعايد دلاسـته راوړلو لپاره اسـتعماليږي . دسـرمايوي اجناسـو پرته کارګر ډيره لږه اندازه اجناس توليدولای شـــي دغه اجناس په درې ډوله دي ۱-خام مواد لکه فلزات لرګي نفت وغيره۲-نيمه توليد شوي اجناس(نيم کاره)لکه فولاد ، اوبدل شوي وړۍ اونور۳-توليد شوي اجناس(کارتمامه اجناس)لکه ماشـينري ، کمپيوټرونه اونور. اجناس دقلت په مفهوم سـره په لاندې ډول تقسيم شوي ۱-وړيا۲-اقتصادي. عامه اجناس او خصوصـي اجناس: عامه چې ټول خلک ورنه استفاده کولای شي او خصوصي چې ځوک تاديه کوي ورنه استفاده کولای شي او که نه ،نه شـي کولای چې اسـتفاده ترې وکړي.افاده: افاده ديو جنس يا خدمت هغه توانايي ده چې انســاني غوښــتنې ته تســکين ورکوي.لکه کله چې ترږی وي اوبه وڅکي تنده دي(يي) ماته شـــي دي ته افاده وايي يعنې دده لپاره افاده لري او قلم دهغه چا لپاره افاد ه لري چې دليکلو غوښتنه ولري .اقتصـاد تعريفات:کلاسيکه نظريه ...دثروت علم بنسټګر ددي علم ادم سميت دی۲-نيوکلاسيکه ....دمادي سوکالۍ علم نظريي يا علم بنسټګر الفرد مارشال دی۳ -اوســـنۍ نظريه... دقلت علم.دغه نظريه درابنز ده.هغه وايي(( اقتصــــاد هغه علم دی چې انسـاني رويه دغوښـتنو اوکمو منابعو ترمنځ ديوې رابطې په څير چې متبادل اسـتعمال ولري مطالعه کوي)) اقتصاد علم يو لوی علم دی چې زياتې څانګې لري په هرحال اقتصاد په دوو اســاسـي برخو ويشـل شـوی چې جزوي (کوچنی اقتصـاد)او لوی اقتصـاد(کلي اقتصـاد)څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبارت دي. جزوي اقتصـاد: داقتصـادي سيستم دبرخو تحليل اوارزونه كوي. جزوي اقتصـاد داقتصادي كوچنيو برخو مطالعه اوارزونه كوي چې دمستهلک ، تصدئ او كاريګرانو درويو سـره په انفرادي يا ګروپي شـكل سـروكار لري . دغه واضـح كوي چې هغوئ څرنګه اقتصادي تصاميم نيسي او څنګه په ماركيټ كې متقابل عمل ترسره كوي اودځنګل په شان نه بلكه دونو په شـان مطالعه ده. دپروفيسـور بولډينګ bouldingله نظره جزوي اقتصـاد ديوې مشخصـې كارخانې ، مشخصـې كورنئ ، انفرادي قيمت، مزد، عايد اوصنعت مطالعه ده . جزوي اقتصـاد دقيمت تيوري په نوم هم يادېږي داځكه دبحث موضـوع يې داجناسـوپه قيمت پورې اوهمدارنګه مولدو منابعو پورې چې په ماركيټ كې عمل ترسـره كوي اړه لري.په كوچني اقتصـاد كې لاندې موضـوعات شـامل دي.۱-دمسـتهلک درويي تيوري:لكه دانسـاني غوښتنو ماهيت، دافادې قوانين ، اومصـرف كوونكي تقاضـا. ۲-دقيمت تيوري : په دې موضـوع كې دعرضـې اوتقاضـا دځواكونو متقابل اثر داجناسـو او عامليونوپه ماركيټ كې اودقيمت مشـخص كول په رقابتي اوانحصـاري ماركيټونو كې شـامل دي.۳-دتوليد تيوري : دتوليد مفهوم ، دتوليد عاملين ، دبيرته راګرځيدو قانون اودپانګې اودكارسـتونزې په كې شـامليږي.۴-دتصـدئ تيوري: دتصـديو انواع ، دتوليد مصـرف، عايد اود تصـدئ دقيمت ستراتيژي ترڅو څپله ګټه اعظمي حد ته ورسوي په كې شـامل دي.۵-دعايد دويش تيوري : په دې كې دتوليد دعواملو دقيمت ټاكلو اسـاسـات ، دكرايې مشـخص كول ، مزد سـود او ګټه شـامليږي.كلي اقتصـاد : اقتصـادي سيسـتم په كلي شـكل يا مجموعي مقدار سـره ترمطالعې لاندې نيسـي لكه ملي عوايد، مصـارف، داسـتخدام مجموعي سـطحه په يو هيواد كې او دقيمتونو مجموعي سطحه . په خلاصه ډول كلي اقتصاد لكه دځنګل څيړنه ده نه دونې . كلي اقتصاد دعايد تيوري په نوم هم يادېږي، په دې علت چې دكلي اقتصاد يوه لويه برخه په عايد كې تغيير اومشـخصـاتو سـره اړيكه لري . لاندې برخې په كلي اقتصـاد كې ترڅيړنې لاندې نيول كيږي. ۱-دعايد او اسـتخدام تيوري:دمثال په ډول دملي عايد دسـطحې مشـخص كول، اسـتخدام ، ملي پس انداز اوپانګه اچونه،كاروباري دوران اواقتصـادي وده. ۲-پيسـې او بانكداري : دمثال په ډول دپيسو دندې ، دپيسو عرضه اوتقاضا، دپيسو ارزښت، دسوداګريزو بانكونو دندې او دمركزي بانک پولي پاليسـې . ۳-عامه تمويل : لكه دحكومتي عوايدو اومصـارفو پاليسـې ، دمالياتو اسـاسـات، عامه قرضـونه او دحكومت بوديجه. ۴-نړيوال تجارت: لكه دنړيوال تجارت تيوريګانې ، دتجارت ګټې اوزيانونه، ديوهيواد دتادياتو بيلانس ، دپيسو دتبادلې نرخ، نړيوال سازمانونه لكه دپيسو وجهي صندوق، نړيوال بانک.داقتصـاد دعلم په مطالعه كې قياسي او استقرايي ميتودونه:ددوو طريقو داستعمال په واسطه يو اقتصاد پوه داقتصاد ځينې اړخونه مطالعه اوبنسټيز اقتصادي اصول اوقوانين رامنځ ته كولاى شي.
۱-قياسـي طريقه : په دې طريقه كې دقاعدې په څير ځينې اصـول وجود لري اودمنطقي دلايلو په واسـطه ځينې غير امتحان شـوي اصـول(چې فرضـيي ورته ويل كيږي) تري

(c) ketabton.com: The Digital Library

استخراجيږي. دغې پروسې ته ماډل جوړونه وايي دمثال په ډول داسې يو عام اوبنسټيز اصل دی چې خلک غواړي چې پيسې په ښه ډول استعمال کړي. له دې څخه دانتيجه اخيستلې (قياس کولای) شو کله چې قيمت ټيټ وي خلک دمجموعي افادې دزياتوالي په خاطر دهمدغه جنس زياته اندازه اخلي.دغه استنباط شوي اصل ته دتقاضا قانون ويل کيږي. غيري امتحان شوي اصل(فرضيه)مخکې تردې چې اقتصادي قانون وبلل شي بايد په تکراري او سيستماتيک ډول امتحان شي.۲-استقرايي ميتوديا inductive method: دغه ميتود له حقيقت څخه دتيوري په طرف انتقاليږي کله چې حقايق جمع او په سيستماتيک ډول تنظيم شی نوداممکن کيږي چې دمشاهده شويو حقايقو ترشا ځينې اصول وپيژندل شي دغو اصول ته په حقيقت کې عموميات ويل کيږي چې دمشاهدې شويو حقايقو ترمنځ دموجوده ارتباطاتو په اساس رامنځ ته شوي وي . کله چې يو اقتصادي اصل دټولو په واسطه ومنل شي او دحقايقو په مقابل کې وازمويل شي نوبيا ورته اقتصادي قانون ويل کيږيږ. دمثال په ډول کله چې دتوليد په پروسه کې کاريګر زيات شي مجموعي توليد په کميدونکې نرخ باندې زياتيږي نو دنهايي توليد په اړه په عمومي عبارت کې په دې ډول غږيږو چې که له يو مشخصې نقطې وروسته په کاروبار کې زيات کاريګر و؟؟؟نهايي توليد کميږي او دغه عبارت ته داقتصاد دعلم قانون ويل کيږي.دغه دواړه ميتودونه دپلټنې (څيړنې) تکميلوونکې تخنيکونه دي هغه فرضيې چې دقياسي ميتود په واسطه ترتيب شوي دي داقتصاد پوه لپاره دارقامو په جمع اوري اوددوی په سيستماتيک ترتيب تنظيم کې مرسته کوي له بل اړخه په حقيقي نړۍ کې دمشاهده شويو حقايقو لپاره په کارده چې په يوه تيوري کې تنظيم شي اوهغه تيوريګانې چې له حقيقت سره تړاوو ونه لري ښې تيوريګانې نه بلل کيږی.مثبت(حقيقي)اودستوري(هدايتي)اقتصاد: اقتصادي مطالعات مثبت اودستوري دوه اړخه لري مثبت اقتصاد له حقايقو اوددوی ترمنځ له ارتباطاتوسره لکه څرنګه چې وجود لري سروکارلري . دعلم الحقيقت په څير اقتصاد يواځې چې شيان څرنګه دي واضح کوي.مثبت(حقيقي)عبارتونه يواځې حقيقي معلومات ذکر کوي اودارزښتي تفاوتونو مخه نيسي لکه په افغانستان کې دکرنې په سکتور دبوختو کسانو فيصدي مخه په کميدو ده چې يو مثبت عبارت دی اوحقيقت ښايي.دستوري اقتصاد دارزښتي قضاوتونه اواقتصاد بايد داسې وي په باره کې شخصي نظريات استعمالوي يا دکومې مشخصې پاليسي سپارښتنه بايد وشي. چې دښه اويا بد اخلاقي پوښتنې په کې شاملې دي . کله چې له داسې پوښتنو لکه څه شی بايد ارومرو وشي، سره سروکارولري دغه ته دستوري ياهدايتي اقتصاد ويل کيږي. دمثال په ډول داپوښتنه چې داريي باندې ماليه وضع شي او که نه ددستوري اقتصاد لاندې راځي چې ترزياته حده پورې په ارزښتي قضاوت اوشخصي نظرياتو پورې تړاوولري.درابنز په څير اقتصاد پوهان اقتصاد ته يواځې دعلم الحقيقت ښه ورکوي چې څرنګه ددغه کمې منابع دانفرادي اشخاصو اوټولنو په واسطه دتخصيص سره ارتباط لري. که څه هم زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادپوهان له دې محدودې نظريي سره اختلاف لري دوی وايي چې اقتصاد دعلم الحقيقت او علم الهدايت دواړه بڼې لري. دوی په دې فکر دي چې اقتصـاد پوهان دانفرادي اشـخاصـو او دولتونو لپاره بايد دښې پاليسي توصيه او رهنمايي وکړي. دمثال په ډول اقتصاد په يواځې بايد دامطالعه نه کړي چې په خلکو باندې دماليي بار څرنګه کميږي بلکې له ده څخه ددې توقع هم کيږي چې ددې پيشنهاد وکړي چې په ثروتمندو باندې بايد دماليي لوړه اندازه وضـع شي.په خلص ډول ويلای شو چې : مثبت اقتصاد له مشاهده شوي اقتصاد سره سروکار لري اودسـتوري اقتصـاد له مطلوب اقتصـاد سـره سـروکارلري.مثبت اودسـتوري عبارتونه:مثبت عبارتونه دااقتصـــادي اړخونو په باره کې ليدونکې او دتايد اودرســيده ګی وړ حقايق دی هغه که صـــحيح اويا غلط هم وي. مثلا په افغانســـتان کې ٪۱۰ وزګارتيا وجود لري دايو مثبت عبارت دی ، دا کيدای شي چې صحيح او يا غلط وي مګر وزګارتيا ٪۱۰ ته درسيدلو وړده . دستوري اقتصـاد ذهني او ارزښتي قضـاوتونه ښـايي. دغه عبارتونو ته رسيده ګي په ځينو حالاتو کې ناممکنه وي اوهمدارنګه دتايد وړ هم نه وي .تيوريکي اوعملي اقتصـاد : بعضـي وخت اقتصاد په نظري يا تيوريکې اوعملي دوو برخو ويشل کيږی کله چې حقايق دمشخص شـکل دحلولو په ځای په اقتصـاد کې دفعاله بنسـټيزو اصـولو دمطالعې لپاره جمع اوري او تحليل شــي تيوريکې اقتصــاد بلل کيږي. له بلې خوا که يو مشـخص اقتصــادي مشـکل وجود ولري او دپاليســي دجوړولواو دمشــکل دحل لپاره معلومات جمع اوري شــي نودي ته عملي اقتصـــاد ويل کيږي.تجربوي مطالعه: تجربوي مطالعې څخه مرام، داحصــــايوي ميتودونو دتطبيق په واسطه دمشکل په باره کې دحقايقو او معلوماتو جمع اوري دی. وروسته له ساحې څخه دحقيقي ارقامو په اساس دمنطقي دلايلودتطبيق په واسطه نتايج ترلاسه کيږي. اقتصادي بنسټونه: اقتصـادي بنسټونه څخه مفهوم دقوانينو تاسيس يا اقتصـادي موضـوعاتو په باره کې دتمرين کولو څخه عبارت دی. بازارونه. بانکونه، کمپنۍ، کرنيز فارمونه،دمالي ســيســتم ، کارګرې اتحاديي ،دفابريکو سيستم، کورنۍ، زکات، اونور دااقتصـادي موسسـاتو (بنسټونو) مثالونه دي.کورنۍ ډيره مهمه اقتصــادي او ټولنيزه موســســه(بنســټ)ده. اقتصــادي بنسـټونه دهراقتصـادي سيستم يو بخش تشکيلوي.عملي طريقه: اقتصـاد ته ځکه عمل ويل کيږي چې دمطالعې علمي طريقه تعقيبوي دغه طريقه په يو تعداد مراحلوباندې مشــتمله ده:۱-دځينو بنســکارندو (پديدو)په باره کې دحقايقو مشـــاهده او دارقامو راټولونه۲-حقايق تحليل کيږی اوبيانيه ورته جوړيږي چې په ممکنه ډول دعلت اوتاثير ترمنځ دمشـاهده شـويو حقايقو ترمنځ اړيکه تشــريح کوي. ۳-دځينو وړاندويونې رامنځ ته کيږي اودپيښــو دپرتلې په اســاس دغه فرضيي منل کيږي، رد کيږي او يا بدلون په کې راوستل کيږي. آقتصاد دعلم او هنر په توګه : علم دپوهې سيستماتيکه تنه(وجود) دی. که اقتصـاد له دې تعريف سره پرتله کړو نوبې له شـکه چې اقتصـاد علم دی . اقتصـاد پوهان هم علمي طريقې اسـتعمالوي لکه څرنګه چې په فزيک ، کيميا، اونورو علومو کې اســـتعماليږي. دوی يو له بل ســـره په ارتباط کې حقايق

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطالعه کوي او کوښـــښ کوي چې ددوي ترمنځ دعلت اوتاثير اړيکه وپيژني اواقتصـــادي قوانين تنظيم کړي. که څه هم اقتصــــاد دراتلونکو پيښـــو په باره کې په خپلو قوانينو او وړاندوينو کې ځينې محدوديتونـه لري . قوانين يي دقيق نـه دي او وړاندوينې يي دکيميا، فزيک اونورو طبيعي علومو په څير صحيح نه وي اودغه اشتباه هم هغه وخت له منځه تللی شي که دغه په ياد ولرو چې علوم په دوه ډوله دي.طبيعي علوم ۲-ټولنيز علوم علوم په لاندې ډول هم طبقه بندي کيږي علم الحقيقت او علم الهدايت:علم الحقيقت يواځې(څه دي) واضــــح کوي يعنې په بې طرفه ډول حقايق لکه څرنګه چې وجود لري مطالعه کوي مثلاشـــايد دمختلفو اجناســـو اومختلفو خلکو لپاره دماليي دنرخ يو جدول وجودولري . او علم الهدايت وايي : چې څه شـی بايد څرنګه وي. يعنې په اقتصــادي حالاتو کې دصحيح او غلط په باره کې قضاوت کوي . که په هيواد کې دماليي دنرخ په باره کې معلومات ولرو شايد په ضعيفو نقاطو کې يي بحث وکړو اودېرمختګ لپاره يي ورته وړانديز وکړو. اقتصـــاد دهنر په توګه: هنر ديو مضمون عملي اړخ دی. لکه څرنګه چې په اقتصـــاد کې هم اوس اقتصـــاد پوهان په دې موافق دي چې دهنراړخ لري، اقتصــاد دقلت دســتونزې په شــاوخوا راڅرخي . کله چې خلک هرهغه څه چې غواړي ترلاســـه نه کړي نو انتخاب کوي اوتراوســـه خلک تصـــميم ته درسيدلو په خاطر شخصـي قضاوت استعمالوي . نواقتصاد هنر هم ګرځي. په همدې خاطر اقتصاد له طب سره پرتله کولای شو دطب يو شاګرد دامراضو اوددرملو په باره کې بنسټيز حقايق ذده کوي اووروســــتـه دډاکټر په څير دناروغانو په علاج کې خپلـه طبې پوهـه په کاراچوي. همدارنګه اقتصـاد پوه هم لومړی داقتصـاد دعلم اصـول ذده کوي او وروسته خپله ذده کړه دخلکو داقتصــــادي ســــتونزو دحل دپيداکولو لپاره په کاراچوي. وزګارتيا، غربت ، انفلاسيون، وروسته پاتې والی ، او نورې هغه ستونزې دي چې اقتصاد پوه بايد ورته حلونه وړاندې کړي نوځکه اقتصـــاد يواځې علم نه بلکې هنر هم دی . کله چې اقتصـــاد ته دعلم په نظر کتل کيږي نونســـبتا يو لږ تعداد اصـــول لري او که دهنرله اړخه ورته وکتل شــــي نوبياډيرمغلق دی. او ښــــه تصــــور ، توجه، اودنوروانســــاني علومو لکه ســــايکولوجي ، سوسيالوجي پوهې ته ضرورت لري چې اقتصـادي اصـول په کاميابه ډول تطبيق اودعملي سـتونزو لپارحلونه پيداکړي . مګر دايو مشـکل هنر دی چې داټول شـيان په صـحيح نسـبت استعمال او يوه ښه اقتصادي پاليسي تنظيم کړي نو اقتصاد پوهان يواځې دهنرپه اړخ کې يوله بل سره زيات اختلافونه لري. لکه څرنګه چې دډرامې يو ليکوال نادرشاه وايي چې که ټول اقتصـاد پوهان په څنګ په څنګ کيښـنې بيا به هم يوې نتيجې ته ونه رسيږي.اقتصـاد دعلم دڅيړنې ســــاحه : داقتصـــــاد ماهيت په باره کې دپوهې دزياتوالي لپاره بايد ددې مضـــــمون دڅيړنې ساحه وپيژنو . اصلي موضوع: اقتصاددانساني رويي مشخص اړخ چې دمنابعو له کمبود اونامحدوده غوښـــتنو څخه راولاړيږي مطالعه کوي. اقتصــــاد دمطلوب حد مطالعه ده جې دبهتر امکان په مانا ده. دمطلوب حد لپاره غوښتنه اقتصادي حالت بلل کيږي په لنډ ډول


(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلای شو چې اقتصاد له هغو تصمیمونو سره سروکار لري چې کوم اجناس باید تولید شي څرنګه په ډیر اقتصـــادي ډول تولید شـــي اودچا لپاره تولید شـــي(یعنې څرنګه توزیع شـــی)داقتصـــادي مطالعاتو لویې ســـاحې : پیســـې اوبانکداري، داخلي اوبهرنۍ ســـوداګري ، وزګارتیا، او انفلاســیون، قیمتونه، بازارونه، ملي عاید ، اقتصـــادي وده اوپرمختیا، دتصـدۍ عواید اومصـارف اوملي بودیجه داقتصـاد برخې دي داقتصـاد دعلم دڅیرنې سـاحه دهمیشـه لپاره ثابته نه وي، دوخت په تیریدو اودخلکو دټولنیز ژوند په بدلون ســـره نوې ســـاحې او موضوعات په اقتصاد کې شاملیږي.داقتصاد د مطالعې مرحلې : هغه میتودونه چې اقتصاد یي په خپلو مطالعاتو کې استعمالوي درې مرحلې لري.۱-داقتصادي ستونزو په هکله دحقایقو وضـاحت۲-دحقایقو تحلیل چې اســاســي اصــول رامنځ ته کړي۳-دســتونزې دحلولو لپاره دپالیســیو وړاندې کول له دغو دریو اقتصـــادي فعالیتونو څخه داقتصـــاد درې څانګې ظهور کوي.۱-تشریحي اقتصاد:۲-اقتصادي شننه یا اقتصادي تیوري۳-اقتصادي پالیسي (سیاست). تشـریحي اقتصـاد: اوسـنۍ نظریه داقتصـاد په اړه داده چې علم دی او ټول علوم عملي اړخ لري یعنې په حقایقو باندې بناوي. مګر اقتصـــاد یو ټولنیز علم دی او دانفرادي اشـــخاصـــو اوټولنو درویي سره چې داجناسو په تولید، تبادلې ، او مصـرف کې بوخت وي ارتباط لري. لکه څرنګه چې اقتصـــاد پوهان دغه انســـاني فعالیتونه واضـــح کوي په حقیقت کې ورته ضـــروت لرو . مګر هرمشـــکل په هکله دمعلوماتو رایوځای کولو او هغه څه چې غواړو مطالعه یي کړو یو اســـانه کار نه دی. حقیقي نړۍ ډیره پیچلې ده چې دیو بل ســـره په تړلي شــکل ډیرې پیښــې په کې وجود لري . اقتصــاد پوهان باید ډیر محتاط وســي او یواځې هغه حقایق انتخاب کړي چې ډیر مهم او تربحث لاندې مشـــکل ســـره ارتباط ولري لږ مهم اوغیرمربوطه معلومات باید له نظره وغورځوي ، کله چې حقایق دمخکې ټاکل شوي مقصد لپاره راټول او په سیستماتیکه طریقه یي مواد وړاندې شي نودامعنې ورکوي چې باید وویل شی چې دي ته تشریحې اقتصاد ویل کیږي.اقتصادي تیوري یا اقتصادي اصول: تیوریګانې او اصـــول حقایق مرتب اومعنا داره کوي. داقتصـــادي ســـتونزې په هکله یواځې دحقایقو راټولول اوړاندې کول کافي نه دي ،ددې په خاطر چې وګورو چې ددوي معنا څه ده اوددوي ترمنځ صـــحیح ارتباط وپیژنو نوتیوریګانو ته ضـــرورت پیښـــیږي. Boulding له نظره ((تیوریګانې له حقایقو پرته بې ډوله اوبې ګټې وي او حقایق له تیوریګانو پرته بې مفهومه اوبې معنا وي)) لومړی اقتصـاد پوه په مشـاهد ه شویو حقایقو کې موجوده مشخصـه نمونه یا اصل له ځان سره یاداښت کوي وروسته دنورومشابه مشکلاتو دمطالعې په واسطه کله جې مطمین شـــي چې مشـــخص متحولین همیشـــه په اټکل شـــوې لاره عمل کوي. نوبیا دمتحولینو ترمنځ خپل ارتباط دیوې اقتصـادي تیوري یا اصـل په شـکل وړاندې کوي. اقتصـادي تیوري داقتصـادي متحولینو دارتباط په هکله یوه عامه بیانیه ده.اقتصـادی سیاسـت: اقتصـادي حقایقو او ارقامو له مونږ سره داقتصـادي اصـولو او تیوریګانو په جوړولو کې مرسـته کړي ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمختلفو متحولینو ترمنځ دارتباط ماهیت واضح کوي او اوس په داسې حالت کې قرار لرو چې دغې پوهې په استعمال سره داقتصادي ستونزو دحل لپاره مناسب سیاستونه وړاندې کړو . داقتصاد دغه بخش چې دعملي اقتصادي ستونزو لپاره ځواب برابروي داقتصادي سیاست په نوم یادیږي. مثال : فرض کړئ چې په افغانستان کې وزګارتیا ستونزه مطالعه کوو، نو په ښاري او اطرافي او همدارنګه په مختلفو زونو کې دوزګارو نارینه او ښځینه تعداد په باره کې ارقام راټولوو اووړاندې کوو یی. چې دې ته تشریحي اقتصاد وایي . وروسته دغه ارقام تحلیلوو اوممکنه عواملو ترمنځ چې دوزګارتیا لامل شوي ارتباط رامنځ ته کوو. فرض کړئ چې وزګارتیا ډیرمهم عامل چې ددولت دمصارفو کموالی دی پیداکوو، چې اقتصادي تیوري ورته ویل کیږي. په اخر کې دوزګارتیا دستونزې دحل لپاره مشخص مراحل وړاندې کوو .نو دابیا داقتصادي سیاست په نوم یادیږي. داقتصاد دغه درې بحثونه له یوبل سره نږدې اړیکې لري اودیوشان اهمیت څخه برخورداره دي. که حقایق راټول نه شي نوددې لپاره دتیوري رامنځ ته کول چې داقتصادي متحولین څرنګه یو له بل سره ارتباط ولي مشکله کړي. همدارنګه که داقتصادي تیوري یا اصل باندې چې دمختلفو متحولینو ترمنځ ارتباط ښایي ونه پوهیږو. نویو ښه اقتصادي سیاست به رامنځته نه کړای شو . شاته په کتلو سره داهم باید په نظر کې ونیسو چې اقتصادي اصل چې په متحولینو کې تغییرات واضح کوي په نظر کې نیولو پرته معلومات او حقایق په صحیح ډول راټولولی شي.دددغو دریو بخشونو ترمنځ ارتباط په لاندې ډول ښودلای شو.

تشریحي اقتصاد تیوریکي اقتصاد اقتصادي سیاست



(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرنګه چې په اقتصادي تيوري پورې مربوط ده ، اقتصادي پوهان يو له بل سره په اسانۍ موافق کيږي. خوکله چې داقتصادي سياست ساحې ته داخل شي ډير و لږ يو له بل سره موافق کيږي.که څّه هم دوی ملامت نه دي ځکه يوه اقتصادي ستونزه دډيرو علتونو له وجې رامنځته کيږي. دسياست درامنځ ته کولو په وخت کې شايد يو اقتصاد پوه يوه مهم عامل ته اوبل يوه بل مهم عامل ته ډير اهميت ورکړي نوددوي وړانديزونه بايد يوله بل سره متفاوت وي.مطلوبيت هغه درضايت درجه ده چې اشخاص يی داجناسو اوخدماتو دمصرف څخه ترلاسه کوي. يو تږی شخص داوبو څخه ارضا ترلاسه کوي نووايو چې اوبه ددې شخص لپاره مطلوبيت لري.قيمت کله چې ديو جنس ارزښت په پولي توګه وښودل شي همدغه پولي ارزښت ته ددغه جنس قيمت ويل کيږي. عايد : دبدلې يا معاوضې هغه مقدار دی چې يو شخص يي ديوخدمت اويا دخپل ملکيت دخدمت په مقابل کې ترلاسه کوی. عايد په دوو برخو تقسيميږي١-دکارپه واسطه ترلاسه شوی عايد: دهغه مقدار پيسو څخه عبارت دی چې خلک يی دکار په مقابل کې ترلاسه کوي لکه ديوه کاريګر مزد٢--Unearned incomeدهغه مقدار پيسو څخه عبارت دی چې ديو شخص يي له خپلې دارېې او ثروت څخه ترلاسه کوي کله دتعمير کاريه ، دبانکي حساب سود او نور.عايد اوانتقالي تاديات : عايد دهغه تاديي څخه عبارت دی چې داجناسو اوخدماتو په توليد کې دبرخې اخيستلو په مقابل کې ترلاسه کيږي. که يوشخص له کوم توليدي خدمت پرته تاديات ترلاسه کړي په اقتصاد کې ورته عايد نه بلکې انتقالي تاديات ويل کيږی. زکات ، تحفي اوداسې نور. ملي عايد : ديو ممکلت دټولو افرادو مجموعي کلني عايد ته ملي عايد ويل کيږي. پوهيږو چې دعايد پيدايښت داجناسو او خدماتو په توليد پورې تړلی وي، نودتوليد شويو اجناسو ارزښت او دهغو خلکو عايد چې داجناسو په توليد کې مرسته کوي دهميشه لپاره مساوي وي.ملي عايد په بل ډول هم تعريفولای شو . په يوممملکت کې دټولو نهايي توليد شويو اجناسو اوخدماتو پولي ارزښت ديوکال په جريان کې ملي عايد دی.ثروتwealth:هرهغه څه چې خلک يي استعمالوي او په وړيا ډول نه پيداکيږي ثروت نومول کيږي. په عاميانه ژبه کې ثروت دپيسو ، سروزرو ، سپينو زرو په معنا استعماليږي. مګر په اقتصاد کې ثروت يوه پراخه معنا لري ، په ثروت کې ټول شيان لکه کور، ځمکه ، ماشين الات، سره زر ، پيسې ، جامې و کتابونه اوديو کمپنۍ سهم اوداسې نورشامليږي.ثروت په څلور ډوله دی١-انفرادي يا شخصي ثروت٢-عامه يا ټولنيزثروت : دا هغه شتمني دي چې دعامه خلکو دګټولپاره رامنځته شوي وي اودټولې ټولنې عامه دارېي ده لکه دولتي تعميرات، سرکونه، دولتي پارکونه، اوداسې نورپه کې شامل دي٣-ملي ثروت ديو ملک طبيعي منابع لکه سيندونه ځنګلات اونور۴-نړيوال ثروت : په دې ډول ثروت کې ټول هغه اجناس ياطبيعي منابع شامليږي چې په ټول بشريت پورې اړيکه نيسي اودټولو ملکونو په واسطه استعماليدی شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه: هوا،بحرونه، اونور.مترقي ماليه : په دې مانا چې دزيات عايد لرونکو دماليي ورکړې اندازه زياته وي. کله چې ديو شخص عايد لوړيږي دپيسو نهايي مطلوبيت يې کميږي ، که يو لوړ عايد لرونکې شـخص ديوه غريب شـخص په څير يوشـان ماليه تاديه کړي هغه لږ بار احساسوي نو ددې په خاطر چې عدالت رامنځته شوي وي، دثروتمنده خلکو لپاره بايد دماليي اندازه لوړه وي.مارکيټ ټوکرۍ اصطلاح ددې لپاره استعمالوو چې داجناسو گروپونه يوپه بل برتر وښودل شي . مارکيټ ټوکرۍ ديوه يا ډيرو اجناسو دمقدارونو يو خاص لست دی . مارکيټ ټوکرۍ کې کيدای شـي داجناسـو مختلف ډولونه شـامل وي. دبيلگې په توگه ديوې مياشـتې په دوران کې هغه اجناس چې يو مسـتهلک يې پيري لکه غذايي مواد، کالي، اونور دضـروت وړ مواد.دکارخوځښـت: عبارت له پورته دډيروسـتونزو دکارگرانو نوي دندو موقفونو او ځايونو بدلولو توانايي او ظرفيت ته دکارخوځښـت وايي په ۴ ډوله دی۱- دکارجغرافيوي خوځښت۲-دکارمسلکي خوځښت۳-دکارافقي خوځښت۴-دکارعمودي خوځښت. دکاردخوځښت عوامل عبارت له:دمزد دکچو توپير۲-دکارشرايط۳-جاه طلبي ۴- صلحه او امنيت۵دترانسپورت او اړيکو مسايل۶-تعليم . دکارمفهوم : عبارت په اقتصاد کې دکارويش څخه مقصد داسې يو ترتيب دی چې دهغې په وسيله يو وخت کې دبيلابيلو افرادو بيلابيلې دندې سـرته رسـوي۱-سـاده يا وظيفوي يا ټولنيز دکارويش۲-دکارتخنيکي ويش ۳- دکارارضـعي ارضـي ويش.دکارويش دتصـدۍ په مولديت کې زياتوالی راولي۲-دتصـدۍ دوسايلو او تجهيزاتو په سم ساتلو کې مرسته کوي۳-دتصدۍ په توليدي مهارت کې زياتوالی راولي۴-دتصدۍ په وخت کې سپما رامنځ ته کوي۵-دتصدۍ په اختراعاتو چانس زياتوي۶- دتصـدۍ په مشـغوليت کې تنوع رامنځ ته کوي۷-دتصـدۍ سـره دسم تشـخيص په ټاکنه کې مرسته کوي. پانگه : عبارت دځمکې نه بغير ټولې هغه شتمنۍ چې عايد لاسته راوړي پانگه ده او ځانگړتياوې:۱-پانگه دکار په پايله کې رامنځ ته شوی۲-پانگه يو غيرفعال عامل دی۳- پانگه په توليد کې مرسـته کوي۴-پانگه فرسـايش کيږي۵-پانگه دليږد وړتيا لري۶-پانگيزه توکو نه په مستقيمه توگه گټه اخيستل کيږي. دپانگې شـکلونه عبارت دي له :ثابته پانگه۲- دوراني پانگه۳-خاصـه پانگه۴-لامبووهونکې پانگه۵-فردي پانگه۶-ملي پانگه۷کورنۍ پانگه۸-بهرنۍ پانگه۹-مادي يا حقيقي پانگه۱۰-انسـاني پانگه۱۱-پولي يا مالي پانگه.دپانگې جوړښـت پروسـه عبارت د په جزوي کچه ديوې تصـدۍ له جهته دپانگې جوړښـت څخه مقصد ديوې تصدۍ دحقيقي يا فزيکي پانگې مقدار کې زياتوالی دی. اداره يا تشبث: دمتشبث دندې دخطراتو زغمل دمالي سـرچينو تهيه دابتکاراتو کې رامنځ ته کول دکاروباراداره . اداره دتوليد څلوم عامل دی چې دمتشـبث په وسـيله عرضـه کيږي. توليد په عاميانه ژبه کې ورڅخه مقصـد دتوکو رامنځ ته کول دي خوبيا په علمي ادبياتو کې دانسـاني غوښـتنې دپوره کولو او ارضا لپاره ټولې هغه کړنې چې دتوکو او خدماتو رامنځ ته کولو لپاره سرته رسيږي او انسـانان هغوی ته ديو قيمت دتاديي اراده ولري توليد دی. توليد په دوو شـکلونو سـره

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورت نيسي :۱-دتوکو توليد۲-دخدماتو توليد . توليد له درې برخو څخه جوړشوی دی ۱-لومړي صنايع۲-دوهمي صنايع۳-دريمې صنايع . دتوليد عوامل عبارت له ټولې هغه توليدي منابع چې ديوې ټاکلې محصـــول توليد يا رامنځ ته کولو لپاره اړينې وي دتوليد عوامل بلل کيږي.په څلورو برخو ويشـــل کيږي۱-ځمکه۲-کار۳-پانګه۴-اداره يا تشـــبث.ځمکه مفهوم عبارت له : له ټولې هغه بهرنی طبيعي سـرچينې چې ديو انسـان په خدمت کې وي ځمکه ده يعنې هغه طبيعي منابع چې انســـان ورته لاس رســـی لري . ځمکه يا طبيعي ســـرچينو کې شـامليږي۱-ځانګړتياوې عبارت له ۱-ځمکه دطبيعت يوه مفته ډالئ ده۲-دځمکې اندازه ثابته ده ۳-ځمکه متنوعه ده ۴-په جغرافيوي مانا سره غير قابل يي ليږد ده۵-ځمکه يو دايمې توليد عـامـل دی۶-ځمکـه يو غيرفعـالـه توليـدي عـامـل دی۶-دځمکې مولـديـت ارتجـاعي دی . دکارمولديت نه هدف ديو کارګر توليدي ظرفيت دی يعنې دکارګر په وسيله په اوسطه توګه په في واحد دوخت کې دتوليد اندازې ته دکارمولديت وايي.

په عمومي ډول هغه مقدار پيسې چې ددغه عواملو دلاس ته راوړلو لپاره مصرف شوي وي دتوليد دمصــــارفو په نوم ياديږي. حقيقي مصــــارف : عبارت ذهني او بدني کارونه چې ديو جنس دتوليد لپاره قرباني کيږي دجنس دحقيقي مصارفو په نوم ياديږي. محاسبوي مصارف : هغه تتاديات دي چې تصديو کې دبشري يا غيرې بشري عواملو لپاره ترسره شوي. فرصتي مصــارف: دهغه تبادلوی جنس له ارزښـت څخه عبارت دي چې ددغه جنس دتوليد له امله له لاسه وځي. اقتصادي مصارف : عبارت له هغه مصارفو څخه دي چې ديو اقتصادي فعاليت درامنځ ته کولو له وچې پرې ټولنې ته اوړي. دمصــــارفو تيوريګانې : په دوه برخو ويشـــل شوي ۱-عنعنوي تيوري يازړه تيوري۲-دمصادفو نوي تيوري. دbrowningپه اند مجموعي مصـارف ديو ټاکلې اندازې دتوليد لپاره دثابتو او متغييرو مصـارفو له مجموعي څخه عبارت دي . ثابت مصارف : دتوليد دثابتو عواملو مصارفو ته ثابت مصارف وايی. دفرګوسن په اند مجموعي ثابت مصــارف په يو تصـدئ کې ښـکاره او پټو دواړه مصــارفو له مجموعي څخه عبارت دی . داوسـط مصــارفو مفهوم عبارت دتوليد ديو واحد مصـرف ته اوسـط مصــارف وايی . په لنډه موده کې داوسط مصارفو منحني مفهوم عبارت دي له په يو ټاکلې نقطې څخه مخ په ښـکته راځي يو اصـغري نقطې ته رسـيږي او بيا پورته ځي داچې دuشـکل منحني لري چې په لنډه موده کې داوســط مصــــارفو منحني لاندې شـــي؟؟؟دمؤثر اعظمي توليد هغه توليد ته ويل کيږ ی دتوليد هغه اندازې ته ويل کيږي چې دفي واحد توليد مصرف په اصغري اندازه کې وي. نهايی مصــــارف عبارت له مجموعي مصــــارفو کې زياتوالی کله په توليد کې ديو واحد په اندازه کې زيا توالی راشـي. اوسـط او نهايي مصــارفو ترمنځ اړيکه عبارت دي له۱-په اقتصادي تحليطونو او بلخصوص دتوليد لپاره دقيمت په ټاکلو کې داوسط مصارفو او نهايي مصــارفو ترمنځ تفصـيلي اړيکې لري څيړل ډيرداهميت وړدي. داوړدې مودې اوسـط مصـارف : هغه ممکنه اصـغري مصـارف دي چې دفي واحد توليد لپاره په مختلفو مقدارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتولید کې په اوږده موده کې ټاکل کیږي. داوږدې مودې اوسط مصـارفو لپاره لاندې نومونه یادیږي. ۱-چاپیرونکې منحني ۲-دپلان جوړونې منحني . دمصـارفو دمنحني ګانو اهمیت ۱-دتولید په اړه تصـــمیم نیول۲-دصـــنعتونو انتخاب۳-دتولید لپاره تعادل ټاکل۴-دګټې او تاوان اټکل کول. دبازار دکومې مهمې ځانګړتیاوې لري ۱-یو ســـطحه۲-یو جنس ۳-اخیســـتونکي اوخرڅونکي۴-داخیســتونکو اوخرڅوونکو ترمنځ ارتباط. دوخت په اســاس بازارونه عبارت دي له۱-ورځني بازار۲-دلنډې مودې بازار۳-اوږدمهاله بازار. دموقیعت په اســـاس بازارونه عبارت دي له :محلي بازار۲-سیمه ایز بازار۳-ملي بازار۴-نړیوال بازار. دجنس دماهیت په اســـاس بازارونه په دوه ډوله دي ۱-عام بازار۲-خاص بازار. عام بازار هغه بازار ته ویل کیږي چې هرډول اجناس په کې پلورل او پیرودل کیږي.خاص بازار: هغه بازار ته ویل کږي چې مشـخص اجناس او خدمات په کې پلورل او پیرودل کیږي. خاص بازار په لاندې بازارونو ویشل کږی۱-عامل بازار۲-دپانګې بازار۳دپیسو بازار۴-دخارجي اسعارو بازرا۵-دنموني بازار۶-ددرجو بازار. دبازارجوړښــــت یا کوونکي عوامل ۱-دخرڅونکو ماهیت تعداد۲-داخیســتونکو دتعدادماهیت ۳-دتولید ماهیت۴-ددخول او خروج شـرایط۵-دمقیاسـونو اقتصادیت. درقابت په اساس بازارونه عبارت دي له ۱-مکمل رقابتي بازار۲-نامکمل رقابتي بازار۳-انحصـــــاري بازار۴-دمکمل رقابتي بازار ځانګړتیاوېعبارت دی۱-داخیســـــتونکو او خرڅونکو زیات شــمیر۲-دتصــــدیو دخول اوخروح ازادي۳-همجنســـه تولید۴-دمصـــنوعي بندیزونو عدم موجودیت دګټې اعظمي کول۵-داجناســـــو او عواملو مکمل انتقال۷-دبازار دشرایطو په هکله پوره معلومات۸-دترانسپورت دمصارفو نشتوالی۹-دخرڅلاوو دمصارفو نشتوالی.

دتولید دمقیاس مفهوم عبارت دی له داقتصــــــاد په علم کې دتولید دپیمانې نه هدف دتولید داندازې اعظمي حد دی. دتولید مقیاس ټاکونکې عوامل عبارت له ۱-مالي سـرچینې ۲-دتولید تخنیک۳-دترانسپورت او اړیکو وسایل۴-دبازاروسعت۵-دتشبث استعدادونه. دتولید مقیاس په دوه ډوله دی ۱-دتولید کوچنی پیمانه ۲-دتولید لویه پیمانه. دتولید دکوچنی پیمانې (مقیاس)ګټې اوزیانونه عبارت دي له۱-شـخصـي دلچسپي او سم نظارت ۲-دمسـتهلیکینو سـره مسـتقیمه اړیکه۳-کارګرانو سره اړیکه۴-فوري پریکړه۵-د تقاضا دبدلون په مقابل فوري عکس العمل او زیانونه۱-تمویلي سـرچینې ۲-دتولیدي تخنیکونو وروسته پاتې والی۳-ضـمني تولیداتو کې ســـتونزې ۴-ناســـم حالات ۵-پیرودلو او پلورلو لوړلګښـــت . دتولید دلوی مقیاس(پیمانې) زیانونه عبارت دي له۱-دځانګړو غوراویو له نظره غورځول۲-په شـــخصــــي نظارت کې ســـتونزې ۳-دزاید تولید امکانات ۴-کارکوونکو ســـره نږدې شـــخصـــي اړیکې ۵-دتقاضـــا دتغییراتو په مقابل کې بطي عکس العمل۶-دانحصاراتو درامنځ ته کیدل۷-په بهرنیو بازارونو کې انکار. دمقیاس صـــــرفه جویانې :هغه حالت ته ویل کیږي چې یوه تصـــــدۍ په کې خپل محصـول ددوه چندو نه لږ مصـرف په وسیله دوه چنده کولای شـي . دپیمانې صـرفه جویانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دوه برخو ويشــل کيږی۱-دپيماني دا صــرفه جوياني ۲-دپيماني خارجي صــرفه جوياني . دمقياس داخلي صرفه جوي عبارت له هغه حالت څخه دی چې ديوې تصدۍ خپل دتوليد کچه کې ددوه چندو نه لږ مصـــــارفو په وســـيله دخپل توليد دپيماني دپراخوالي له امله دوه چنده کولای شــي او نومونه يې عبارت دي له ۱-تخنيکي صــرفه جوياني ۲-اداري صــرفه جوياني ۳-مالي صـــرفه جوياني ۴-دبازارموندنې صـــرفه جوياني ۵-ســـوداګريز صـــرفه جوياني ۶-دخطرزغملو صـــرفه جوياني. دمقياس دعدم صـــرفه جوياني هغه حالت دی چې ديو تصـــدۍ توليد دوه چنده کول په کې دوه چنده نه زيات مصـــارف غواړي او داهم په دوه برخو ويشــل کيږي. دتوليد تابع عبارت داوږدې مودې دتوليد تابع او دلنډې مودې دتوليد تابع ســـره لر ي دتوليد تابع عوامل دهرټاکلي ترکيب لپاره حاصــــل تمرين مقدار څرګندوي. په لنډه موده کې ځکه دکارعوامل په زياتولو سـره په شـروع کې دمحصـول په زياتيدووي ځکه په لنډه موده کې دتوليدي عواملو يو عامل ثابت او بل عامل متحول يادبدلون وړدی.څرنګه چې پانګه په مادي اومالي شـــکلونو پيژندل کيږي. ۱-کله چې مونږ دپانګې فزيکي يا مادي شـــکل په نظر کې ونيســو نو دپانګې مولديت څخه هدف دتوکو او خدماتو هغه مجموعي مقداروي چې ديو واحد پانګې په مرســـته لاســـته راوړل کيږي.کله چې مونږ دپانګې مالي شـــکل په نظر کې ونيسو نو دپانګې مولديت څخه هدف به دپه کاروړل شوي مالي پانګې دبيا اعادې نرخ وي . ايزو کوانټ: دتوليد دعواملو دمختلفو ترکيبونو له يو ځای والي څخه لاســــته راغلی هغه منحني ده چې په مسـاوي تعداد محصـول ورڅخه لاسـته راځي. کله چې په يو ګراف کې څو ايزو کوانټونه يو ځای ښـودل شـوي وي دي ګراف ته دايزوکوانټ نقشــه وايی. دپيســو هغه مقدار چې دپيسو په شکل ديو جنس په توليد کې په مصرف رسيږي دپيسو په واسطه دټاکل کيدونکو مصارفو په نوم ياديږي. دپيسو په واسطه ټاکل کيدونکي مصارف عبارت دي له ۱-مزدورانو لپاره دمعاش تاديه۲-پرقرض باندې ســود۳-په ثابتو شــتمنيو کرايه ۴-دخامو موادو او ماشـينونو مصـــارف۵-بيمه۶-ماليات۷-دبريښـنا انرژۍ او تيلو مصـــارف ۸-دترانســپورت مصـــارف او داســې نور. دمصــرف تابع ديوې تصــدۍ دتوليد دتابع او هغو قيمتونو چې دغه تصدۍ يې دتوليد لپاره يې تاديه کوي دمصارفو دتاديې په نوم ياديږی. اوسط ثابت مصارف : دفي واحد ثابت مصـــــارف څخه عبارت دی . مؤثر توليد دتوليد دهغه اندازې ته ويل کيږي چې دفي واحد توليد مصارف په اصغري اندازه وي .اوږده موده هغه دوران دی چې په کې توليد ټول عوامل متحول په دې جريان کې تصـــــدۍ کافي اندازه وخت لري يا په بل عبارت داوږدې مودې مفهوم دپلان جوړونې لپاره يو ه ســطحه ده . انحصـــاري بازار هغه حالت ته ويل کيږي چې دتوليد يواځې يو خرڅونکی په کې وجودلري اودنورو دخرڅونکو بازار ته دخول په وړاندې خنډونه پراته وي.دانحصـــــار درامنځ ته کيدو علتونه: انحصــــار هغه وخت رامنځ ته کيږي کله چې يوه تصـدۍ په مشـخصـو موادو لکه تيل برونز طلا اونورو کنترول ولري . انحصـــار هغه وخت هم رامنځ ته کيږي کله چې يوه تصــدۍ دمشــخص جنس دتوليد

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره خاص تخنيکونه له ځان ســره ولري. انحصـــار هغه وخت ممکن کيږي کله چې دولت دخلکو درفاه په خاطر دتوليد حق يوې مشخصـې تصدۍ ته ورکړي چې دانحصـار دې ډول ته طبيعي انحصار ويل کيږي. کله دولت يو شخص يا تصدۍ ته دهغه داختراع حق ورکړي په دې اســاس هم انحصـــار رامنځ ته کيږي . دانحصـــاري بازار ځانګړتياوې. په انحصـــاري بازار کې دمشــخص جنس يو توليدونکی يا خرڅوونکی وجودلري او دتصـــدۍ او صـــنعت ترمنځ توپير موجود وي په انحصـــاري بازار کې تصــدۍ چې خپله يو صــنعت وي . دمکمل رقابت او انحصـار پرتله۱-درقابتي او انحصـاري دواړو تصديو هدف داوي چې ګټه اعظمي کړي ۲-ددواړو لپاره دتعادل يو شـــرط يو ډول دیMR=MC۳-په دواړو حالتونو کې قيمت بازار دعرضـــې او تقاضـــا دتقاطع په واســطه ټاکل کيږي۴-دواړه رقابتي او انحصـــاري تصديګانې دمصارفو يو شان منحني ګانې لري۶-توپيرونه ۱-دمکمل رقابت په صورت کې په صــنعت کې زياتې تصــدۍ شــاملې وي او قيمت ددوی دمجموعي عمل په واســطه ټاکل کيږي.انحصـــاري رقابت دبازار هغه جوړښــت دی چې زيات توليدونکي انحصـــار کوونکي توليداتو کې دفرق په اساس يو له بل سره رقابت کوي او توليدات لږوي مګر مکمل تعويضې نه دي. دانحصاري رقابت ځانګړتياوې. ۱-دخرڅوونکو زيات تعداد۲-دتوليد توپير۳-دتصدۍ اختياري ځواک ۴-دتوليد ګروپ ۵-انحصـاري ځواک ۶-دتصـديو دخول او خروج ازادي ۷-مســتقله رويه ۸-خرڅلاو مصــارف۹-په بيو کې دسـيالیو نه شـتون۱۰-اشـتهارات . دمکملو رقابتي او انحصـــاري رقابتي بازارونو پرتله ۱-دتصـــديګانو تعداد۲-دتوليد ماهيت۳-درقابت ماهيت۴-دوه اړخيزه او څو اړخيزه انحصـــار. څو اړخيزه انحصـــاردبازار دجوړښــت هغه شــکل دی چې يو څو خرڅوونکي په بازار کې همجنســه يا توپير لرونکې توليدات خرڅوي په دې بازار کې دتصــديو تعداد؟په شــاوخوا کې وي او که يواځې دوه تصــديګانې په بازار کې وجود لري نوبيا ددې بازار يو خاص شکل ددوه اړخيزه انحصار په نوم رامنځ ته کيږي. په څو اړخيزه کې تصـــديګانې همجنســـه توليدات خرڅوي دخالص ياهمجنســـه څواړخيز انحصار په نوم يادېږي.دڅو اړخيز انحصار درامنځ ته کيدوعوامل : ۱-زياته پانګه اچونه۲-دانداز ې صــرفه جويانې ۳-دمشــخصــو خامو موادو مالکيت۴-دکوچنيو تصــديو ادغام. دڅو اړخيز انحصـــــار ځانګړتياوي. ۱-کم تعداد خرڅونکي ۲-په تصـــميم نيو نه کې تړلتيا۳-اشتهارات۴-ددخول خنډونه۵-دتصديو په اندازه کې تغير.

# لوی اقتصاد

اقتصــاد هغه علم دی چې د شتمنيو پيداښت،دشتمنيومصرف،دشتمنيوويش او دشتمنيو تبادله ترڅيرنې لاندې نيسي. نوی کلاسيک وايې اقتصاددمادي خوشالې علم دی دلندن مکتب بنسټ ايښـــودونکی(رابنز)وايی اقتصـــاد دمحدوديتونو او انتخاب علم دی او اقتصـــاد دری مکتبونه لري.۱-نيوکلاســيک۲-کلاســيک۳-دلندن مکتب:دلندن په مکتب کې لاندې خصـــوصـــيتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ذکرشـــوي.۱-نـامحـدودضـــرورتونـه۲-ضـــرورتونوکي داهميـت لـه نظره تفـاوت۳-دوســايلومحدودوالی۴-دوسـايلو متبادل اســتعمال.پروفيسـور رابنز اقتصـــاد په لاندې ډول تعريفوي: اقتصـــاد علم دضـــرورتونو او محدوديتونو متبادل اســتعماليدونکو وســايلو ترمنځ انساني روش د ارتباط په توګه څيړي.۱- کلاسيک مکتب بنسټ ايښودونکی ادم سميت دی۲-دنيوکلاسـيک بنسـټ ايښـودونکی الفردمارشـال دی.۳- او دلندن مکتب بنسـټ ايښـودونکی رابنزدی. ټول هغه وسايل چې په مستقيم او غيرمستقيم ډول سره ضرورتونو په پوره کيدو کې مرســـته کوي توکي او خدمات بلل کيږي. توکي په عمومي ډول په دوو ډولو ويشـــل شوي۱-وړيا توکي۲-اقتصادي توکي.۱-هغه توکي چې د انسان له خوا پرې کارنه دی ترسره شـوی او په پريمانه توګه په طبيعت کې د خدای تعالی له خوا پيداشـوی او دهرچا په اختيار کې قرار لري.لکه هوا لمر رڼا اوداســـي نور.۲- هغه توکي چې په پريمانه اندازه نه دي او دهرچا لپاره په اختيار کې قرارنه لري همدارنګه درامنځ ته کيدلو په خاطر يې فعاليت ته ضرورت ليدل کيږي اقتصادي توکي بلل کيږي. داقتصادي توکو ډولونه۱- مادي او غيرمادي توکي (خدمات)۲-مادي توکي هغه توکي دي چې دلمس او ليدل کيږي لکه موټر ډوډۍ او وغيره۲-مادي توکي هغه دي چې مستقل وجود نه لري خو نتايج يې احساسيږي. لکه دانسان کار،بيمه بانکي خدمات او نور۲-لګښتي او پانګه ايز توکي ۱-لګښتي توکي هغه دي چې په مستقيم ډول په مصرف رسيږي لکه غذايي مواد ميوه جات او نور۲-پانګه ايز توکي ياتوليدي توکي هغه توکي دي چې په مستقيم مصرف نه رسيږي بلکه دنورو توکو دتوليد لپاره کارول کيږي. او په غيري مسـتقيم ډول په مصـرف رسـيږي .په عمومي توګه هغه څه چې د کار د اچولو په نتيجه کې يو انسـان ګټه ترلاسـه کوي اقتصـادي سـرچينو کې شـامليږي. ټولې هغه ســـرچيني چې دلاســـته راوړلو لپاره يې بايد قيمت ادا شـــي اقتصـــادي ســـرچيني بلل کيږي. اقتصـــادي ســـرچيني په دوو برخو ويشـل شـوي۱-وړيا۲-قيمت لرونکي سـرچيني.اقتصـــادي سرچيني دلاندې برخو څخه تشکيل شوې دي.ــــ بشري سرچيني :-- دانسان دماغ او فزيکي فعاليت په دي ډول ســـرچينو کې شـــامليږي او په عمومي توګه کارنومول کيږي.طبيعي سـرچيني: د ځمکې په مخ او دننه په ځمکې کې موجود شـيان او طبيعي منابع او په عمومي توګه د ځمکې په نامه يادول کيږي. فزيکي منابع: هغه څه چې انسـان يې په مرسـته توکي او خدمات توليدوي لکه سـامان الات ماشـينونه سـرکونه او نوراو په عموم کې ورته پانګه ويل کيږي او دا دري ډولـه دتوليـد عوامـل ګڼـل کيږي. قـانون پـه عمومي توګـه ديو دولـت لخوا صادرشو ي حکمونه دي چې منل يې په ټولو لازم او سرغړونه ترې جرم ګڼل کيږي او سزا لري په علمي اصطلاح سره هغه عمل چې په تکرارولو سره يې واحده نتيجه ترلاسه کيږي او په هر حال کې دتطبيق وړاوسې قانون ګڼل کيږي.اقتصادي قانون په عمومي توګه د خلکو اقتصـــادي روش باندې دلالت کوي اقتصـــادي قانون په ټولنه کې داوسـيدونکو ټول اقتصـــادي فعاليتونه پيشبيني او رهنما او روښانه کوي. د (نيوين nevin) له قوله اقتصادي قانون د ټاکلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاملونو اسباب په نتيجه کې رامنځ ته کيدونکو تمايلاتو څرګندونکی دی. دډاکټر مارشال په قول اقتصادي قانون د ځيني ټاکلو شرايطو لاندې په ټولنه کې داوسيدونکو د عمل خاص ډول دی. د نورو قوانينو سره اقتصادي قوانينو پرتله ---الف درسمي دولتي قوانينو سره : رسمي قوانين د خلکو لخوا ترتيب کيږي دا قوانين د کاغذ په مخ ليکل کيږي او دهغې پابندې دهيوادوالو مکلفيت او نه پابندې يې جرم ګڼل کيږي ولې اقتصادي قوانين دخلکو اقتصادي تمايلات څرګندوي. ب د طبيعي علومو سره داقتصادي قوانينو پرتله :---د طبيعي علومو سره لکه د کيميا او فزيک قوانين د بې روحه شيانو يعني مادياتو خصوصيات او حالتونه بيانوي کوم چې په لابراتوار کې تجربه شوي او هميشه ثابت ګڼل کيږي مثلاً که هروزن لرونکی جسم په هوا کې خوشې شي نو دځمکې جاذبې قويې له اثر ځمکې ته راغورځيږي يا(ايچ دوه او )فورمول هميشه اوبه دي او داسې نور ولې اقتصادي قوانين دانسانانو داقتصادي فکرونو او تمايلاتو څرګندونه کوي او دبې روحه مادې سره سراو کارنه لري. داخلاقو دقوانينو سره :ـــ اخلاقي قوانين عمدتاً په مذهبي قوانين په برکې نيسي.په ټولنه کې خلکو ته دځيني کړنو دکولو او دځينو دنه کولو لارښوونه کوي څوک چې په ټولنه کې اخلاقي قوانين مراعات کړي په ټولنه کې دقدر وړ ځای لري او څوک چې اخلاقي قوانين ترک کړي نو په ټولنه کې خپل ځای له لاسه ورکوي اقتصادي قوانين دانسانانو روش څرګندوي دکوم عمل دکولو او منع کولو هدايت نه کوي. اقتصادي قوانينو خصوصيات: ۱- اقتصادي قوانين شرطيه شکل لري ۲-عمومي شکل نه لري داقتصاد ځيني اساسي څانګې :- ----۱-مثبت يا علمي اقتصادpositive economics or scientific economics-۲ سهولت يا رهنما اقتصادwelfare or normative economics.په مثبت او رهنما اقتصاد داقتصادي نظريې عمده برخې تشکيلوي دځيړنې په وخت کې د هغوی ترمنځ فرق کول ضروري بريښي چې مونږ يې دلته لنډ ډول روښانه کوو:په لوی اقتصاد کې اقتصاد په مجموعي توګه سره مطالعه کيږي .لوی اقتصاد دټول اقتصاد عمومي اوسطونواو مجموعو سره سروکارلري. په لوی اقتصاد کې دڅيړنې مهم مسايل عبارت دي۱-دملي عايد او کسب کار نظريه ۲-داقتصادي فعاليتونو دنوسان نظريه ۳-دپيسو نظريه۴-دنړيوال تجارت نظريه ۵-داقتصادي پرمختيا نظريه کوم قوانين او نظريات چې د نظرياتي برخې له خوا وړاندې کيږي د يو معلوم هيواد په حالتو کې دهغې تطبيق کول عملي اقتصاددی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داقـــــــتصــــــاد گـــــــروپ بـــــنـــــدي




داقتصاددري اساسي مسايل ١-دتوليد دمقدارتاكل يعني څه شی بايد توليد شي٢-دوسايلو تاكل او دتوليد منظم كول يا څه ډول بايد توليد شي٣-دحاصلاتو ويش،او دچا لپاره بايد توليد شي . داقتصــادي سيســتم مفهوم: څخه هدف ټول هغه قوانين ،اداري رواجونه او روايتونه دي چي دهغي په رڼا كي يوه ټولنه داقتصادي اساسي ستونزو حل پريكړه كوي١- دبازار اقتصاد يا پانګوال نظام داســي نظام دی چي هغي كي ځانګړي مصــرف كوونكي او كاروباري ادراې داســاســي اقتصــادي مســايلو دحل لپاره د بازار له لارې اړيكه ټينګوي. دبازار اقتصــاد عمده خصوصيات په لاندې ډول دي ١-شخصي مالكيت٢-دانتخاب ازادي٣-شخصي ګټي رول٤-سيالي٥-دقيمت نظام٦-دحكومت درول كموالی.اشتراكي يارهبري شوی اقتصاديه دي نظام كي دتوليد په وسايلو باندې خصوصي ملكيت له منځه ځي او ټول وسايل د خلكو په نماينده ګی د دولت په ملكيت كي قرار نيسي څرنګه چي په وسايلو ټولنيز ملكيت وجود لري نو ټول وســـايل د ټولنيزي پرمختيا او ټولنيزو ضـــرورتونو دپوره كولو لپاره تخصـــيص كيږي. درهبري شوي اقتصــاد عمده خصــوصــيات١-دتوليد په وســايلو دحكومت ملكيت٢-دمركزي پلان كميته٣-دعوايدو بهترويش٤-پوشان امكانات او ټولنيز مصونيت٥-دخلكو په عايداتو كي افراطي تفاوت له منځه ځي او په محدودولاســونو كي ددولت جمع كول چي دپانګه وال نظام خصوصيت دی له منځه ځي.مخلوط اقتصادي نظام دپانګه وال او اشتراكي نظام خصوصياتو درلودونكي نظام ته مخلوط نظام ويل كيږي او په دوه عمده برخو باندې تكيه لري١-عمومي سكتور٢-خصوصي سكتور:ــــــ-----داسلام اقتصادي نظام اسلام دژواندانه موخي روښانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیرودونکو سره منظم کول۳- دبشري قوی له اړتیاوواو ستونزو ځان خبرول۴-دکارکوونکو او پیرودونکو ترمنځ اړیکي قایمول۵-دکارکوونکو پرمختګ امنیت او نورو په اړه لازمي هڅي کول۶-دکاروبار دګټي لوړوالي رامنځ ته کول ۷-تکنالوژي څخه په استفاده دسازمان اوږد مهاله اهداف لاسته راوړل ۸-دبشري سرچینو دمعیار په بنسټ یو غښتلی ټیم جوړول۹-کاروبار ته درقابت قدرت وربښل. دبشري سرچینو دستراتیژیک مدیریت اصول۱-دکارځای خوندیتوب اصل: پدې معنا چې دبشري قوي دکارساحه دهرډول خطراتو څخه ژغورل۲-دکارکوونکو دپرمختګ اصل: په دې معنا چې دبشري قوي دعلمي سویې او پرمختګ په خاطر ورته ټریننګونه برابرول۳-دجبران او حق الزحمې اصل: په دې معنا دبشري قوي دتنخوا ګانو ، حق الزحمې او دحقوقو ټاکل او دپیښو درامنځ ته کیدو لپاره یو چوکاټ جوړول۴-استخدام او غوراوي اصل: په دې معنا چې دبشري قواو وړتیاوي اړیکي استعداد کاروباري اخلاق او نور په نظر کې نیول۵-دکارکوونکو ترمنځ د اړیکو اصل: په دې معنا چې دبشري قووترمنځ دحسنه اړیکو ایجادول**دکاروباردپرمختګ لپاره دبشري سرچینو دستراتیژیک مدیریت رول. ۱-داړیکو اغیزمنې فضا رامنځ ته کول۲-دکارکوونکو دانګیزود پرمختګ او کاري فعالیتونو لپاره ژمنتیا۳-دکارکوونکو دوړتیا او دپرمختګ زمینه ۴-کارکوونکو ته دمسولیتونو او صلاحیتونو سپارل۵-په اداره کې دکارکوونکو ارتقا ته شفافه زمینه برابرول۶-دکارکوونکو ترمنځ داړیکو ټینګول۷-دکارکوونکو ټول نغدې او غیرې نغدې حقوق ورکول۸-دفعالیتونو ارزښتونه معلومول. دبشري سرچینو دپلان جوړونې پروسه۱-دسازمان اوږدمهاله موخو تحلیلول۲-دموجوده بشري قوي څیړنه۳-دبشري سرچینو دتقاضا او عرضې وړاندوینه۴-دبشري سرچینو دتقاضا او عرضې پرتله. ۵-نظارت کنترول او غبرګون: دپالیسیو ډولونه عبارت دي له دکمپنیو پالیسي ګانې۲دمعلوماتي اړیکو پالیسي ګانې ۳-دبشري سرچینو پالیسي ګانې۴-عامه پالیسي ګانې۵-اقتصادي پالیسي ګانې۶-دنفوسو ددیموګرافي پالیسي ګانې۷-ټولنیزې پالیسي ګانې۸-دترانسپورټیشن پالیسي ګانې۹-دکاروبار پالیسي ګانې. دستراتیژیو په ارزونه کې لاندې درې ډوله بنسټیز فعالیتونه شامل دي۱-دکاروباردستراتیژیو بنسټونه ارزول۲-دلاسته راغلې پایلو پرتله له اټکل شویو پایلو سره ۳-دفعالیتونو کتنه چې ټاکل شوي پلان سره سمې ترسره کیږي او که نه. دستراتیژیک پلان جوړونې ګټې ۱-مسولیت اداکول۲-دموخو ارزونې استعداد پیداکول۳-په تصمیم نیونه کې دپرمختګ سبب ګرځي۴-دبدلونونوپه وړاندې مقاومت۵-دمولدیت لپاره لاره هوارول۶-نوښتونه رامنځ ته کول۷-دستونزو مخنیوی کوی ۸-همغږي رامنځ ته کول ۹-دسیالۍ کولو ځواک ورکوي او اړتیاوي په ګوته کوي. کاروباري نظریه : ترهرڅه لومړی دیو کاروبارلپاره نظریه رامنځ ته کول په کاردي داسې نظریه چې په بازار کې دبریالیتوب چانس زیات وي رامنځ ته کیږي او عملا یې دپلي کولو لپاره کاروباري پلان تهیه کیږي. کاروباري پلان: هغه سند دی چې دیو کاروبار ټول کاروباري پروسیجرونه او موخې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

موخو ته درسيدو لارې تشريح كوي. سوكالي : هغه حالت ته ويل كيږي چې هلته اجناس او خدمات په كې په پراخه پيمانه شتون ولري وزګارتيا كمه وي او دا حالت اقلا تردوو لسيزو دوام كوي. ركود (ريسيشن recission ) هغه حالت ته ويل كيږي چې اقتصادي چارې په ټپه دريدلي وي اوبطي حركت وكړي.نزول: هغه حالت ته ويل كيږي چې په اقتصادي فعاليتونو اوږد مهاله تنزيل رامنځته شي نزول وايي. بهبود يا (ريكاوريrecovery) هغه حالت ته ويل كيږي چې كله چې كار ددوران نزول له حالت څخه وژغورل شي او درونق مرحلې ته داخل شي. دبشري سرچينو ستراتيژيک پلان جوړونه: په حقيقت كې ديو سازمان دټوليز مديريت سره دګډو فعاليتونو دلاسته راوړلو لپاره ديو ډول همكارئ په ډول ده يا همكاري ده.دسازمان دبيلابيلو برخو دكاركوونكو او پرسونل په اړه دبيلابيلو ستراتيژيو جوړول دعمومي مديريت لپاره ډير دپام وړموضوع ده چې دبشري سرچينو په پلان جوړونه كې پرې غوركيږي دبشري سرچينو پلان جوړونه كې دغه دوه خبرې چې١-دبشري سرچينو داړتياو څيړنه او تحليل ياتجزيه ٢-دبشري سرچينو ساتنه: دبشري سرچينو دپلان جوړوني موخې په ټوله كې څلورمهمې موخې ديادوني وړدي١-په فعاليتونو كې مولديت٢-دكاركوونكو تخصص او مسلكيتوب٣-دسازمان په عمومي ارزونه كې اسانتيا رامنځ ته كول٤-دفردي او سازماني ګټو خوندي كول.دبشري سرچينو دپلان جوړوني دګټو څخه يو څو دلته رانقلوو١-دبشري سرچينو په وړاندې دموجوده تهديدونو او محيطي خنډونو له منځه وړل او دبشري سرچينو په وسيله دټاكلو موخو ته ځان رسول ٢-په سازمان كې دبشري سرچينو دقوت او كمزورئ نقطې معلومول٣-دموخو په وړاندې دبشري سرچينو رهي كول٤-داستخدام دپروسې په سمه توګه رهنمايي كول٥-دبشري سرچينو څخه دښې ګټې اخيستنې لارې چارې او زميني مساعدول٦-دبشري سرچينو په وړاندې پرتې ستونزې لمنځه وړل او دتجربو دلوړاوي په اړه پريكړې كول٧-دبشري سرچينو دپلان جوړونې په وسيله دكاركوونكي اوسنى او راتلونكى حالت روښانه كيږي او له دي درک څخه په استفادې پلان جوړيږي.دبشري سرچينو دپلان جوړونې له مخې داستخدام پړاوونه ١-دخالي بستونو په ګوته كول٢-ددندو او مسوليتونو تشريح٣-دندې اعلانول اودوړاشخاصو پيداكول٤-دمركې لپاره شارت لست كول٥-مركه دكانديدانو ارزونه او انتخاب٦-افراستول٧-دپروسې ارزونه. بدلو ن ممكن مثبته يا منفي نتيجه ولري ، بدلون په دوه ډوله دی :پلان شوی او ناپلان شوی. دبدلون لاملونه: ټكنالوژي چټک بدلونونه ديوكاروبارساحه. دبدلون مديريت درې كچې لري١-په فردي توګه دبدلون مديريت سازماني مديريت او تشبثاتي مديريت. دستراتيژيک مديريت اهميت:١-دسازمان دراتلونكې موخې په اسانه ترلاسه كول٢-دتوليد په برخه كې دښو لاسته راوړنو چارې ترتيبول٣-ددې په وسيله يو سازمان له خپل چاپيريال سره اړيكه كې پاتې كيدای شي٤-دچاپيريال بدلون سره ځان بدلول٥-ددې په واسطه ستونزې او فرصتونه پيژندل كيږي٦-په لږ وخت كې ډيرو اړتيا و پوره كول٧-دسازمان په پرمختګ كې مهم رول

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوبوي. دستراتیژیک مدیریت دندي۱-دموخو ټاکل او دموخو دلاسته راوړلو لپاره ماموریت او لرلید ۲-دستراتیژیو دعملي کولو اقدام اودبدلون سره ځان عیارول۳-دستونزو حل لارې چارې پیداکول۴-دسازمان په پرمختګ باندې تمرکز کول ۵-ستراتیژیک مدیریت باید ټولو پوښتنو ته ځواب ویونکی وي ۶-دراتلونکو فرصتونو څخه ګټه اخیستل ۷-دچاپیریال د بدلون سره ځّان عیارول۸-دیوسازمان ورځنې فعالیتونه دعمومي ماموریت سره سم ټاکل۹-دسازمان فعالیتونه او امکانات د(سواټswot) تحلیل په واسطه څېړل۱۰-دستراتیژیکو پلانونه په سمه توګه عملي کول دعمومي پالیسیو ځانګړنې۱-داجراکولو وړ وي ۲-وضاحت او صراحت ۳-دارتجاعیت خاصیت درلودل۴-همغږي درلودل۵-بشپړوالی۶-مسوده یعنې لیکلې بڼه ولري۷-منطقي او مستدلل۸-دراتلونکې ډادمنتیا. دپلان او ستراتیژي ترمنځ توپیر:۱-دیوي کړنې لپاره ستراتیژي جوړیږي مګر دیوي کړنې لپاره کیدای شي ډیرپلانونه جوړشي۲-ستراتیژي دټولو پلانونو څخه غوره پلان ده ۳-پلان ددندو داجرا لپاره یوه لاره ده مګرستراتیژي داهدافو دترلاسه کولو لپاره یو مسیردی۴-پلان یو احتیاطي اقدام دی مګرستراتیژي رقابتي بڼه لري۵-پلان جوړونه فکر کول دي مګر ستراتیژي عمل ده ۶-پلان فرضیه او انګیرنه ده مګر ستراتیژي عملي بڼه لري۷-پلان دلوړې کچې او منځنی کچې مدیرانو لخوا جوړیږي مګر ستراتیژي یوازې دلوړې کچې مدیرانو لخوا جوړیږي۸-پلان جوړونه دمدیریتي دندو برخه ده مګر ستراتیژي دپریکړې نیونې فرعي برخه ده ۹-پلان جوړونه په دویمه مرحله کې راځي مګر ستراتیژي په لومړۍ مرحله کې راځي. دموخو ځانګړتیاوې ۱-څرګندې او روښانه وي ۲-داټکل او اندازۍ وړ به وي ۳-دترلاسه کولو وړبه وي۴-په حقیقت به ولاړ وی۵-دټاکلې وخت سره سم دترلاسه کیدو وړوی(سمارټ)هدف هغه مطلوبه نتیجه ده چې دادار ې ټول وسایل دهغې دلاسته راوړلو لپاره سوق کیږي. عادي تصمیم نیونه دعادي او ورځنیو کړنو په اړه تصمیم نیول او عملیاتي تصمیم نیول دکاروبار دکړنو لپاره تګلاره ټاکل او دستراتیژیو ټاکل دعملیاتي تصمیم نیونې په نوم یادیږي. کوچنۍ او بنسټیزه تصمیم نیونه دلویو فعالیتونو په اړه تصمیم دبنسټیزې تصمیم نیونې په نوم یادیږي او کوچنۍ تصمیم نیونه چې دسازمان دکوچنیو فعالیتونو دتنظیم په خاطر ترسره شوي کوچنۍ تصمیم نیونه ده.

# تمویل

دیوې تصدۍ فرد کورنۍ او یا هم دولت له لوري دیو اقتصادي فعالیت دترسره کولو لپاره دپولي پانګې یا پیسو چمتوکولو برابرولو او تهیه کولو ته تمویل ویل کیږي. دیو کاروبار دفعالیتونو دترسره کولو لپاره دمالي امکاناتو پولي پانګې او یا هم پیسو چمتو کولو او تهیه کولو ته کاروبارتمویل ویل کیږي. دیوکاروبار دتمویل مقدار کاروبار دشکل نوعیت او حجم په پام کې نیولو سره فرق کوي دبیلګې په توګه دشرکتونو او یواځېني مالکیت کاروبارپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتله په ســهامي شــرکتونو کې زیات مقدار پولي پانګې او پیســو ته اړتیا ده. کاروبار ولي تمویل ته اړتیا لري۱-هرکاروبار دخپلو فعالیتونو دترسـره کولو لپاره په شــکل داشــکالو یوه اندازه ثابتو شــتمنیو (ځمکه تعمیر ماشــین الات موټرې ونور)ته اړتیا لري چې پرته له دې شایدد یو کاروبارپیل کیدل او په بنه شکل سره پرمخ تلل ممکن نه وي ۲-دکاروباردورځنیو فعالیتونو دترسره کولو په نتیجه کې زیات شمیر مصـارف رامنځ ته کیږي ، دبیلګې په توګه داموالو خریداري دمزد او معاش تادیه کول او نور دنوموړو مصـــــارفو دپوره کولو لپاره تمویل ضـروري دی دثابتو شـتمنیو لپاره چې څومره مقدار پیسـو او پانګې ته اړتیا وي هغې ته (fixed capitalفیکیسـډ کفیټل) وایي. ۲-دنوموړو مصـــارفو پوره کولو لپاره چې څومره مقدار پیســـې او پانګې ته اړتیا وي هغې ته ( working capitalورکینګ کفیټل) وایي.دیو معین مال یا ملکیت دیو نفر یا کس څخه اخیســـتل او هغه ته ګټه ورکول دمرابحې څخه عبارت دی. یواځېنی مالکیت کاروبار ګڼې : دغه ډول کاروبار په اســانی ســـره رامنځ ته کیږي ۲-دکاروبار مالک په اسانی سره کولای شي خپل کاروبار ختم کړي۳-دکاروبار ټوله ګټه یواځې یو نفر ترلاســه کوي ۴-ســهامي شــرکت په څیر دوه ځل مالیه په کې نشــته ۵-دکاروبارمالک په تصـمیم نیولو سـره بشـپړه خپلواکي لري او نیمګړتیاوي۱- دپور د اداکولو لامحدود مسـولیت ۲-داچې دکاروبار مالک یواځې یو نفر وي نو دیواځېني کاروبار پانګه هم دشـرکت او سـهامي شـرکت په پرتله کمه وي ۳-داچې دکاروبار مالک یواځې یو نفر وي نو دکاروبار مدیریت کې هم ستونزې موجودې وي۴-دبانکونو او نوروماليي ادارو څخه دپورپه ترلاسه کولو کې اکثر ستونزې لري۵-داچې دکاروبار پانګه کمه وي نو دکاروبار دوسعت او پراختیا فرصـتونه هم کم وي۶-دسـهامي شرکت په پرتله دیواځېني مالکیت کاروبار موده هم کمه وي یعنې کیدای شـي ډیرژر له منځه ولاړ شـي .شـرکت : دکاروبار هغه شـکل ته ویل کیږي چې په هغې کې دوه یا له دوو څخه زیات اشـــخاص دیو لیکلي یا شـــفاهي قرارداد په اساس خپلې پانګې سره یوځای کوی او دګټې په خاطرپه ګډه سره یو کاروبارترسره کوي په دي شـرط چې ګټه او تاوان به دشـریکانو ترمنځ شـریک وي. دشـرکت ګټې: ۱-دیواځېني مالکیت په څیرشرکت هم په اسانی سره رامنځ ته کیدای شي۲-داچې په شرکت کې دشریکانو شمیر زیات وي نو دیواځېني مالکیت کاروبارپه پرتله په شرکت کې پانګه زیاته وي۳-داچې دکاروبار شـریکان زیات وي او داکثرو دپوراداکولو مسـولیت هم لامحدودوي نو په اسـانی ســـره کولای شـــي چې دبانکو نو او نورو مالي ادارو څخه پورترلاســـه کړي۴-دیواځېني مالکیت کاروبارپه پرتله په شـــرکت دزیات شـــمیرشـــریکانو په موجودیت ســـره دکاروبار مدیریت بنه ترسره کیږي۵-دټولو شریکانو له لورې په ګډه تصمیم نیول کیږي. اونیمګړتیاوې ۱-په شرکت کې هم داکثره شریکانو دپوراداکولو مسولیت لامحدود وي ۲-دشریکانو ترمنځ شـخړې او اختلافات۳-دسـهامي شـرکت په پرتله دشـرکت موده هم کمه وي ځکه دیو شـریک په مړ کیدلو سـره کیدای شـي شـرکت له منځه ولاړشـي۴-دشـرکت څخه دخپلې سـرمایې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویسـتلو کې سـتونزې۵-داچې په شـرکت کې ټول شـریکان په ګډه سـره کارکوي نو که یو شـریک خپله دنده په درسـت ډول سـرته ونه رسـوې نو به ټول شـرکت ورځخه متضـرره کیږي.سـهامي شـرکت یا کمپنی: دکاروبار هغه شـکل ته ویل کیږي چې دقانون په رڼاکې دحکمي شخص حیثیت لري او دقانون له مخې په سهامي شـرکت کې دکاروبار مالکان جلا او کاروبار جلاوي. ګټې :۱-دسهامي شرکت سهم لرونکو دپوراداکولو مسولیت محدود دی ۲-دسهامي شرکت سهم لرونکې په اسانۍ سره کولای شي په سهامي شرکت کې خپله ونډه او یاهم ملکیت دسهمونو دخرڅلاو په ذریعه په بل چا وپلوري ۳-دسهامي شرکت موده ډیره اوږده وي او شرکت په ځیر دیو شریک په مړینه سره پای ته نه رسیږي۴-دیواځېني مالکیت او شرکت په پرتله دسهامي شرکت پانګه زیاته وي۵-سهامي شرکت کولای شي په اسانۍ سره زیات مقدار پانګه دقرض په شکل لاسته راوړي ۶-داچې سهامي شرکت دمارکیټینګ ،منجمنټ، مالي مدیریت او نورو دندولپاره مسلکي او باتجربه اشخاص استخدامیږي نو دسهامي شرکت مدیریت ډیربنه وي۷-داچې دسهامي شرکت پانګه نظر یواځېني مالکیت اوشرکت ته زیاته وي نو طبیعي ده چې دسهامي شرکت ګټه هم زیاته وي. اونیمګړتیاوې:۱-دسهامي شرکت تاسیس ډیر مغلق او ستونزمن وي او ډیرقانوني مراحل غواړې ۲-دسهامي شرکت ترټولو ستره نیمګړتیا ۲ځله مالیه ورکول دي چې یو (corporateکرپوریټ) او بل واری (income taxاینکم ټکس) ورکوي سهم لرونکې او کاروبار دواړه ۳-داچې په سهامي شرکت کې سهم لرونکې دسهامي شرکت په مدیریت کې ونډه نه لري او دسهامي شرکت ټول فعالیتونه دمدیره هیت لخوا اداره کیږي نو دمدیره هیت غړې اکثره وخت دخپلو مفادو په خاطر دسهم لرونکو مفادات له پامه غورځوي دکاروبار تمویل منابع دوه دانې دي ۱-دخپلې پانګې په شکل تمویل۲-دقرض په شکل تمویل.دخپلې پولي پانګې څخه هدف داده چې دکاروبار له پاره داړتیا وړ پولي پانګه دکاروبار دمالکانو او یا هم شـریکانوله لورې په خپله کاروبار ته راوړل کیږي. دقرضـي په شکل تمویل څخه موخه داده چې دکاروبار مالکین او یا هم شریکان دکاروبار لپاره داړتیا وړ پانګه په خپله نه تهیه کوي بلکې دکاروباردفعالیتونو دترسره کولو لپاره داړتیا وړ پانګه دقرض یا پور په شکل دسودي بانکونو اسلامي بانکونو او یا هم نورو مالي ادارو څخه ترلاسـه کوي . دکاروبار دتمویل منابع له بل لیدلورې څخه هم په دوو سـترومنابعو ویشـلې شـوي شـوي چې په لاندې ډول دي۱-دتمویل داخلي منابع ۲-دتمویل خارجي منابع: دیوکاروبار دتمویل داخلي منابع هغو منابعو ته ویل کیږي چې دکاروبار په داخل کې موجودې وي او دهغې لپاره مونږ بل چا ته مراجعه نه کوو۲-دتمویل خارجي منابع هغه منابع دي چې دکاروبار په داخل کې موجودې نه وي بلکې دهغې لپاره باید مونږ بل چاته مراجعه وکړو ترڅو دکاروبار فعالیتونو لپاره داړتیا وړپولي پانګه ترلاسه کړو.دبانک اوور ډرافټ څخه مطلب دادی چې دیو کاروبار داړتیا په وخت کې دخپل جاري بانکي حساب څخه دخپلو اصلي پیسو څخه زیات مقدار پیسې ترلاسه کولای شي دبانک اوور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډرافټ څخه دورکینګ کفیټل دتمویل لپاره اســـتفاده کیږي . دبانک لون دکاروبار داړتیا په وخت کې کولای شـــي یو ســـودي بانک ته مراجعه وکړي او له ســـودي بانک څخه معلوم مقدار پیســـې دمعلوم وخت په معلوم مقدار ســـود باندې ترلاســـه کړي چې دوخت پوره کیدو وروسـته به بانک ته خپلې اصـلي پیسـې تادیه کوي. قرضــه حسـنه : هغه مالي کړنه ده چې دسـود څخه جلاوي قرضـه حسـنه ورته وایې .(discounting of bills)ډیسـکونټینګ اف بیلس سـودي بانکونه خپلو ځینو اعتبارې مشـتریانو ته داړتیا په وخت کې ډیسـکونټینګ اف بیلس پرشـــکل لنډ مهاله قرضـــونه ورکوي داپه دې معنا چې ســـودي بانکونه دخپلو ځینو اعتبارې مشتریانو څخه بیلاټ اکسچینج په یو څه تخفیف سره ترلاسه کوي او دهغه مشتري بانکي حسـاب ته یې لیږدوي چې همدغه تخفیف دسـودي بانک لپاره ګټه وي. ټرید کریډیټ کله چې یو کاروباري یوې شـتمنۍ او یا هم بل جنس ته اړتیا ولري او دهغې دترلاسـه کولو لپاره کافي اندازه پیسې ونلري نو دغه کاروبار کولای شي دغه شتمني او یا هم جنس دبل چا څخه په قرض شـكل ترلاسـه کړي دغه ډول کړنه په اسـلامي بانکونو کې ډیره مروجه ده . انسټال منټ کریډیټ: ددې څخه هدف دادی چې یو کاروبار داړتیا په وخت کولای شي داړتیا وړ شتمني یا جنس بل چا څخه قرض واخلي او بیا ټولې پیسې په یو ځل نه تادیه کوي بلکې دغه پیسې دقسطونو په شکل تادیه کوي. دقرضې سندونو نشرول. ایشو اف باندس سهامي شرکتونه اړتیا په وخت کې دپیسو ترلاسه کولو لپاره دقرضې سندونه نشروې او بیایې مالي بازار ته دخرڅلاو لپاره وړاندې کوي چې دخرڅلاو په نتیجه کې یې سهامي شرکت ته پیسې لاس ته راځي دقرض ســند درې مشــخصـــې لري ۱-معلوم رســـمي نرخ۲-دســـود نرخ۳-دسنددپوره کیدو موده.ایشـو اف شـیرز دسـهمونو نشـرول : سـهامي شـرکت دخپلې پانګې په شـكل دتمویل لپاره دسـهمونو څخه اسـتفاده کوي.سـهم هغه سـند ته ویل کیږي چې دهغې په ترلاسه کولو سره ددغه سنددرلودونکی له سهامي شرکت سره په ګټه او تاوان کې شریک ګرځي . ایشو اف شیر رایټ: کله چې په یو سهامي شرکت تاسیس شي معمولا دلومړي ځل لپاره ټول سهمونه په یو ځل مالي بازار ته دخرڅلاو لپاره نه وړاندې کوي بلکې په یو شمیر ســـهمونه له ځان ســـره ســـاتي او داړتیا په وخت کې یې بیا دخرڅلاو لپاره مالي بازار ته وړاندې کوي . ناتوزیع شـوي ګټه : یواځېنی مالکیت ، شـراکت او هم سـهامي شـرکت کولای شـــي داړتیا په وخت کې دهغې ګټې څخه تمویل دمنبع په توګه اسـتفاده وکړي چې دکاروبار دفعالیتونو په نتیجه کې ترلاسه شوي وي. دمالکانو لخوا تمویل : له دې څخه هدف دادی چې په یواځیني مالکیت کاروبار کې دکاروبار یواځېنی مالک داړتیا په وخت کې خپله کاروبار ته مالي امکانات تهیه کوي او په شـرکتونو کې دشـرکت شـریکان په ګډه سـره دکاروبار دپیل په وخت او یا هم دکاروبار دپیل څخه وروسـته دکاروبار دتوسـعې او پراختیا لپاره او یا هم دکاروبار دورځنیو فعالیتونو دترســـره کولو لپاره په خپله مالي امکانات او پولي پانګه چمتو او تهیه کوي. اجاره کله چې یوکاروبار ځینو ثابتو شـــتمنیو لکه تعمیر ماشـــین الات موټر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوداسي نورو ته اړتيا ولري خو دنوموړو شتمنيو داخيستلو لپاره کافي پيسي ونلري، په داسي حال کي کاروبار کولای شي دخپلو فعاليتونو دترسره کولو لپاره نوموړې شتمنۍ له بل چا په اجاره ونيسي.داجارې او بيعې ترمنځ توپير دادی چې په بيعه کې ديوې شتمنۍ يا جنس ملکيت دخرڅوونکي څخه اخيستونکي ته انتقاليږي ، البته په اجاره کې ديوې شتمنۍ ملکيت دشتمنۍ دمالک سره وي او دنوموړې شتمنۍ داستعمال حق د يو معلوم وخت لپاره دمعلومې اجارې يا کرايې په مقابل کې بل چاته ورکول کيږي. مالي بازارونه هغه بازاروته ويل کيږي چې په هغې کې مالي سندونه يا مالي شتمنۍ يا فيننشيل سيکوريټيز داخيستوونکو او خرڅوونکو ترمنځ تبادله کوي. مالي بازارونه دوه داسې ډلي سره يوځای کوی چې يو يې پس انداز پيسې ولري ۱-چې دغه ډلې ته (saving surplus unit)سيوينګ سرپلس يونټ ويل کيږي او بله هغه ډله چې دپيسو ته اړتيا ولري چې دغه ډلې ته (saving deficit unit)سيوينګ ډيپيسيټ يونټ وايې . مالي سندونه يا شتمنۍ هغه سندونو ته ويل کيږي چې دهغې په اساس ددغه سندونو درلودونکي ديو سهامي شرکت يا بلې مالي ادارې سره په کاروبار کې شريک کيږي او يا هم دسهامي شرکت يا بله مالي اداره ددغه سند درلودونکې پورورږي ګرځي له دې څخه معلوميږي چې مالي سندونه دوه معمولا حالتونه لري۱-دملکيت حالت ۲-دقرضي حالت. مالي سندونه بيلابيل ډولونه لري چې په لاندې ډول ورڅخه يادونه کوو۱-دونډې سند يا سهم سند : هغه مالي سند ته ويل کيږي چې دسهامي شرکتونو له لوري دتمويل دمنبع په توګه دسرمايي دلاسته راوړلو لپاره نشريږي۲-دقرضي سند بونډ)هم دسهم په څير ديو مالي سند چې دسهامي شرکت له لورې دقرض په شکل دتمويل دمنبع په توګه دسرمايي دلاسته راوړلو لپاره استعماليږي۳ټريژري بيلس(treasury bills) داهم دبونډ په څير دقرض يو مالي سند دی چې دامريکا متحده ايالاتو دمرکزې بانک له لورې نشريږي ۴-دمشارکت سند دغه هم يو مالي سند دی چې داسلامي بانکونو له لورې دهغو پروژو يا کاروبارونو دتمويل لپاره نشريږي چې زيات مقدار پيسو ته اړتيا ولري. داجارې سند (Sukuk) هغه مالي سند ته ويل کيږي چې په يوه مشخصه شتمني يا ملکيت کې ددغه سند درلودونکی دبرخې نماينده ګې کوي . (money market)مني مارکيټ : هغه مالي بازار دی چې په هغې کې دقرض لنډ مهاله سندونه تبادله کيږي. په مني(مالي) مارکيټ کې معمولا(ټريژرې بيلس)او(c-paper) سي-فيفر تبادله کيږي. (capital market)کفيټل مارکيټ: هغه مالي بازار ته ويل کيږي چې په هغې کې دقرضي اوږدمهاله سندونه تبادله کيږي. په کپيټل مارکيت کې معمولا بونډ او شيرزس (bonds &shares)تبادله کيږي. (primary market)فريمرې مارکيټ هغه مالي بازار ته ويل کيږي چې په هغې کې نوې نشر شوي مالي سندونه دلومړې ځل لپاره دخرڅلاو لپاره وړاندې کوي .( secondary market) سيکنډري مارکيټ هغه مالي بازار ته ويل کيږي چې په هغې کې نوې نشرشوي سندونه تبادله کيږي بلکې په داډول مالي بازارونو کې موجود ه ياپخواني نشرشوي سندونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبادله کيږي. دونډو بازار: هغه مالي بازار ته ويل کيږی چې په هغې کې دسهامي شرکتو نو سهمونه داخيستونکواو خرڅوونکو ترمنځ تبادله کيږي. (OTC)او ټی سي دامالي بازار دونډو دبازار په څير يو مشـــخص ځای نه لري بلکې په دا ډول بازارکې پانګه اچونکي دمالي دلالانو په مرســـته په هر ځای کې خپل مالي ســـندونه تبادله کولای شـــي . فيننشـــيل انټرميـديريز(financial intermediaries) : هغـه مـالي ادارو تـه ويـل کيږي چې دپس اندازکوونکو څخه پيسې ترلاسه کوي او بيا په خپل نو م دغه؟ پيسي دګټې په خاطر نورو ته په قرض ورکوي او يا هم په خپله په دغه پيسو باندې په مالي شتمنيو او يا نورو ځايونو کې پانګه اچونه کوي. ۱-ســـوداګريز بانکونه: ۲-بيمې شـــرکتونه ۳-نورې مالي ادارې مالي دلالان: هغه ځانګړو اشـخاصـو يا مالي ادارو ته ويل کيږي چې دوه داسـې ډلې سـره يوځای کوي چې يو پس اندازولري او غواړې چې په خپلو پيسو باندې پانګه اچونه وکړې او بله ډله پيســو ته اړتيا ولري . ســود يارېحه : دقرض په وخت کې چې له پور اخيســتونکي څخه په اصـل مقدار قرض باندې هر څومره اضـافه پيسـې اخيسـتل کيږي هغې ته سود يا ربحه ويل کيږي دسـود ډولونه ۱-سـاده ربحه ۲-مرکبه ربحه . سـاده ربحه هغې ربحې ته ويل کيږي چې هميشه يوائې او يوائې دقرض په اصلي مقدار باندې وضع کيږي۱-مرکبه ربحه هغې ربحې ته ويل کيږي چې دقرض اصـلي مقدار ترڅنګ په هغه ربحه يا سود باندې هم وضـع کيږي چې مخکې ترلاســـه شـــوي وي .دســـاده ربحي دپيداکولو فورمول:(si=pv(i)(cn) annuity: کله چې په ځانګړو معلومو وختونو کې عين مقدار پيســـې په عين مقدار ســـود باندې دقرض په ډول ترلاســـه شـــې او يا هم بل چا ته وقرض په ډول ورکړل شـــي قسـط يا انيوټې په نامه يادېږي. Ordinary: کله چې عين مقدار پيســـې په عين مقدار ســـود باندې دهرې مودې په پای کې تاديه او يا هم ترلاســـه شـــي اردينرې انيوټې په نامه يادېږي. annuity Due: کله چې عين مقدار پيسـې په عين مقدار سـود باندې دهرې مودې باندې په پيل کې تاديه او يا هم ترلاســـه شـــي انيوټې ډو بلل کيږي mixed flowsکله چې په بيلابيلو وختونو کې مختلف مقدار پيسـې دقرض په شـکل په سـود ترلاسـه شـي او يا هم بل چا ته په سـود ورکړل شـي ميکسـډ فلوس بلل کيږي. :amortizing a loanله دې څخه هدف دادی چې يو څوک دخپل کاروبار لپاره پيســې په قرض واخلي او دغه ســودي قرض وي او دغه ټول قرض بيرته په يو ځل نه تاديه کوي بلکې دغه ټول قرض سود سره دقسطونو په شـکل تاديه کوي په دې شرط چې دهر قسط مقدار به يو شـان وي. مالي حسـابونه : هغه حسـابونه ته ويل کيږي ، چې ديومالي کال په پای کې ترتيبيږي او ديو کاروبار ديوې مالي دورې ټول عوايد ټول مصارف ترلاسه شوي ګټه او يا تاوان په ګوته کړې . دګټې او تاوان حساب: هغه مالي صـورت حسـاب دی چې ديو مالي کال په جريان کې په يو کاروبارکې د ترسـره شـوو فعاليتونو په نتيجه کې ټول رامنځ ته شـوي مصـــارف او ترلاســـه شـــوي عوايد بنـــايې چې دنوموړو مصارفو او عوايدو له حاصل تفريق څخه ګټه او يا هم تاوان لاسته راځي . بيلانس

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـيټ : هغه مالي حسـاب ته ويل کيږي چې ديو مالي کال په پای کې دازمايښـتي بيلانس له مخې ترتيبيږي او ديو کـاروبـار دمـالي حـالـت څرګنـدونـه کوي يعنې دابښــــايي چې يو کاروبارڅومره شـتمني لري او په دې شـتمنی کی څومره برخه دکاروبار دمالکانو او څومره برخه يې پردې پانګه ده. دمالي حسابونو تحليل : دمالي حسابونو تحليل څخه هدف دادی چې مونږ له مالي حســـابونو څخه اعدادو او ارقام راخلو او بيا له هغې څخه داســـې معلومات ترلاســـه کوو چې دهغې په اســـاس مونږ ديو کاروبار ګټورتيا دپور او تاديې وړتيا دکاروبار سياليت . مالي حالت او داسې نور په بيلابيلو وختونو مقايسه کوواوبيا دهغې په اساس تصميم نيســو چې ايايه کاروبار کې ښــه والی راغلی او که نه. مالي نسـبتونه : مالي نسـبتونه هغه نسـبتونو ته ويل کيږي چې مالي حسـابونو دتحليل لپاره ورڅخه ديو وسـيلې په توګه اسـتفاده کوي. دمالي نســبت قســمونه - liquidity ratio2financial leverage ratio3activity ratio4coverage ratio5profitability ratio6current ratio7acid test ratio or ليکوېډيټي ريشـيو له دې نسبتونو هغه وخت اسـتفاده کيږي(liquidity ratio).quick ratio چې کله مونږ ديو کاروبار لنډ مهاله پورونو دتاديې وړتيا پيداکوو. financial leverage) فيننشيل ليوريج ريشيو : له دې نسبتونو څخه هغه وخت استفاده کوو چې کله مونږ ديو(ratio کاروبار په ټوله شـتمنی کې دپردې پانګې نسـبت پيداکوو. (activity ratio)اکټويټي ريشـو : کله چې مونږ ديوکاروبار دطلباتو دترلاســـه کولو وړتيا او هم دګودام دموجودې يا ذخايرو دخرڅلاو وړتيا پيداکړو نو له دې نسـبتونو اسـتفاده کوو. کوريج ريشـيو : ددې نسـبتونو په مرسته کولای شو ووايو چې ايايو کاروبارداخيستل شويو قرضونو سود په اسانۍ سره تاديه کولای شـي او که نه . (profitability ratio)فروفيټيبيليټي ريشيو له دي نسبتونو څخه هغه وخت استفاده کوو چې مونږ ديو کاروبار ګټورتيا پيداکوو. (current ratio)کرنټ ريشيو : ددې نسـبت په مرسـته کولای شـو ووايو چې ايا يو کاروبار دخپلو جارې شـتمنيو سـره خپل لنډمهاله قرضـونه تاديه کولای شـي او که نه .(quick ratio) کويک ريشـيو: ددې نسـبت په مرسته کولای شـو ووايو چې ايا يو کاروبار په خپلو ډيرو سيالو شـتمنيو سـره خپل لنډ مهاله قرضــونه تاديه کولای شـــي او که نه. (debit to asset ratio)ډيبيټ ټو اســيټ ريشــيو : دنوموړې نسبت په مرسته کولای شو ووايو چې ديوکاروبار په ټوله شتمنۍ کې دپردۍ پانګې فيصـدې څوده .(debit to equity) ډيبيټ ټو ايکويټي: ريشـو ددې نسبت په مرسـته کولای شـــو په يو کاروبار کې دپردۍ پانګې اندازه او فيصــــدې معلومولای شـــو. ( gross profit margin ratio)ګراس فروفيټ مارجن ريشـــو : دنوموړې نســـبت څخه معلوميږي چې يو کاروبار دخرڅلاو دهرې روپۍ (ډالر افغ)په مقابل کې څومره ناخالصــه ګټه کړې ده .( net profit) نوموړې نسبت څخه معلوميږي چې يو کاروبار دخرڅلاو دهرې روپۍ په مقابل کې څومره خالصـه ګټه کړې ده. (gross return on investment) ګراس ريټرن ان اينوسټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

منټ: دنوموړي نسبت څخه معلوميږي چې يو کاروبار دپانګې اچونې دهرې روپۍ په مقابل کې څومره ناخالصه ګټه کړې ده . (net return on investment)نيټ ريټرن ان اينويسټ منټ: دنوموړي نسبت څخه معلوميږي چې يو کاروبار دپانګې اچونې دهرې روپۍ په مقابل کې څومره خالصه ګټه کړې ده . (receivable turn over)ريسيويبل ټرن اور: دانسبت مونږ ته ښايي چې يو کاروبار په اوسط ډول سره خپل طلبات په کال کې څو دفي ترلاسه کوي .(payable turn over) پيبل ټرن اور: دانسبت مونږ ته ښايي چې يو کاروبار په اوسط ډول سره څو ورځې وروسته خپل تجارتي پور تاديه کوي. ( inventory turn over)اينويټري ټرن اور: دانسبت داښايي چې يو کاروبار په اوسط ډول سره خپل دګودام موجود په دفو کې په خرڅلاوو رسوي.(interest coverage ratio) اينټرسټ کوريج ريشو: دانسبت مونږ ته داښايي چې کله يو کاروبار سودي قرض اخيستي وي نو يا دغه کاروبار دسود پيسې په اسانۍ سره تاديه کولای شي او که نه.(operating cycle) اوفريټينګ سايکل : کله چې يو کاروبار له بل چا څخه اجناس واخلي بيا دغه اجناس په بل چا باندې خرڅ کړي او بلاخره داجناسو دخرڅلاوو څخه وروسته خپلې پيسې لاسته راوړي دغه ټوله پروسه چې څومره موده په برکې نيسي هغې ته اوفريټينګ سيکل وايي. cash) (cycleکيش سيکل : کله چې o-cڅخه دهغه موده منفي شي چې په هغې کې مونږ دبل چا څخه په قرض اخيستل شويو اجناسو پيسې تاديه کوو يعنې کله چې او سې څخه دتجارتي پور دتاديې موده منفي شي کيش سيکل بلل کيږي: (common size)کامن سايز: دمالي حسابونو دتحليل په دې ميتود کې مونږ دبيلانس شيټ په مالی محاسبه کې په ټوله شتمنې کې دبيلانس شيټ دهرقلم (ايټم)فيصدې معلوموو او دنوموړې فيصدې دمعلومولو لپاره دبيلانس شيټ هرقلم په ټوله شتمنئ باندې ويشو ، همدارنګه دمالي حسابونو دتحليل په ميتود کې مونږ اينکم سټيټ مينټ: په مالي حساب کې په ټول خرڅلاوو کې اينکم سټيټمينټ دهرقلم فيصدې معلوموو چې دمعلومولو لپاره دګټې او تاوان صورت حساب دهرقلم په خرڅلاوو باندې ويشو.(index analysis)اينډيکس انلايسيس: داهم دمالي حسابونو دتحليل يو ميتود دی چې په دې ډول تحليل کې مونږ دګټې او تاوان صورت حساب او بيلانس شيټ دهر قلم ارقام داساس کال دارقامو سره پرتله کوو او بيا دهرقلم دفيصدې تغييرات ګورو چې ايا داساس کال په پرتله په اوس وخت کې په کې څو فيصده کموالی او زياتوالی راغلی دی.

# مالي محاسبه

مخکې لدې چې په يوه توليدي تصدۍ کې دتوليد شوو اجناسو دتمام شد قيمت او همدارنګه داجناسو څخه تر لاسه شوي ګټه محاسبه کړو ددې ځينې مخکې مونږ ته لازمه ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمحاسبې دوران تشریح کړو نو لومړی دمحاسبې علم تعریف او بیا دمحاسبې ددوران (Accounting Cycle) عناصر چې په لاندې ډول دي تشریح کوو.

دمحاسبې د علم تعریف (Accounting Definition):(دکاروبار ژبې ته محاسبه ویل کیږي .یا په بل عبارت محاسبه : دمعاملاتوپیژندل،ثبت کول، دمعاملاتو طبقه بندې کول،دحسابونو خلاصه کول،اودې حسابونو څخه دې نتجې اخستلو هنر ته محاسبه ویل کیږي.

Accounting is the language of business is called Accounting or Accounting is the Process of Observing, identifying, measuring, recording, classifying, summarising and reporting the financial information to its users in the form financial statements.

دمحاسبې د دوران تعریف:

Closing the books and preparation of final accounts) (دکتابونو بسته بندې او راپوړونو ترتیب کولو ته دمحاسبې دوران ویل کیږي.

1. معامله
2. ژورنال
3. لیجر
4. ازمایښتې بیلانس
5. تصفیوي یا تعدیلي حسابونه
6. دګټې او تاوان صورت حساب
7. دپای بیلانس

مخکې لدې چې دمحاسبې ددوران پورتنې عناصر تشریح کړو لازمه بولم چې دا څرګنده کړو چې دمحاسبې یو ښه معلوماتي سیستم دتصدی داداري سره همکاري کوي او لاندې سوالونو ته ځوابونه وايي:

۱. په تصدی باندې څومره پورونه پاتې او دتادیې وړ دي؟

۲. ایا زمونږ خرڅلاو دنورو کلونو په نسبت زیات شوی او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. کوم ډول شتمني مونږ دتصدۍ په اختيار کې لرو؟

٤. نقده جريان څه ډول صورت نيسي؟


٥. ايا زمونږ توليد خو دضرر سره مخامخ نه دی ؟

٦. ايا کولای شو چي دتصدۍ ګټه تر اعظمي نقطي ورسوو؟

دمحاسبې يو ښه معلوماتي سيستم دپورتنيو سوالونو په شکل داسې ډيرو نورو سوالونو ته ځواب ويلای شي . نوبنآ ويلای شو چي دمحاسبې يو ښه معلوماتي سيستم د ټولو تصديو لپاره ګټور او مفيد دي

دمحاسبې دوران

Accounting cycle




په پورتيني شکل کي چي دمحاسبوي معمالاتو ثبت دابتداء څخه تر وروستۍ مرحلې پورې په کې ښودل شوی چې دمحاسبوي معاملاتو دثبت پروسه ښايي.

ټولي تصدۍ ګاني ددغه ډول پروسې څخه دمعاملاتو په ثبت کي استفاده کوي او همدارنګه دځيلو مالي حسابونو په جوړولو کې ترې استفاده کوي.

دمحاسبې ددوران هر عنصر په لاندې ډول تشريح کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

معامله (Transaction): هره راکړه ورکړه چي ددووکسـانو په مابين کي صـورت ونيسـي معامله بلل کيږي .(Any dealing between two persons in is called Transaction)

ژورنال

(Journal )

ژورنال يوفرانسوي لفظ (jour) څخه اخيستل شوی چې دورځ په معنی دی او په انګليسي

کې ورته (Daily) ويل کيږي . ژورنال هغه کتاب دی چې معاملات په کې هره ورځ ثبت کيږي .(Journal is the book in which we record the Daily Transactions)

. دژورنال خصوصيات

Characteristics of Day Book

١. ژورنال د ډبل انتري يا دوه طرفه ثبت لمړنۍ مرحله ده . او تر ټولو لمړي معاملات په ژورنال کې ثبت کيږي په دې توګه ژورنال د ورځينو معماملاتو د ثبت کتاب دی .

٢. معاملات دواقع کيدلو په ورځ ثبت کيږي . په دې توګه ژورنال ته ورځنی کتاب يعني (روزنامچه )ويل کيږي .

٣. معاملات په تاريخوار(Chronological) ډول سـره ثبت کيږي نوويلی شـو ژورنال دتاريخوار ثبت کتاب دی .

٤. په ژورنال کې دهرې معاملې لپاره دوه حسابونه وي او هم ښودل کيږي چي کوم حساب دبټ او کوم حسـاب کريډيټ کيږي . چې دا لجر ته دارقامو په انتقال کې اسـانتيا راولي نو ويلای شو چې ژورنال دليجر معاون دی.

٥.دمعاملې دثبت څخه وروسـته دمعاملې تشـريح ليکل کيږي (دهغو کسـانولپاره دامعلومات ليکل کيږي کوم چي په محاسبه نه پوهيږي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶.دحسابونو مبلغ په دوو ورستیو کالمونو کې لیکل کیږي دډیبیټ مبلغ په ډیبیټ کالم کې او دکریډیټ مبلغ په کریډیټ کالم کې لیکل کیږي.

دژورنال دترتیب کولو ګټې

(Advantages of preparing Journal Book)

۱.هریوه معامله کله چې صورت ونیسي ثبت کیږي نو بنا دلته ددې امکانات وجود نه لري چې کومه معامله دې ددې کتاب څخه لیري شي.

۲.کله چې معامله په تاریخوارډول دتشریح سره دژورنال په کتاب کې په ثبت ورسول شي نو بیا مونږ هر وخت کولای شو چې په اسانۍ سره معلومه کړو چې دامعامله څه وخت او ده څه لپاره ترسره کړي وه.

۳. څرنګه چې دهرې معاملې لپاره دوه حسابونه وي او په څرګنده او صحیح ډول سره په ژورنال کې ډیبیت او کریډیټ شوي وي نو د(posting) په وخت کې مونږ ته کوم مشکلات رامنځته کیږي.

۴.څرنګه چې مونږ دهرې معاملې په هکله تفصیل په ژورنال کې لیکلي وي نو په لیجر کې دي تفصیل لیکلو ته ضرورت نشته.

۵. په ژورنال کې مونږ دهرې معاملې په هکله مکمل معلومات ترلاسه کولي شو.

۶. په لیجر کې هره رامنځته شوي غلطي مونږ کولای شو چې دژورنال په مرسته یي رهنماي کړو.

دژورنال شکل

Form of Journal

| Date<br>نیټه | توضیحات<br>Particulars | L. F | مبلغ | |
|---|---|---|---|---|
| | | | دبت | کریډیت |
| | | | | |

په ژورنال کې معاملاتو دثبت کولوعمل ته (journalizing ) ویل کیږي په ژورنال کې دثبت کولو قاعده او قوانین په لاندې ډول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ .دهرې معاملې پورې مربوط حسابونو دنومونو ليکلو لپاره بايد دجدا لاينونو څخه استفاده وشي .

۲ . په لمړي لاين کې بايد مقروض( Debtor)او دهغه حساب نوم اويا هغه حساب وليکل شـــي چې ديبيت کيږي . په دوهم قطار کې دقرض ورکوونکي ( Creditor) نوم اويا هغه حساب چې کريډيت کيږي ليکل کيږي .

۳ . دديبيت کيدونکي حساب نوم دلاين په سر کې وليکل شي او کريديت کيدونکي حساب نوم دلاين دشروع څخه لږ وروسته فاصله کې وليکل شي .

٤ ــ دحسابونو دنومو څخه وروسته لاين کې بايد دمعاملې لنډيز وليکل شي .

٥ ــ دمعاملاتو دثبت دجلاکولو په خاطر بايد دهرې معاملې دثبت څخه وروسته دتفصيل په ستون کې خط وايستل شي .

دژورنال دصفحې عناصر په لاندې ډول هر يو تشريح کوو:

دتاريخ ستون (Date column): پدغه ستون کې هغه تاريخ رسول کيږي چې معاملې پرې ترسره شوي وي پدغه ستون کې کال دستون په پورتنۍ برخه کې مياشت دکال نه لاندې او ورسره تاريخ په ثبت رسول کيږي.

دتشريح ستون (Description column): پدغه کالم کې حسابونه په ثبت رسول کيږي .

هغه حساب چې په ډيبيت کې رسول کيږي په دې حساب کې په چپ طرف کې رسول کيږي اوهغه حســاب چې په کريډت کې رســول کيږي په همدې کالم کې دمعاملې په اړه معلومات ذکر کيږي چې دې ته (Narration) ويل کيږي.

ليجر ته دمعاملې دانتقال شــميري ســتون (Post Reference column): دغه ســتون هغه وخت تکميل کيږي کله چې مونږ معاملات دژورنال څخه ليجر ته انتقال کړو په لنډ ډول ويلای شو چې په دې ستون کې دمربوطه ليجر دصفحې شميره ليکل کيږي .

دډيبيت اوکريډيټ دمقدار ســتونونه (Debit and Credit Amount Column): دکريډيتي حساب مقدار په ژورنال کې دکريډيت په ستون کې په ثبت رسول کيږي او همدارنګه دډيبيټي حساب مقدار په ډبيت ستون کې په ثبت رسول کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دژورنال څخه لیجر ته دمعلوماتوانتقال:

Posting

دمحاســبوي دوران دویمه برخه عبارت ده د posting څخه یعنې دژورنال څخه دحســابونو انتقال لیجر ته چې دلته حسابونه طبقه بندې کیږي .

تعریف:هغه کتاب چې په هغه کې دتجارتي معاملاتو خلاصــه په ثبت رســول کیږي دلیجر دکتاب څخه عبارت دی. ( A book which Contains the classified record of all the transaction of a business in shape of account is called ledger).

په لیجر کې ټول معاملات دمربوطو حســابونو لاندې راوړل کیږي ترڅو دمربوطه حســاب دزیاتوالی او کموالی په اړه معلومات ترلاسه کړو.

مثلا: که مونږ وغواړو دخپل مجموعي خرڅلاو په اړوند معلومات ترلاسه کړو نو د ژورنال په مختلفو صــفحو کې دخرڅلاو په اړوند ځای په ځای شــوي معلومات جمع کول مشــکل بریښــي نو څرنګه چې په لیجر کې دهر حســاب په اړوند ټول معاملات دهغې حساب لاندې ذکر کیږي نو مونږ دخرڅلاو دلیجر څخه کولای شو چې په اسانۍ سره دمجموعي خرڅلاو په اړوند معلومات ترلاســه کړو. په بل عبارت مونږ ویلای شــو دلیجر په مرســته مونږ دمختلفو حسابونو په هکله فوري نتیجه ترلاسه کولای شو.

دلیجر شکل (Ledger form)

دحساب نوم

| مبلغ | | | J. F | توضیحات Particulars | دسند نمبر | Date نیټه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| بیلانس | کریدیت | دیبیت | | | | |
| | | | | | | |
| | | | مجموعه بیلانس | | | |

دلیجر دجوړولو هدفونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(Objective of Ledger)

۱.دتجارتي معاملاتو خلاصـــه ترڅو په مختلفو حســـابونو کې حقيقي زياتوالي او کموالي په باره کې معلومات تر لاسه کړو.

۲. دليجر څخه مونږ ازمايښـــتي بيلانس جوړو ترڅو دمعاملاتو دثبت دتصـــحيح معلومات ترلاسه کړو.

۳. دهر يو حساب په هکه مونږ کولای شو چي په کم وخت کې په اسانه ډول سره معلومات تر لاسه کړو.

په ليجر کې دمعاملاتو دثبت قاعده

۱. دژورنال څخه دثبت شـــوو معاملاتو انتقال لجر کې دمربوطو حســـابونو ديبت او کريديت طرف کې کوم چي ژورنال کې مشـــخص شـــوي دي صـــورت نيســـي همدارنګه دمعاملې دثبت تاريخ دســـندنمبراو دژورنال دصـــفحي نمبر چې معلومات ورڅخه لجر ته انتقال شوي دي د j.f په ستون کې رسول کيږي .

۲ په ژورنال کې دريفرنس يا L.f په ستون کې هغه حسابونو نمبر چې معلومات ورته انتقال شـــوي دي (يالجر) دصـــفحي نمبر رســـول کيږي . لجر ته دمعلوماتو انتقال وخت دکاروبار په اندازې پورې اړه لري .

دليجر او ژورنال ترمنځ توپيرونه

Distinction between Ledger and the Journal

۱.ژورنال دمعاملاتو دثبت لومړنی کتاب دی اوليجر دمعاملاتو دثبت دويم کتاب دی .

۲. دژورنال کتاب دتاريخوار ريکارډونو لپاره کارول کيږي او دليجر کتاب د Analytical ريکارډ لپاره استعماليږي.

۳.په ژورنال کې دخلاصـي واحد عبارت دی له معاملې څخه او په ليجر کې دخلاصـي واحد عبارت دی له حساب څخه.

٤.په ژورنال کې دمعاملاتو ثبت ته ژورناليزنګ وايي او په ليجر کې دمعاملاتو ثبت ته پوستينګ وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازمایښتي بیلانس

(Trail Balance)

تعریف:ازمایښـتي بیلانس هغه راپور دی کوم چي په لیجر کي دډیبیت او کریډیټ بیلانسـونو په مرسـته تشـکلیږي ( Trial Balance is a statement prepared by. taking out .debit and credit balances of all accounts appearing in the ledger)

کله چې د ټولو حسابونو لپاره لیجر تهیه او ترتیب شي نو دابه ښه وي چې مونږ معلومه کړو چي دغه معاملات په ژورنال او لیجر کې په صـــحیح ډول رســـولي او که نه ددي معلوماتو دتهیه کولولپاره مونږ دیوې وسیلي څخه کار اخلو چې د ازمایښتي بیلانس په نوم یادیږي.

ازمایښـــتي بیلانس دوه ســـتون لرونکي راپور دي چې په دې راپور کې دټولو حســـابونو بیلانسونه په ثبت رسول کیږي.

یعني کوم حسابونه چي دډیبیت بیلانس درلودنکي وي ازمایښتي بیلانس چپ طرف ته او کوم حســابونه چي دکریډیټ بیلانس درلودنکي وي دازمایښــتي بیلانس په ښــي طرف کې په ثبت رسول کیږي او باید دازمایښتي بیلانس دواړه ستونونه سره مساوي شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دازمایښتي بیلانس دتهیه عمده هدف دادی ترڅو دډیبیټ او کریډیټ حساـبونو وروسته ددي څخه چي دغه حساـبونه دژورنال څخه لیجر ته انتقال شي باید سره مساوي وي.
ددي معنی دانه هم خبرې ده چې کله

| code | Account | پولي واحد Afs | |
|---|---|---|---|
| | | D | C |
| | | | |
| ∑ | Total | | |
| | saldo | | 0 |

دازمایښتي بیلانس دډیبیټ او کریډیټ ستونونه سره مساوي وي مونږ به په ژورنال اولیجر کې معامالات په صحیح ډول ثبت کړي .

دلته مختلف وجوهات شته چي دازمایښتي بیلانس دډیبیټ او کریډیت ستونونه به مساوي وي خو په ژورنال کي به مو معلات په صحیح ډول نه وي ثبت کړي چې په لاندې ډول یي ذکر کوو:

۱. معامله په ژورنال کې په ثبت ونه رسیږي.

۲.معامله لیجر ته په صحیح ډول انتقال نشي.

۳. دژورنال څخه معاملات په تکراري ډول لیجر ته انتقال شي.

٤.په ژورنال او لیجر کې غلط حسابونه استعمال شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تعديلي يا تصفيوي معاملات

## Adjusting Entries

مونږ د ګټې او تاوان حساب سره يوه جمله ليکو ( for the year) ددي مطلب دادی چې په دې حساب کې به هره يوه شی دهغه وخت مطابق ليکل کيږي په څومره وخت کې چې مونږ دګټې او تاوان حساب جوړو مونږ عموما دګټې او تاوان حساب ديوې اقتصـادي په پای کې ترتيب کوو.

دپورتنی موضوع دلاښه وضحات لپاره يو مثال وړاندې کوو:

مثال: مو نږ سږ کال ددو کالو کرايه پيشکي تاديه کړي نو کله چې مونږ په دې کال کې دګټې او تاوان حساب جوړو صرف ددغه کال کرايه په کې ثبت کوواو ديو کال پيشکي تاديه شوي کرايـه دپـای پـه بيلانس کې پـه متغيره داريي کې پـه ثبـت رســـوو چې دغې عمليې تـه Adjusting وايي.

تعديلي ياتصـــفيوي معامالات مختلف ډولونه او دهغې دثبت طريقه دګټې اوتاوان او دپای په بيلانس کې  چې ځيني  مهم تعديلي  معاملات په لاندې ډول ذکر کوو:

۱.تادياتي مصـــارف (Accrued expenses): هغه مصـــارف چې واقع شـــوي وي خو مصارف مو نه وي تاديه کړي چې دې ډول مصارفوته تادياتي مصارف ويل کيږي.

مثلا:مونږ سـره کارګرانو کار کړي او معاش مو نه دی ورکړی دغســي مصــارف دګټې او تاوان په حساب کي ډيبيت او دپای په بيلانس کيې دپور په ډول ليکل کيږي.

ددغې مصــارفو ته په انګلســي کې نور اصــطلاحات هم اســتعماليږي چې په لاندې ډول دي اودغــه ټول نومونــه يو مفهوم افــاده کوي: ,Accrued Expenses, outstanding exp Arrears, Expense Due, Expense payable, Expense owing .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲.پیشکي تادیه شوي مصارف (Prepaid expenses):هغه مصارف چي نغدا په پیشکي ډول تادیه کیږي پرته له دې چې په مصرف ورسیږي دپیشکي مصارفو په نوم یادیږي .دغه ډول مصارف دګټې اوتاوان په حساب کې دمصارفو څخه کریډیټ کیږي او دپای په بیلانس کي دمتغیرې شتمنۍ په حیث ثبت کیږي .

دغه مصارف کیدای شي په بیمه،اشتهاراتو،او دکرایي په برخه کې تادیه کیږي .

۳. ترلاسه کیدونکي عایدات (Accrued income): هغه عایدات چي ګټلي مووي خو تراوسه پورې ترلاسه شوي نه دي په راتلونکي کې به ترلاسه کیږي لکه دسود،داسهامو څخه ترلاسه کیدونکي ګټې اوداسې نور ددې طریقه داده چي د ګټې او تاوان په حساب کې دعایداتو سره ډیبیټ کیږي او دپای په بیلانس کې د پانګې سره علاوه کیږي .

٤..پیشکي عایدات (Unearned Income): هغه عایدات چي په پیشکي ډول مونږ ته تر لاسه شوي وي خو ګټلي مونه وي دغه ډول عایداتو ته پیشکي عایدات ویل کیږي لکه: سود،کرایه،تخفیف،کمیشن او داسې نور دي .

دګټې اوتاوان په حساب کې دعایداتو ځینې کریډټ کیږي او په پای بیلانس کې دپور په ډول لیکل کیږي.

فرسایش (Deprecation): عموما تصدۍ دمختلفو تولیدي وسایلو درلودنکي وي لکه:تعمیرات،تجهیزات،ټرانسپورټي وسایل اوداسې نور

دهرې اقتصادي دورې په اوږدو کې دتولیدي وسایلو په استعمال سره دتولیدي وسایلو په حقیقي ارزښت کې کموالی رامنځته کیږي چې دفرسایش په نوم یادیږي. دغه دوسایلو فرسایش یومصرف ایجابوي چي دګټې او تاوان په حساب کې دفرسایش دمصارفو په حیث باید په ثبت ورسول شي او دپای په بیلانس کې دمربوطه شتمني دحقیقي ارزښت څخه کریډیټ کیږي .دفرسایش دسنجش لپاره عموما دفرسایش دخطي میتود څخه استفاده کیږي چې فارمول یې په لاندې ډول دی .

کلنی فرسایش=دتولیدي وسایلو ارزښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتوليدي وسايلو په عمر

مثلا: ديوې توليدي دســـتګاه اقتصـــادي عمر ۱۰ کاله تخمين شـــوي او دهغې دخريدراي مصارف ۱۰۰۰۰ ډالره دي مونږ دتوليدي دستګا کلنی فرسايش په لاندې ډول محاسبه کوو:

کلنی فرسايش=۱۰۰۰۰ = ۱۰۰۰ دالره
۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالي راپورونه

(Financial statements)

څرنګه چې مونږته معلومه ده چې د محاســبې دعلم يو هدف په يوه معينه موده کې دکاروبار نفعه اوضـــرراو همدارنګه مالي حالت څرګندول دي چې دغه اهدافوته درســيدو لپاره مونږ مالي راپورونه ترتيب کوو چې دغه مالي راپورنه په ٤ډولونو ويشــل شــوي دي نو په لنډ ډول ويلای شــو چې دمحاســبې دراپورونو مجموعې ته مـالي راپورونـه ويـل کيږي.ددغـه ډول مـالي راپورونو ترتيـب کول د ادارې پـه جوړښت پورې اړه لري څيني ادارې دغه ډول راپورونه يومياشت ځينې اداري يي څلورمياشتي اوځينې ادارې يي يو کال وروسته ترتيب کوي.

Definition: A set of accounting reports are called financial statements.

مالي راپورونه: دمحاسبې دراپورونو مجموعي ته مالي راپورنه ويل کيږي.

دغه راپورونه په عمومي ډول سره په لاندې څلورو ګروپونو ويشل شوي دي

1. دګټې او تاوان حساب: (Income statement)

2. د پای بيلانس (Balance sheet)

3.دتصدی دخاوند په کاروبار کي د حق راپور(A statement of owner equity)

4.نغده جريان راپور(A statement of Cash flow)

1.دګټې اوتاوان حساب (Income statements): دا ډول راپور دتصدی دنفعې اوضرر دڅرګندولولپاره ترتيب او تهيه کيږي.

2.دپای بيلانس: (Balance sheet): داډول راپور دتصدی مالي حالت ښايي په دې معنی چې په دي ډول راپور کې داښودل کيږي چې د تصدی سره په څومره اندازه شتمني لري او څومره دخلکو قرضونه پرې پاتي دي او په کاروبارکې دمالک حق څومره دی.

3.دتصدی دمالک دحق په اړوندراپور: (A statement of owner equity) کې داښودل کيږي چې ده څومره پيسي په کاروبارکي پانګونه کړي او په دې پيسو کې تغيرات ښايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4.(Cash flow statement): دا ډول راپور ښـايي چي دمالي کال په جريان کې تصـدۍ ته څومره پيسي راځي او څومره بيرته تري وځي.

دمالي راپورنو دترتيب کول اهداف

۱.ترڅو دکاروبارمالک اوقرض ورکونکي په دې پوه شـــي چې زمونږ ســـرمايه ګذاري په ځای ده او که نه؟

۲. دمالي راپورونو ترتيب کول د تصـــدۍ دادره کونکو ســـره په پلان جوړولو کې مرسته او کومک کوي.

۳.همداراز ترڅو مونږ ته اپريټينګ ايکسپنسيز معلوم شي ترڅو مونږ دجنس دتمام شـــــدقيمـت کنټرول کړو. ٤. همـدارازترڅو مونږ تـه د (other income) او (Other expenses) په باره کې

۱.دګټې او تاوان صورت حساب يادعايد صورت حساب:

د عايد صـــورت حســـاب يو مالي راپور دی چې ديوې اقتصـــادي دورې په پای کې ترتيب کيږي. نوموړی حساب د دوری د فعاليتونو نتيجه څرګندوي. ددې حساب په ښـي طرف کې ټول عوايد په ترتيب ســـره رســـول کيږي او چپ لوري ته مصـــارف چې د عوايد و لاس ته راوړلو په خاطر يې صورت نيولی دی رسول کيږي.

عايدات په يوه دوره کې د خرڅلاو او خدماتو د قيمت څخه عبارت دي او مصــــرف د هغه مبلغ څخه عبارت دی چې د عوايدو د لاسته راوړلو په خاطر کارول شوي دي.

چې عوايد کاروبار ته د شـتمنيو د راتګ Inflow of assets او مصـرف د کاروبار څخه د شتمنيو تګ د Out flow of assets په معنی دی.

د عوايد په صورت حساب کې د عوايدو او مصارفوپه پرتله کولو سره ددورې نتيجه (ګټه يا تاوان) څرګنديږي. کله چې عوايد د مصـــارفو په پرتله زيات اوســـي نو تفاوت يې د ګټې په معنی او کله چې مصارف د عوايدو په پرتله زيات اوسي نو تفاوت يې د تاوان په معنی دی.

مصارف – عوايد = خالصه ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عايد صورت حساب هم د T شکل او جدول په توګه ترتيب کيږي.

د T په شکل سره د عايد صورت حساب دوه اړخه لري چې ښي اړخ يې کريديت او چپ اړخ يې ديبت نومول کيږي. کريديت کې ټول عوايد او ديبيت اړخ کې ټول مصارف رسول کيږي. د ديبيت او کريديت اړخ د ارقامو د مجموعې او تفاوت څخه نتيجه څرګنديږي.

NI = R – E

NI (Net Income) = {R (Revenue) – E (Expenses)}

اکثره تصدۍ ګاني ددي حسابونو په مرسته دخپلې پانګې اچونې ګټورتوب تخمين کوي دغه دعايد صورت حساب دپانګه اچونکو او قرض ورکونکو سره دمرستندويه وسيلې په توګه استعماليږي چې ددوی راتلونکي نغده جريان پيشبيني کوي.

هغه معلومات چې په دې حساب کې موجود وې پانګه اچونکي او پورورکونکي په لاندېنيو مواردو کې ترې استفاده کوي:

۱. دپخوانيو فعاليتونو ارزيابي کول:

په دې حساب کې دعوايدو او مصارفو په مطالعې سره مونږ ويلای شو چې يوې تصدۍ کوم ډول فعاليتونه ترسره کړي او همدارنګه کولای شو چې دتصدۍ فعاليتونه د نورو تصديو دفعاليتونوسره مقاسيه کولای شو.

۲.دتصدۍ دراتلونکو فعاليتونو په هکله وړاندوينه:

ديوې تصدۍ دتيرو فعاليتونو په اساس مونږ کولای شو چې دهغې راتکونکي فتاليتونه لرليد کړو.داپه دې معنی چې يوه تصدۍ په پخوانيو وختونو کې ۱۰۰% کاميابه وه ايا دهغه تصدۍ به په راتلونکي کې دکاميابي دغه سلنه ترلاسه کړي او که نه.

هغه وخت مونږ کولای شو چې په اطميناني ډول لرليد وکړو چې دتيرو فعاليتونو او راتلونکو فعاليتونو ترمنځ نږدې اړيکې وجود ولري.

2. دپای بيلانس (Balance Sheet):

هره کاروباري موسسه د خپل کاروبار مالي حالت باندی پوهيدلو ته ضرورت لري او کاروباري اداری دګټې د لاسته راوړلو په اميد رامنځته کيږي. د کاروبار په دوران کې لمړنی پانګه او دهغې څخه حاصل کيدونکی سود مختلف شکلونه اختياروي لکه:
نقده شتمني، ځمکه او تعمير، ماشين الات، نقليه وسايل، طلبات چې دا ټول د کاروبار د اموالو ډولونه دي. ددې اموالو په مقابل کې ممکن دی کاروبار ځنې مکلفيتونه ولري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوروړی اوسـي چې د پور اندازه باید ددې اموالو څخه تیری شـي ترڅو هغه څه چې مالک یا شریکانو پوری اړه لري معلوم شي.

دپای بیلانس چې بعضې وختونه دتصدئ دمالي وضع دحساب په نوم یادیږي چي په دې کې په یوه معلومه موده کې دشتمنیو،پورونو، اومختلفو اسهامو لرونکو په هکله مفصل معلومات ذکر شوي وي په دې معنی چې دکاروبار مالي حالت څرګندوي .

د بیلانس پاڼې شکل:

بیلانس پاڼه باید د موسســـــــی نوم، د صـــــورت حســـــاب عنوان (د بیلانس پاڼه) او تاریخ درلودونکې اوســـــي، د بیلانس پاڼی تاریخ د هغې د ترتیب کولو تاریخ دی او معمولاً د مالي دورې په پای کی ددورې په اخرني تاریخ ترتیب کیږي.

دبیلانس پاڼې درې عمومي تشکیل کوونکي عناصر عبارت دي له :

الف: شـــتمني (Assets) ب:پورونه (Liabilities) ج: پانګه( Owner (equity

Assets شـتمني: ټول مادي او غیر مادي اشـیاء او حقوق چې دیوه کاروبار ملکیت اوسـي د هغې شتمني ده. د محاسبې له نقطه نظره هغه ملکیت چې په کاروبار کې ترې استفاده کیږي شتمني ګڼل کیږي. کولای شو د شتمنی لپاره لاندې درې خصوصیتونه مشخص کړو:

١ : د کاروبار ملکیت اوسي.

٢ : لوی ارزښت ولري.

٣ : په کاروبار کې ترې استفاده صورت ونیسي.

الف: شـــتمني: ټول هغه مالي منابع چي په پولي واحد ســـره ارزښـــت يي څرګندیږي او دکاروباوبار لخوا یو قانوني نوم ورته وضـع شـوي لکه: کســه،طلبات،تعمیر،ځمکه،ماشـین الات .............................................اوداسي نور.

دغه شتمني مونږ کولای شو چې په لاندېنیو برخو تقسیم کړو:

١. متغیره شتمني (Current Assets) ٢.ثابته شتمني (Fixed Assets)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳.نه ليدونكي(نه حس كيدونكي) شتمني ( Intangible
(Assets

۱.متغيره شتمني (Current Assets):هغه شتمني ته ويل كيږي چي كيداى شي خپله كسه اوسي او يا په كسه باندې ديوكال نه په كم وخت كې بدليږي ددغسي شتمنيو مثالونه عبارت دي له : دنقده، بانكي شتمني، طلبات، پيشكي مصارف، لاسته راتلونكي عايدات اوداسي نور.

۲.ثابته شتمني (Fixed Assets): هغه شتمني چې په كاروبار كې ددايمي استعمال لپاره رانيول كيږي چي ددې ډول شتمنيو مثالونه عبارت دي له: موبل، ماشين الات، تعمير، عراده جات، اوداسي نو ر .

۳. نه ليدونكي شتمني (Intangible Assets): هغه شتمني ته ويل كيږي چي فزيكي موجوديت نلري كوم چي دتصدۍ لپاره ارزښتناک وي اوهمدارنګه دخرڅلاو ارزښت هم لري چي ددې ډول شتمنيو مثالونه عبارت دي له: دكاروبار ښه نوم (Good will) تجارتي نښان (Trade Mark) دچاپ حقوق(Copy Right) اوداسي نور.

ب:پورونه (Liabilities): دخارجي افرادو او اورګانونو په مقابل كې دكاروباري شتمنۍ مكلفيت ته پور وايي .دغه پورونه مونږ كولاى شو چې په دوو برخو باندې تقسيم كړو.

۱. دلنډې مودي پورونه (Short term Liabilities).

۲.داوږدې مودي پورونه (Long term Liabilities).

۱.دلنډې مودې پورونه (Current Liabilities):

دا ډول پورونه عبارت دهغو پورونو څخه دي چې ديو كال نه په كمه موده كې تاديه كيږي چي ددې ډول پورونو مثالونه عبارت دي له : تاديات، ليكل شوي وعدې، بيلونه، تادياتي مصارف اوداسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. داوږدې مودې پورونه (Long term Liabilities):

داډول پورونه عبارت دهغوپورونو څخه دي چې ديو کال نه په زيات وخت کې تاديه کيږي ددې ډول پورونو مثالونه عبارت دي له : ګروی، بانکي پورونه او داسي نور.

۳. پانګه د مالکينو حق (Owner Equity): د ملکيتونو هغه برخه چې د ماليکينو پورې اړه لري. پانګه په بيلانس پاڼه کې د پانګې د سهمو په معنی نه دی په حقيقت کې د حساب داری له نقطه نظره د بيلانس پاڼې په ويش کې د شــــتمنيو او پوررونو د تفاوت په معنی ده چې دمالکانو ملکيت ګڼل کيږي.

دا مطلب د محاسبی د معادلې د پوهيدو وړ دی.

پورونه + پانګه = شتمني

پورونه – شتمني = پانګه

په انګليســـي ژبه د بيلانس پاڼې دترتيب په وخت کې د پانګې برخه د موســـسی دمالکانو د برخې په نوم يادوي ولې زمونږ په هيواد کې په عمومي توګه د پانګې د نقطې څخه زياته استفاده کيږي..

ددي لپاره چي دمحاسبې ددوران په مختلفو عناصـرو کي معاملات په ښـه اوصـحيح ډول په ثبت ورســوو دلته يو عمومي مثال ذکر کوم چي ټول دمحاســبې دوران پکي تشــريح شي.

مثـال: شــــاه زمـان( مســـلم)دحمـل پـه لومړي نيټـهٔ ۱۳۸۷ لمريزليږديز کـال يوکوچني کاروبار۱۰۰۰۰۰۰افغانيو پانګوني ســـره شـــروع او د Afghan Investment ) (Support Agency ايســـــا ســـره ثبت چي پدغـه پـانګوني کي ۶۰۰۰۰۰نقده او ۲۵۰۰۰۰په ارزښت عراده جات او ۱۵۰۰۰۰په ارزښت موبل شامل دي.

دحمل دمياشــتي په پای کي دلاندېنيو معاملاتو په هکله معلومات راکړل شــوي دي چي هره يوه معامله په خپلو مربوطو حسابونو کي په ثبت رسوو:

۱.دحمـل پـه لومړی نيټـهٔ د۴۰۰۰۰ افغـانيو پـه ارزښـــــت کمپيوټرونـه خريداري شـــوي چي ۲۵۰۰۰افغانی يي نغداً تاديه شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. دحمل په لومړۍ نیټه ددریو میاشتو کرایه ٦۰۰۰۰ افغانۍ تادیه شوي.

۳.دحمل په دریمه نیټه د ۲۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت خام مواد خریداري شول چې ورسره يي ۱۰% محصول هم تادیه کړي.

٤.دحمل په پنځمه نیټه د۲۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت قرطاسیه رانیول شوې.

٥.دحمل په لسمه نیټه د۳۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت اجناس خرڅ شوي چي ددي مبلغ څخه ۱۹۰۰۰۰نقده ترلاسه شوي، اوپه دې خرڅلاو کې ۱۰%نقده تخفیف ورکړل شوی.

٦.دحمل په یوولســـمه نیټه د۲٥۰۰۰۰افغانیو په ارزښـــت مواد دافغاني تاجرانو څخه په پور رانیول شوي.

۷.دحمل په دولسمه نیټه د۲٤۰۰۰ افغانیو په ارزښت مواد په (AWCC ) باندې په پور پورل شوي دي.

۸.دحمل په دیارلسمه نیټه د۲٥۰۰۰افغانیو په ارزښت افغاني تاجرانو ته مواد مسترد شوي دي.

۱۰. دحمل په څورلسمه نیټه د(AWCC) څخه د۳۰۰۰۰افغانیو په ارزښت مواد مسترد شوي.

۱۰.دحمل په پنځلسمه نیټه دمالي مینجرانو ته ۱٥۰۰۰ افغاني په پیشکي ډول ورکړل شوي دي.

۱۱.دحمل په شـــپاړســـمه نیټه دمینجرانو لخوا د۲٤۰۰۰افغانیو دپیشـــکي اخســـتولو لپاره درخواســـت لیک لیکل شـــوی وه چي پدي کي یواځې ۱٦۰۰۰ افغاني په پیشـــکي ډول تادیه شوي دي.

۱۲.دحمل په اوولسمه نیټه ۱٦۰۰۰ افغاني دخوراکي موادو درانیولو لپاره تادیه شوي.

۱۳.دحمل په اتلسمه نیټه د۲٤۰۰۰ افغانیو په ارزښت قرطسیه دمومن قرطسیه فروشي څخه په قرض رانیولي.

۱٤.دحمل په اتلسمه نیټه۲٦۰۰۰افغاني دټرانسپورټي مصارف لپاره تادیه شوي.

۱٥.دحمل په اتلسمه نیټه ۲۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت خرڅلاو شوی .

۱٦.دحمل په اتلســـمه نیټه د ۱٥۰۰۰ افغانیو په ارزښـــت داور په نتیجه کي میز او چوکۍ سوزیدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷.دحمل په نوولسـمه نيټهٔ ٤۰۰۰افغاني دکابل بانک څخه پور اخسـتل شـوی او په عزيزي بانک کې په خپل حساب کې يې ډيپيټ کړي.

۱۸.دحمل په شـلمه نيټه يوه مشـورتي کميټه دايره شـوه تر څو داداري لپاره ځيني پرمختايي پلانونه طرح کړي چې ددغې کميټې مصـارف ۱۰۰۰اټکل شـوي دي چې دغه کميټه به خپل فعاليتونه دڅور په مياشت کې پيل کړي.(دامعامله دثبت وړ نده).

۱۹.دحمل په يووشـتمه نيټه دبانک څخه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ دشـخصـي لګښـت لپاره ايسـتل (برداشت)شوي دي.

۲۰.دحمل په دوويشـــتمه نيټه دنړيوال بانک لخواد ۱۰۰۰۰۰افغانيوپه ارزښـــت تربيوي ټرينګونه پيل کړي چي ددې مبلغ څخه يواځې ٤۰۰۰۰افغانۍ ترلاسه شوي.

۲۱.دحمل په څلوريشتمه نيټه ۲۰۰۰۰افغانۍ دبانک څخه ددفتر داستعمال لپاره ويستل شوي.

۲۲.دحمل په پنځه ويشتمه نيټه د۱۲۰۰۰افغانۍ دبرق مصارفو لپاره تاديه شوي.

۲۳.دحمل په شپږويشتمه نيټه دکمپيوترونوپور تاديه شو.

۲٤.دحمل په اوه ويشتمه نيټه ۵۰۰۰۰افغانۍ افغاني تاجرانو ته تاديه شوي.

۲۵.دحمل په اته ويشتمه نيټه ۹۰۰۰۰افغانۍ د (AWCC) څخه ترلاسه شوي.

۲٦. دحمل په نهه ويشـتمه نيټه د۵۰۰۰۰افغانيو په ارزښـت خام مواد خريداري شـو ي چې دې کې ۱۰% تجارتي او ۵% نقده تخفيف شامل دی.

.۲۷دحمل په ديرشمه لاندېنې پيشکي تعديلي معاملات راکړل شوي:

ترميم لپاره ۲۰۰۰ افغانۍ.

دتيلو لپاره ۱۲۰۰۰ افغانۍ.

دخوراکي موادو لپاره ٤۰۰۰ افغانۍ.

۲۸.دحمل په ديرشمه نيټهٔ ۹۵۰۰۰ افغانۍ کارګرانو ته مزد تاديه شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۹. دحمل په یوودیرشمه نیته دلاندنیو وسایلو دکلني فرسایش په هکله معلومات راکړل شوي دي .

عراده جاتو کلنی فرسایش ۱۰%.

دکمپوټرونو کلنی فرسایش ۳۳%.

دموبل کلنی فرسایش ۱۵%.

دپورتنیو معاملاتو په نظر کې نیول سره ژورنال،لیجر،ازمایښتي بیلانس،دعایدصورت حساب او دپای بیلانس پاڼه ترتیب کوو:

# مالي مدیریت

مالی مدیریت: فنډ هغه مالي منبع چې دکاروبار مالي ضرورت رفع کړي هغه عبارت دفنډ څخه ده لکه cash securityاومالي سندونه assetsپه سیکوریټي کې مالکیت یا ownershipاو کریدیټورشیپ په مالکیت په مالکیت کې عامه اسهام داخل دي finance is the management of money.دپیسو مدیریت ته تمویل ویل کیږي. دضرورت وړ مالي منابع برابرول عبارت دکاروبار دتمویل څخه دي مالي مدیریت دمالي منابعو څخه په مؤثره او مثمره توګه استفاده کول دکاروبار هدف ته درسیدو په موخه . مالي مدیریت دوه کلمې دی مالي: او مدیریت: په مالي کې درې فعالیتونه مونږ کوووېعني درې پریکړې نیسو۱-تمویلي فعالیتونه یا تصمیم نیونه ۲-دسرمایه ګذارئ په اړوند تصمیم نیونه یا فعالیتونه۳-دګټې دویش په اړوند تصمیم نیونه۱- په تمویلي فعالیتونو یا تصمیم نیونه کې مونږ. په دې خبرې کوو چې مالي منابع دکوم ځای څخه راشي او په کومه لاره ۱-پیسې ۲-پیسې دکاروبار په داخل کې په کوم ځای کې په مصرف ورسوو۳-پیسې په کومه فیصدي وویشو دا درې واړه دتمویل وظیفي دي ، کله چې مالي مدیریت :ددرې تصمیم نیولو په موخه دمدیریت څخه استفاده وشي دې ته مالي مدیریت وایي . دمالي مدیریت اهداف : ۱-داهدافو دلاسته راوړلو په خاطر په کافي اندازه فنډونو برابرول۲-کومه ګټه چې لاسته راځي چې ګټه کافي اندازه ګټه لاسته راغلې او که نه او مؤثر ده۳-په دې ځان مطمین کول چې کافي اندازه فنډونو استفاده شوي او که نه ۴-په کم خطر سره سرمایه ګذارې کول۵-سالم دسرمایي جوړښت برابرول. دمالي مدیریت تصمیم نیونه : دا دپانګې درلودلو؟ پورې اړه لري چې خپلې پانګې او قرضونه دی ۲-سرمایه ګذارې تصمیم نیونه : دکاروبار په داخل کې پیسې چې په کارواچوو عموما په دوه ځای کې مونږ پیسې مصرفیږي چې په داخل دکاروبارکې په جاري پانګه او ثابته


(c) ketabton.com: The Digital Library

dividend-۱ پانګه باندې۳-دګټې ویش په اړوند تصمیم نیونه: هرکاروبار ګټه کوي چې یو ده چې داسهامو خاوندان یی اخلي او بله ۲- retainedیا ناتوزیع شوي ګټه ده چې کاروبار یي ځان سره ساتي . دډیویډنډ تصمیم نیونې څخه هدف داده چې کاروبار څو فیصده ځان سره وساتي او څو فیصده توزیع شي. دمالي مدیریت وظایف: ۱-چې څومره پیسو ته ضرورت لرو یعنې هغه تخمین کړو ۲-چې داپیسو ته چې ضرورت دی دکوم یي راوړو دضرورت وړ سرمایه تهیه (جوړښت)قرضونه یا خپلنی پانګه ۳-سرمایه ګذارۍ چیرته کول یعنې پیسې چیرته مصرفول چې چیرته زیاته ګټه وي هغلته به کوو چې ګټه مو وکړه هغه به ویشو.cash moneyدضرورت وړ پیسو او تخمین شو ترمنځ بیلانس ساتلو ته دنغدو مدیریت وایي. مالي کنترول: دسازمان یا تصدی اهداف :۱-دګټې زیاتوالی۲-دهرسهم په اساس دګټې زیاتوالی۳-په مارکیټ کې دسهم قیمت زیاتوالی۱-چې دکاروبار په مجموعي ګټه کې زیاتوالی راشي دازوړ یا پخوانې شکل دی۲-کله چې سهامي شرکتونه راغلل نو دې کې چې دتیرو کلونو په نسبت هرسهم کې زیاتوالی راشي. Esp=مجموعي ګټه\تعداد دسهمونو۳-مارکیټ کې دخپل سهم قیمت زیات کړه ددې پدیده داده چې دې کوشش کې مه اوسه چې ګټه زیاته کړئ مګر مارکیټ کې دسهم قیمت زیات کړئ. ارزښت: دخلکو په ذهنونو کې دخپل تولید تصویر برابر کړی شي دا اوسنی طریقه ده اوس په ټوله دنیا کې چلیږي. کله چې خلک ستاخریداري وکړي نو ستا دسهم قیمت زیاتیږي نو اوس دسهم زیاتوالي باندې کار کیږي. عصري سهامي شرکت په دوه ډوله ویشل شوي۱-مالکان : هغه اشخاص دي چې نماینده ګانو ته صلاحیت ورکوي چې ددوی ګټې لپاره کاروکړي۲-منجمنټ: یا اجنټ : یو کس دی چې چا ته صلاحیت ورکول شوی وي دبل شخص لخوا چې دهغه نوم مالک دی چې دهغه په ګټه کاروکړي.

Management acts as an agent for the owner(shareholders) of the firms. ایجنسي تیوري دجانسین او میکلن لخوا رامنځ ته شوي چې دمالکانو او نماینده ګانو رویه مطالعه کوي. ایجنسې تیوري هغه تیوري ده چې دمالکانو او نماینده ګانو رویه مطالعه کوي دکوم له وجهې چې شخړه رامنځ ته شوي وي. مالکان برابروي په کافي اندازه incentives یا تشویق منجمنټ ته نو منجمنټ به دمالکانو په زړه کارکوي یا عمل کوي. اوبیا دې مالکان نظارت کوي دنتیجې یعنې فقط incentivesدې ورکړي نور دوي ورته کارکوي incentivesکې داخل دي ۱-ستاک افشن۲-عاید یا حاصل۳-بونس. ټولنیز مسولیت هراداره باید دافادې ترڅنګ باید ټولنیزه افاده هم ترلاسه کړي .چې ښه مزد وي،پاکې اوبه ، پاکه هوا، او داسې نوردي. په اداره کې دمالي مدیریت جوړښت : عبارت له هغو اشخاصو څخه دی چې په کاروبار کې د۵۰٪څخه زیات سهم ولري چې دوی کوښښ کوي چې دکاروبار په اړه اساسی پریکړې ترسره کړي چې دوی پخپل منځ کې presidentیا C.E.Oټاکې اودا

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبارت دهغه شـــخص څخه دي چې دکاروبار دټولو کړنو داجرا او کنترول صـــلاحيت او مسوليت لري.




دمالکيت په اسـاس کاروبار په څلور ډوله دی۱-انفرادي کاروبار: داهغه کاروبار چې ملکيت او کنترول يې ديو شخص په لاس کې وي ۱-دټولو پخوانی شکل دی ۲-ټکس يو ځل اخيستل کيږي.ګټې ۱-دجوړولو مصارف يی کم وي۲-ساده وي قانوني مراحل يی کم وي ۳-په تيزۍ سـره جوړيږي۴-په دې کاروبار کې يو ځل ټکس اخيسـتل کيږي. تاوانونه : ۱-نامحدوده پورونه۲-په دې کاروبارکې داضـافي سـرمايي لاسـته راوړل مشـکل دي ۳-دملکيت انتقال نسبت دوه نورو کاروبارونو ته مشـکل دی.۲-شـراکتي کاروبار: عبارت دهغه کاروبار څخه دی چې دمالکينو تعداد يی دوه ياده دوو څخه زيات ترشـــلو پورې وي (خوپه بانکدارۍ کې ددوو نه ترلسو پورې وي دې نه زيات نه شته )خو په دې يعني شراکت کاروبارکې ټکس يو ځل اخيستل کيږي. دشراکت قسمونه: ۱-عمومي شراکت يا لامحدود شراکت: هغه شراکت ته ويل کيږي چې دشـــريکانو قرضـــونه يی لامحدوده وي ۲-محدود شـــراکتي کاروبار: هغه کاروبار ته ويل کيږي چې دشريکانو قرضونه يی محدود وي دهغې سرمايي پورې چې په دې کاروبار کې شـريکه کړي وي. په محدو شـراکتي کاروبار کې يو شـريک بايد لامحدود قرضـونه په غاړه واخلي دايو شـرط دی.ګټې :۱-داهم سـاده ده۲-دجوړولو مصـارف يی کم خو دانفرادي په نسـبت زيات وي او دســهامي شــرکت په نســبت کم وي۳-په تيزۍ ســره جوړيږي دسهامي نه ۴- محدودقرضونه لري دمحدودو شريکانو لپاره . تاوانونه :۱-لامحدود قرضـــونه دلامحدودو شـــريکانو لپاره يعني هغه يو کس چې لامحدود قرضـــونه يي په غاړه اخيستې وي۲-داضافي سرمايي لاسته راوړل دانفرادي کاروبار په نسبت اسانه خو دسهامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرکت په نسبت سخت دي ۳-دملکيت انتقال مغلق يعني سخت وي نسبت دسهامي شرکت ۳-سهامي شرکت دافرادو مجموعه ده چې دقانون په چوکاټ کې حقوقي شخص منځ ته راوړي دمالکينو څخه کاملا جدا، نامعلوم عمر او ځانګړې تجارتي نښــه ولري عبار ت له ســهامي شـرکت څخه دی په دوه ډوله دی۱-خصـوصـي سـهامي شـرکت: دماليکينو تعداد يې د۷څخه تر۲۰ پورې وی ۲-عامه سـهامي شـرکت: چې دماليکينو تعداد يي کم ترکم دشلو څخه زيات وي يعني دشلو څخه کم نه وي. ګټې ۱-قرضونه په کې محدوده وي ۲-په اسانۍ سره دملکيت انتقال۳-لامحدود نامعلوم عمر لري۴-په اســانۍ ســره زياته پانګه لاســته راوړي شــي . تاوانونه: ۱-دوه ځلې ماليه۲-ددې جوړول ډير ســخت کاردی۳-دســهامي شــرکت جوړول او ساتل زيات مقدار مصارفو ته اړتيا لري . ۴-محدودالمسوليت شرکت يا limited liability companyهغه شرکت ته ويل کيږي : چې قرضونه يې دسهامي شرکت په شان محدود وي او ماليه يي دشـراکتي کاروبار په شــان يو ځل وي کله چې پورته خصـوصـياتو په اســاس کاروبار منځ ته راشــی عبارت له محدودالمســوليت ســهامي شــرکت څخه ده يا ورته ويل کيږي.ګټې ۱-محدود قرضونه۲-په دې کې يو ځل ټکس اخيستل کيږی۳-دماليیکانو په اضافه کولوم کې محدوديت نشــته ۴-اضــافي ســرمايه (مرســته) په اســانۍ ســره لاســته راوړل کيږي.تاوانونه: ۱-محدود ژوند نســبت ســهامي شــرکت ته ۲-دملکيت انتقال نســبت ســهامي شرکتونو ته سخت دی . په دې کې صرف يو ضمانت دګټې غواړې او سهامي کې اسانه ده . ماليه : دپيسو يو اجبارې رقم يا مقدار دی چې تاديه کيږي داشخاصو او تصديو او يا ادارو لخوا حکومت ته ددوی دعوايد او ملکيتونو يا جايدادونو څخه عبارت له ماليې څخه دی. ماليه دعامه عوايدو ســرچينه ده ده کوم چې دولت مصــــرفوي په مختلفو پروژو لکه تعليم عامه روغتيا ، دفاع ، ريل وايس ســرکونو او نورو باندې . په خالصــي ګټې ټکس وضــع کيږي دټکس څخه عبارت دی . او تعرفه داموالو ارزښــــت دی: ماليه په دوه ډوله دی۱-مستقيمه ماليه په دوه ډوله ده ۱-دتاثير په اساس۲-دنرخ په اساس او دنرخ په اساس په درې ډوله ده ۱-صعودې ۲-نزولي۳-متناسبه يا ثابته ماليه يا نرخ ۲-غيري مستقيمه ماليه .مستقيمه ماليه : هغه ماليي ته ويل کيږي چې تاديه کوونکی او بوج اخيســـتونکی يې يو نفر وي لکه دعوايدو ماليه مسـتقيمه ماليه ده ۲-غيري مسـتقيمه ماليه : هغه ماليي ته ويل کيږي چې تاديه کوونکي او بوج اخيســـتونکي مختلف وي يـا مختلف افراد وي لکـه دخرڅلاو مـاليـه اوتعرفه.دنرخ په اســاس په درې ډوله ده ۱-صــعودې دعايد په زياتوالي ســره دماليي نرخ هم زياتوالی مومې مســتقيمه رابطه موجوده ده ۲-نزولي دعايد زياتوالي ســره نرخ کې کموالی راځي غيرمســتقيمه اړيکه موجوده ده۳-متناســبه ماليه: دعايد په زياتوالي او کموالي ســره دماليي نرخ ثابت پاتې کيږي، کومه اړيکه موجوده نه ده. taxable income:هغه عوايد ددولت اصــولو مطابق ماليه پرې وضــع کيږي يا هغه رقم چې ماليه ترې وضــع کولای شــو مثال په افغانستان کې ۵۰۰۰ زره پورې قابل ماليه عايد نه دی کله چې د۵۰۰ نه زياته شي


(c) ketabton.com: The Digital Library

نو قابل ماليه عايد ورته ويل کيږي. دماليې نهايي نرخ هغه نرخ چې قابل ماليه په اخرې رقم باندې وضـــع کيږي. Average tax rate is measured by dividing the taxes actually paid by taxable income 15000/5000=3

مالي سيستم financial system:عبارت له ٰهغه سيستم څخه ده چې دوه اقتصادي واحدونه سره يوځای کوي چې يو سره پيسې کمې وي او بل سره زياتې وي. مالي سيستم په دوه برخو ويشل شوی ۱-مالي منځګړي۲-مالي ادارات.۱-مالي منځګړي په درې ډولو ويشل کيږي. ۱-سرمايه ګذارۍ بانکونه: هغه بانکونه دي چې دسهامي شرکتونو اسهام په عوامو خرڅوي يا عوامو وګړو خرڅوي دمشخصې ګټې په خاطر.۲-بروکران: هغه افراد دي چې ددوســـرمايه ګذارانو ترمنځ دمعاملاتو ســـهولت رامنځ ته کوي او په مقابل کې خپل ټاکلې کميشن ترلاسه کوي۳-ډيلران: کله چې په مارکيټ کې دسهمونو نرخ ټيټ شي اخلي يې او چې جيګ شـــي خرڅوي يې او ګټه لاسته راوړي.مالي ادارې په درې قسمه دي ۱-امانتې ادارې په دې اداراتو کې امانت ګږدی او خدمات درکوي او هروخت کولای شي چې پيسې واخلی يا استفاده کړی۲-قراردادي مالي ادارات: امانت درنه اخلي او تاســو ته ګټه درکوي اوپيسې دټاکلې يا خاص وخت پورې دهغوی يعنې ادارې سره وي۳-سرمايه ګذاري مالي ادارې: امانت درنه اخلي او پانګونه پرې کوي او چې ګټه وشـــي ګټه درکوي او که تاوان وشي تاوان درکوي خو په اسلامي اقتصاد کې او په نه اسلامي بانک يا اقتصاد کې کيدای شـــي ګټه درکوي. دمالي مديروظايف:۱-دمالي اړتياوو تخمين کول۲-داړتيا وړسرمايه تهيه کول۳-سرمايه ګذاري تصميم نيونه۴-ويشل شوي ګټې تصميم نيونه۵-دنغدو مديريت۶-دنورو ډيپارټمنټونو سره اړيکه او نظارت . مالي مدير: هغه شخص دی چې مالي منابعودتهيه کولو وظايف په غاړه لري. مالي حسابونه : مونږ ته cricumstances يا شرايط راښايي او په لاندې ډول دي. دنغدو مديريت: دضرورت وړ پيسو او تخمين شوو پيسو ترمنځ بيلانس ســـاتلو ته دنغدو مديريت وايي.۱-بيلانس شـــيټ مونږ ته دکاروبار مالي حالت راښـــايی په مشخصه موده کې ۲-دکاروبار دګټې او تاوان صورت حساب: دکاروبارګټه او تاوان راښايي په مشـخصــه موده کې۳-ناتوزيع شـوي ګټه : دګټې هغه اندازه چې کاروبار يې دځان سـره پريږدي . ۴-دنغدو جرياناتو حســاب: مونږ ته راښـــايی چې څومره پيسې وتلې او څومره راغلي دي، اوپه دې کې درې فعاليتونه کيږي۱-عملياتي فعاليتونه: هغه فعاليتونه چې روزمره ترســره کيږي لکه خام مواد، مزد۲-ســرمايه ګذارۍ فعاليتونه:لکه دثابتې شـتمنۍ اخيستل او خرڅول۳-تمويلي فعاليتونه:قرضونه اخيستل او تاديه کول، سود تاديه کول داپه دې کې راځي. دمالی حســابونو تحليل: دمالي ډيټا په مالي انفارميشــن(معلوماتو) بدلول چې تصميم نيونه پرې وکړو عبارت دمالي حسابونو دتحليل څخه دي.دبيلانس شيټ ټولې برخې دمجموعي شـتمنيو يو ه برخه يا فيصـدي فرض کوو. او دګټې او زيان حساب ټولې برخې دمجموعي خرڅلاو يو فيصدي مدينظر نيسو لاسته راغلي مالي حسابونو ته عمودي تحليل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي مالي حسابونه وايي. په افقي تحلیل کې دکاروبار اوسنی مالي ډیټا داساس کال مالي ډیټا په نســـبت یې مقایســـه کوو چې دکاروبار مالي تغییرات نســـبت اســـاس کال ته په ګوته کړو. $\frac{each\ item\ of\ 200x}{relevent\ item\ of\ base\ year}$ په اساس کال مربوطه برخه په اساس . په افقي تحلیل کې اساس کال په خپله ټاکل کیږي او که نه وي ټاکل شوی نو بیا وروستی کال په نظر کې نیول کیږي. دنســـبتونو تحلیـل : ددوو عـددونو ترمنځ ثـابتي اړیکي تـه نســـبـت ویـل کیږي $\frac{ratio\text{ نسبت}}{\text{کړی ویل نسبت ته اړیکي ثابتي ترمنځ عددنو ددوه}}$




دمالي حسـابونو دتحلیل دوسـایلو له جملې څخه دی چې دکاروبار دمالي صحت دمعلوملو په موخه ورڅخه استفاده کیږی. په ۴ ډوله دي ۱-دسیالت نسبت۲-داختتام نسبت۳دګټو نسبت۴-دسـرمایی جوړښـت نسـبت. دسـیالت نسـبتliquidity ratioنسـبت په دري برخو ویشـل کیږي۱جاري نسـبتcurrent ratio۲-تیز نسـبتacid test ratio۳-دنغدو نسـبت cash ratio. جاري نسبت : دکاروبار قدرت ښایي چې خپل جاري پوروونه دجاري شتمنی په اساس تادیه کولای شـــي.ډالر ۳ اعشاریه۱ $= \frac{۷۰۸}{۵۴۰} = \frac{current\ assets}{current\ liabilty}$ .تیز نســـبت: دیوکاروبار قدرت ښایي چې ایا خپل جاري قرضونه ، دتیزو جاري شتمنیو په اساس تادیه کولای شي.۳-دنغدو نسبت: دکاروبار نسبت ښـایي چې خپل جاري قرضـونه دنغدي په وسیله تادیه کولای شـي. ۲-داختتام نسـبت داښـايي چې کاروبار څومره مؤثره توګه خپله شـتمني استعمال کړي چې خرڅلاو زیات کړي څومره چې زیات وي شـتمنی نه زیاته استفاده کیږي. او داپه څلور ډوله دی۱-دګوډام اختتام نسـبت۲-دشـتمنی داختتام نسـبت۳-دطلباتو داختتام نسـبت۴-دتادیاتو


(c) ketabton.com: The Digital Library

داختتام نسـبت. 1-inventory turnover ration2-asset turn over ratio3-Acount receivable turn over rati4-Account payable turnover ratio.دگودام داختتــام نســـبت: دکاروبار قدرت ښــــايي چې په کال کې څو ځلې خپل گدام په خرڅلاوو بدلوي.۲-دشـتمنيو داختتام نسـبت : دامونږ ته ښـايي چې کاروبار څومره گودام مؤثره توگه دخرڅلاو په خاطر دشـتمنيو څخه اسـتفاده کړي ده ۳-دطلباتو داختتام نسـبت: دامونږ ته داښــايی چې کاروبار په کال کې څو ځلې خپل طلبات په نغدو تبديلوي۴-دتادياتو داختتام نســـبت: دامونږ ته ښايی چې کاروبار څوځلې په کال کې خپل تاديات تصفيه کوي.۳-دگټورتيا نسبت: دامونږ ته ښــايی چې کاروبار څومره مؤثره توگه له خپلو شـتمنيو څخه اسـتفاده کړي دخالص عايد دزياتوالي په خاطر. اوداهم په څلورډوله ده:۱-دخالصـــې گټې نســـبت: دامونږ ته ښـــايی : هرډالر خالص خرڅلاو کې څو ډالره خالصه گټه وجود لري.۲-ناخالصې گټې نسبت: داښايي چې کاروبار دهرډالر خاليص خرڅلاو په مقابل کې څو ډالره ناخاليصــه گټه لاسـته راوړي. ۳-دشـتمنيو دگټورتيا نسـبت: داښـايي چې څومره مؤثره توگه کاروبار له خپلو شـتمنيو څخه اسـتفاده کړي ده چې ترڅو خاليصــه گټه کې زياتوالی راشــي يا مونږ ته ښـايی چې کاروبار څومره مؤثره توگه خپلې شـــتمنۍ څخه اســـتفاده کړي ده(جاري او ثابته)دخالصـــې گټې دزياتوالي په خاطر.۴-خپلنۍ سـرمايی دگټورتيا نسبت: دامونږ ته ښـايی چې کاروبار څومره مؤثره توگه خپلې سـرمايی څخه استفاده کړي دخالصـې گټې دزياتوالي په خاطر. دسـرمايی دجوړښـت نسبت:دامونږ ته ديو کاروبار دتمويل ميتود روښـانه کوي چې دکاروبار مجموعي سـرمايه تمويل په کوم طريقه شـوی دی. ۱-دقرضـونو او خپلنۍ سـرمايه نسـبت: دامونږ ته ښــايي چې دکاروبار په مجموعي سـرمايه کې څو فيصــده دخپلنۍ سـرمايه ده او څو فيصــده پردۍ سرمايه/قرضونه دي .۲-دقرضونو او مجموعي شتمنۍ نسبت: دامونږ ته دکاروبار په مجموعي شـتمنې کې دقرضـونو فيصـدې ښـايي چې څومره فيصـده قرضـونه دي.۳- times interest earned or interest coverage ratio:دامونږ ته دکاروبار قدرت ښــايي چې په کال کې څو ځلې خپل ســود تاديه کولای شــي. دمالي مديريت اهداف: ۱-داهدافو دلاســته راوړلو په خاطر دکافي اندازه فنډونو برابرول۲-کومه گټه چې لاســـته راځي چې گټه کافي اندازه گټه لاســـته راغلې او که نه او مؤثر ده ۳-په دې ځان مطمين کول چې کافي اندازه فنډونو استفاده شوي او که نه ۴-په کم خطر سره سرمايه گذارې کول۵-سالم يا ښه دسرمايي جوړښت برابرول.دکاروبار په داخل کې چې مونږ عموما په دوه ځای کې پيسې مصرفوو يا مصرفيږي. يو working capital and fixed capitalدي.

# quick booksکويک بوکس

(c) ketabton.com: The Digital Library

It is accounting software which is developed and marketed by intuit corporation and it is used to manage all day to day businesses transactions like: purchasing, order, payroll, banking. دمحاسبي يو سافتویر دی چې دانتویټ سهامي شرکت لخوا جوړ اوبازار ته وړاندې شوی چې دیوکاروبار روزمره تجارتي معاملې ثبت راپور برابروي لکه اخیستل او خرڅول.




په ۱۹۸۳ م کال ټام او سکاټ په نامه دوه امریکایانو(دمتحده ایالاتو دامریکا) اوسیدونکو یو سهامي شرکت جوړ کړ دانتیوټ په نامه چې په څلورکالو کې ډیر شهرت پیداکړ.مخکې خلکو quicken,dos, desk orperating system وغیره کارول ددوي مشکلات په لاندې ډول وه.

1-single entry system

2-single user

3-audit was not available in it

# د مصارفو سنجش

دمصارفو سنجش: دمصارفو سنجش دیو تولیدي واحد داخلي جریان او معاملات څیړي او دفعالیت دنتیجې معلومولو لپاره اساسات برابروي. دمصارفو سنجش: هغه تخنیکونه او میتودونه دي چې دیو محصول، پروسې، پیښې، پروژې، دورې یا نورو اهدافو دمصارفو

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومولو او تشريح کولو لپاره استعماليږي.ترانزيکشن تعريف: ټولې هغه کاروباري معاملې چې پولي ارزښـــت ولري عبارت له ترانزکشـــن څخه دي. داکونټينګ دوه برخې موجودې دي۱-فيننشـــيل اکونټينګ۲-کاســـټ اکونټينګ . دمالي محاســـبې يا فيننشـــيل اکونټينګ نيمګړتياوې: ۱-په عملياتې برخې کې صحيح خبره نه کوي۲-مالي محاسبه ماته دکارمؤثريت نه ښـايي ليکن کاسـټ يې ماته ښـايي ۳-مالي محاسـبه دنرخ په ټاکلو کې مرسـته نه کوي۴-دمالي محاســبې نيمګړتيا داده چې ماته معلومات دمقايســـې او تصـــميم نيولو په باره کې نه راکوي ۵-دمالي محاسبې نيمګړتيا داده چې په مصرف او کنټرول نه کوي۴-دمالي محاسبې بله نيمګړتيا داده چې ماته تاريخي معلومات نه راکوي . محاســـبه عمده درې دندې لري چې عبارت دي ددې نه ۱-مصـــــارف۲-اعداد او ارقام۳-حقيقي معلومات ۱-ادرې ته دخپلو توليد شـــوو محصـــولاتو او عرضـــه شـــوي خدماتو په اړه حقيقي او اټکلي معلوماتو ارايه کوي۲-مصـــارف دواقع کيدو په وخت کې مونږ ته ښـــايي او همدارنګه چې نوموړی محاســـبه هغو محصـــولاتو او خدماتو مشـــخص کولو کې د ادارې ســـره کومک کوي کوم چې دزيات ګټې (revenue)لرونکې وي بل مقصد يې دا دی چې ادارې ته دمصارفو په اړه ضروري اعداد او ارقام تهيه کوی دکنترول په موخه . محاســـبه عبارت له د۱-cost accounting-۲ cost center-۳expense-۴costing-۵cost-۶cost unite-۷cost objects.

Cost.ټول هغه پيسـې چې ديو جنس په رانيولو او په هغه باندې مصـرف شـوي وي دکاسـټ څخه عبارت دی. expense هغه پيســـې دي چې ديو جنس په رانيولو مصـــرف شـــوي خو تراوسه مصرف شوي نه وي عبارت له ايکسفينس څخه دي. Expense دcost هغه برخه نيســي چې کومه ايکســپير شــوي وي. يا کومه چې دعايد دلاســته راوړلو په اړوند مصــرف شـــوي وي . costing: ټول هغه ميتودونه او طريقې چې دکاســـټ معلومولو په خاطر په کاراچول کيږي دکاســـټينګ څخه عبارت دي. Cost accounting دcostingميتودونه په عمل کې راولي.

Cost accounting a special branch of accounting which involve ---classifying 2accumulation3-assignment and control of cost.

Cost center: د مصارفو هغه برخه چې په في واحد باندې راځي دکاسټ سينټر نه عبارت ده. cost unit: هغه مصــارف دي چې کوم چې واقع کيږي په خرڅولو توليد او ســټورکولو بايد يو يونټ باندې راغلې وي عبارت له کاســـټ يونټ څخه ده. cost objectدکمپنۍ يا د اورګانيزيشـــن هغه برخه چې دکوم په خاطر باندې چې مصـــرف کيږي عبارت دي دکاسـټ ابجيکټ څخه دي. مصــارف په دوه ډوله دي ۱-توليدي ۲-دوراني ۱-ټول هغه مصــارف چې دتوليد پورې اړه لري عبارت له توليدي مصــارفو څخه دي۲-ټول هغه مصــارف چې دتوليد

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جريان کې وي عبارت له دوراني مصـــارفو څخه دي . پريم کاســټ : ټول هغه مصـــارف چې ديو جنس په توليد کولو کې مســـتقيمه رابطه ولري عبارت له پريم کاســـټ څخه دي: عبارت دي: direct material +direct labor +direct other expensesديو محصـول دتوليد د تړاوو په اعتباردمصـارفو ډولونه په دوه ډوله دي . مستقيم مصـارف: چې ديو جنس دتوليد لپاره حتمي اوضـروري وي۲-غيرمستقيم مصـارف ټول هغه مصـارف دي چې توليد باندې نه کيږی بلکې غيرمسـتقيم دتوليد لپاره حتمي او ضـروري نه وي بلکې دهغې تطبيق کوونکي وي لکه مامورين . دتوليد عناصـــر په درې ډوله دي .۱-مواد۲-دکارمصـــرف۳-نورمصارف. داهريو په دوه قيسمه ويشل شوي دي چې مستقيم او غير مستقيم . ټول مستقيم مصارفو ته مونږ فريم مصارف وايو چې عبارت دي direct material +direct laborاو دايريکټ نور مصـــــارف او کـه چيرتـه مونږ داټول indirectراوخلو دابـه زمونږ پـه مصـــــارفو کې وي. دمصـــــارفو ويش پـه درې ډولـه دی-F.O.H 1fixed 2-variable3 semivariableفيکسډfixedمصـارف هغعه مصـارف دي چې توليد سـره تړاوو نه لري او ثابت وي په مجموع کې ثابت ليکن په في واحد کې متغيير وي۲-بدليدونکي يا واريبل : مصارف ټول هغه مصارف دي چې دتوليد سره تړاوو لري او ثابت نه دي دادوه خصوصيات په مجموع کې ثابت او که توليد شـــروع کوو بيا متغيير دي چې څومره زمونږ مصـــرف زياتيږي همغومره زمونږ توليد زياتيږي.semi variable: چې دواړه خصـوصـيات ولري که توليد زيات شـــي زياتيږي او که کم شـــي کميږي. او دتوليد ديو واحد پورې تړلی دی . مصارف دکنترول دخصوصياتو په اساس : اول کنترول کيدونکی دويم نه کنترول کيدونکې مصـــارف دي . کنترول کيدونکې مصـــارف هميشـــه بدلون مومي او د بدلون وړدي او ددې برعکس نه کنترول کيدونکې مصارف هغه مصارف دي چې هميشه نه کنټروليدونکې دي . په وظيفوي لحاظ : ســـره مصـــرف په درې ډوله دی ۱-دخرڅلاوو مصـــارف ۲-دتوليد مصـــارف۳-اداري مصـــارف. ټول هغه مصـــارف چې دتوليد داخيسـتلو نه تراخرې جنس يا جوړولو پورې وي عبارت له توليدي مصارفو څخه دي ۳-اداري مصارف هغه غير مستقيم مصـرف دي چې په دواړو کې شـامل وي هم په توليد او په خرڅلاوو کې اداري مصـارف دي.دوخت په اســاس دمصـــارفو ډولونه په دوه ډوله دي ۱-وړاندوينې په اســاس او ۲واقعي مصـارف : ټول هغه مصـارف دي چې په يوه اداره کې واقع شـوي او کنټرول کيدونکې وی عبارت له واقعي مصارفو دي.او وړاندوينې په اساس هغه مصارف دي چې په يوه اداره کې نه وي واقع شوي او نه کنټرول کيدونکې وي . کاسټ ډيسشن: هغه مصارف دي چې ديوې ادارې دتصميمونو او پريکړو په اساس منځ ته راځي . لکه : اعلانات : ټول : هغه مصارف چې په اخرې يونټ راځي دنهايي مصـــارفو په نوم ياديږي . ســـنک کاســـټ) : ټول هغه مصـــارف چې بيرته داعادې وړنه وي . فرصـــتي مصـــارف : ټول هغه مصـــارف دي چې ديوشـــي دلاســـته راوړلو په خاطر يې له لاســـه ورکوو. ديوبل متبادل کاســـټ دنه کولو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

صـورت کې زما له لاسـه ووځي هغه عواید چې زه لاسـته راوړم .مالي راپور په دوه ډوله کیږي ۱-دصنعتي کاروبار ۲- دسوداګریز کاروبار: په صنعتي کې دتولید شوو توکو راپور دخرڅلاو شـوو توکو دګټې او تاوان راپور بیلانس پاڼه او په سـوداګریز کې دخرڅ شـو توکو دمصـرف راپوز دګټې او تاوان راپور بلانس پاڼه راځي.اینوینټرۍ : عبارت دهغه خام موادو څخه او نیم خام موادو او نهایي توکو دمجموعې څخه عبارت ده چې مونږ ترې تراوســـه اقتصـــادي ګټه نه وي ترلاســه کړي. ابسـټرکټ کاسـټ: داهغه پروســه ده چې په ذریعه یې دمصـــارفو موضـوع او مرکزونو ته ټول هغه مصـــارف چې په مسـتقیمه توګه یې چې مونږ نشوکولای چې تخصیص کړو نو وایو چې ټول هغه غیر مستقیم مصارف چې راټول شوی هغه په کاسټ یونټ باندې ویشو؟: اکسپینډیچر: دیو شتمنۍ دترلاسه کول دیو خدمت تامینولو او یاد یو زیان دمخنیوي په موخه شـــوي پرداختونه او پور دخرڅ(اکســـپینډیچر) په نامه ده دغیرمستقیم مصارفو مجموعي ته عمومي مصارف یا فیکچرۍ اورهیډ مصارف ویل کیږي .

عمومي مصارف=غیرمستقیم مواد+غیرمستقیم کار+غیرمستقیم لګښتونه.

# اقتصادي سیاستونه

اقتصـادي عمومي سیاسـتونه : اقتصـادي سیاسـت عبارت له هر هغه اقدام څخه دی چې دیو دولت یا داړونده دولت دباصـلاحیته پالیسـي جوړونکې ارګان فعالیت چې دمختلفو اقتصـادي وسایلو څخه په استفادي اقتصادي وضعي ته تغییر ورکوي ترمشخص اقتصادي فعالیتونه ترلاسـه او اهدافو ته ځان ورسـوي، دغه اقتصـادي اهداف عبارت دي له اقتصـادي رشـد او پرمختګ دپیسـو ارزښـت ثبات دتادیاتو بیلانس توازن، دقیمتونو اسـتقرار، کامل اسـتخدام و اقتصـــادي رفاه دعاید زیاتوالی ، دعاید عادلانه توزیع او دیو مملکت دمختلفو منطقو لپاره یو متوازن رشد رامنځ ته کول. داقتصادي سیاست وسایل عبارت دي له یو سلسله متغییر کمي او کیفي وسایلو څخه چې دهغې په ذریعه اقتصادي سیاست طرحه کوونکې کولای شي چې دمطلوبه نتایجو دترلاســه کولو لپاره په کې لازم تغییرات راوړي ترڅو مشــخص اقتصـــادي اهداف ترلاسه شي دغه متحولین په عمومي ډول عبارت دي دیو بانک ربح، مالیې فیصدي، دمزد ومعاش اندازه، قیمتونو سـطحه ، ګمرګي تعرفې ، دولتي مصـــارف، داســعارو نرخ او داسې نوردپورته ذکر شوي متحولینو یا داقتصادي سیاست وسایلو په کاروړلو لپاره مختلفي پالیسـیاني موجودې دي چې هغه عبارت دي له پولي سـیاسـت ، اسـتخدام سـیاسـت، توزیع سیاست ، قیمتونو سیاست او نور داقتصادي سیاست طرحه کوونکي اشخاص موسسات او سـازمانونه دي کوم چې یو سـلسـله معلومات او اولیتونه تشـخیصـوي او دهغې دحل لپاره مختلفي لاري چارې پیشـــنهادوي په ځینو هیوادونو کې دپـالیســـیو طرحـه دپـارلمـان

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتداردرلودونکي افرادو او مستهلیکینو په واک کې وي ددې لپاره چې اقتصادي سیاستونه په مؤثره توګه زیاتوالی وموميې لازم دی چې دیوې ټولنې یو ســـلســـله نور معلومات محیطي مشــخصـــات ، طبیعي ، تخنیکي ، رواني ، ســـازماني،بین المللي عقاید ملي عنعنات تاریخي ارزښتونه سیاسي نظام او داسې نورپه نظر کې نیول کیږي. ملي اقتصـاد علم داسې جامع علم دی کوم چې شـــامليږي په علمي اســـاســـاتو اجتماعي پوهو او دنورو اجتماعي علومو په شان مختلف مشخصات او مفاهیم ځان سره ولري . دملي اقتصاد تیوریګاني اقتصادی پیښې دعلمي نګاه څخه تشــخیصــوي او دهغوي لپاره دحل لارې چارې لټوي. اقتصــادي ســیاســت دملی اقتصــاد دتیوریانو په استفادې اقتصــادي حالات تشــخیصــوي او دراتلونکي وضــعیت په کوم شــکل چې رامنځ ته کیږي پیشــبیني کوي.پس ویلای شــو چې داقتصـــادي اهدافو تعینول اوترتیب او هغې ته رسیدنه دمختلفو وسایلو په ذریعه دسیاسي اقتصاد دبحث اصلي موضوع ده اوددغې روابطو توضــیح دملی اقتصـــاد دتیوریانو څخه په اســتفادې صـــورت مومي پس ویلای شـــو چې اقتصـــادي ســـیاســـت عبارت دي له تطبیقي ملي اقتصـــاد څخه اوداتعریف داقتصادي سیاست لپاره کافي ګڼل کیږي. دملي اقتصاد دتیوري او اقتصادي سیاست یو دبل ســره تړلې دي ملي اقتصـــاد تیوري اقتصـــادي واقیعتونه تثبیتوي اوداقتصـــادي حوادثو ترمنځ دعلت اومعلول رابطه توضیح کوي اما اقتصادي سیاست دموجوده وسایلو په ذریعه اوضاع تحلیلوي او نهایي هدف ته ځان رســـوي.اقتصـــادي ســـیاســـت عبارت له ټولو هغو هلو ځلو اقداماتو او تدابیرو څخه دی کوم چې اقتصــادي جریانات او وقایع چې په یوه ســاحه او یا یوه معیینـه نقطـه کې ترخپل نفود لانـدې راولي او تنظیموي. هرکلـه چې اقتصـــــادي هلې ځلې نظردیوې منطقي مشخصې رشتې یا سکتورونو پورې تړلې وي کولای شو سکتوري اقتصاد په نوم یې یادکړو مثلازراعتي سیاست، صنعتي سیاست، تجارتي سیاست. هغه موضوعات چې داقتصــادي ســیاســت تیوري یې دتحقیق لاندې نیســي کولای شــو په لاندې توګه توضــیح کړو ۱-انسان منحیث داقتصادي فعالیتونو مرکز ګڼل کیږي.۲-اقتصادي جوړښت۳-درابطې دنوعیت تعینول۴-داقتصــاد جریان تنظیمول. داقتصــادي ســیاســت مفهوم او ماهیت: اقتصــادي نظریاتو دانســانانو دجامعې څخه سرچینه اخیستې او داجتماعي ژوند داسانتیاوو رفاه ، عامه نظم ، نظام ، او نورلازمي شیان ګڼل کیږي. اقتصادي دعملي او تیوري دنګاه څخه تعریف: تطبیقي یا عملي اقتصادي سیاست عبارت له یو مجموعه تدابیرو او کوښښونو څخه دی چې هدف یې داقتصادي ساحې او یارشتې پورې تړلی دی دغه نوعه اقتصادي سیاست په چاري اموراتو کې دنړۍ په ټولو ملکونو کې شـته اوصـورت نیسـي. عملي اقتصـادي سیاسـتونه په دوو لازمي شرطونو ولاړدي او ل داچې دیوې ټولنې دسیاسي جوړښت اقتصادي ضرورتونو په خپل ځان پاتې وي دوهم داچې ددې جوړښت دتحقق امکان ۳-هرکله چې دبازار ضعف له امله نظام خراب شـــي زراعت بازار کاربازارخراب شـــي او عامه المنفعه بنســـټونه له منځه ولاړ شـــي نو په دې حالت کې اقتصـــادي ســـیاســـت فعالیږي. په اقتصـــاد کې ددولت داخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خصوصيات: دولت امکانات داقتصادي تغييراتو په وړاندې ډيرزيات دي ددې لپاره نو دولت سره ډير زيات تدابير شته چې داقتصادي تغييراتو مخه ونيسي . همدارنګه ددولت په اقتصاد کې ددې لپاره مداخله کوي هغه چاچې ســـتونزه ايجاد کړي ده نه يې حلوي او دنوموړې ســـتونزې څخه ګټه پورته کوي. مثال کله چې توليدونکې انحصـــار ســـتونزه رامنځ ته کوي نودغه ســـتونزې ته دحل لارې نه لټوی او له دغه ســـتونزې څخه ګټه پورته کوي او له بلې خوا دولت ځکه په اقتصـاد کې مداخله کوي چې دخصـوصـي سـکتور ځينې امکانات په لاس کې نه لري لکه دپيســـو نشـــر، او نور نو دپورته دلايلو په اســـاس دولت مجبوردی چې په اقتصاد کې مداخله وکړي ځکه چې ستونزو دحل لپاره امکانات هم ډير په وس کې لري مثال په ټولنه کې انفلاسيون موجود دی نو ددې لپاره چې دولت دغه انفلاسيون کنترول کړي نو په دې اړونده دوه لارې موجودې دي ۱-دقيمتونو توقف۲-دپيســـو دمقدارکموالی. داقتصـــادي سياست علايم او خصوصيات:۱-مناسب دعلل : مناسب دعلل معنا داچې اقتصادي سياست هغه تغييراتو ته متوجه وي چې اقتصـــادی اهدافو خلاف وي مثال انفلاســـيون يو اقتصـــادي متغيير ده چې داقتصـــادي اهدافو يعنې دقيمتونو دثبات مخالف عمل دی او مناســـب دعلل نه دی ۲-مطابق دنظام : ټول هغه پلانونه يا مداخلي چې فردي نتايج متضرر ه نه کړي مطابق دنظام په معنا ده اومطابق دنظام دوه حالته لري.۱-داجناسو په بازارکې۲-دپيسو په بازار کې . داقتصـادي سياستونو معنا تعريف : داقتصـادي عاملينو دمسوليتونو څرانګوالی چې کولای شو پاليسيو په کاروني سره په اقتصادي متغييراتو باندې مؤثر او له مخکې څخه يی مطلوبې ســـطحې ته رهبري کړي څو دملي اقتصـــاد درفاه باعث وګرځي. داقتصـــادي عاملينو دلته مطلب دتوليد عاملين دی. شاووshowاقتصاد پوه وايی اقتصادي سياستونه معنا ددوو نقطو له نظره توپير کوي۱-لوی اقتصـــادي ســـياســـتونه ۲-کوچني اقتصـــادي ســـياســـتونه: ټول هغه عوامل چې دمتغييراتو دتغيير باعث ګرځي او ملي اقتصـــاد يوې مطلوبې ســـطحې ته رســـوي دلوی اقتصادي سياستونونو په نوم يادېږي.۲-ټول هغه تدابير او سياستونه چې فردي تصاميم تر تاثير لاندې راولي دجزوي اقتصادي سياستونو په نوم يادېږي. دکوچني او لوی اقتصادي سياستونو توپير۱-دکوچني او لوی توپير يو ه نقطه داده چې کوچني اقتصـادي سـياسـتونه په جزوي او لوی اقتصادي سياستونه په کلي ډول تاثيرلري . داهدافو متغيرات : هغه متغيرات چې يوې خاصې او مطلوبې سطحې ته رسول يي رضايت رامنځ ته کړي مطلوب رضايت هغه وخت رامنځ ته کيږي چې اهداف داقتصادي سياست مطابق په سالم ډول ترلاسه شي . دوسايلو تغيرات: هغه دي چې دولتي مقامات يی په ښـه شـکل سره کنترول کړي او کنترول هغه وخت کيږي چې مناســـب اقتصـــادي ســـياســـت رامنځ ته شـــي لمړي ځل لپاره کينز يو ه پاليســـي وضـــع کړه بايد دولت مداخله وکړي او مجموعي تقاضـــا زياته کړي.هره اقتصـــادي پاليسـي بايد له درې اړخه مطالعه شـي . موضـوع: په دې معنا چې اقتصـادي پاليسـي دکومو ځانګړو موخو لپاره وضـــع کيږی۲-اصـــول او قواعد: په دې معنا چې دکومو اصـــولو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

قواعدو په رڼا کې به نوموړي پالیسي ټاکلو موخو ته ځان ورسوي. وسایل او امکانات: په دې معنا چې باید ټول هغه امکانات او وسایل که هغه سیاسي اجتماعي او یاهم اقتصادي وي له وړاندې پیشبیني شي چې پرمټ یې کولای شو ټاکلي اقتصادي اهداف ترلاسه شي. داقتصادي سیاستونو دلوستنې هدف : هرکله چې په اقتصاد کې دولت مداخله زیاته وي نو ددولت اغیزې هم ډیرې وي نواقتصادي سیاست فعالیت هم فعاله وي او کله چې ددولت مداخله په اقتصادي امورو کې کمزورې وي نو اغیزې یې هم چندان نه وي او اقتصادي سیاست فعالیت هم کمزوری وي. چې په پورتنیو دواړو حالاتو کې اقتصادي سیاستونه په بیلابیلو ډولونو سره تعریفیږي او نوموړي سیاستونه مونږ ددوه اقتصادي مکتبونو دعلماو دنظر سره سم مطالعه کوو. په لومړی حالت کې دکلاسیکو علماو بنسټ اینسودونکې ادم سمیت وایي په اقتصاد کې ددولت مداخلې ته ضرورت نه شته ځکه اقتصادي تعادل درقابت په اساس خپله دتعادل حالت ته راځي اوهمدغه رقابت په بازار کې اقتصادي منفعت تضمینوي اواجتماعي منفعت تضمین په مؤثر ډول توزیع کوي یعنې دتولید دعواملو ګټه درقابت په اساس ویشل کیږي نو که چیرته دولت په اقتصاد کې مداخله وکړي نو دمنابعو منفعت له منځ نه ځي همدارنګه کلاسیک عالمان وایی چې دتولید ارزښت په بازار کې دمولدینو او مستهلیکینو له لوري په اتوماتیک ډول سره ټاکل کیږي. په دې حالت کې چې دولت مداخله ونکړي اقتصادي سیاستونه په لاندې ډول تعریفو:اقتصادي سیاستونه هغه نهادونه او قوانینو دحفظ او ساتنې څخه عبارت دی چې دبازار قوتونو ته ددې امکان برابروي ترڅو په مؤثر ډول خپل فعالیت ترسره کړي قوانین لکه بیمه تقاعد او دکارشرایط په دویم حالت کې دنیو کلاسیک پوهان وایي دبازار اقتصادي نظام کې تعادل قایمیدونکی نه دی او که قایم شي دتصدیو له خوا ماتیږي ځکه تصدۍ دزیاتې ګټې دلاسته راوړلو لپاره قیمتونه لوړوي او په دې صورت کې طبیعي رقابت له منځه ځي او مصنوعي رقابت رامنځ ته کیږی چې په اقتصادي تعادل بیا خپله له منځ ځي. سمیولس وایي : دبازار اقتصاد ونشو کولای چې په اقتصاد کې تعادل قایم کړي ځکه چې دبازار نیمګړتیاوو له کبله ځینې ستونزې ایجاد شوي لکه عامه اجناسو عدم موجودیت، بهرني تاثیرات، سیاسي بې ثباتي ، دکافي معلوماتو نه شتون او نور. نوددغه ستونزو دحل لپاره دولت ته ضرورت لیدل کیږي په دغه مهال کې اقتصادي سیاستونه لاندې تعریف اختیاروي اویا په دوهم حالت کې اقتصادي سیاستونه داسې تعریفیږي. دبازار په اقتصادکې ټول هغه تدابیر چې مستقلو ادارو او دولت له خوا نه دبازار دضعف سره دمقابلې لپاره په کاروړل کیږي. داقتصادي سیاستونو په نوم یادیږي. ۱۹۷۱ م کال کالدارو پخوا به دولتونو دې څخه پرهیز کاوه چې په اقتصادکې مداخله وکړی خو اوس مهال ددولت مداخله په اقتصاد کې ضروري شوي ده او په اقتصاد کې دغه مداخله ترارزیابۍ لاندې نیول کیږي هغه ځکه چې ددولت اقتصادي اهدافو په تعیین او لاسته راوړنو کې مهم رول لري یو لړ هغه اقتصادي اهداف چې تقریبا هره ټولنه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصـــادي نظام يي غواړي ترلاســـه يی کړي تربحث لاندې نيســـو چې عبارت دی له کامل اســـتخدام . ديوهيواد کاري قوه به دڅلورو خصـــوصـــياتو درلودونکې وي۱-چې دکارکولو قـانوني عمر بـه يي بشـــپړ کړی وي۲-ديو خـاص مهـارت او هنر درلودونکی بـه وي ۳-دکارکولو علاقه به ولري او هم به دکارپه لټه کې وي۴-کار به کوي يا به بيکاره وي. ۲-دقيمتونو ثبات۳-دتوليد دعواملو څخه مؤثره استفاده ۴-اقتصـادي وده۵-دعايد عادلانه ويش۶-داقتصـــادي ســـياســـتونو اهداف په لاندې څلور ډولونو باندې ويشــل کيږي۱-کامل اســتخدام تامين۲-دانفلاســـيون نرخ کنترول۳-درشـــد نرخ لوړول۴-دتادياتو دبيلانس توازن. دکامل اســـتخدام څخه هدف دادی چې ټوله بيکاري لري کړو دبيکاري ډولونه ۱-طبيعي بيکاري: هغه بيکاري  چې په کامل اســـتخدام حالت کې دمزدونو دکموالي له امله کارگر نه غواړي کاروکړي۲-نوســـاني بيکاري: چې جبري بيکاري هم ورته وايي : او جبري بيکاري هغه وخت په بازارونو کې شـکاره کيږی چې کله په بازارونو کې دحقيقي مزد سـره هم اسـتخدام سـطحه دکامل اسـتخدام څخه ټيټه وي او اقتصـادي سـياسـتونو موضـوع دنوسـاني بيکاری کنترول کول دي نوســـاني بيکاري په لاندې ډولونو ويشـــل کيږي۱-حداقل مزد له وجې بيکاري۲-دتقاضــا دنقصــان له وجې بيکاري (کينزي بيکاري)۳-دسـرمايي دنقصــان له امله بيکاري۴-دبازار جاري قيمت ته اســـمي مزد ويل کيږي . حقيقي مزد : هغه قيمت چې په حقيقت کې کې يو کارگر بري مونږ ته يو واحد جنس توليدوي.اقتصــادي ســياســتونو دتطبيق ســتونزې: ۱-دنوســاني انحراف وخت په دقيق ډول ســره تثبيت کول يو مشــکل کاروي.۲-دناڅاپي تغيراتو دوامداره کيدل۳-نيول شـــوي تدابير له اجرا څخه وروســـته مؤثر واقع کيږي.۴-اقتصـادي سـياسـت پوهان هميش داوږدمهال لپاره فکر کوي.داقتصـادي سـياسـتونو وســـايل : هغه عبارت دي له ټولو هغه چارو طريقو اووســـايلو څخه دي چې ديو اقتصـــادي هدف دلاسته راوړلو په منظور وضـع کيږي. لنډه داچې ويلای شو چې همدغه وسـايل پخپل ذات کې يو اقتصـادي هدف نه دی بلکې ددې په وسيلې اوپه واسطه هغه ټاکلي اهداف لاسته راوړل کيږی لکه دمثال په توگه دماليې وضـــع کول يا دگمر کي تعريفو لوړول چې په خپل ذات کې يو اقتصــادي  هدف نه دی  بلکې يوه وسـيله ده چې ديو ټاکلي هدف دلاسـته راوړلو په منظور وضـع کيږي.لمړۍ پاليســي : دنړيوال تجارت پاليســي : تجارت پاليســي لکه دنورو اقتصــادي پاليسـيانو په څير يوه مهمه اقتصــادي پاليســي ده چې يو هيواد کولای شــي نوموړي پاليسـي دگڼ شمير اهدافو(دتادياتو په بيلانس کې توازن، دهيواد په داخل کې داستخدام دکچې لوړوالی او داسې نور)دلاس ته راوړلو لپاره په منظور پلي کړي. نوددې لپاره چې دنوموړي پاليســي څخه په لاس راغلې موسم اودرسـت پيژندلي وي نوداسـې بايد فرض کړو چې ټولې اقتصادي پاليسيانې ثابتې دي،اوويلای شو چې دنوموړي پاليسی پرمټ يو شمير لاندې اهدافو ته لاسرسـی کولای شـو.۱-دتادياتوپه بيلانس کې توازن راوسـتل۲-دخارجي توليداتو درقابت څخه دخپلو داخلي توليداتو حمايت او ساتنه.۳-دdumping policyډمپيګ پاليسی مخنيوي۴-

(c) ketabton.com: The Digital Library

دصادراتو دلازياتوالي په خاطر دپانګونې هڅونه اوتشويق۵-په ملي اقتصاد کې داستخدام او کارموندنې لوړتيا يا زياتوالی.۶-دنويو داخلي راتوکيدلو صـــنايعو حمايت اوســـاتنه۷-دهغه خارجي نوســـاناتو ســـره چې ملي اقتصـــاد متاثره کوي مقابله کول.دنړيوال خارجي تجارت دپاليسۍ ډولونه: دنړيوال خارجي تجارت پاليسي په دوولويو برخو ويشل شوي ده ۱-دتجارت څخه دحمايت پاليســي ۲-دتجارت دازاد والی يا ازاد پريښـودلو پاليســي ده .دخارجي تجارت دحمايت پاليسي : نوموړې پاليسي ته دخارجي تجارت دکموالي يا بنديدو پاليسي هم وايي چې اساسا دتجارانو دمدرسې دافکارو څخه سرچينه اخلي کومو چې به ويل ددولت يا يو هيواد دلوړو مصـلحتونو څخه يو داهم دی چې دسـرو اوسـپينو زرو زياتې ذخيري دخپل هيواد په داخل کې بايد ولري.نوموړي پاليســـۍ په لنډ ډول تعريفو: دټولو هغو اصـــولو ، قواعدو، تدابيرو، اوکړنو له مجموعې څخه عبارت ده چې په مســتقيم يا غيري مســتقيم ډول يي په مټ داسـې قيودات او شـرطونه په خارجي تجارت باندې ديو هيواد په حدودو کې رامينځ ته شــي ترڅو دځانګړي اقتصــادي اهدافو دلاس ته راوړلو باعث شــي.اوددې پاليســۍ وســايل عبارت دي له : دټولو هغو مستقيمو او غيري مستقيمو وسايلو څخه عبارت دي چې پواسطه يی کولای شو په خارجي تجارت کې مداخله وکړو او وکولای شو پرمټ يي ټول هغه ټاکلي اهداف چې غواړو يي په اســانۍ ســره په لاس راوړو اودا وســايل يو لړ قيودات اوبنديزونو څخه عبارت دي چې کله هم دمقدار او اندازي په څير وضــع کيږي او کله هم په غير له دې نه په بل شکل . چې نوموړي وسايل عبارت دي له:۱-دخارجي کرنسۍ کنترول اونظارت۲-ګمرکي تعريفي او بنديزونـه:ګمرکي تعريفي دغيرومســـتقيمو مـاليـاتو يوه نوعـه ده چې پـه مصرفي اجناسو او همدارنګه په سرمايوي يا کاروباري اجناسو باندې ديو هيواد په سرحداتو کې وضـــع کيږي که نوموړي توکي داخل دهيواد ته رانئوځي او که ورڅخه بيرون درومي (صادرات او واردات) چې بيا همدغه تعريفې په مختلفو شکلونو اومختلفو اهدافو لپاره وضع کيږي لکه: دقيمت او نوعيت په اســـاس: ټولې هغه تعرفې چې دتوکو او اجناســـو په قيمتونو باندې ديوې معلومې فيصدۍ په اساس باندې وضع کيږي ورته دقيمت په اساس تعرفه وايي. چې دانوعه تعرفې په ټولو هغو توکو وضـع کيږي. دکومو قيمتونه سره متفاوت او نوعيتونه اومادلونه سره توپير ولري.او ټولې هغه تعرفې چې يو خاص جنس په يوځانګړي نوع باندې ديو معلوم مبلغ په اندازه وضع کيږي ورته دنوعيت په اساس تعرفه وايي چې دانوعه تعرفې اکثر په هغو توکو وضع کيږي چې مادلونه يا نوعيتونه يي سره تقريبا يو شان وي او قيمتونه يی ســـره دومره متفاوت نه وي ، او دتعرفې دا اخرينې نوع دلمړنۍ نوع څخه په تطبيق کې ډير اسـان ده.دهدف او غرض په اسـاس باندې تعرفې: دهدف او غرض په اسـاس تعرفې په دوو عمده ډولونو ويشـــل کيږي. يعنې ددولت دعايداتو دزياتوالي په خاطر اويا هم دداخلي صـــنايعو او توليداتو دحمايت په خاطر. نوويلای شـــوو چې ټولې هغه تعريفې چې ددولت دخزانې دعايداتو دلوړوالي په خاطر وضــع کيږي. بايد په ټولو هغو توکو او اجناسـو وضـع

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـي دتقاضـا ارتجاعيت لږ ارتجاعي وي ، داځکه چې دنوموړو توکو باندې لوړو تعرفو په وضـع كولو سـره دولت ايرادات زياتيږي لاكن همدغو توكوته په تقاضـا كې دومره چندان بدلون نه راځي. او س كه چيرته تعريفې دځپلو داخلي توليداتو دحمايت په خاطر وي نو بايد په ټولو هغو توكو چې هيواد ته رواردېږي اودداخلي توليداتو سره متجانس اورقابت كې وی. كيداى شــــي چې پورته دواړه تعريفې جلاجلا تطبيق شــــي او يا هم دواړه نوع همزمان په يووخت كې پلي شي. دخصوصيت په اساس تعريفې : دخصوصيت په اساس تعريفې كيداى شــي دبدلې په خاطر وي او ياهم كيداى شــي تشــويقي اوياهم كيداى شــي چې تعويضـــي بڼه اختيار كړي . دبدلې اخيســـتلو په منظور تعريفې په دې معنا چې يو هيواد دبل هيواد نه دغچ اخيســـتلو په خاطر دنوموړي هيواد څخه په واريدونكو توكو لوړي تعريفې وضـــع كړي . تعويضــــي تعريفې په دې معنا چې كله يو هيواد وغواړي چې درقيب هيواد لخوا دډمپنګ دپاليسۍ مخنيوی يې په خپل هيواد كې كړي اوسې نو درقيب هيواد څخه په واريدونكو توكو باندې دهغو سبسيډيانو اوكومكوونو په اندازه تعريفې وضع كوي ترڅو بيرته قيمت لوړ شي اودرقيب هيواد نوموړي پاليســي ناكامه شــي نو همدغې نوعي تعريفې ته تعويضــې تعريفه وايي . غوره اوتشـــويقي هغې تعريفو ته وايی چې يو هيواد غواړي دبل هيواد ســـره خپلې تجارتي اړيكې بهتره كړي اومظبوطيكړي نو دنوموړي هيوادڅخه په راواريديدونكو ټولو توكو او اجناسو ټيټې تعريفې وضع كوي، اوددې قسمو تعريفو څخه يواځې همغه واريدونكې هيواد ګټه پورته كوي اوبس. دمقدار او كميت په اساس بنديزونه: لكه دكوټې سيستم quota systemدټيكس كوټــه tax quotaاووراداتو اجــازت نــامې global quota ,import licensing system او داسې نورو څخه عبارت دي . كوټا سيستم يعنې دبنديز هغه نوع ده چې په توكو باندې دمقدار اواندازې هغه ټيټ حد په ټاكلوپه شـــكل كې وي. اوس كه چيرې دغه نوع بنديز په وارداتو باندې ولګول شــي نو هدف به يې ترينه په خارجي كرنسـۍ باندې دتقاضـــا كموالى وي ترڅو دتادياتو دبيلانس دعجز څخه مخنيوی وشـــي اوهم په عينې وخت كې موداخلي توليدات دنورو رقيبو هيوادو درقابت څخه هم ســـاتلي اوســـي. او كه چيرې نوموړي بنديزونه په صـــادراتو ولګول شــــي اوســـنی هدف به ترينه په داخل دهيواد كې دمســـتهليكينو څخه حمايت او ســـاتنه وي. او ټيكس كوټا په دې معنا چې دولت په يو خاص واريدونكې جنس باندې ديوې ټاكلې مودې لپاره ټيټې تعريفې وضـــع كوي او كله هم چې ټاكلې موده پاى ته ورسيږي نوبيا بيرته لوړوي .دوهمه پالسی :دپانګونې يا سرمايه ګذاري پاليســـي : څرنګه چی پانګونه دپانګوونكود اوږدمهاله تصـــميم نيونی پوری اړه لری اوپه هيواد كی داقتصـــادی رشـد ضـــامنه ده ؛چی پواسـطه يی له يوطرفه څخه په هيوادكی توليدی ظرفيتونه معلوميږی اوله بل پلوه په نوموړي هيواد كې پانګونې ته دتصـــــديو اماده ګې بنايي.دپانګونې درامنځته كيدو دوه مرحلې لري۱-لمړنۍ يي مثبت مرحله يادمصارفو دقبلولو مرحله ۲-دوهم يي منفي مرحله يا دمصارفو څخه دځان ساتنې مرحله.نوركس يو اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالم دی هغه وايي چې ســــرمايه ګذاري يا دپانګونې مفهوم دادی چې ګوندې يوه ټولنه خپل ټوله جاري منابع خپل توليدي ظرفيتونه او امکانات دخپل اوســني ضــرورتونو دپوره کولو لپاره قرباني کوي . بلکه دخپلو جاري منابعو (مالي منابعو يوه برخه په سرمايه وي اجناسو (ماشـينونو) لکه دتوليد وسـايل ، تجهيزات، ترانسـپورت، په تسـهيلاتو .. يا نورو هغو برخو کې مصـــرفوي کوم چې ورته په راتلونکې موده (اوږد مهاله) کې ديوطرف نه توليد لوړه وي او له بل اړخ نه ورته دزياتې ګټې ، عايد او اقتصــــادي رفاه دزياتوالي باعث کيږي . نودپورته عالم له نظره ويلای شــو چې پانګونه دخپلو جاري منابعو يا ســـرمايي(مالي)يوه برخه په سـرمايوي اجناسـو کې کوم چې په راتلونکې درشـد او انکشـاف اوداسـتهلاک توکو دزياتوالي باعث ګرځي.دپانګې اچونې دپاليســۍ تعريف او هدفونه: تعريف: دملي اقتصــاد له نظره دپانګونې پاليســـي عبارت دټولو هغو قوانينو ، لوايحو اواجراتو بله مجموعي څخه دي چې پرمټ يې په ملي اقتصــــاد کې دپانګې اچونې عمليه او کچه کنترول اوواضــح کيږي او همدارنګه دپانګې اچونې حجم او اندازه دهغې ويشـنې په سـکتورونو اومنطقو دپانګې اچونې دملکيت او دجنسـيت ټاکنه اوبلاخره دپانګونې ډول او دهغې دتمويل منابع ديوې ټاکلې مودې لپاره په ګوته کوي .دويم:دپانګونې دارزښــت اوشــکل ټاکونکې عوامل: ويلای شــو دلته يو شــمير عوامل شــتون لري کوم چې دپانګې اچونې ارزښــت او دهغې دنمونې او ډول باندې اغيزه لري . نودغه عوامل بايد ټول هغه کســـان او ادارې چې پاليســـي جوړونکې دي ورته بايد پاملرنه وکړي.الف: دموده توليد جوړښت توزيع شي دسکتورونو ترمنځ او هم داوسنۍ ودی اونمو اندازه (نسبت).ب: دملي سپما اندازه او هغه عوامل چې په دې تاثير کوي.لکه : ۱-دمزدونو او عايد ســاختار او جوړښــت اوهمدارنګه ټولو هغو متوقعه بدلونونو ته کتنه۲-دنرخونو اوقيمتونو سيتم اوټول هغه بدلونونه چې طمع يې کيږي چې کيدای شي چې واقع به شـــي.۳-دپلي کيدونکې مالي پاليســــۍ او دهغې دوســــايلو (T,G)په تطبيق کې کموالی او زياتوالی۴-دمصارفو په نوعيت اودهغې په نسبت کې بدلون۵-ټولنيز اخلاق او مروج عادتونه اوهمدارنګه دسپما انګيزه۶-دملي اقتصاد وضعيت لکه رکود اونمو يا هم دراتلونکې اقتصادي وضــــعې پــه اړه داميـدواری او انـاميـدی حـالـت . ۷-دهيواد ودې او پرمختـک نســــبـت اوفيصـــــدي.دريم:دپانګې اچونې تيوريانې او پاليســــياني :ددې ترڅنګ بايد دپانګې اچونې پاليسـي جوړونکي ارګانونه او اشـخاص بايد دپانګې اچونې په تيوريانو باندې پوه اوسـې چې پـه دې اړه ډيري زيـاتې تيوريـانې موجودي دي چې مونږ يې يو څو تريـنـه پـه لنـډه توګـه يادوه۱-دکينز نظريه: چې وايي پانګه اچونه دســـود دنرخ ســـره اړيکه لري يعنې (I=f(i)اچې وروسته بيا په علمي ډګر کې داخبره څرګنده شوه چې پانګونه دسود دنرخ پورې دومره زيا دتړاو نه لري څومره چې يې فکر کيده. (I=I0-β(i۲-دمعجل تيوري يا acceleratorکومه چې وايي په پانګونه اويا هم په پانګونه کې تغييرات دتوليد دتغيرپورې تړاو لري معنا که چيرې توليد زيات شـي نو پانګه اچونه هم ورسـره زياتيږي او که برخلاف توليد يا GDPکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کموالی راځي نو پانګه اچونه هم ورســـره کمیږي.I=f(GDP)اچې دلته دپانګې اچونې څخه هدف هغه خالصــــه پانګه اچونه ده یعني – net investment=gross investment depreciationمجموعي یا ټوله پانګه اچونه منفي ترینه فرسایشات.۳-دپانګې اچونې لپاره دداخلي رصـید یا stockتیوري: په دې معنا چې پانګه اچونه دګټې داندازې ســره تړاو لري هرڅومره چې پانګونې ته دګټې اندازه زیاته وي په همغه اندازه ورســـره پانګونه تشـــویق کیږي . او دلته ګټه عبارت ده له کاروباریا پانګونې په واسطه لاس ته راغلو ګټو retained earningاو همدارنګه هغه ګټه چې دفرســـایشـــاتو له لارې لاس ته راځي . څرنګه چې هره تصـدۍ دذخایرو ایا هم دفرسـایشـاتو په شـکل سـپما کوي. نوویلای شـوچې ذخایر دګټې هغه برخه ده چې دتصدۍ دپانګې مالکانو ته نه ورکول کیږي او فرسایشات بیادهغه پولي مبالغو څخه عبارت دي چې دیوې تصدۍ لخوا په دې خاطر ساتل کیږي ترڅو پرې ماشین الات او زاړه شـــوي تجهیزات تعویض کړي.۴-دپانګې په اړه دنیوکلاســیکو علماو تیوري: نوموړې تیوري وایی چې پـانګونـه دپـانګې دخدمـاتو قیمت پورړې اړه لري کوم چې دتولید قیمت پورې تړلي وي.

The conventional and modern theory of investment, where investment is determined by the price of capital service in relation to the output prices.

اوبیا همدغه دپانګې دخدماتو قیمتونه په خپل وار سره دسرمایوي اجناسو دقیمت اودسود نرخ او دکمپنیو دعوایدو باندې دمالیې فیصدي پورې تړلي دي.

The price of capital services depends in turn on the prices of capital goods, the price of tax and the price of tax treatment entering the business sector. thus, the change in output or the price of capital services related to output prices changes the required investment.

دپانګونې منابع: دکورنیو(وګړو) سـپما، دتصـدیو سـپما، ددولت سـپما، اودخارج سـپما.دریمه پالیسي : دعاید عادلانه ویش: ویش:په تولید کې دهرشخص دمتناسبې ونډې څخه عبارت دی چې په خپله یی شـــخص اویا یې دهغې وســـایل تولیدوي.یعني عاید باید عادلانه وویشـــل شـي.څلورمه پالیسـي : مالي او پولي پالیسـي : پیژندنه کلاسـیکو اقتصـادي علماوو داسـي انګیرله چې په یو اقتصـــاد کې تل کامل اســتخدام منځ ته راتلای شـــي . دوی داســي ویل که چیرې اقتصاد خپل سرته پریږدو بیکاري خپله له منځ نه ځي. بحران نه رامنځ ته کیږي.چې په همدې توګه دانفلاســـیون درامینځ ته کیدو امکانات هم له منځه ځي.په دې معنا چې دولت بایدپه اقتصـاد کې لاسوهنه ونه کړي.اما کله د۱۹۳۰کال دبحران نه وروسته کینز راپاڅیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دولت نه يی لاسـوهنې غوښـتنه وکړه. وروسـته کينز له غو ښـتنې داخبره په مکمله توګه درک شوي چې يو هيواد او يا هم دنړۍ په کچه داقتصادي ثبات درامنځ ته کيدو لپاره اوياهم دثبات حالت دســـاتلو لپاره ددولت لاســـوهنه ډيره اړينه ده.ځکه چې کله په يو اقتصـــاد کې دبيکارۍ ، قيمتونو پرشـاپاتې اقتصـاد ، دعايد غيرعادلانه ويش اوداسـې نور بحرانونه رامنځ ته کيږي ددولت مداخلې پرته له منځه نه شي تللای . اوخبره دلته ده چې دابحرانونه به دولت څنګه له منځه وړي.؟ځواب مودادی چې دولت له دوه مهمو سـياسـتونو څخه کاراخلي ترڅو په لنډ مهال او اوږدمهال کې اقتصـادي بحرانونه سـره مقابله وکړي. چې دادوه سـياسـتونه مالي پاليســي اوپولي پاليســي دی . چې مونږ په دې برخه کې مالي پاليســي دهغې اهداف او دهغې اصولو باندې رڼا اچوو.مالي پاليسي مفهوم او پيژندنه: -مالي پاليسي اوږدمهاله پروسه ده چې په اوږده موده کې ددولت مصارف او عوايد تنظيموي-مالي پاليسي ددولت دمصارفو او مالياتو دشکل دهی (بڼه ورکونې ) پروسه ده ترڅو دولت پرې تاکلو موخو ته ورسيږي.- پروفيســور لايندهالم وايي چې مالي پاليســي يوه پروســه ده چې دمعينې مودې لپاره ددولت عوايد او مصارفو جوړښت تعقيبوي.W leeوايی چې مالي پاليسي په اصل کې لاندې برخې ترمطالعې لاندې نيسـي .۱-دمالياتو طرز۲-ددولت دمصـارفو طرز۳-ددولت دپور اخيسـتنې طرز۴-ددولت دپورونو اداره کولو طرز.دمالي پاليســی وســايل: هغه برخې دي چې دولت دهغو له لارې ديو هيواد په اقتصـــاد کې مالي پاليســـي پلې کوی کله چې دمالي پاليســـی په وســـايلو يا عناصـــرو خبري کوو نو لاندې برخې دي چې دمالي پاليســـي عمده وســـايل تشکيلوي.۱-ددولت مصارف ديو هيوادپه اقتصاد کې ۲- ددولت لخوا مستقيم او غير مستقيم ماليات. ۳-تمويلي کســـر : دمثال په ډول کله چې دولت قرض اخلي يا هم نوی نوتونه چاپوي۴-ســبســايدي ۵-انتقالي تاديات لکه تقاعد، دبيکارانو لپاره معاشــات، ســکالرشــيپ مصارف. دمالي سياستونو موخې : دمالي پاليسي موخې په اوږده موده کې تحقق مومې هغه موخې دي چې يو هيواد يی دمالي پاليسـي په مرسـته داقتصـادي سـتونزو په نوم پيژني او له مينځه يي وړي داموخې تل په اوږده موده کې لاسته راتلای شي چې ډيره دقيقې څيړنې او ځيرکتيا تـه اړتيـا لري چې پـه لانـدې ډول دي ۱-دقيمتنونو ثبـات۲-ددولـت دمصـــــارفو دڅرانګوالی طرزتاکل يعنې مثلا دولت غواړي دپترول اســـتعمال کم کړي نو ماليه پرې زياتوي يا بيې لوړوي چې خلک متبادل جنس استعمال کړي لکه دسون ګاز اوداسـې نور۳- داسـتخدام دکچې لوړوالی۴-دعايد عادلانه ويش۵-اقتصـادي پرمختيا۶-دتادياتو بيلانس دکسـر څخه مخنيوی.دمالي پاليسـي اصـول:لومړی : په سـوداګريز دوران کې دمالي پاليسـي اصـول لکه مترقي مالياتو سيستم۲-دبيکارانو رفاهې ورکول۳-دزراعتې محصولات حمايوي پاليسي . دملي عايد په توزيع کې دمالي پاليسی اصول: (انفلاسيون،ډيفلاسيون،اومالي پاليسي)لومړي ډيفلايسونې خلا اوددولت مصارفاتي اصل: کله چې په يو هيواد کې ديفلاسيونې خلارامنځ ته شي نو دولت ته پکار ده ترڅو Gيعنې ددولتي مصـارفو کچه پورته کړي ترڅو پيسې دوران

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته داخلي شي داچې دولت وغواړي داخلا ډکه کړي ترڅو کامل استخدام رامنځ ته شي باید مصارف ترسره کړي .دوهم ډیفلاسیوني خلا اوددولت مالیاتي اصل: کله چې په یوهیواد کې دکامل اســـتخدام په لوري دولت قدمونه ږدي نو مالیات هم یوه ډیره اړینه لاره دی کله چې ډیفلاسیون حالت وي نو دلته دولت مالیات کموي ترڅو دخلکو په عوایدو کې ډیروالی راشي کله چې عواید ډیر شي مصرف اوورسره پانګه اچونې ته میلان ډیریږي.دریم په انفلاسیوني خلا کې ددولت مصارفاتي اصل: کله چې اقتصاد بوم حالت ته رسیږي داسې یو حالت دي چې ډیرکم ثبات لري او بیرته نزول کوي چې دبحران په لور درومې . چې دلته دخلکو عواید ډیر لوړځي اوتصدی نه شي کولای تقاضا مرفوع کړي دلته تصدی دمنابعو له کمبود سره مخ کیږي کله چې تصدی تولیدي منابع ونلري کارګران له کاره باسې چې بیرته دخلکو عاید کمیږي له دی سـره په ملي عواید و کې کموالی راځي نو دلته دولت ته ضـرورده چې دانفلاسیوني خلا له مینځه یوسې. اما داخلا باید ډیفلاسیون برعکس له منځه ولاړشي دولت باید مصارف ودروي ترڅو خلک افراطي عواید کنترول شي ترڅو تصدی تقاضا په خپله عرضه مرفوع کړای شی. څلورم : دانفلاسیوني خلا دډکولو لپاره ددولت مالیاتي اصل: کله چې یو هیواد کې انفلاســیون رامنځ ته شـــي هغه ددې له امله چې اقتصـــاد بوم حالت ته ورسیږي دمنابعو کمبود سره مخ کیږي چې دخلکو دلوړعاید له امله راولاړه تقاضا تصدی نه شي مرفوع کولای نو دولت بایدعواید راکم کړي ترڅو دخلکو تقاضا کمه شي او تصدی وکولای شـــي په شـــته منابعو تقاضـــا مرفوع کړي .ددې لپاره دولت باید په لوړعاید مالیات زیات کړي . داچې مالیات زیات شـي ورسـره عواید کمیږي چې ورسـره مصـرف ته میلان کمیږي. پنځم : ددیفلاسیوني خلا په ډکولو کې ددولت دانتقالي تادیاتو اصـل: کله چې اقتصـاد کې ډیفلاســیون منځ ته راځي دولت باید یو څه پیســې دبیلابیلو لارو دوران ته داخلي کړي ترڅو په ګردش راشـــي اوداخلا ډکه کړي له دې لار و موډیري لاري ولوســـتلي اویوبله طریقه چې پیسې دوران ته ورګډې شـي دتقاعدې معاشـات ، بیکارانو معاشـات، خیرات ، اعانه،زکاتونه، صـداقات، اوداسـي نورې لارې دي چې ددولت او خلکو لخوا دټولنې دوران ته ورګډیږي . چې دباید دولت محاســبه کړي کله چې داپیســې دوران ته داخلیږي نو دلته دملي عاید کچه پورته کیږي ورسـره تقاضـا پورته ځي چې دتصـدیو دعرضـې لپاره لاره هواروي تصـــدی خلک په کارګماري اوداګړي په حرکت کې راځي .داچې څنګه دابیلابیل مصارف دوران ته ننوزی عیان لکه د دولت نور مصارفKROهغه ضریب دی چې له مخې یې یادشـوي تادیات په ملي عاید کې بدلون راولي . شـپږم : دانفلاسـیونې خلا په ډکولو کې ددولت دانتقالي تادیاتو اصل:کله چې په یو هیواد کې اقتصاد بوم حالت ته رسیږي نواقتصاد کې ملي عواید ډیریږي چې تقاضـــا ډیره پورته ځي او دتصـــدی دمنابعو له کمبود ســـره مخ کیږي. دلته کومه خلا چې رامنځ ته کیږي . ددولت دنده ده ترڅو داخلا داسې له منځه یوسي ترڅو دملي عاید دکمبود په مرسته تقاضـا کنترول کړي ترڅو عرضـه وکولای شي راولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقاضــه مشـبوع كړي نودلته دولت بايد انتقالي تاديات كم كړي ترڅو ملي عايد كم شــي او ورسره تقاضـا كمه شـي .پنځمه پاليسـي :دمالياتو پاليسـي. شپږمه پاليسـي : دودې پاليسـي: - كلانترين خطر براى اينده افغانسـتان امروز بيلانس واردات اسـت. ازدوومليارد زياتر مواد غذايي وارد ميكنم ، وازيک مليارد ډالر مواد سـاختماني ومواد ديگر واردميكنم ، يک ازين مواد ضرور نيست كه ازخارج وارد شود. ـدافغانستان يو ښارهم منظم ترانسپورت نه لرى- افغانستان يو ښار دكابل په شمول تراوسه پورې دكڅافاتو صحيح اودرست مديريت نه لري- دافغانسـتان يو ښـار هم د كابل په شـمول خپل كلني عوايد په اسـاسـيتوګه اوواضـح توګه نه ښايي-شپږ. مختلفې اداري دكابل په ښاروالۍ كې شتون درلود ترڅو دنوموړي ښاروالۍ عوايد راجمع كړي- ۷۵۰ مليون ډالر بـه دراتلونكې كـال پـه بوديجـه كې يواځې دښـــاري تړون دپروګرام لپاره تخصيص شي ترڅو د ښارونو توازن رامنځ ته شي.په پرمختايي هيوادو كې داستخدام سياست هدف داستخدام دسطحې لوړوالی دی او په پرمختللو ملكو كې داستخدام دسياست هدف بيا داستخدام دسطحې ټيټوالی مخنيوى كول او يا هم كامل استخدام حالت څخه ساتنه كول دي .نو په پرمختيايي هيوادو كې داستخدام سطحې لوړوالی لپاره دخلكو مهارتونه اودپوهې سطحه بايد لوړه شـي ، ترڅو خلک دكار لپاره اماده شـي چې داكړنه اوږدي مودې ته ضـــرورت لري. په پرمختللو هيوادونو كې هڅه دا وي چې داســتخدام دســطحې كنترول لپاره دپانګې اچووني سياسـت تعقيبوي. داسـتخدام سـياسـت داهم دی چې دتولني هغې كاري قوي ته چې دكاركولو هيله لري دكارمحل پيداكړي.نظمي سـياسـت اقتصـادي نظام ته شـكل وركوي داقتصــادي فعاليتونو لپاره حدود ټاكي او جرياني سياسـت داقتصــادي سياسـت هغه تدابير احتوا كوي چې ددې سياسـت په واسـطه اقتصــادي جريان عمليه كې مداخله صـورت نيسي او داقتصادي جريان په مستقيم او غيرمستقيم ډول تر تاثير لاندې راولي.نظمي سياست دلوبې لپـاره قواعد ټـاكي اوپـه داســـي حـال كې چې جريـاني ســـيـاســـت دلوبې حركـات انجاموي.دبازار اقتصـــاد په نظام كې نظمي ســياســت لمړيتوب لري اواقتصـــادي نظام بايد دارنګه تنظيم شي چې دټولني ضرورت وړاقتصادي نتايجولاسته راوړنه كې ددولت اقداماتو ته كم ضرورت احساس كړي اوپه بازار كې جرياني سياست مداخلات هغه وخت صورت نيســي چې بازار خپله اداره يا هيڅ او يا په كافي اندازه فعاليت ونكړاى شـــي. اودعرضـــه كوونكو او تقاضـا كوونكو ترمنځ رقابت مطلوب اجتماعي نتايج لاسـته رانه وړي لكه دعايد غيرعادلانه ويش او صحې ځانګې محصولاتو قيمتونو لوړوالی.نظمي سياست دنده لري څو په قواعدو يو دوامداره سيسـتم چې په موجوده قوانينو متكې وي ايجاد اوپه كاراچوني سـره يي په اقتصـــادي ژوند كې عملي كړي. دبازار په اقتصـــاد كې نظمې سـياسـت لمړيتوب لري دنظمې سياست دشكلدهی ځانګې عبارت دي له ۱-پلان جوړوني، رهبري او داقتصـــــادي جرياناتو انســـجام ، دتصـــديو او كورنيو قانون، مالي قانون ، او پولي قانون، دبازارقانون ،دمالكيت قانون او بلاخره دخارجي اقتصـــاد قانون دنظمې سـياسـت جوړوني اصـلي مرجع

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقننه قوه، جوړوي.جرياني سياست دنظمي سياست خلاف داقتصادي جريان په فعاليتونو کي مداخله کوي. دجرياني سياست تطبيق تدابير ساحات له منفرد اجناسو او عواملو بازارونه، اقتصادي سکتورونه يا په مجموع کي ملي اقتصاد څخه عبارت دی . ددې سياست اصلي پلي کوونکي اجرايه قوه ده چې هڅه کوي څو اقتصادي جريانات اوياقتصادي جرياناتو نتايج په لنډ مهال اويامنځ مهال موده کي دبازارد قيمتونو په تعين، دمالياتي په نرخونو تغيراتو ، دربحې په سطحې نرخونو په تغيراتو اوانتقالي تادياتو په واسطه ترتاثير يااغيزې لاندې راولي. اکثراوخت جرياني مداخلات دمنابع ناسم ويش اونامطلوب جريان نتايج منځته راوړي چې دوباره مداخلاتو ته اړتيا پيداکيږي او دنظمي سياست ځانګړي تدابير : مستقل مرکزي بانک ايجاد، دکارحمايت قوانين او تطبيق،چاپيرپال ساتني قانوني اصلاحات دپانګې اچونې داستهلاکاتو توقعات سنجش امکانات اوداسې نور .مثلا دچاپيرپال ساتني په موخه دموقت وخت لپاره دموټرو او عراده جاتو ګردش بنديز دجرياني سياست تدابير دي په عملي اقتصاد کي نه شي کيدلای چې نظمي سياست دجرياني سياست څخه دقيقا جداشي. ځکه اقتصادي او اجتماعي اهداف دحدودې شرايطو په وضع کولو سره اوهم دمستقيمو مداخلاتو له لارې لاسته راځي.په ۱۹۱۴م کال څخه اقتصادی سياست دکاملې کلاسيکې ازادئ په اساس انجاميده درقابتي نظام رامنځ ته کولو لپاره دوالتروايکن اوونظرونو شرطونه: دبازار شکل يا جوړښت۲-دپيسو دارزښت استقرار۳-بازارته دداخليدو ازادي۴خصوصي مالکيت ۵-دقرارداد ازادي ۶-شخصي ملکيت مسوليت او منفرد اقتصاد ګډ تاوويکونو مسوليت۷-يوه دوامداره او مرتبط اقتصادي سياست چې انساني بې اطميناني له منځه يوسي. داستخدام سياست نظمي تدابير کولای شو په لاندې برخو تقسيم کړو:۱-دکاربازار دنظام قواعد۲-دکارحقوق۳-ملاتړ۴-دکارمبارزه ددې لپاره چې تصديو او کارګرو ترمنځ اړيکي قوي شي نو دبازار دنظام قواعد بايد عملي شي او دبشري پانګې دتصاعد لپاره بايد يو لړ دبازار نظام نظمي قواعد رامنځ ته کړې چې لاندې دي ۱-دکارعايد : بايد مناسب وي ترڅو دواړه خواوي پرې راضي وي او دکارعايد سطحه ژوندسطحه تامين کړې ۲-دکارخطرات: په دوه ډوله دي ۱-جمعي ۲-عادي : عادي خطرات هغه خطرات دي چې په روزمره توګه ژوند کي رامنځ ته کيږي لکه بوډاوالی مريضي او نورجمعي هغه دي چې په ناڅاپي ډول رامنځ ته کيږي نو ددې لپاره لکه نوساني انحراف بايد يو لړ قواعد وضع شي او دخطراتو مخنيوي وشي ۳-کاريو متاع(جنس)ونه شميرل شي ځکه چې کار تخصص ته اړتيا لري ۴-دوظيفي انتخاب په دې معنا چې کارګر ويره لري چې که دا کار انتخاب کړم نوپه راتلونکې کې به په دې کې پاتې کيږم نوبايد يو لړ قواعد وضع شي.

# د عامه مالي چارو بنسټونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمالي چارو (finance)او ماليي (tax)مفاهيم يو له بل څخه دجلا کيدو وړ دي دبيلګي په توګه ماليات هغه ورکړي دي چي ددولت لخوا دطبيعي او حقوقي شـخصـيتونو پرعوايدو او شتمنيو باندې وضـع کيږي.حال داچي عامه مالي چاري دعايداتي سرچينو موندل او تدارک کول دي اوددولت په واسطه دټولنې داړتياوو دپوره کولو په خاطر دهغوی لګول دي .ترهلي: وايي : مالي علم هغه يو خپلواک علم دی چي دبحث موضـوع يې ددولت مالي اقتصـاد دی مالي علم ددولت دمالي اقتصـاد په هکله له دوو موضـوعاتو څخه خبرې کوي. مالي علم په کوم مفهوم سـره ددولت له مالي اقتصـاد څخه بحث کوي په دې هکله دوه نظريات شـتون لري١-مالي علم دهنردعلم په توګه: دپخوانيو نظرياتو له مخې مالي علم ديوه ديسـيپلين په توګه پيژندل شـوی او ديوه هنر دعلم په توګه دمالي اقتصـاد په موخو باندې دملي اقتصـاد علمي سـپارښـتنې او وينا کول تطبيقوي او په دې توګه ددولت دمالي اقتصـاد سـتونزې هواروي. او دانظريه په ١٨٣٠ څخه مخکې ترسـترګو په هغې وخت کې لامالي علم چا دخپلواک علم په توګه نه پيژنده او په شـلمه پيړۍ کې بيا دالاړه له منځه٢-مالي علم ديو خپلواک علم په توګه: ددغې نظريې سره سم مالي علم ديو سيستماتيک نظري علم دی چي لکه دبل هر علم په شـان ديو مشـخص معرفت او دپوهې دموضـوع لرونکی دی چي دمعرفت له دغې موضوع څخه په ګټه اخيستنې سره کيدای شي دمالي اقتصاد ديوې خالصې تيورۍ دپرمخ بيولو لپاره کاروادخلو او دهغې په مرسـته ددولت دمالي اقتصـاد سـتونزې هواري شـي. کله چي دولت خپلو تشـبثاتي چارو په اداره کې اجناس او خدمات توليد او هغه بازار ته عرضـه کړي نو دغو هڅو په ترڅ کې دخصـوصـي اقتصـاد دسيال په توګه واقع کيږي. نو ځکه دهغو پربيو او کيفيت کميت او توليد باندې اغيزه همدارنګه کله چي دولت له وګړو او موسساتو څخه په بيلابيلو بڼو ماليات ترلاسه کوي نودهغو په واسطه په سيده توګه دموسساتو او اشخاصو دلګښت اندازه سپما اودپانګې دجوړيدو امکانات اودپانګونې اندازه تراغيز لاندې راولې ددولت دمالي اقتصاد دغه ډول اقتصادي اغيزې په خصوصي موسساتو اوافرادو باندې يو اړخيزه بڼه نه لري بلکې بلمقابل خصـوصـي اقتصـاد هم دمقابل لوري په توګه ددولت په مالي اقتصـاد باندې خپله اغيزه اچوي دبيلګې په توګه دخصـوصـي اقتصـاد فعاليتونه که ددولت له اقتصادي فعاليتونو سره سيال په توګه دودې او که ددمتمم و همکار په توګه وي په هر حالت کې ددولت په اقتصـادي فعاليتونو باندې اغيزې لري کله چي موضـوع ددولت دمالي اقتصاد دپلوه ګورو نو ليدل کيږي چي دخصوصي اقتصاد دفعاليتونو کميدل او زياتيدل دخصـوصـي اقتصـاد دعوايدو دکمبود او زياتيدو لامل کيږي او داخپله ددولت په مالياتي عوايدو باندې اغيزه کوي ددې معنا داده چي دخصـوصـي عايد زياتوالی ددولت دعوايدو زياتوالې امکان برابروي خو دخصـوصـي عايدو کمښـت ددولت دمالياتي عوايدو دکمښـت لامل کيږي. دمالي علم دندې دادي چي ١-ددولت دمالي اقتصـاد ماهيت توضـيح کول٢-دبيلابيلو هيوادونو مالي اقتصـادونه هم دتوضـيح او وڅيړي٣-په دې هکله څيړنه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمالي اقتصاد دپام وړ موخې په واقیعت کې ترکومه بریده پورې تطبیق او ترلاسه شوي دي ۴-ددولت دمالي اقتصـــادي تدابیرو دعملي کولو اغیزې چې په اقتصـــادباندې کیږي، په کره ډول تحلیل او ارزول. عامه مالي چارو لپاره اړتیا: ځکه احسـاس شـوه چې په هر هیواد کې دیو شـمیر ټاکلو موخو ترسـره کول چې په حتمي توګه ضـروري بریښـي باید ددولت له خوا وشي لکه سیاسي موخې امنیتي او دفاعي چاري حقوقي مسایل او اقتصادي مقاصد او اهداف لکه دزیربنا ګانو جوړول دلویو لارو جوړول دبندونو او ویالو کیندل دعلمي او تحقیقاتي موسـسـاتو جوړول روغتیایي تاسـیسـات او نورعام المنفعه تاسـیاسـات . دولت هغه وخت تشبثاتیعواید لاسته راوړي چې لکه خصوصیاقتصاد په شکل په تولیدي فعالیتونو لاس پورې کړي اجناس او خدمات تولید او بازار ته یې عرضـه کړي او دهغو په بدل کې عاید ترلاسـه کړي له دې امله چې ددولت لکه دخصوصـي اقتصاد په شان تشبثاتي عواید دخپلو فعالیتونو په بدل کې ترلاسـه کوي او جبري بڼه نه لري بلکې دبازار له طریقه او په اختیاري ډول یې ترلاسـه کوي . نو ځکه تشـبثاتي عواید ددولت داصـلـي عواید په نوم یادیږي. دولت خپل یو شـمیر نورمالي وسـایل په اجبارې توګه او له خپل قدرت څخه په اسـتفادې سـره دبیلابیلو مالیاتو داخیسـتلو له لارې دمحصـول او ونډو له طریقه ترلاسـه کوي چې ددولت دغه ډول عواید ددولت داشـــتقاقي عوایدو په نامه یادیږي. دالمان هیواد نامتو پوه ګیرلوف : دولت دمالي اقتصـاد مولدیت او اجرات له کریدیت سـره تشـبیه کوي دبیلګې په توګه دکریدیت په واســـطه پولي او مالي وســـایل له پس انداز کوونکو څخه متشـــبثینو او پانګه اچونکو ته ورلیږدول کیږي او دپانګونې لپاره په کاریږي دعامه مالي چارو اهمیت۱-دلګښـــتونو لپاره کافي دتمویل منابع درلودل۲-ددولت دلګښـتونو او عوایدو ترمنځ تعادل۳-دلګښـتونو په برخه کې سـپما کول. لکه هغسـې چې ددولت په عاید کې زیاتوالی ددولت دمالي بنسـټ دپیاوړې کیدو لامل شـــي او دولت په دې باندې توانمند کوي چې دخپل مالي اقتصـــاد دفعالیتونه پراخ کړي او دولت په لګښتونو کې داقتصادي پرنسیپ تطبیق کیدل یانې په ډیرلګښت سره دولتي ټاکلي پروژې عملي کیږي.اوددولت په لګښـتوونو کې دسـپما لامل شـي اودولت په دې باندې توانمند کړي چې په دغو سـپما کړل شـویو پیسـو باندې یوه بله کوچنۍ پروژه ، یا دهغې یوه برخه تمویل کړي چې په دي توګه به ددولت په لګښتونو کې سپما او صرفه جویی په حقیقت کې ددولت په عوایدو کې یو ډول زیاتوالی هم په سـیده او هم په ناسـیده توګه راولې. مالي علم له نورو اجتماعي علومو ســـره ډیرې نژدې اړیکې لري نوځکه داډیره ســـتونزمنه او ناممکنه خبره ده چې ددولت دمالي اقتصاد ستونزې داقتصادي تیوریګانو له مرستې پرته حل شـي . ددولت دمالي اقتصـاد اغیزې په مجموعي اقتصـاد باندې په خپله ددولت دمالي اقتصـاد داغیزو په اندازه ژورې او مهمې دي . ددې معنا داده چې څومره چې ددولت دمالي اقتصـــاد ونډه او سـهم څه په نسـبي اوانډولیزه توګه او څه هم په مطلق ډول دشـلمې پیړۍ له پیل څخه بیا تراوســـه پورې زیاتره هیوادونوکې زیاتوالي موندلی . یعنې ملي عاید دانډول ســـره ســـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراخه شوی.دبودجې توازن دغه اصل دپرنسیپ له مخې مطالعه کیږي هغه وخت دعمل په ډګر کې عملي کیدای شي چې ددولت دلګښتونو په اړخ کې هم له اقتصادي پرنسیپ څخه کارواخیستل شي داځکه که چیرې ددولت په لګښتونو کې اسراف وشي اولازمه پاملرنه ونه شي ممکن ددولت دعوایدو زیاتیدل به هم دپلان شویو مصارفاتي پروژو لپاره بس نه شي او داقتصادي پرنسیپ مطابق به ورته ونه رسیږي او په پایله کې به یو شمیر لګښتي پروژې پرته له تطبیق کیدو څخه پاتې شي یا به پوره نه شي. دبحران او اقتصادي ډب یا رکود په حالت کې ددولت دندې داقتصادي او ټولنیز حالت دښه والي په خاطر زیاتیږي نو ځکه لګښتونه هم زیاتیږي داقتصادي رونق حالت کې دخصوصي اقتصاد دفعالیت او پرمختیا لپاره لار هواروي اوددوي دګټو وټو زیاتوالي امکان هم ډیر وي نوځکه دولت زیاتو لګښتونو ته هیڅ اړتیا نه شته . دمرکنتلست دولت داقتصادي مهم سیاست په سوداګرۍ کې مثبت بیلانس ته رسیدل او چې دغه موخې ته درسیدوپه خاطر په مجموعي توګه اقتصادي چاروکې ددولت لازیاتې مداخلې ته اړتیا وه خو په خاص ډول لاندېنیو چاروته۱-داستخدام دکچې لوړول اودهیواد دننه دتولید داوچتولو په خاطر ددولتي تصدیو تاسیس او پیاوړي کول ترڅو په دې توګه صادرات زیات او واردات کم شي اوپه پایله کې یې دسوداګرۍ مثبت بیلانس ترلاسه شي۲-خصوصي متشبثینو ته په سیده او ناسیده توګه دمالي او پولي مرستو او انحصاري امتیازاتو دورکولو له لارې دخصوصي صنایعو پیاوړي کول۳-دصادراتو دګمرکي تعرفي دوضع کولو له طریقه دپخو او نیم کاره موادو دصادراتو مخنیوی ترڅو دغه توکي دهیواد دننه په کورنیو صنایعو کې په کارتمامه اوپخو محصولاتو بدل شي او په دې توګه له کورنیو خامو توکیو څخه اعظمي استفاده وشي ۴-په واردونکو صنعتي محصولاتو باندې دډیر اوچت محصول وضع کول ترڅو دوارداتي محصولاتو راتګ منع او په دې توګه دهیواد داسعاري ورکړو اندازه کمه شي۵-دکارتماموپه صادراتو باندې ډیر لږ ګمرکي محصول ټاکل ترڅو صادرات ښه پیاوړي او وهڅول شي او دهغو له طریقه ددولت اسعاري سرچینې پیاوړې شي ۶-له بهرڅخه په واردو شویو خامو توکو باندې ډیر لږ ګمرکي محصول کیشودل ترڅو دخامو توکو دواردولو دهڅونې لامل شي او دهیواد دننه په کارتمامو پخو موادو پروسیس شي. دمرکنتلستانو سیاست بنسټیزه موخه په سوداګرۍ کې مثبت بیلانس وه.دروسیې نامتو عالم (ن ــګ ــیچیف) دمالي علم دندې داسې توضیح کوي : دپولي زیرمو او عایداتې سرچینو رامنځ ته کیدل او شکل۲-دپولي زیرمو او عایداتي سرچینو ویش او لګول۳-دپولي زیرمو او عایداتي سرچینو دویش کنترول کول. اوس ددې لپاره چې دولت خپلې ورسپارل شوې دندې ښې ترسره کړي باید کافي اندازه مالي وسایل ورسره وي اودولت دغه مالي وسایل په بیلابیلو بڼو او ډولونو په لاندې توګه ترلاسه کوي۱-ددولت تشبثاتي عواید۲-محصول او ونډې۳-مالیات۴-جریمې۵-داړتیا پرمهال او وخت سره سمې ددولتي شتمنیو او جایدادونو پلورل او ددولتي خدمتونو عرضه کول۶-دکورنیو او بهرنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورونو اخیستل۷-دبهرنیو او کورنیو بلاعوضونو مرسته ترلاسه کول. دولت هغه وخت تشبثاتي عواید ترلاسه کولای شي چې کله دخصوصي اقتصاد په شان په تولیدي فعالیتونولاس پورې کړي اجناس او خدمات تولید او عرضه کړي. او دهغو په بدل کې عاید ترلاسه کړي. دخصوصي او دولت دمالي اقتصاد ترمنځ توپیر ۱-دپلان جوړونې له پلوه توپیر۲-دګټو ترلاسه کولو له پلوه توپیر۳-ددندو له پلوه توپیر۴-داحتیاجاتو دپوره کولو له پلوه توپیر۵-دلګښتونو او عوایدو دمخکې وروسته والې له پلوه توپیر۶-دعوایدو دچمتو کولو له پلوه توپیر۷-دتولید دماهیت له پلوه توپیر۸-دخدماتو دجبران له پلوه توپیر ۹-دنافعیت او دهغه دسنجش له پلوه توپیر.مالي علم ددولتي فعالیتونو داغیزو دتحلیل او تشریح او دځانګړو موخو سره سم دهغه ډېر ښه سمبالول او معقول تنظیم کول دي مالي علم دوه برخې لري ۱-مالي سیاست۲-مالي تیوري. دمالي علم تحقیق او څېړنې موضوع نه یوازې دکورنې مالي اقتصاد څېړنه ارزونه تحلیل او ارزیابي کول او توضیح کول دی بلکې دنړیوال مالي اقتصاد دستونزو څېړنه او تحلیل کول هم دي ترڅو دهغوي له لوری څخه دداخلي مالي حالت او وضعیت دښه کولو په خاطر ګټه واخیستل شي دSonnenfelsله نظره سره سم مالي علم دهغوژورو بنستونو مجموعه ده چې له هغو سره سم ددولت عواید په ډېره شه او ګټه وره توګه ترلاسه شي. هنریش راو: چې په ۱۹۳۰ م کال کې يې په لومړي ځل اقتصادي علوم په دوو برخو یا نې ملي نظري اقتصاد او مالي علم اوداقتصادي سیاست باندې وویشل وایی چې مالي علم هغه پوهه ده چې دهغې په واسطه ددولت اړتیاوي په مادي وسایلو سره په ډېره ښه بڼه بشپړې شي . مالي علم هغه خپلواک علم دی چې دهغې دبحث موضوع ددولت مالي اقتصاد دی دلته به ددولت له مالي اقتصاد څخه موخه دعامه وسایلو اقتصاد وي.دلیبرال اقتصادي نظام یا داقتصادي خپلواکی غوښتنې دنظام یوه مهمه ځانګړتیا چې کلاسیکو پوهانو هغه غوښتله داوه چې په اقتصادي چارو کې ددولت نه لاسوهنه وي او داقتصادي فعالیتونو نوښتونه دي خصوصي افرادو ته پرېښودل شي . ددوې دفلسفي مطابق که چیرې افرادو ته په اقتصادکې ازادې ورکړل شي ، نو دېولنې هروګړی به دخپل وس سره سم دخپل استعداد مطابق یو کاروبار ځانته غوره او پیل کړي. دلزالي له نظر سره سم چې ددغه ډول نظام یو کلک پلوی وه دولت باید داقتصاد په ډګر کې ساختماني دندې یعنې تولیدې فعالیتونه ترسره نه کړي بلکې داقتصادي نظم دډاډمنتیا لپاره صرف انتظامې دندې پرمخ بوځي. ادم سمیت دلیبرال اقتصاد پلوی داسې نظر ورکړی دولت باید په اقتصادي چارو کې دنورو ترڅنګ زیربنایی تاسیساتو دندې پرمخ بوځي. چې انفرادي وګړي دغه ډول زیربنایي ساختماني دندې نه ترسره کوي . دمرکزي پلان جوړونې اقتصاد: کې دتولیدې وسایلو ددولتي کیدو له امله دټولنیز محصول زیاته برخه په سیده توګه په دولت پورې اړه پیداکوي. دټولنیز محصول ویش په خلکو باندې ددولت له خوا تاکل شوي عاید سر ه سم ترسره کیږي. او بیې هم ددولت له خوا تاکل کیږی. دمرکزي پلان جوړونې په اقتصاد کې چې مستقیم یا سیده مالیات له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولتي تصـديو څخه اخيسـتل کيږي ددولت دمالياتي عوايدو اصـلي او غوښـنه برخه جوړوي چې په عمومي توګه ددولت دغه ماليات په دوو بڼو يو يي له توليدي تصديو څخه په توليداتو باندې ماليات دي او بله يې له خدماتي تصديو څخه په خدماتو باندې ماليه اخيستل دي دماليي سـنجولو بنسټ دفعاليت ځايونو دخرڅلاو دوران دی .دمرکزی پلان لرونکې اقتصـادي نظام هيوادو کې ددې عوايدو ډيره برخه دملي شويو شتمنو څخه ترلاسه کيږي او مالياتي عوايد په هغو کې ډيره لږه ونډه لري او ددولت دبودجې په تمويل کې يې برخه کمه وي . دمرکزي پلان جوړونې اقتصـاد لرونکو هيوادونو کې ددولت بودجه له پلان سـره سـمه ديو شـمير پرنسيپونو له مخې ترتيبيږي او بيا تطبيق کيږی چې دغه اساس پرنسيپونه ياصـول دادي ۱-دبودجې عمومي پرنسيپ(دتوازن پرنسيپ)دبودجې جوړونې صرفه جويي پرنسيپ دمالي پلان جوړونې او ديموکراتيک مرکزيت دوحدت پرنسـيپ) *دبودجې اختصـاصـي پرنسـيپ(دبودجې دوحدت پرنسـيپ)دبودجې دکامل والی او هدف پورې مربوط والی پرنسـيپ)؟؟په مداخلي (مداخلوي ) اقتصـادي نظام کې يعنې په اقتصـادي چارو کې ددولتي فعاليتونو دورځ په ورځ زياتيدونکو لاسوهنو په صـورت کې چې دليبرال اقتصـادي نظام يو تعديل شوی شکل دی . ددولت دمالي اقتصاد دفعاليتونو دترسره کولو لپاره پراخه ساحه شته چې له هغې سـره سـم ددولت دمالي اقتصـاد حجم او سـاحه هم پراخيږي. دمرکزي پلان جوړونې په اقتصـاد کې دبودجې دتوازن اصـلي علت دادی چې دبازار اقتصـاد لرونکو نظامونو کې دبيو او عوايدو دبدلون ددولت په بودجه کې هم بدلون راولي او له اقتصـادي شرايطو سره سم ددولت دبودجې دتوازن کله کسر او کله مازاد سره مخامخ کوی حال داچې دمرکزي پلان اقتصـاد لرونکو نظامونو کې لکه مخکې چې وويل شـو پورتني دواړه کميتونه ددوې له خوا ټاکل کيږي نو ځکه ثابت هم پاتې کيږی. په مختلط اقتصادي نظام کې هم ازاد بازار يعنې دشخصي ملکيت لرل او شخصي تشبثاتو شته او قانوني رسميت لري او هم په کې دولت دمالک په توګه دمتشـبث په توګه او هم دکنترول کوونکو په توګه په اقتصـادي فعاليتونو کې برخه اخلي او دنافذ حيثيت لري. په دغه ډول اقتصـادي نظام کې دنن ورځې هغه ټول هيوادونه شـامل دي چې دمرکزي پلان اقتصـادي نظامونه نه لري. ګډ يا مختلط اقتصـاد دهغه ډول اقتصـاددی چې په هغې کې دولت دپام وړاجناس او خدمات عرضـه کوي او دخصـوصـي اقتصـاد فعاليتونه تنظيموي. دمداخلو ي اقتصـاد نظام چې دنولسمې پيړۍ په وروستيو کې په ۱۸۷۵ م کال وروسته په المان کې رامنځ ته شو اساسي موخه يي داوه چې دخصـوصـي نوښـتونو لپاره ديوې ازاده فضـا په تضـمين کولو سـره ددولت دخپلو مالي او اقتصـادي فعاليتونو دپراخولو په واسـطه هغه ډول ناوړه پايلې او منفي اغيزې چې دبازار اقتصـادي نظام داقتصـادي عمليې دجريان له امله رامنځ ته کيږي له منځ نه يوسـې او مخه يي ونيسـي اوداقتصـادي پيښـو جريان دټولنې او ټول ملي اقتصـاد په بڼه تراغيزې لاندې راولي او اقتصاد دنورو پرمختياوو لپاره لاره هواره کړي . اساسي علت درامنځ ته کيدو يي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې وروسته ترصنعتي انقلاب څخه یو شمیر ناوړه اقتصادي او ټولنیزي پېښي لکه داقتصادي بحرانونو پيښیدل،بیکاري زیاتیدل، دکارډیرستونزمن شرایط او په کارګرو یی ظالمانه چلند اودکاردوخت زیاتول خو دلږ مزدونو ورکول په ماشومانو باندې کارکول او نورعوامل رامنځ ته شول ددغه ناوړه پایلو دله منځه وړلو لپاره په خاطر او دهغو نورو اقتصادي او ټولنیزو ناوړه پایلو دمخنیوي لپاره په اقتصادي چارو کې ددولت دلازیاتې مداخلي لامل شوه له دې امله چې دپورتنیو دندو ترسره کیدو پیسو او لګښت ته اړتیا لرله نو دانظریات ددې لامل شو چې ددولت دمالي اقتصاد ساحې ته پاملرنه زیاته شي. والټروایکین په نوم یو پوه دیواغیزمن رقابتي نظام درامنځ ته کولو لپاره اوو سازماني اصول او څلور انتظامي اصول پیشنهاد کړي دي دادي چې سازماني اصول۱-دبشپړو رقابتي بیو سیستم ۲-دپیسو دارزښت استقرار۳-بازارته داقتصادي عاملینو راتګ(شغل او کارونو ازادي)۴-په تولیدي وسایلو باندې دخصوصي ملکیت شتون۵-دقرارداد ازادي ۶-داقتصادي سیاست ثبات او دوام. انتظامي اصول ۱-دولت باید دکارتلونو او انحصاراتو دشکل مخه ونیسي او ضروري او نه منع کیدونکی انحصار داسې کنترول او ترڅارنې لاندې ونیسي چې دبعضو بیي لکه درقابتي بیو په شان شي۲-دولت باید دخپلو مالیاتي سیاستونو له طریقه پرته له دي چې په اقتصاد کې پانګونې له خنډ او ځنډ سره مخ شي دعاید بیا ویش اصلاح او سمون په کې راولي ۳-دولت باید دکاردوختونو دښځو داستخدام او دماشومانو دکارپه هکله نوي ځانګړي مقرارت جوړکړي، ترڅو کارګران ډاډمن وي او مصونیت ولري او له دي پرته له طبیعي سرچینو څخه دغیر اقتصادي استفادې مخه ونیول شي۴-دولت باید حد اقل مزدونه په عادلانه توګه وویشي . دازادي غوښتني نوی اصالت هم له دولت څخه یو څو غوښتني لري چې دهغوی عملي کول ددولت دمالي اقتصاد دپراختیا او ښه کیدو لامل کیدای شي. داسلامي حکومت مهمې دندې۱-دغربت فقر بیکاري له منځه وړل۲-دپیسو دحقیقي ارزښت ساتل۳-دقانون(شریعت)تطبیق کول۴-دټولنیزو اقتصادي عدالت ډادمنتیا۵-دامنیت او دعاید دعادلانه ویش ډاډمنتیا۶-دنړیوالو اړیکو ساتل او دهیواد دپولو ساتنه . داسلامي دولت عایداتي سرچینې په دوه ډوله دي۱لومړني او ثابت مالیات: هغه مالیات دي چې دهغو اندازه انډول او دوضع کیدلو او اخیستو حالات په سیده توګه شریعت ښودلي لکه : زکات،خمس، عشر، خراج، جزیه، صدقه، رقت او بې وارثه میراث دثابتو مالیاتو په نوم یادیږي.۲-متغییر(حکومتي)بدلیدونکي مالیات: داهغه بیلابیل مالیات دي چې اسلامي حاکم کولای شي په ځانګړو شرایطو کې هغه واخلي . دهغو اندازه او نسبت لپاره کوم ځانګړی مقدار په شرع کې نشته بلکې دټولنې داړتیاو اودحکومت په ضرورتونو پورې اړه لري چې داسلامي حاکم په پام کې نیسي لکه دطبیعي منابع له درکه عواید دکانونو سړکونو ځنګلونو سیندونو او نورو څخه عواید).همدارنګه په وارداتو مالیات بې سوده حسنه پورونه ددولتي ملکیتونو عواید او ددولتي خدماتو عواید. والټراویکین وروسته درقابتي نظام دپیاوړي کولو په خاطر دولت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو شــمير نوي دندې پيشـــنهاد کړي چې ددولت دمالي اقتصـــاد دپراختيا لامل شــول. دولتي تصـــدۍ ددوه ډوله مالياتو تابع دي  په مرکزي پلان جوړونې په اقتصـــادکې يعنې پرمفادو يا ګټو ماليات او په توليداتو ماليات . اسلامي حکومت  په اقتصاد کې دپراخه  ملکيت اختيارونو ، او ددندو لرونکی دی چې په دې برخه کې دولت ته دپراخه لاســـوهنې څارنې او مداخلي امکانات ورپه برخه کول . داسلامي اقتصاد په نظام کې ټولې اقتصادي سرچينې چې په هغو کې عامه ګټې نغښـــتې وي  بيت المال ته په واک ورکول کيږي. ځنګلونه ســـيندونه، اوبه شــرکتونه، کانونه.په ليبرال اقتصــادي نظام کې دولت دفعاليت ســاحه محدوده وي او ترډيره بريده دفاع، امنيتي ، علمي، تحقيقاتي، او زيربيناګانو دجوړولو دندې په غاړه لري چې له دغې نظريي سره  سم دولت دمالي اقتصاد ساحه هم محدوده وي.دمرکزي پلان جوړونې  په اقتصـــاد کې ددولت بودجه دملي عايد ډيره لږه برخه جوړوي او پرتوليدي وســـايلو باندې ملکيت دولتي وي نو ځکه ددولت ډيره برخه عوايد په دغه نظام کې ددولتي تصديو له مدرک څخه ترلاســـه کيږي. په دغه ډول نظام کې بيي ددولت لخوا  په ثابته بڼه ټاکل کيږي. په دغوډول نظامونو کې دخلکو څخه ماليات او دولتي تصـديو څخه ماليات راټوليږي. دمرکزي پلان لرونکی هيوادونه کې له عملي او نظرې پلوه دبودجې توازن په کلکه ســـره رعايت کيږي. په ګډ يا مداخلوي  اقتصـــاد کې ددولت مداخله په ټولنيزو چارو کې زياتيږي چې مهم عامل يي صـنعتي انقلاب  او دهغه ناوړه ټولنيزی او اقتصـادي  پايلې دي. دعامه مالي چارو بنسټونه: دوه ګونی موډل: دې کې داقتصـادي پيښو جريان داسې پرمخ ځي چې کورنۍ خپل توليد عوامل او خدمات تصـــديوته ورکوي او تصـــدۍ توليدشـــوي اجناس اوخدمات بيرته دتوليدي عواملو په بدل کې کورنيو ته ورکوي شکل په لاندې ډول دی

اوس همدې شـکل ته لږ پراختيا ورکوو چې سپمااوپانګه اچونه دپانګې دجوړيدو په بڼه ځای په ځای کړو او دولت فعاليتونه هم ځای په ځای کړو نولاندې شکل به ولرو

پورته اقتصــادي دوران کې لاندې پيښــې پيښــيږي۱-کورنۍ خپل دتوليد عوامل تصــديو ته په واک کې ورکوي ۲-کورنۍ دخپلو توليدي دعرضـــې په بدل کې تصــديو څخه دعوايدو په بڼه خپل عوض ياجبران ترلاسه کوي۳-کورنۍ توليد عوامل دولت ته سپاري او دولت ته په سيده توګـه ماليـه ورکوي۴-دولـت کورنيو دتوليـد عواملو پـه وړانـدې هغوی تـه عـايد ورکوي اويو شمير بلاعوضه مرستې ورسره کوي.اودټولنيزواوفاميلي کومکونو په بڼه  ورته مرسته ورکويږ ۵-کورنۍ خپل يوه اندازه عايد سپما کوي. چې دغه پاتې شوي عايد له ټولې کورنۍ څخه دپانګې دجوړيدو په موخه راټوليږي.۶-تصــدۍ هم دولت ته په ســيده اوناســيده توګه ماليات ورکوي۷-دولت تصـــديو څخه دخپلې اړتياوړ اجناس اوخدمات اخلي او له دې پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصـــديو ته په ســيده اوناســيده توګه مرســتې ورکوي.۸-دتصــديو پس اندازونه اواســتهلاکات دپانګې جوړيدو لپاره کارول کيږي۹-دولت هم فرســـايشـــات(اســـتهلاکات)اوپس اندازونه هم دپانګې جوړيدا خواته ليږدوي۱۰-جوړي شوي پانګې څخه دوباره دتصديو اودولتي موسساتو دتمويل لپاره کاراخيســتل کيږي.پورته اقتصــادي دوران يو تړلی اقتصــاد په پام کې نيســي . يعنې هغې کې بهرنې اقتصـــادي اړيکې په پام کې نه دي نيول شـــوي.په ملي اقتصـــاد کې دپانګې جوړښــت ســرچينې عبارت دي له:ددولت فرســايشــات(اســتهلاکات)اوپس اندازونه دپانګې جوړښت سرچينې دي.دملي اقتصاد دپانګې اچول مجموع کې ددولت فرسايشاتو او پس اندازونو او عوايدو اومالياتو دسرچينو څخه تمويل کيږي.ددولت له خوا داجناسو مفيديت دکمښــت په پرتله زيات کې ددولت له خوا دتوليد شــويو اجناســودمفيديت له . له همدي امله مجموعي اقتصـــاد دمولديت له پلوه داغوره او ګڼوره ده چې دولت خپل توليدي فعاليتونه په opنقطــه کې ودروي يعنې دټولو اعظمي نقطــه کې او ددې نــه يي زيــات نــه کړي چې دابيادملي اقتصـــاد په زيان تماميږي.ملي اقتصـــاد=مجموعي اقتصـــاد+لوی اقتصـــاد+عامه اقتصاد+دولتي اقتصاد.مالي اقتصاد=عامه مالي چارې.مازولا اوپنتلونې ايټالوي پوهانو هڅه وکړه چې هغه مفيديت چې ددولت په فعاليتونو ســـره ايجاديږي. له هغه مفيديت ســـره پرتله کړي چې دافرادو دمالياتو دورکولو سره لاسته راځي. ددغو پوهانو په نظر ددولتي فعاليتونو دپراختيا ترهغه پورې د مجموعي مفاد په ګټه وي چې ترڅو چې دولت دفعاليتونو رامنځته شوي مفيديت ياترلاسه شوی ګټورتوب دمالياتو دورکړېله امله دافرادو له لاسه وتلي مفيديت څخه زيات وي . لنډال : هم دمولفينو همدغې ډلې ته ورګرځي. دوی هڅې وکړي چې دفريټو ډير مســـاعد حالت ددولت پرلګښـــتونو باندې تطبيق کړي دنوموړي دنظر ســـره ســـم ددولت فعاليت يوازې په هغو شرايطو کې معقول بلل کيږي چې هغه مفيديت چې دولت يي يوشخص ته ايجادوي په عين حال کې دغه شـــخص څخه دعين مفيديت دله منځه تللو لامل نه شـــي. داځکه په دې صــورت کې به دده په عقيده ديوتن هوســاينه يوبل ته دزيان په بدل کې ترلاســه شوي وي . ددغې ستونزې دحل لپاره په کارده چې داشخاصو دمفيديتونو ترمنځ مقايسه وشي . خودغه کار ناممکنه ده داځکه چې مفيديت يوعندي اوانفســـي موضـــوع ده نودهغې لپاره افاقي معيارونه نه شته. دمسګريف له نظر سره سم له دې امله چې دولتي اجناسو ته دخلکو اړتيا دبازار له لارې نه شـــي پوره کيدای نو بايد عامه اړتياوې اوددولت دمالي اقتصـــاددپولو اوبريدونو ټاکل هم بايد ديوه ســياســي تصــاميم له مخې ترســره شــي .داشــخاصــو دمفيديتونو دمقايســې له لارې ددولت دمالي اقتصــاد دپولو ټاکل داډول ستونزې لري:دغه ډول مقايســه په عمل کې ناممکنه ده داځکه چې مفيديت يوه عندي او انفسي موضـوع ده چې نظر هرشـخص ته توپيرکوي اودهغې لپاره افاقي معيارونه نشـــته.دولت عوايد وته ددې په خاطر اړتيا ده: دولت ته ځکه اړتيا لري چې دولت خپلې دندې په ښـــه شـــکل ترســـره کړي بايد پوره اندازه عوايدپه واک کې ولري . همدارنګه دولت په اقتصادي تولينزو کلتوري اوسياسي ډګرونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه کې بیلابیلې دندې په مخ وړي نودغو دندو پرمخ بیولو لپاره دولت عوایدو ته اړتیا لري. دعواید و داعتدال اوکفایت اساس:ددې اساس له مخې باید دولت عواید دومره وي چې ددولت لګښتونه پوره کړي اوددوام له نظره باید دلګښتونو داندازې څخه نه زیات او نه کم شي. ځکه که عواید دمصارفو څخه زیات شي نو په ملي اقتصاد منفي اغیزې کوي.اوکه عواید دمصارفو څخه کم شي نودولت اقتصادي فعالیتونه محدودیږي اوخپلې دندې نشي ترسره کولای یعنې دا اساس په یوه اوږده موده کې دبودجې دتوازن غوښتنه کوي .دولت په دغه لاندې شرایطو سره داقتصادي شرایطو سره دبرابروالی وړتیالري . په دې خاطر ورسره برابروالي وړتیا لري که چیرته ددولت عواید کم شي نوخپلې ورسپارل شوي دندې په ښه شکل نه شي ترسره کولای اوهمداقسم که چیرته عواید زیات شي نوتولیدي وسایل بې ګټې پاتي کیږي.ددولت عواید ودبیامولدیت اساس مفهوم:ددغه اساس له مخې لکه څرنګه چې لورنس فون شتین دمالیاتوپه هکله ویل و ددولت عواید باید داسې راټول شي چې په اقتصاد دبیا تولیدولو اغیزه ولري معنا داچې ددولت عواید په واسطه دهیواد راتلوونکې تولیدي قدرت ضعیف نشي. بلکې ښه شي . ددولت دعوایدو اقتصادي اساس : ددولت عواید اقتصادي اساس هم ددولت دلګښتونو په شان ددولت په عوایدو باندې داقتصادي پرنسیپ غوښتنه کوي معنا داچې ددولت عواید باید داسې راټول شي چې دامکان ترحده مالیاتي اداروته ډیرلږ تمام شد مصارف ولري.دمالیاتي استطاعت اساس مفهوم : داساس ددې غوښتنه کوي چې دمالیاتو په ورکړه کې دهرچا برخه داسې وټاکل شي چې هرڅوک دخپل وس سره سم او دخپل مالي توان مطابق ددولت دمالیي په ورکولو کې برخه واخلي . هغه لامل چې دمالیاتي استطاعت داساس تطبیق کول په عمل کې ستونزمن او ناممکن دي:لاندې لاملونه دي ۱-دمالیي ټاکنې تخنیک:له پلوه ډیرستونزمن اوتردې چې پرمختیایي هیوادو کې ناشونی کار دی ځکه دانشي کیدلای چې ټولو خلکو مالي وس دي وکتل شي اوبیادي مالیه پري کیښودل شي.۲-دنړۍ په ګڼ شمیر هیوادونو کې حاکمه طبقه هیڅ کله نه غواړي چې ټول مالي امتیازات دي له منځه ولاړشي.۳-له دې امله چې ددولت مالیاتي پالیسی په چارو کې بیلابیلې موخې په پام کې وي نو ځکه دغه اصل څه ناڅه زیانمن کیږي. اوسم نه شي عملي کیدی.ددولت دعوایدو بنسټونه:ددې لپاره چې دولت عواید په اقتصاد منفي اغیزه وانه چوي باید یو شمیر اساسات ورته وټاکل شي چې دااساسات عبارت دي له ۱-دولت عواید دمالی اقتصاد اساسات۲-دولت دعوایدو دملي اقتصاد اساسات۳-ددولت دعوایدو دتحصیل اخلاقي اساسات.ددولت دعوایدو دمالي اقتصاد اساسات:داصل یا اساس لاندې برخې لري۱-دکفایت اواعتدال اساس۲-دعوایدو دمطابقتقابلیت۳-دعوایدودتحصیل(راټولولو) داقتصادیت اساس۴-ددولت دعوایدو دتحصیل قانونیت۱-کفایت اواعتدال اساس۲-دعوایدو دمطابقت قابلیت: له دې امله چې دهرهیواد دمالي اړتیاوي داقتصادي نوساناتو تابع دي نوځکه له دې لپاره چې دولت مالي ستونزو سره مخامخ نه شي باید ددولت عواید داسې تنظیم شي .چې هروخت کې ځان دنوساناتو اواقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالاتو له بدلون سره بدلون وکړي يعنې برابرکړاى شي اوپايله کې مالي اړتياوسره مطابق شي. ۳-دعوايدو دحصول اقتصاديت اصل :لکه معاشاتو مصارف ترانسپورت مصارف دا به زيات نه وي اقتصادي وي اونور۴-ددولت دعوايدو دتحصيل قانونيت: دغه اساس له مخې هر ډول مالياتي عوايد چې دولت يي دافرادو او موسساتو څخه اخلي بايد دقوانينو اومقرارتو سره سم وي ، نودې لپاره چې دمالي کارکوونکو دناوړه استفادې مخه ونيول شي نو بايد مالياتي قوانين اومقررات په واضح ډول تدوين شي . دغه دول قوانين پرمختيايي هيوادوکې ډير ضروري دي. ۲-ددولت دعوايدو دملي اقتصاد اساست.ددې لپاره چې ددولت دعوايدو ترلاسه کولو په ملي اقتصاد باندې منفي اوناوړه اغيزه ونه کړي نودلاندې اساساتو رعايت کول ضروري دي .دعوايدو بيا مولديت اساس: ۲-دعوايدو دمنابعو غوره اوسم انتخاب۳-دتعرفو راټولولو اسانتياوي۲-۱-دعوايدودمنابعو غوره اوسم انتخاب: دې اساس نه هدف ددولت دعوايدو او مالياتو دحصول پرمهال دتوليد دعواملو دترکيب امکانات اواقتصادي ساحو کې دعايد منابع ترپاملرنې لاندې وي اوددولت عوايد داسې راټول شي چې اقتصادي فعاليتونه خنډونه ګرځي. دتعرفو دراټولو اسانتياوي: ددې اساس څخه هدف دولت دعوايدو دراټولولو پرمهال ماليه ورکوونکو ته ستونزې راپيدانه شي اوماليات بې تکليفه تحويل کړي اودامکان ترحده ماليه ورکوونکو ته اسانتياوي برابري شي ترڅو هغوى مالياتو ته زړه شه کړي او ماليات ورکړي. ۳-ددولت دعوايدو دتحصيل اخلاقي اساسات: هغه اخلاقي اساسات چې دولت عوايدو راټولولو لپاره ضرورى دي اواقتصادي اړخ نه لري بلکې دعدالت – اوډاډمنتيا له پلوه ارزښت لرونکې دي ۱-دماليي دعموميت اصل۲-دمالياتو دفداکارئ اساس۳-دمالياتو استطاعت.۱-دغه اساس له مخې بايد مالياتي قوانين مقررات عام وي اودهيواد ټول وګړي پرته دکوم امتياز او يا توپير څخه دماليي تابع وي يعنې داسې نه وي چې قومي –ژبني اوشخصي امتيازات دمالياتو په ورکړه کې وي بلکې په ټولو يو شان تطبيق شي.۲-دمالياتو دفداکارئ اساس:دغه اساس له مخې چې دولت خپل عمومي وظايف په ښه شکل ترسره کړي نوبايد دهيواد ټول وګړي يو ډول فداکاري ورکړي اودخپلو عوايدو يوه برخه دماليي په بڼه ددولت دلګښتونو دتمويل لپاره وسپاري ، ۳-مالياتي استطاعت اساس.دمالياتي مقاومتونو لنډيز: کله چې دماليي بريدونو څخه تيرى وشي نوماليه دزغملو وړنه بريښې اودمالياتي مقاومت درامنځ ته کيدو لامل کيږي. مالياتي مقاومتونه کيداى شي دجنايي مقاومت په بڼه وي او ياهم دمالياتي قانون مقاومت په بڼه وي دمالياتي جنايي مقاومتونه ددوکې اوپټولو په بڼه او ياهم ماليي ورکولو څخه دډډې کول په بڼه وي چې دسزاوړبلل شوي دي دمالياتي مقاومت په ضد مجادله په دريو ډولونو ده ۱-دښووني او روزنې کچې لوړول۲-دماليې ټاکنې لپاره دډيروښو ميتودونو غوره کول۳-دجزادحقوقو له طريقه دمالياتي مقاومتونو په وړاندې مبارزه . مالياتي قانوني مقاومتونه چې دقانون په چوکاټ کې ترسره کيږي نو دسزا وړ نه بلل کيږي. دمالياتي تعرفو لنډيز: دماليي تعرفې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دماليي دســـنجش داســـاس اودماليي دپيســـو ترمنځ نســـبي رابطه ده . دماليي تعرفي ثابت او بدلېدونکی شـــکل لري نو ځکه دمالياتي تعرفو بيلابيل ډولونه شـــتّه لکه۱-متناســـبه (انډوليزه)تعرفه: په دغه ډول تعرفه کې دثابتې ماليي فيصـدي په خپل حال کې پاتې کړي ۲-مترقي ماليه : چې دماليي دسنجش داساس له زياتيدو سره يوځای دماليي فيصدي هم لوړيږي که چيرې دماليي تعرفي دزياتوالي فيصـــدي دماليي دســـنجش داســـاس له زياتوالي ســـره برابروي . نوهغې ته خطې مترقي تعرفه ويل کيږي.که چيرې دماليي تعرفي زياتوالی دماليي دســنجش داســاس دزياتوالي په پرتله زيات وي. هغه دګړندی مترقي تعرفي په نوم يادېږي . که چيرې دماليي تعرفي دزياتوالي فيصـدي دماليي دسـنجش داسـاس دزياتوالي په پرتله ټيټ وي انډول وکم تناسـب سـره وي نوهغې ته سـسـته مترقي تعرفه(ماليه)ويل کيږي۳-نزولي تعرفه: دنزولي تعرفي په حالت کې دماليي فيصـدې دماليي دسـنجش داسـاس له زياتيدوسـره راکميږي اونزول کوي. که چيرې دماليي دفيصـدي کمښت دماليي دسنجش داساس زياتوالي له فيصـــدي ســـره برابروي نوخطي نزولي تعرفي رامنځته کيږي. که چيرېدماليي فيصـــدي کمښت دماليي دسنجش داساس له زياتوالی څخه زياته وي نويوه ګړندی نزولي تعرفه ورڅخه جوړيږي. که چيرې دماليي فيصدي کمښت دماليي دسنجش داساس زياتوالي په پرتله دماليي فيصـدي کمښـت لږ وي نو په دې صـورت کې يوه سـسـته نزولي تعرفه ورڅخه جوړيږي.که چيرې ديوهيواد دمالي پاليسي جوړونکي دماليي ټاکنې حدود په پام کې ونه نيسي او په خپلې خوښـــې مالياتي ســـياســـتونه جوړاو تطبيق کړي نو په دې صـــورت کې به ممکن دټولنې غبرګونونه دمالياتي ټينګار په بڼه راڅرګند شـــی. دمالياتي مقاومت په صـــورت کې دماليي مکلفيين هڅه کوي چې په بيلابيلو بڼو او لارو چارو له هغې ماليي څخه ســـرغړونه وکړي چې په دوي باندې زغمل شـــوي دي . مالياتي ټينګار اودهغې په وړاندې مبارزه دمالياتو دراټولولو لګښـت لوړوي چې په پای کې دوولت دمالياتي خالص عايد دکمښـت لامل کيږي. مالياتي مقاومت کيدای شـــي دخپل اهميت او ځانګړتيا له مخې په بيلابيلو بڼو رآڅرګندشـــي . دالمان نامتو ماليه پوه ګرلوف په وينا دغه ډول مقاومتونه په دووبرخو ويشـل کيدای شـــي۱-مالياتي جنايي مقاومتونه: ۲-مالياتي قانوني مقاومتونه: مالياتي جنايي مقاومت دمالياتي دوکې اوله ماليی ورکولو څخه دمخ اړولو په بڼه راڅرګنديږي دغه ډول مقاومت دمالياتي قوانينو اومقرراتو مخالف عمل دی نوځکه دجزا دحقوقو له احکامو ســـره دهغو مرتکيبين دســـزا وړدي.ددولت عوايد په دوه ډوله دي ۱-مالياتي عوايد۲-غيرمالياتي عوايد : مالياتي عوايد ددولت دلګښـتونو دپوره کولو مهمه لاره اوسـرچينه دبيلابلو مالياتو راټولول دی څومره چې مالياتي عوايد زيات وي په همااغه اندازه داقتصـــادي ناوړه اغيزو مخه نيول کړي. ۲-غيرمالياتي عوايد: هغه پيسـې دي چې دولت يې دخپلو اقتصـادي فعاليتونو څخه ترلاسـه کوي چې دبيلابيلو پانګه اچولو له سـرچينو څخه دي .ددولت مجموعي عوايد دحصـول کولو دمنبع يادترلاســـه کولو دســـرچينو له مخې په دوه ډوله دي۱-منظم عوايد ۲-غيرمنظم عوايد :منظم

(c) ketabton.com: The Digital Library

عواید : عبارت دهغه ډول عوایدوڅخه دي چې په هره بودجوي دوره یا مالیي دوره کې په منظم ډول موجود وي ، څکه دهغواندازه مخکې ترمخکې اټکل کیدای شــــي. لکه مالیاتي عواید تشـبڅاتي عواید محصــول اونور.اوهغه عواید چې منظم او دایمي منابع نه لري . بلکې یواځې داړتیا پـه مهـال راټولیږي لکـه کورنۍ اوبهرنۍ مرســـتې ، دولتي ملکیتونـه پلورل اوپورونه. مالیات هغه اجباري ورکړې دي چې کوم متقابل عوض نه لري او له حقیقي او حقوقي اشــخاصــو څخه دهغوی دشــتمنیو عوایدو،اواقتصـــادي فعالیتونو څخه ددولت دمالي ډاډمنتیا اوتامین کولو په خاطر اخیســـتل کیږي.افغانســـتان کې دمالیی لومړنی وزارت چې دمالیي ادراه وه له جوړیدو څخه یي ۲۶۵ کاله تیریږي. داحمدشاه بابا په وخت کې رامنځ ته شو چې هغه مهال به یي ورته دیوانبیګې یا مستوفي ویل.دمالیي ټاکنې حدود اوتخنیک: ددې لپاره چې دیوه دولت دمالیي ټاکلو سیاست په بریالیتوب سره پرمخ ولاړ شي او دخلکو هغه منفي غبرګون راونـه پـاروي چې دمـالیـاتي مقـاومـت بـاعـث ګرځي بـاید یو شـــمیر روحي اواقتصـادي عوامل اوتخنیکي شـرایط چې دمالیي ټاکنې حدود ټاکي رعایت شـی دلته به دهغه په هکله بحث وکړو.دمالیي ټاکنې تخنیک دهغه هنر ده چې په هغه سره یوه مالیاتي مفکوره په عمل کې تطبیق کیږي لکه هغســـې چې دمالي علم تاریخ په ښـــکاره توګه ځینې وختونه یوشـــمیر هیوادونه دمالیي ټاکنې تخنیک ټول هغه تدابیر دي چې دمالیاتي مکلفیتونو دتثبیت دمالیي دترلاســـه کولو اودمالیي دکنترول لپاره په پام کې نیول کیږي.په هرهیواد کې په ځانګړي ډول مالیه راټولیږي لکه دمسـیحت دفلسـفي یا مذهب موافقه توماس فو ن ویل مالیه یوه بې ګنا غلا ده ارسـتو هم وایي مالیه یوډول فداکاري ده دولت په وړاندې دوګړو اوداسـې نور.دتاریخ په اوږدو کې له دریو طریقو څخه دمالیي راټولولو لپاره کاراخیسـتل شـوی دی ۱-دمالیي اجاره داري ۲-مالي انحصــــار۳-ددولت دمالیاتي ادارو په لاس مالیه راټولول چې اوس زیاتره په همدغه قسـم مالیه راټولیږي. اوددولت لګښـتونه عبارت دهغه لګښـتونو څخه دي چې دټولنې دټولو وګړو لپاره ترســـره کیږي. لکه صــــحت عامه ، تعلیم ، ملي دفاع، اوداسې نور.

# احصایه

احصـایې مفهوم او پیژندنه : احصـایه دفرانسـوي ژبې دلفظ(statistique)څخه مشـتق شـوي جرمني کې (statistic)ایتـالوي ژبـه کې(statista) او دانګریزي ژبې کې (statistics) اولاتیني ژبې (status) څخه اخیســـتل شـــوی چې ټول په خپله ژبه کې د political state یعنې ســـیاســـي حالت یا موقف په معنی ده .کله چې احصــــایه دمجموعې د مفهوم په توګه استعمال شي نو احصایه دمعلوماتو عددي مجموعې په معنا ده او کله چې احصایه دواحد په مفهوم سـره په نظر کې ونیول شـي نو داحصـایه لفظ یو ډیسـیپلین په توګه څرګندیږي په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنا چې داعدادو راجمع کولو طريقې، توصـيف او تحليل پورې مربوطيږي او په مجموعي مفهوم کې په دې مفهوم کې احصـايه دعددي معلوماتو تنظيم ښـيې او داحصـايه لفظ دهميشـه دجمع په شکل استعماليږي مثلا دقيمتونو احصايه دترافيکي حوادثو احصايه دجرايمو احصايه پـه دې ډولو مثـالونو کې داحصـــــايـه لفظ پـه اړونـدو برخو کې دعـددي معلومـاتو نظر پيداکول.A.l.Bowleyوايې احصـايه دشـمارلو علم دی boldingtonوايې احصـايه داټکل او احتمالاتو علم دی . بې له شـکه احصـايه دارقامو د راټولولو او څيړنې لپاره اصول دي دکوم له مخې چې بايد معلوماتو ثبات چې دهدف سره مطابقت ولري او دښيې نتيجې دترلاسه کولو په لورلارښوونه کوي نو په خلاصه ډول ويلای شو چې احصايه دارقامو دراټولو لو ترتيب تنظيم تحليل اوارايې څخه عبارت ده دcroxton &cowdenله نظره احصـــــايه دارقامو راټولول ارايې تحليل او تفسير څخه عبارت ده په تعريف کې ۴مرحلې وجودلري ۱-دارقامو راټولول ۲-ارايه ۳-تحليل۴-تفسير ولې ضرورت ليدل کيږي چې يوه بله مرحله هم وراضافه شي croxton and cowdenولې ضرورت ليدل کيږي چې دکرکستون او کوډين په تعريف کې يوه بله مرحله وراضـــافه شـــي چې عبارت دارقامو دتنظيم څخه ده. .داحصـــــايه دعلم ضـرورت ۱-شـاګردان او مسـلکي کسـان بايد ددې وړتيا ولري ترڅو په مختلفو احصـايوي مطالعاتو پوه شي۲-شـاګردان او مسـلکي کسـان بايد ددې وړتيا ولري ترڅو په مختلفو څيړنو پوه شـي۳-داحصـــايوي مطالعاتو په سـرته رسـولو کې داحصـــايي علم ته اړتيا ليدل کيږي. داحصـــايي ځانګړتياوې: احصـــايه دعلم په توګه دځېلو قوانينو اواصـــولو درلودونکې ده چې همدغه اصول او قوانين کولای شو داحصايي دعلم دځانګړتيا وپه توګه وپيژنو چې داحصايي عملياتو جوړښـت څرګندوي۲-احصـــايه دحقايقو مجموعي سـره سـراو کارلري او انفرادي معلومات په احصـايه کې نه شـامليږي ۳-احصـايه دمختلف النوع په پرتله دهمنوعه معلوماتو دمجموعي سـره سـراو کارلري۴-دپيښـو هغه خصـوصـيات څيړي چې په عددي ډول بيان کيدای شـــي۵-ديوې پيښـــي په اړه عددي معلومات دزياتو علتونو له امله متاثره کيږي۶-معلومات بايد په منظمه طريقې ســـره راټول کړای شــــي۷-دمعلوم هدف لپاره راټول کړای شوي اوسي۸-احصايوي معلومت بايد دپرتلې وړاوسې . داحصايي په وړاندې محدوديتونه۱-احصايه کيفي پيښې نه شي څيړلی يواځې کمي پيښې څيړي۲-احصايوي قوانين ثابت نه دي لکه دفزيک او کيميا قوانين۳-احصـايه انفرادي مشـاهدې نه مطالعه کوي ۴-احصـــايوي نتايج په اوسطه توګه دي۵-احصـايه ديو لړ خاصـو اهدافو لپاره سرته رسيږي۶-احصـايوي ارقام بايد يو رنګه او هم جنس وي. داحصـــايي وظايف۱-ارقام بايد په يو ځانګړي شـــکل وړاندې کوي۲-دمتحولينو ترمنځ اړيکي مطالعه کوي مغلق ارقام ســــاده کوي۳-وړاندوينه او پلان جوړونه کې مهم رول لوبوي ۵-دمقايســي لپاره تخنيکونه تهيه کوي۶-په دولتي اداراتو بزنس او صـنعت کې دپاليسـيو په جوړښـت کې مرسـته کوي. داحصـايي اهميت : ۱-احصـايه او اقتصـــاد۲-احصـــايه او مصــرف۳-توليد ۴-تبادله ۵-ايکونومترې۶-عامه تمويل ۷-دعامل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاصـــل تحليل. ۱-مصـــرف :مصـــرف اړوند ځيني احصــــايوې ارقام مونږ ددې جوګه کوي ترڅو وتوانيږو هغه لارې پيداکړو چې دټولنې مختلفې طبقې پرې خپل عايد په مصــــرف رسوي.توليد:توليد احصايه په يو هيواد کې مجموعي مولديت تشريح کوي او دامونږ ته ددې وړتيا راکوي ترڅو خپل هيواد له نورو ســره پرتله کړو.تبادله : دتبادلې په ســاحه کې دبازار اقتصــاد مطالعه او دقيمت قانون دعرضــې او تقاضــا په مرسته ټاکل کيږي، دتوليد مصــارف، مونوفولي، رقابت، بانکداري او داســــې نور. دپورته مواردو مطالعه يواځې داحصــــايې په مرسته ترسره کيداى شي .آيکونومتري:په وسيله اقتصادپه حقيقي توګه په ساينس بدل شوى او ايکونومتري له اقتصاد احصايې او رياضي څخه تشکيل شوي ده . عامه تمويل : ددولت دعوايد او مصارفو مطالعه کوي مثلا بودجه چې يو احصايوي سنددى همدارنګه مالي پاليسي اوداســـې نور اقتصــــادي مفاهيم دي ولې په احصــــايه ولاړدي .دعامل او حاصـــل تحليل : په احصايوي ارقامو متکي دى هغه دعامل او حاصل ترمنځ روابط څيړي. نمونه ګيري، زماني سلسلې ،شــاخص، احتمالات نور احصــايوي مفاهيم دي چې په اقتصــاد کې اســتعماليږي.۱-احصــــايه؟؟۲-احصــــايه او محاســـبه ۳-احصــــايه او اقتصــــادي پلان جوړونه۴-احصــــايه او ستورپيژندنه۵-احصايه او ميټرولوجې۶-احصايه او بيولوژي۷-احصايه او رياضي۸-احصايه او څيړنه۹احصايه او طبيعي علوم۱۰-احصايه اوښوونه۱۱-احصايه او کاروبار: احصايه او کــــامــــرس اداره او کــــاروبــــار scientific management and business forecasting۴پيرودل: ارقام راټولونه : هغه معلومات چې سرشميرنې او سروې له لارې په نورمال ډول راټوليږي دخامو موادو يا ارقامو په نوم ياديږي. دارقامو دراټولونې انواع:۱-لمړنې لاس معلومات ۲-دوهمي لاس معلومات. لمړني لاس معلومات : هغه معلومات دي چې دلمړني منابعو څخه ديو ځانګړې شخص او يا يوې ادارې له خوا دخپل شخصي استعمال لپاره راټوليږي. دوهمي معلومات: هغه معلومات چې ديوه دوهم شـــخص او يا ادارې له خوا دخپل شــخصــي اســتعمال لپاره راټول شــوي وي او څيړونکي دهغه معلوماتو څخه دبيا ځلي استفاده کوي. دلمړني لاس معلوماتو دراټولونې طريقې : انټرويو۲سروې۳-مستقيمه شخصي څيړنه۴-دمحلي نماينده ګيو له لارې۵-دسوالنامو له لارې ۶-دشمارکوونکو پواسطه دپروګرام ليږل۷-ايکســفريمينټيشــن يا تجربه کول۸ -کيس ســټډي. دلومړي لاس دمعلوماتو دراټولونې ګټې۱-داشتبهاتو حداقل کموالى او دڅيړني دهدف سره مطابقت زيانونه يې: لوړ مصارف او يوه سختته پروسه . ددوهمي لاس معلوماتو دراټولونې طريقه ۱-دمجلو او ورځ پاڼو له لارې راټول شوي معلومات۲-دسوداګريزو او نور نشراتو له لارې راټول شوي معلومات۳-دڅيړنو له لارې راټول شوي معلومات۴-ددولتي رسمي نشراتو له لارې راټول شوى معلومات لکه کلنې دبهرنيو دولتونو او نړيوالو ادارو درسمي نشراتو له لارې راټول شوي معلومت. ګټې : لوړ ســرعت کم مصــرفه اواســانه .زيانونه : دڅيړنې دهدف ســره نه تطابق نيمګړي وي. ددياګرام قســـمونـه:دګراف او دياګرام ترمنځ توپير : ګراف دکـاغذ پـه عمومي ډول ددوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

متحولینو ریاضـیکي اړیکي دزده کړې لپاره کارول کیږي ګراف  دیو جاري منحني په توګه ښـــودل کیږي دیاګرام په عمومي توګه په فلش فیفر جوړیږي او یوازې دمعلوماتو دپرتلې لپاره کارول کیږي. دیاګرام دمعلوماتو دښـــودلو لپاره دمختلفو هندســـي شـــکلونو څخه کار اخیستل کیږي. دیاګرام په درې ډوله دی۱-ون ډیمینش۲-توډیمینشن۳-ترې ډیمینشن. دارقامو ارایه په عمومي توګه په درې طریقو صورت نیسي۱-دالفاظو په مرسته ۲-دجدول په واسطه ارایه ۳-ددیاګرام او یاګراف په واسطه ارایه . دمطابقت او یو شان والي په اساس په ګروپونو او کلاسـونو کې دمعلوماتو تنظیم کولو پروسـې ته ګروپ بندي وایي. دګروپ بندۍ دندې۱-معلوماتو خلاصـــه کول۲-دپرتلې توانایې پیداکول۳-دارتباطاتو او اړیکو په زده کولو کې کومک کوي ۴-په معلوماتو باندې داحصـــایوي عملیاتو امتحان ممکن کوي . دګروپ بندۍ اسـاسـات :۱-دجغرافیاوي موقیعت په اسـاس۲-دزماني له مخې ۳-کیفي ۴-مقداري .واریبل : دڅیړنې لاندې مقداری پیښـه متغییرګڼل کیږي. لکه دمزد لوړوالی ګټه نمرې . متحول په دوه ډوله ده ۱-جاري متحول۲-غیرې جاري متحول.جاري متحول هغه متحول دی چې دمتحول دتحول په معلومه سـاحه  کې هرممکن قیمت اخیسـتلی شـي لکه عمر.غیري جاري متحول : کوم متحولات چې دتحول په ټاکلې ســاحه کې هرقیمت نه شـــي اخیســتلای  . دجدول بندۍ اهمیت : دجدول جوړول دپراګندو معلوماتو دتمرکز او سیستماتیک تنظیم لپاره ضروري دي چې په مرسـته یې معلومات مشترکو خصـوصـیاتو له مخې په کلاسونوترتیب او دپرتله کولو قابلیت پیداکوي. دجدول برخې ۱دجدول نمبر۲-دجدول عنوان ۳-رهنمایاداشـت یا هیډنوټ۴-کفشـن۵-باډې اف ټیبل اینډ سـټیبس۶-فوټ نوټ۷-سـورث نوټ. دجدول بندۍ انواع: ۱-ون وای ټابولیشـن۲-تووای ټابولیشـن۳-ترې وای ټابولیشـن.کله چې معلومات  دمقدار او کمیت په اســاس ترتیب او ګروپ بندي شـــي نوموړې عملیې ته فریکونســـې ویش ویل کیږي. ســاده فریکونســـي : ویش هغه دی  چې په هغه کې دمتحول هرقیمت دهغې فریکونســـي په مطابقت کې څرګندیږي. دیوې سلسلې اوسط: هغه ارزښت دی چې دسلسلې دټولو اعدادو څخه نماینده ګې کولای شـي او دکمیت په لحاظ دسـلسـلې په مابین کې قرار لري نو ځکه دمرکزیتمایلاتو په نوم یادیږي.اودرې قسـمونه ۱-موډ۲-میډیان۳-اوسـطmean۴ارمونیکي اوسـط۵هندســي اوسط۶-حسابي اوسط. اوسط دکمیت په اساس او سط سنجول کیږي.میډیان : په سلسله  کې دحادثاتو موقیعت په اساس اوسط سنجول کیږي.موډ : په سلسله کې دحادثاتو تکرار په اساس اوسط سنجول کیږي . حسابي اوسط: کله چې دیوسلسلې دمتحول قیمتونه مجموعه دهغې په مقدار باندې ویشل شـي . حسـابي اوسـط لاسـته راځي دحسـابي او سط عمده خصـوصـیات : اوسط سره دسلسلې دعددونو دتفاوت مجموعه دصفر سره مساوي کیږي. هندسي اوسط: په یو سلسله کې هندسي اوسط دعددونو دضرب حاصل nام جزر څخه عبارت ده . هارمونیک اوسط : دیوې سلسلې معکوس شویو عددونو حسابي اوسط معکوس ته هارمونیک اوسط ویل کیږي.میډیان : دیوې سـلسـلې دعددونه په داسـې دوه مسـاویبرخو ویشـي چې دیو خوا عددونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمیډیان سره مساوي یاکمتر او دبلې خوا عددونه دمیډیان سره مساوي یا لوی وسي میډیان دمرکزي تمایلاتو حقیقي اندازه ګیري څرګندوي دمیډیان ښه والی: میډیان داوسطونو په څیر دمتحول داصلي قیمت په واسطه نه متاثره کیږي۲-محاسبه یې اسانه او ژر دپوهیدو وړده ۳-دالجبري معلوماتو دترلاسه کولو لپاره ترې استفاده کیږي۴-دمیډیان موقیعت دارزښت په اساس دعددونو دتنظیم څخه وروسته تعیین کیږي۵-په هغه صورت کې چې دحادثاتو ارزښت معلوم نه وي پ دي شرط چې مجموعي nام معلوم وي او مرکزي حادثه معلومه وي هم دسنجش وړ ده ۶-دګراف په مرسته هم ښودل کیږي منفي نقطې:۱-دمیډیان په سنجولو کې دارقامو تنظیم په ارزښت سره ضروري وي نو اوسطو کې داتنظیم ضروري نه دی۲-دزیاتو سلسلو لپاره مشترک میډیان نه شي سنجول کیدای۳-کله چې میډیان ددوه پیښو ترمنځ قرار ولري نومکمل نه سنجول کیږي۴-دوامداره سلسله په صورت کې دعادي عملیې په مرسته سنجول مشکل دي۵-داوسط په نسبت دنمونوي بې اعتبارۍ په صورت کې زیات متاثره کیږي. په احصایوي سلسله کې موډهغه ارزښت نه عبارت دي چې دنورو په نسبت زیات څرګند شوی وي.دموډ ښه والی:په اسانۍ سره دپوهیدلواو سنجولو وړ ده۲-دقیمتونو په لوړوالي اوکموالي سره نه متاثره کیږي۳-موډ کیدای شي دسلسلې په هره برخه کې وجود ولري . نیمګړتیاوې:۱-موډ په ښه توګه نه دی معرفي شوی ځکه په یوه سلسله کې کیدای شي یو یا دیو څخه اضافه موډ موجود ولري او یاهم هیڅ وجود ونلري۲-موډ په ټولو قیمتونو اتکا نه لري۳-داضافي الجبري معلوماتو قابلیت نه لري۴-موډ انفرادي سلسلو لپاره نه شي مشخص کیدای. په یوه جاري یا متمادي سلسله کې هغه کلاس چې زیاته فریکونسي لرونکي وي دموډ کلاس بلل کیږي. دجدول اقسام : ۱-دپوښښ دساحې په اساس۲-دځیرنې دماهیت په اساس۳-دهدف په اساس.۱-مرکب جدول۲-ساده جدول.۲)۱-دوهمي یا مشتق شوی جدول۲-اصلي یا لمړنی جدول۳-عمومي هدف یا منبع جدول۲-خاص هدف یا خلاصه جدول: دفریکونسي نوع۱-نسبي۲-فیصدي۳-صعودي۴-نزولي ۱-کله چې دهرکلاس مربوطه فریکونسي په مجموعه وویشل شي نسبي فریکونسي لاسته راځي۲-کله چې دهرکلاس مربوطه فریکونسي په مجموعه دفریکونسي وویشل شي او بیا په ۱۰۰ کې ضرب شي فیصدي فریکونسي لاسته راځي.دفریکونسي ویش انواع:۱-دانفرادي مشاهداتو سلسله۲-ډیسکریټ یاغیرې ګروپي؟ فریکونسي ویش۳-ګروپي فریکونسي ویش ۴-جاري فریکونسي ویش۱-شامل کلاسونه عبارت له هغه کلاسونو څخه دي چې دکلاس ښکتنی حد پکې شامل او دکلاس پورتنی حد پکې شامل نه وي . ارقام کولای شو په لاندې توګه جدول بندیکړو۱متحول۲-نسبي ۳تکرار STURGE’s rule=range=xmax-xmim 1=l-s i=l-s/k 12k>=n؟. متحول هرهغه خاصیت چې له یو حالت څخه بل حالت ته تغییر کوي او داندازې وړوي عبارت له متحول څخه ده . مثلا: عمرعاید لوړوالی حرارت زکاوت رنګ او داسې نور. دصنف وسعت عبارت : له صنف پورتني سرحد منفي دصنف ښکتني سرحد څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منحني نقطه عبارت ده له دصنف دپورتني او ښکتني حد دحسابي اوسط څخه عبارت ده په یوه سلسله کې دمرکزي تمایلاتو دسنجولو څخه هدف دداسي یو ارزښت ټاکل دي چې په ښه ډول دسلسلې دټولو ارقامو څخه نماینده ګي وکولای شي او دهغه په مرسته دسلسلې ټول عددونه تشریح کړای شي.ددې پخاطر چې یو عدد دسلسلې څخه نماینده ګي وکړای شي نو لازم ده چې دسلسلې دلوړاو کوچني حدونو په مابین کې قرار ولري په دې توګه دیوې سلسلې اوسط دهغه ارزښت دی چې دسلسلې دټولو اعدادو څخه نماینده ګي کولای شي او دکمیت په لحاظ دسلسلې په مابین کې قرارولري نوځکه دمرکزي تمایلاتو په نامه یادیږي. اریتمیتیک اوسط۲میډیان۳-موډ۴-هندسي اوسط۵-هارمونیک اوسط. دښه اوسط ځانګړني : مشخص او روښانه تعریف شوی وي ترڅو مختلف اشخاص يې په مختلفه توګه تعبیرنه کړي ۲- په اسانۍ سره دمحاسبې او پوهیدو وړوي۳-په ټولو ؟ارقامو متکي وي۴-دراتلونکي ریاضیکي عملیو وړوي. دنمونه ګیرۍ دنوسان له کبله متاثره نه شي۲-دقوی مشاهداتو له کبله متاثره نه شي؟۳- په اسانۍ سره دتغیروړوی؟۴دنمونه ګیرۍ ثبات ولري. حسابي اوسط دسلسلو؟دحل مراحل: چې میډیان یو نزولي یا صعودي ترتیب شوی سلسه په دوه مساوي برخو ویشي ولې کله چې وغواړو یو ترتیب شوی سلسله له دوه څخه په زیاتو مساوي برخو وویشو halves۲-ددریو نقطو په مرسته کولای شو یو صعودي ترتیب شوي سلسله په څلورومساوي برخو وویشوچې عبارت دی له کوارټیل څخه ۳-د۹نقطو په واسطه کولای شو یوه صعودي ترتیب شوې سلسه په لس مساوي برخو وویشو چې عبارت له ډیسیل څخه ده ۴-د۹۹نقطو یوه صعودي ترتیب شوېسلسله په سلو مساوي برخو چې عبارت دپرسنټیل څخه ده . دپارټیس؟ ارزښت دلاسته راوړلو لپاره باید سلسله په صعودي ډول ترتیب شي.اوسط : دټولې سلسلې نماینده ګې کولای شي ولي پارټیشن؟والیو دسلسلې دیوې برخې نماینده ګي کوي.کوارټیل عبارت دهغه ارزښت څخه دی چې یوه صعودي ترتیب شوی سلسله په څلورو مساوي برخو وویشو . ډیسیل : دمتحول هغه ارزښت کوم چې یوه صعودي ترتیب شوې سلسله په لس مساوي برخو وویشي عبارت له ډیسیل څخه دی. یاپه بل عبارت : هغه ۹نقطې چې په یوه صعودي ترتیب شوې سلسله په لس مساوي برخو وویشي عبارت له ډیسیل څخه دی .دمتحول هغه ارزښت چې یوه صعودي ترتیب شوې سلسله په سلو مساوي برخو وویشي عبارت له پرسنټایل څخه ده.دبار دیاګرام دلیکلو نښې :۱-sample bar diagram2- subdivided bardiagram3-percentage bar diagram4-multiple bar diagram5-deviton or bilateral bar diagram6-baroken bar

# نړیوال اقتصاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړیوال اقتصـــاد ته اړتیا:منابع اقلیم حالت، وړتیا ، مهارت، اود تولید دعواملو مؤثریت پرمخ تلونکیهیوادونو کې یوشـــان نه دي. ۲-نوددې مشـــکلاتو ، پیښـــو، حقیقتونواودازاد اقتصـــاد دتیوري ګانو څخه بحث وکړو نړیوال اقتصاد ته اړتیا پیداکیږي. نړیوال اقتصاد داقتصاد هغه څانګه ده کوم چې دنړیوالې همبســتګۍ څخه بحث کوي. په اســاســي ډول نړیوال اقتصـــاد داقتصـــاد هغه څانګه ده کوم چې دازاد بازار ســـره اړیکه لري: لکه بهرنۍ ســـوداګري ، دتاثیراتو اندازه ګیري او دهغې اصـــولي او تادیات او دهیوادونو ترمنځ دتبادلې دنرخ ټاکل ، دتادیاتو بیلانس اړوند مشـــکلات په بهرنۍ ســـوداګرۍ باندې دودې تاثیرات او دیوهیوادپه اقتصـادي ودې باندې دبهرنۍ سوداګرۍ تاثیرات او داسې نور. دنړیوال اقتصاد اهداف : ۱- دنړیوالې سوداګرۍ خالصه تیوري۲-دودې او سوداګرۍ تیوري۳-دعواملو دنړیوال حرکت۴-دســـوداګرۍ پالیســـي تیورې ۵-دخارجي اســـعارو تبادلې دبازار تیوري۶-دتادیاتو دبیلانس تیوري۷-دداخلي او بهرني بیلانسونو تیوري۸-داقتصادي همبستګۍ تیوري۹-دپیسو نړیوالې اداري . نړیوالې ســـوداګرۍ خالصـــه تیورۍ موضـــوعات ۱-خارجي تجارت۲-دخارجي سوداګرۍ څخه لاسته راوړنې ۳-ادم سمیت مطلق مزیت تیورې ۶-دریکارډو دنسبي مزیت تیوري۵-دمیلز دعمومي تعادل تیوري۶-دســمیولســن دعواملو دقیمت تیوري۷-دتولید ددوران تیوري. دادم ســـمیت مطلق مزیت تیوري : په دې تیورې کې داجناســـو موجودیت او په تخصص باندې بحث کیږي. دسمیولسن دعواملو دقیمت تیوري: په دې تیوري کې دامطالعه کیږي چې عواملو ته تادیه څنګه کیږي. اقتصادي وده : په مسلسل ډول دتولید په مقدار کې زیاتوالی داقتصـــادي ودې په نوم یادیږي. دعواملو نړیوال تحرک: په دې تیوري کې کارګر او پانګه دعامل په صفت نړیوال تحرک کوي چې هم مثبت او هم منفي نقاط لرې اوهمدارنګه دپانګې تحرک په دې تیورۍ کې په دوه ډوله دي چې یویې په رســـمي ډول دimfاو world bankاو نورو ســازمانونو لخوا او بل یې په غیرې رسـمي ډول دشـخصـي کمپنیو لخوا لکه iPhone, Toyotaاو داســـې نورو لخوا. خارجي اســـعارو دتبادلې بازار دتادیاتو دبیلانس تیوري : په دې تیوري کې داسعارو نړیواله تبادله ترمطالعې لاندې نیول کیږي چې دابه کوم نواقص او ګټې ولري. دتادیاتو بیلانس تیوري : په دې تیورې کې دتادیاتوپه بیلانس خبرې کیږي چې دتادیاتو بیلانس مثبت دی که منفي***دتادیاتو بیلانس عبارت له هغه بیلانس څخه ده چې دهیواد دنړیوال تجارت اړیکې له نورو هیوادونو سره تربحث لاندې نیسي دیوکال په جریان کې دتادیاتو بیلانس دلاندې حســـابونو درلودونکې دی۱-جاري حســـاب۲-دســـرمایې حساب ۳-یوطرفه حساب:۱-جاري حساب : په دې حساب کې صادرات او واردات ترمطالعه لاندې نیســـي ۲-دســـرمایې حســـاب : په دې حســـاب کې دا ترمطالعې لاندې نیول کیږي چې څومره ســـرمایه په داخل دهیواد ته راځي او څومره بهرته ځي۳-یوطرفه حســـاب: په دې حســـاب کې دا ترمطالعې لاندې نیول کیږي چې یو هیواد څومره اجناس یا ســـرمایه لاســـته راوړي خو په مقابل کې تادیه ورته نه کوي لکه بلاعوضـــه مرستې. نوټ: په تادیاتو بیلانس

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې هرڅه چې دنورې نړۍ څخه لاســـته راځي کريډيټ کيږي او مخې ته يې مثبت علامه کيښـــودل کيږي او هرڅه چې نورې نړۍ ته ځي ډيبيټ کيږي او مخې ته يې منفي علامه کيږي او که چيرې يو هيواد دحســـاباتو علامه مثبت وي په دې معنا چې دتادياتو بيلانس مو مثبت دی او نورو هيوادو څخه مو زياتې پيســـې لاس ته راوړې دي او که منفي وي نو دنورې نړۍ څخه مولږې پيســې لاسته راوړي وي اونورې نړۍ ته موزياتې پيســې ورکړې دي. دداخلي او خارجي بيلانس تيوري: په دې تيورۍ کې داترمطالعې لاندې نيول کيږي چې مونږدنورې نړۍ ســـره څومره تجارت کوو او په داخل کې څومره کارګره قوه په کاربوخته ده . دنړيوال اقتصادي انضمام (ترلتيا) تيوري: اقتصادي انضمام تيوري داوسنيو معاصرو تيوريګانو څخه ده چې په دې تيوري کې دامطالعه کيږي چې څنګه يو هيواد دنوروهيوادو ســـره دتجارت په برخه کې يوبلاک رامنځ ته کړي او له دې بلاک څخه ټول هغه هيوادونه چې په دې بلاک کې شـــرکت لري ، له دې څخه څه ډول ګټه ترلاســـه کړي. نړيوال پولي سازمانونه عبارت له هغه سازمانونو څخه دي چې دپيسو دنړيوال تحرک رامنځ ته کوونکي /يارامنځ کوي لکه دimp and world bankوغيره . دنړيوال تجارت په اړه دمرکنتلســتانو تيوري: په دې تيوري کې دا ترمطالعې لاندې نيول کيږي چې يو هيواد چې څومره زياتې پيسې ولري نو په نړۍ کې به ترټولو لوړ قدرت لرونکی هيواد وي. دوې په دې نظر وه چې دپيســـو په مقابل کې خارجي تجارت زياتيږي او دتادياتو بيلانس بايد يو ثابت وي چې داهيڅ امکان نه لري. دنړيوال تجارت په اړه دکلاســيکو تيوري : دکلاســيکي تيوري فرضــيې ۱- دکارګر دارزش تيوري : ددې تيورۍ له نظره کاريواځينی اساسي عامل دتوليد دی او قيمتونه په نړيواله ســـطحه دکارپواســـطه ټاکل کيږي او همدارنګه دکارپه بازار کې دکامل رقابت موجوددی او دکارواحدونه دتوليد په ساحه مساويانه ونډه لري؟نلري.ستاتيک موډل : په دې موډل کې دوه داســـې هيوادونه ښـــودل کيږي چې دواړه هيوادونه دوه اجناس توليدوي۳- دترانسپورت دمصــارفو موجوديت : په دې تيورۍ کې دترانسپورت مصــارف په نظر کې نه نيول کيږي۴-دمقياس ثابت برګشــت دscaleڅخه هدف ديوې تصــدۍ دتوليداتو اندازه ده چې په معلوم وخت کې ترلاســه کوي په دې فرضــيه کې دابيانيږي چې کومه پانګه په کار اچول شوي ده دهغې په مقابل کې څومره توليدات ترلاسه کيږي اوددې فرضيې لاندې دتوليد ټول عوامل په نظر کې نيول کيږی چې دوجې به يې په کار باندې ډيرتاکيد کوي او پانګه ثابته په نظر کې نيســي او کار ددمتحول په صــفت په نظر کې نيســي . ۵-دعواملو دخوځښــت : ددې فرضـــيې لاندې دتوليد عوامل په مکمل ډول دخوځښـــت وړوي او همدارنګه دتعويض کيدو وړوي البته يواځې په داخل دهيواد کې نه په نړيواله ســـطحه .دمطلق مزيت تيوري : ادم سميت د۱۷۲۳-۱۷۹۵ دکلاسکو پوهنتون پوهاند وه داخلاقو او فلسفې استاد هغه دکلاسيک اقتصاد بنسټګروه . ادم سميت دازاد تجارت طرفدار وه او دی وايې دنړيوالې سوداګرۍ بايد داجناسو په تخصص او دکارويش په وسيله ترسره شي اوکه يوهيواد دبيرون نه يو جنس په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزانه ترلاســـه کوي نو باید په خپله یې تولید نه کړي او له بل هیواد څخه دي واخلي . مثلا یو موچي دځپلۍ ګنډلو کې تخصص لري او په ارزانه بیه یې تولیدکولای شي مګر جامې په ارزانه بیه نه شــي تولید کولای نو موچي باید دخیاط څخه جامې واخلي او خیاط باید دموچي څپلۍ واخلي او په یو ډول دواړه ګټه ترلاســه کړي. ددې تیوری نیمګړتیاوې : ۱- term of trade t-o-t۲-دعرضـــې برخه په نظر کې نه ده نیول شـــوی.دنســـبي مزیت تیورې : دغه تیورې ریکارډو وړاندې کړې ده او په خپله یو کلاســـیک اقتصـــاد پوه وه، دی دهغې نقطې څخه شـــروع کوي چې په کوم ځای کې دمطلق مزیت تیورې ختمیږي،دده له نظره که یو هیواد پـه دواړو اجناســـو کې مطلق مزیت ولري اوبل هیواد یې ونلري نوبیـا هم نړیوالـه سوداګرۍ رامنځ ته کیږي او دواړه ورڅخه ګټه اخیستلای شي دده په نظر هغه هیوادونه چې په دواړو اجناســو کې مطلق مزیت لري په هغه جنس کې چې زیات تخصــص لري او هغه هیواد چې په یو جنس کې کم نســـبي مزیت لري(عدم نســـبي مزیت لري) نوکیدای شـــي چې نړیواله سوداګري رامنځ ته شـي اودواړه ترې ګټه ترلاسـه کړي داتیورې په ۲×۲ ×۱په نوم یادیږي . ریکارډو په ۱۸۱۷م کال کې دسیاسـي اقتصـاد کتاب ولیکلو او نسبي مزیت تیوري یې په کې وړاندې کړه . هغه نقاط چې ده (مطلق مزیت) ؟تیوري ترســـوال لاندې راولي عبارت له۱-مولدیت او رقابت : هغه هیواد چې په في واحد وخت کې ډیرتولید رامنځ ته کوي دغه هیواد مطلق مزیت لري چې مطلق مزیت درقابت باعث ګرځي خوولي مزد یو اساسي عنصـر دی چې په دې تیوري کې په نظر کې نه دی نیول شوی یعنې په دې تیوري کې دمزد میکانیزم نه دی تشـریح شـوي۲-ارزانه کار۳-اسـتثمار(ناوړه ګټه اخیسـتنه) هغه هیوادونه چې داسـتثمارلاندې وي هلته کارګره قوه په ډیرټیټ مزد باندې تولید کوي۴-نړیوال تولید امکانات په دې معنا چې دتولید قیمت په داخل کې څومره او په خارج کې باید څومره وي . یعنې په دې تیوري کې تمام شد قیمت په نظر کې نه دی نیول شوی چې په اسـاس یې داتیوري ترسوال لاندې راوستې. دنسبي مزیت په تیوري نیوکې:۱-دوه اجناس دوه هیوادونه ۲-دکارګره قوي حرکت۳-ازاد تجارت چې داپه حقیقت کې شتون نه لرې۴-دانتقال مصـارف په دې تیوري کې دانتقال مصــارف په نظر کې نه دي نیول شـوي ۵-ثابت بازګشـت : په دې تیوري کې ترلاسه کیدونکې ګټه ثابته په نظر کې نیول شوي چې نن ورځ متصدیان کوشش کوی چې خپلـه ګټـه ورځ تربلې زیاتـه کړي چې پـه اســـــاس یې داتیورې دنیوکې لانـدې راغلې۶-دکارارزښت نظریه : کلاسیک نظر یه لري چې دتوکي قیمت یواځې کارټاکي مګر یواځې کاراسـاسـي عامل نه دی چې دتوکو قیمت ټاکي۷کامل رقابت : په دې کې یواځې دوه ملکونه او دوه اجناس په نظر کې نیول شوي چې نن ورځ کامل رقابت ډیر عرضه کوونکي ډیر بدیل اجناس او دبازار څخه خبرتیا ده چې پراســاس یې داتیوري دنیوکې لاندې راوسـتې شــي. دهیبرلر دنړیوالې سـوداګرۍ تیوري.هبرلر وایې چې دتوکو قیمت دفرصـتي مصـرف پورې اړه لري دی وایې چې دغه فرصتي مصارف ثابت شکل لري فرصتي مصارف درې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکلونه لري۱-ثابت فرصتي مصارف۲-کميدونکي فرصتي مصارف۳-زياتيدونکي فرصتي مصارف. فرصتي مصارف : هغه مصارف دي چې ديوکار په کولو سره بل کارمو له لاسه ورکړی وي . دهکشـــراوهلن دنړيوال تجارت تيورې : دغه تيوري دنړيوال تجارت په برخه کې چې د غه تيوري په کال ۱۹۱۳ کې کړې وه د غه تيور يدنړيوالې ســــوداګرۍ دمختلفو جهتونو په نظر کې نيولو سره تربحث لاندې نيسي چې په دوه ډوله ده۱-دسوداګرۍ په جهت باندې بحث کول۲-دغه تيوري دتوليد دقيمتونو په مساوات بحث کوي. ددې تيوري په اساس باندې يو هيواد هغه جنس توليد اوصـــادروي چې ددې جنس اړوند دتوليد عوامل ارزانه وي او پريمانه وي او هغه جنس واردوې چې په هغې کې دتوليد امکانات کم او قيمته وي. يا په بله اصـطلاح باندې توليد کاربره وي دامعنا لري چې په دې هيواد کې کارزيات وي نو بايد دغه توکي توليد کړي او که يو بل جنس ســـرمايه بره وي يعنې زياتې پانګې ته اړتيا وي او په دې هيواد کې پانګه لږه پيداکيږي نو دغه توکي بايد وارد شـي ددغې تيوري فرضـيې.-۱ ۲×۲×۲:دوه هيوادونه دوه توکي دوه دتوليد عوامل۲-يوشـان تکنالوجي ۳-يوشـان حاصـل۴-دکارمکمل تخصـص ممکن نده۵-په ذوق کې بايد تغييررانشـي په دې معنا دتوکو په وړاندې دخلکو په ذوق بايد کم نه شـــي۶-دازاد رقابت موجوديت۷-ترانسـپورتي مصـــارف وجود نه لرې۸-دســـوداګرۍ په مخکې کوم خنډونه وجود نه لري۹-دتوليد عوامل دهيواد په داخل کې متحرک او په نړيوال سـطحه غير متحرک وي۱۰-الف جنس کاربر او ب جنس سـرمايه بر دی.دنړيوالې ســوداګرۍ خالصـــه تيوري: دبهرنۍ ســوداګرۍ دوه مهمه اړخه څيړي۱-ولې بهرنۍ سوداګري کوو۲-دبهرنۍ سوداګرۍ ګټې څه دي. دسوداګرۍ خالصـه تيوري دکوچنې اقتصـاد سـره اړيکه لري او دادسـتاتيک تحليل په اســاس ده. برسـيره پردې دسـوداګرۍ په تيوري کې داقتصــــاد مثبت اړخ او رهنما اړخ دواړه څيړل کيږي. دســـوداګرۍ پاليســـي . دســـوداګريزو بنديزونو پايلې اهميت او وجې څيري او تحليلوي دســوداګرۍ دپاليســـي الې يا اسـباب۱-تعرفه ۲-کوټه ۳-دتبادلې کنترول۴-دولتي سـوداګري۵-دصـادراتو ارادې مخنيوی. بهرنۍ تبادلې مارکيټ يوځای دی په کوم کې چې دبهرنيو اسـعارو پيراوپلور ترسـره کيږي. داهغه مـارکيټ ده په کوم کې چې دهيوادونو ترمنځ دتبـادلې نرخ رامنځته کيږي. دلومړي نړيوال جنګ څخه مخکې دهيوادونو ترمنځ دتبادلې مســاوات دســروزرو دمحتوا په اســاس ټاکل کيدلو . مګر دســـروزرو دمعيار دترک کولو وروســـته ۱۹۴۴م کال کې دبريټن ووډز سيستم رامنځ ته شو وروسته له ۱۹۷۱ م کال څخه نړۍ دتبادلې داداره شوي ارتجاعي نرخ سـيسـتم لري کوم چې دتبادلې دثابت او ارتجاعي نرخ سـيسـتم څخه ګډ وي. دپيسـو نړيوالې ادارې ددې لپاره چې دســـوداګرۍ ســتونزې حل شـــي دســـوداګرۍ دګمرکي تعرفې عمومي تړونGATTترتيب او وضع شو چې په WTOباندې تبديل شوی دی. دتوليد دامکاناتو منحني يا خط دهغې منحني څخه عبارت دی کوم چې ددوه اجناســـو مختلفې جوړې لکه غنم او تکه څرګندوي کوم چې په يو هيواد کې يې دمجموعي توليدي وســايلو په مرســته توليدوي يا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خط ځخه عبارت دی چې په یو هیواد کې دمجموعي تولیدي وســـایلو په مرســـته تولیدونکو اجناســـو اندازه کوي. دتولید دامکاناتو منحني دتولید دبې تفاوته منحني انتقالي منحني په نوم هم یادیږي.په بنیادي ډول دهیبرلر دثابت فرصتي مصــارفو او ریکارډو دمقایسوي مصـرف تیوري ترمنځ کوم خاص توپیر وجود نه لري خو یواځې داخبره وجودلري چې هبرلر خپله نظریه دفرصــتي مصــارفو په شــکل وړاندې کړي او په دې نظریه کې دتولید دامکاناتو خط یاppcسیده شکل لري.دریکارډو دسوداګرۍ موډل دوه مهمې ځانګړنې دادي۱-سوداګري باید دبندیزونو ځخه ازاده وي دسرحداتو ځخه داجناسو حرکت ازاد وي۲کاردتولید یواځېنی عامل دی چې دتولید په ټولو کرښــو کې ورته مؤثریت لري. دموډل فرضــیې دســمیولســن:۱-په خوراکي اجناســـو او صـــنعتي اجناســـو کې چې کوم کارګمارل شـــوی په هیواد کې به دکاردمجموعي عرضې سره برابروي۲-دمشخص عواملو هریوپانګه او ځمکه یواځې په یو سکتورکې استعمالیدی شي ۳-دوه اجناس دوه هیوادونه اودرې عواملو موډل۴-دلته کمیدونکي راګرځیدنه تطبیق کیږي مثال په ډول مجموعي تولیدات په کمیدونکي نرخ ســـره لوړیږي ځکه نو mplکمیږيrevealed comparative advantage-اړوند نسبي مزیت هغه نسبي مزیت دی چې په هغه ســکتور باندې پراته وې کوم چې دســواګرۍ مازاد لري او اړوند عدم نســبي مزیت ددې معکوس یعنې کنترول لري .دنړیوال اقتصـــاد درامنځ ته کیدو عوامل: ۱- دمختلفو نظامونو موجودیت۲-دمختلفو پولي واحدونو موجودیت۳-دتولید په عواملو کې فرق (کار ځمکه پانګه)۴-دمختلفو ملي سیاسـتونو موجودیت. دنړیوال اقتصـاد روابطو د پرمختیا عوامل۱-اختراعات او کشفیات۲-دنفوسو زیاتوالی او عنعنوي اقتصاد دمنځ نه تګ ۳-دپیسو رول په اقتصـــادکې ۳-دپانګوالو او متشــبثینو رامنځته کیدل ۵-اقتصـــادي باورونه دمختلفو ټولنو لخوا مختلف باورونه.په ۱۷۷۶کال دملتو نو ثروت په نامه کتاب دادم ســـمیت لخوا ولیکل شو . دنړیوالې سوداګرۍ خالصه تیوري . دسوداګرۍ خالصې تیوري سره په رابطه مونږپه لاندې تیوریګانو بحث کوو۱-دمرکنتلســـتانو یا دســـوداګرو دســـودګرۍ تیوري۲دادم سـمیت دمطلق مزیت تیوري۳-دډیویډ ریکارډو دمقایسـوي(نسـبي)مصـرف تیوري۴-دهیبرلر دفرصتي مصارفو نظریه ۵-دهکشر اوهلن دسوداګرۍ تیوري۶-دسمیولسن دعواملو دقیمتونو دمساوات تیوري.

# د نړیوال اقتصاد دوهمه برخه

دنړیوال او منطقوي تجارت مشخصې طرحې: منطقوي تجارت ځخه هدف دادی چې دهیواد په داخل کې دمنطقو ترمنځ تجارت صـورت ونیسـي یعنې منطقوي تجارت ځخه هدف داخلي تجارت دی چې دهیواد په داخل کې دمناطقو ترمنځ صـورت نیسـي . په داسـې حال کې چې نړیوال تجارت ددوه ممالکو ترمنځ دتجارت ځخه بحث کوي. دکلاســـیک علماو له نظره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنړیوال او هم دداخلي تجارت ترمنځ توپیر وجود لري نو په همدې اســــاس دنړیوال تجارت لپاه خاصه تیوري چې دمقایسوي مزیت تیوري نوم لري وړاندې شوي، خو دعصري علماو لکه برتیل ،اوهلن(هولن)؟او هیبرلر له نظره او دهغوي مفکوره داوه چې نړیوال او منطقوي تجارت فرق دهغو په درجو دی نه دهغوپه اقسامو کې ۵ دي. Edgeworth box diagram: که ددوو هیوادونو یاددوه مستهلیکینو ترمنځ تجارت ګټوروي نو دلته به دتجارت کوم ددواړو لپاره ګټوروي دکوم هیواد یا مستهلک لپاره به کوم جنس او کوم نرخ دتبادلې زیات ګټور وي ددغه شان پوښتنو ځوابونه دEdgeworth boxشکل کې ترلاسه کولای شو. مؤثرتخصیص: دتجارت په صـــورت کې له AڅخهB ته دتبادلې انتقال دراجا او ماریا دواړو لپاره ګټوردی .هو اوس ســوال داپیداکیږي چې ایا دغه دBنقطه ددواړو دګټورتیا لپاره مؤثره نقطه ده او که نه ددې پوښــــتنې دځواب لپاره باید لومړی په دې پوه شــــي چې ایادراجان او ماریا دتبادلې نهایي نرخونه دBپه نقطه کې یوشـــان دي او که نه؟یورقابتي بازار کې دمســـتهلک تعادل: په رقابتي بازارونو کې دوه مســـتهلکین نه وي، بلکې په رقابتي بازارونو کې زیات اوســـني موجوده اخیســـتونکي او خرڅونکي وي او هم بالقوه اخیســـتونکي او خرڅوونکي په رقابتي بازارونو موجود وي او په نتیجه کې هراخیســـتونکی او خرڅونکی په یو ثابت قیمت ســـره اجناس اخلي او خرڅوي. دایج ورت بکس دیاګرام په مرســـته به رقابتي بازارونو کې هم کولای شـــو وګورو چې مؤثره تبادله څرنګه ترســـره کیږي. درقابتي بازارونو اقتصـــادي مؤثریت د۱فصـل په ۳شـکل څخه معلومیږي. چې دCپه نقطه کې داجناسـو ترمنځ تبادله چې په رقابتي بازارونو کې تعادل رامنځ ته کوي یو مؤثره نقطه ده اواقتصـــادي مؤثریت لري او مهمه وجه او علت یی دادی چې دلته دCپه نقطه کې دواړه منحني یوله بل سره مماس نه وي نوبیا بـه راجـا یـا مـایـا نومې زیـات رقـابـت لاس تـه رانـه وړي . پـه دغـه صـــورتونو کې دمســـتهلیکینو او مولدینو دعمل او کړنو په صـــورت کې مارکیټ داقتصـــادي مؤثریت حالت غوره کوي. که څه هم ځینې خلک په دغه ډول مارکیټونو؟کې داقتصـــــادي مؤثریت درامینځ ته کولو لپاره دولتي مداخله مهمه بولې ، خو زیات شمیر اقتصادپوهان بیادولتي مداخله مهمه نه بولې بلکه هغوی نه لیدونکی لاس یعنې دمســـتهلیکینو او مولدینو رول په اقتصـــــادي مؤثریت کې مهم ګڼي. راځئ اوس وګورو چې دمســـتهلک دنقطه له نظره مونږ او تاســـې درقابتي بازار دتعادل په اړه څه وپیژنو.۱-داچې بې تفاوته منحني ګانې یو له بل ســره مماس دي نو دمستهلیکینو ترمنخ دتبادلې نهایي نرخونه هم سره مساوي دي۲-داچې هره بې تفاوته منحني دقیمتونو دخط سره مماس ده نو دهرشخص دتبادلې نهایي نرخ دغذا او رخت دتبادلې په صورت کې ددغه دواړو شیانو دقیمتونو ترمنځ دموجوده نسبت سره مساوي دی دزیاتو مســـتهلیکینو اومولدینو موجودیت کې دمناســـبې تبادلې دتعیین او ټاکلو لپاره دمکمل رقابتي مارکیټونو په صـورت کې که په یوډول ســره رقابتي نه وي نوبیا داکار ناشـونی نه دی خو ددې ترڅنګ اقتصادي مؤثریت دیوقوي مرکزي سیستم ددولت دټول اجناسو اوخدماتو مقدار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټاکي . مســـاوات او مؤثریت : مونږ او تاســـې ولیدل چې داجناســـو دتبادلې لپاره مختلف مقدارونه اواندازې مؤثرې دي او داموهم ولیدل چې څرنګه په رقابتي بازارونو کې اقتصادي مؤثریت رامنځ ته کیږي خوددغه تبادلې لپاره ځینې اندازې او مقدارونه ټاکل نســـبت نورو اندازو او مقدارونو ته زیاته ښه او غوره دي. داچې ډیر ښه او غوره حالت دتبادلې لپاره کوم ددې پیداکول دومره اسانه کارنه دی . په دغه برخه کې به مونږه په دغه موضوع رڼا واچو اودابه هم دیو مثال په رڼا کې واضـــح کړو چې داخبره بلکل واقیعت نه لري چې درقابتي بازار په صورت کې کوم دتبادلې اندازې او مقدار مونږ دتیرو بحثونو څخه دراجان او ماریا په اړه ذکرشوي ارقام ډایج ورت باکس په شکل له یوه بله بڼه ذکر کوو دراجان ګټورتیا مواد دافقي محورپرمخ او دماریا ګټورتیا مو دعمودي محور پرمخ شـــودلی ده د۱۱۴ شـــکل څخه معلومیږي چې څومره راجان په مفیدیت کې ښـــې خواته ځواو څومره چې پورته ځو دماریا په مفیدیت کې اضـــافه والی رامنځ ته کیږي.نړیوال تجارت موضـــوع او اهمیت : نړیوال تجارت دنړیوالو اقتصادي سازمانونو یوعمده عنصر ګڼل کیږي او همدارنګه نړیوال تجارت دهیوادونو ترمنځ دارتباط درامنځ ته کیدو ســـبب ګرځي چې دهرهیواد په خارجي ســـیاســـت پورې اړه لري اګر کـه دتـاریخ پـه اوږدو کې ډیر محـدود عوامـل دتجـارت دپرمختـګ او وروســـته پاتې والي کې مؤثره وه چې دهغې عمده اواســـاســـي عوامل هم طبیعي منابع جغرافیایي شـرایط دخلکو اسـتعدادوفهم علم او تخنیک تشـکیلوي دهغو پاتې هیوادونو لخوا دنړۍ اکثره هیوادونو ته مختلفې اقتصـادي تبادلې صـورت نیسـي چې عمده اقتصـادي تبادلې یې داجناســـو اوخدماتو تبادله اوســـرمایوي تبادلات دي هیوادونه مجبور دي چې دمختلفو اقتصـــادي تبادلو لپاره خپل پولي واحدونه دنورو هیوادونو په پولي واحدونو باندې بدل کړي . چې داکار دپیسو په بازارونو کې صورت نیسي . دنړیوال تجارت تعریف: خارجي تجارت په حقیقت کې دشـیانو ، اجناسـو او سـرمایي انتقال ده دیوملک څخه بل ملک ته او یا په بل عبارت دهیوادونو ترمنځ په یوزماني واحد کې ذکرشـوي معاملاتو ترسـره کولو ته نړیوال تجارت وایي. تجارت په دوه ډوله دی ۱-داخلي ۲-خارجي داخلي : تجارت عبارت دهغه تجارت څخه ده چې دهغې په ترڅ کې دهیواد په دننه کې دخلکو ترمنځ داجناسـو اخیسـتل او خرڅول صـورت نیسـي . په داخلي تجارت کې داموالو انتقال دهیواد دسرحداتو څخه دباندې صـــورت نه نیســـي یعنې یواځې دهیواد دســـرحداتو په دننه کې داتجارت ترســـره کیږي اودخارجي تجارت په پرتله یې ستونزې لري داخلي تجارت په دوه ډوله ویشل کیږي۱-عمده فروشـــي۲-پرچون فروشـــي۲-دخارجي تجارت تعریف: دتاریخ په ابتدایی دوره کې دانســـان ضرورتونه ډیر محدود اوساده وو. په دې سلسله کې ترډیره حده خودکفا وه. خارجي تجارت هغه تجارت ته ویل کیږي چې په هغې کې ددوه مختلفو هیوادونو داوســـیدونکو تجارانو او ســـوداګرانو ترمنځ داجناســـو اوخدماتو تبادله صـــورت نیســـي . یا په بل عبارت ټولې هغه تجارتي اړیکې چې دیوهیواد دسرحداتو څخه دباندې صورت نیسي خارجي تجارت دی او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ډوله دی ۱-صادرات ۲-واردات. او کوم هیواد چې اجناس او خدمات صادروي هغه ته صادرونکی هیواد وايي. لکه افغانستان چې وچې اوتازه میوي نورو هیوادونو ته صادروي او واردات برعکس. که چیرې یو جنس کاربر جنس وي دکار له نظره بډای هیواد کې او همدا جنس ســـرمایه برجنس وي دپانګې له نظره بډایه هیواد کې نودې حالت ته دعواملو دشدت انعکاس وايي. که چیرې دعواملو انعکاس ډیر شدید شي نو دهکشر اوهلن ټوله تیوري باید رد شــي.او که چیرې کم یې په نظر کې نیسـو. او په دې موضـوع لومړنی عملي تحقیق دمنهاس لخوا په ۱۹۶۲ م کال شـــوي وه نوموړي په خپل دتحقیق په ترڅ کې داموندل چې ددریو قضیو څخه په یوه حالت کې دعواملو انعکاس موجود دی خو بیا لیونتیف په ۱۹۶۴ م کال کې دخپلې مطالعې په ترڅ کې داوښــودل چې عواملو انعکاس په ۸فیصـــده قضــیو کې شـتون لري او بس.یوه بله مطالعه چې ۱۹۶۶ م کال کې دبال په واسـطه ترسـره شـوه ترڅو دمنهاس دنتایجو یو بل اړخ وازمایي چې دغې مطالعې دلیونتیف دنتایجو تصـــدیق وکړ. چې دعواملو دانعکاس شدت په نړۍ کې ډیر کم واقع کیږي .په پای کې هغه فرضیه صدق کوي چې دعواملو په اړونده ټول نسبي اوقیمتونو سره یو جنس کاربر او بل جنس سرمایه بر دی او دهکشـــر اوهلن ماډل هم صـــدق کوي.تجارتي پالیســـي هغه برخې څخه عبارت دی چې دنړیوال تجارت پورې مربوطو فیصـــلو عملي اقداماتو او وســـایلو ســـره رابطه لري مثلا دیومملکت صـادرات او واردات باید څرنګه او څه شـی وسـي؟په هغې دولتي شـعبې کنټرول وجود لري او که نه . اشـیا مصـرفي او سـي او که سرمایوي اوسـي؟صـادرات ازادانه شـکل ولري ا و که پابند اونور . تجارتي پالیســـي په لاندې برخو ویشـــل کیږي. ۱-صــــادراتي او وارداتي پالیســـي ۲-خارجي تبادلوي پالیســـي ۳تعرفې پالیســـي . الف صـــادراتي او وارداتي پالیسي دصادراتو اودوارداتو په برخه کې مشخص تدابیر اودهغې دعملي کیدلو لپاره مناسب ، امکانات په برکې نیسي ب: دصادراتو زیاتوالی اودپیسو په داخلي اونړیوال نرخ داستحکام لپاره تدابیرج: په وارداتو او صــادراتو باندې دټکسـونو وضـع کولو سـیسـتم او لارې چارې څرګندوي . پـه دې برخـه کې دمـالیي وزارت لـه خوا دتبـادلي کنترول اووارداتي جوازونو باندې کنترول هم شـامل وي. دتجارتي پالیسـي هدفونه: ۱-دصـــادراتو زیاتوالی ۲-دصـــادراتو دډولونو زیاتوالی۳-دنووزیږیدلو صنعتونو حمایت دنوي صنعت موضوع الکساندر هاملتون په امریکا او فریدریک لیت په جرمني کې د۱۸پیړۍ په پای او د۱۹ پیړۍ شروع کې مطرح کړه۴-دصادراتو او وارداتو دنسبت زیاتوالی . دصادراتو او وارداتو ترمنځ نسبت یا مقایسې ته دتجارت نسـبت ویل کیږی. ۵-دپیسـو په داخلي او خارجي قیمتونو کې داسـتحکام ثبات۶-تجارتي روابط: دازاد او پابند تجارت مفهوم: ازاد تجارت دتجارتي پالیســـي داســـي یو نظام دی چې په هغې کې داخلي او خارجي تجارت کوم فرق نه لري او داخلي اشیاو او خدماتو ته کوم خاص رول باندې نه قایلیږي او نه په خارجي اشـــیاو او خدماتو کوم بندیزونه وضـــع کیږي .اوکله چې په یوملک دخارجي تجارت په برخه کې قیودات رامنځ ته شي مثلا ټکسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وضـع کوټه معياري سيسـتم وضـعه شـي يا چې عملي شـي او دتبادلې په جريان کنترول رامنځ ته شـــي نو دتجارتي پاليســـي دې ډول نظام ته پابند تجارت ويل کيږي.دازاد تجارت تاييدونکې دلايل: دوســـايلو بهتروالی يا بهتر اســـتعمال۲-دنړيوالې ســـوکالی زياتيدل۳-دمحصـــولاتو زياتوالی.دپابند تجارت تايدونکي دلايل: دصـــنعت څوانوالی: په پرمختييا يی هيوادونو کې چې صــنعت رامنځ ته کيږی نودنړی دپرمختللو هيوادونو ســره مقابله نه شـــي کولای۲-دکــاروبــار دلايــل ۳-دپرداختونو. دتوازن دلايــل: دتجــارت اوتعرفو عمــده موافقهGATT:دتجارت اوتعرفو عمومي تړون له مخې چې يو عمده ســـبب يي په تجارت باندې دپابنديو کمول دي خوددې خبرې اجازه ورکوي چې دتادياتو دنقصــان درفع کولو په خاطر وضع کيدای شي خو دتعرفو دوضع کيدو په صورت کې بايد په نظر کې ونيول شي چې نورملکونه جوابي عمل کولای شـــي په يو ملک کې دتعرفو وضـــع کولو اصـــلي هدف دخارجي اشياوو په ځای ملې اشياو ته دتقاضا زياتوالی دی . دصادراتو او وارداتو دنسبت دښـه والي دحمايتي پاليسی له لارې داصـولو زياتوالی او دملي داريي حفظ کول او نورهغه عوامل چې پابند تجارت په برخه کې وړاندې کيدای شي. دپابند تجارت دکاروسايل که نړی ته نظر وشـــي په حقيقي توګه ازاد تجارت وجود نه لري په يو شـــکل ياحالت کې دنړيوال تجارت قيودات وضـع کيږي په خارجي اشـياو باندې دکنترول کولو لپاره وسـايل عبارت دی له:۱-تعرفې ۲-کوټه معياري سيستم ۳-دولتي تجارت۴-دتبادلې کنترول۵-تجارتي معاهدې۶-مصـنوعي ارزاني يا امتيازي قيمت. دتعرفې مفهوم: تعرفه دصـادراتو په مقابل کې محصـول او وارداتو باندې دټيکس تر نامه لاندې دپرداختونو څخه عبارت دی . په حقيقت کې په صادراتو دتعرفې وضع کول ډير مروج نه دي او عمده توګه تعرفې په وارداتو وضع کيږي. تعرفې په عمومي ډول په دوه ډوله دي۱-داجناســو دقيمت په اســـاس۲-داجناســـو دمقدار په اســـاس. دتعرفې داثراتو مطالعه : ۱-دوارداتو دعوض اجناســو توليدول: کله چې دتعرفې په وضع کول سره دجنس قيمت پورته لاړشي نوپه داخل کې دعوض اجناسو توليد پيل کيږي او داخلي توليدات دoq1څخه2q2ته لوړيږي او تجاران کوښښ کوي چې اضافي مصارف پوره کړی چې نوموړي مصــارف په دوه ډوله څرګنديږي.۱-حمايوي اثر۲-تبادلوي اثر۱-حمايوي اثر: کله چې دتعرفې دوضـع کولو سره قيمتونه پورته لاړشـي نوداخلي مولدين دزيات جنس دتوليدولو طاقت نلري. کله چې دتعرفې په وضـع کولو سـره قيمتونه پورته لاړشـي نوداخلي مولدين دتوليد قابليت پيداکوي ولې داتوليد غيراقتصادي دی ځکه دلوړ قيمت اوزياتو مصارفو په نتيجه کې رامنځ ته کيږی چې موږ په شــکل کې دابرخه په اين ســره ښــودل شــوي ده۲-تبادلوي يا انتقالي اثر: دتعرفې په وجه چې مولدين کوم اضــافه قيمت ترلاســه کوي هغې يوه برخه دغير اقتصــادي توليداتو قرباني کيږي او بله برخه يی دمصــرف کوونکو لخوا مولدينو ته انتقاليږي اوداخلي مولدين دمصرف کوونکو څخه اضافه رقم حاصلوي چې په شکل کې په زي ســره ښــودل کيږي۲-دمصــرف اســتعمال اثر: دتعرفو په وضــع کولو ســره داجناســو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قيمتونه لوړاو دهغې په استعمال کې کموالی راځي چې دتقاضا سطحه د0q4څخه 0q3ته راټيټيږي . چې په شکل کې په ايس سره ښودل شوي دي۳-داصولو عايداتي اثر: څرنګه چې دتعرفې اندازه دتې سره برابره ده دنورو وارداتو اندازه ضرب تعرفه حاصل شوي رقم په لاس راکوي چې په شکل کې په ارسره ښودل شوی ده ۴-دمقابل اثر: دتجارت په پيل او دتعرفو په وضع کولو کې سيالي رامنځ ته کيږي چې له يوې خوا دملي صنعت دتقويي سبب ګرځي اوداجناسو معيار ورسره لوړيږي.۵-دعايد او وزګارتيا اثر: دتعرفې په وضع کولو سره په ملک کې دکاروبار زياتيږي څومره چې ملي صنعت تقويه کيږي ورسره دوارداتو عوض اجناس په داخل کې توليديږي چې دعايد او کاروبار په برخه کې دزياتوالي سبب ګرځي چې داعمل دمقابل ملک دخرابوالي سبب ګرځي.۴-دپرداختونو توازن: دتعرفو په وضع کولو سره دوارداتو مقدار کميږي او په داخل کې دتوليد اندازه زياتيږي چې دوارداتو په کموالي سره دخارجي پرداختونو په اندازه کې کموالی راځي ولي بايد ذکر شي چې داټول عملونه هغه وخت ممکن دي چې مقابل لوری جوابي اقدام پورته کړي.په بهرنيو هيوادونو کې داجناسو په مناسب قيمت دخرڅولو طريقې۱-اشتهارات۲-ذاتي دوره۳-سفري نماينده ګان۴-بهرنۍ ايجنسۍ۵-په بهرنيو هيوادونو کې دځانګو قايمول۶-خارجي تجارت کې دقيمتونو ډولونه .چې په لاندې ډول دي. F.A.S: عبارت له هغه قيمت څخه دی چې په هغې کې داصلي قيمت نه علاوه ټول هغه مصارف شامل وي کوم چې په اجناسو باندې ترکښتۍ پورې راځي. هغه مصارف چې داصلي قيمت څخه علاوه په جنس ورعلاوه کيږي په لاندې ډول دي ۱-داجناسو بسته بندۍ مصارف۲-صادراتي محصول۳-دبندرتررسيدوپورې ترانسپورتي مصارف ۴-دبندرګاه مصارف۵-فوبFOBعبارت له هغه قيمت څخه دی کله چې F.A.Sقيمت سره يوځای کړوکوم چې دکښتۍ ته داموالو په جګولو باندې راځي. ship ex: عبارت دهغه قيمت څخه دی کله چې دفوب قيمت سره دکښتۍ کرايه جمع شي او په مال ورعلاوه شي نو دex-shipقيمت لاسته راځي.ex-shipقيمت کې لاندې مصارف شامل دي ۱-دجنس دبسته بندي کولو مصارف۲-په مال باندې تربندرګاه درسيدلو مصارف۳-صادراتي محصول۴-دبندرګاه مصارف ۵-کښتۍ ته داجناسو داوچتولو مصارف۶-دکښتۍ کرايه . دنړيوال اقتصاد ساحه او ضرورت۱-په مختلفو هيوادونو کې منابع اقليمي شرايط هنر او نوردتوليد عواملو مؤثريت يو شان نه وي هيوادونه ددغه توپير له وجهې يو هيواد يوډول اجناس په ارزانه توليدوي نورهيوادونه نوراجناس په ارزانه توليدوي. نويو هيواد نشي کولای پرځانته ډول خپل ضروريات پوره کړي نو هيوادونه مجبوردي چې خپلو منځو کې اقتصادي روابطوپه لړکې دخپل ضرورت وړشيان يو له بل سره تبادل کړي اوخپل ضروريات رفع کړي نودې لپاره چې دغه مشکلات ،پيښو حقيقتونو او بازار داقتصاد دتيوريګانو څخه بحث وکړو نړيوال اقتصاد ته ضرورت پيدا شو . دنړيوال اقتصاد درامنځ ته کيدو دلايل۱-دمختلفو سياسي –اقتصادي،اواجتماعي نظامونو موجوديت۲-دمختلفو کرنسيو

(c) ketabton.com: The Digital Library

يا پولي واحدونو موجوديت۳-دتوليد پرعواملو کې فرق۴-دمختلفو ملي سياستونو موجوديت. دنړيوال اقتصــاد دپرمختيا لاملونه۱-اختراعات او کشــفيات۲-دنفوســو زياتوالی اودعنعنوي اقتصــاد له منځه تلل۳-دنجيبه فلزاتو او پيســو رول۴-پانګوال او متشــبثينو رامنځ ته کيدل۵-اقتصـادي عقايد . نړيوال اقتصـاد دڅيړنې ساحه او ميتودونه: نړيوال اقتصـاد دڅيړنې ساحه پراخه ده چې هغې کې دهيوادونو ترمنځ دهرډول اقتصـــــادي روابطو تحليل شـــامليږي. په عمومي ډول په دې کې دسـوداګرۍ نظريات، دسـوداګرۍ پاليسـي،دتبادلې بازارونه، دتادياتو بيلانس ، خارجي پانګې اچونې نظريات او نړيوال اقتصادي انظمام نظريه شامليږي=نړيوال اقتصــاد دهيوادونو ترمنځ داجناســو او خدماتو او تادياتو جريان تحليلولې.دداخلي(منطقوي)او نړيوال تجارت ترمنځ فرق۱-دعواملو دخوځښـــت۲-دتجارتي بنديزونو خنډونـه۳-دطبيعي منابعو ترمنځ فرق۴-جغرافيايي او اقليمي توپير۵-دمختلفو کرنســيو ســيســتم موجوديت ۶-مختلفو بازارونو موجوديت۷-ترانسپورټ لګښـت۸-دتادياتو دبيلانس ستونزه ۹-مختلفې ملي پاليسی۱۰-اقتصادي محيط توپيرلرل۱۱-داجناسو حرکت: هغه عوامل چې په نړيواله سطحه دکاردحرکت مانع ګرځي۱-په ژبه کې فرق۲-وظيفوي مهارتونه۳-دکورني محيط څخه ليري کيدل نـه خوښــيدل۴-ديوملـک نـه بل ملـک تـه تللو مصـــــارف اونورهغه موانع دی چې دکاردحرکت مانع ګرځي.دنړيوال اوداخلي تجارت ترمنځ يوشـــان والی: بيرټل اوهلن وايي: چې نړيوال تجارت دنړيوال اقتصـــاد يا منطقوي تجارت يوه قضــيه ده۲دمزد کچه نه يواځې داچې په نړيوال تجارت کې فرق لري او په داخل دهيواد کې هم سره يوشان نه دي ۳-اجناس که په نړيواله ســـطحه وي او که په منطقوي ســـطحه وي دواړو کې دکمپنيانو هيله دګټې اعظمي کول دي.۴-نړيوال تجارت کې قيمتونه هم دعرضې او تقاضا په اساس ټاکل کيږي او منطقوي تجارت کې هم .۵-په ۱۹او ۲۰ پيړۍ کې داروپا او انګلينډ څخه دســـرمايی او کارګرې قوي حرکت ددې ســـبب شـــو چې امريکا ، اســـتراليا، نيوزلينډ، کاناډا،په تيزۍ پرمختګ وکړي.فرصـــتي مصـــارف : زياتيدونکې فرصـــتي مصـــارف په دې معنې چې ديوهيواد ديو جنس داضــــافي واحد دتوليد لپاره دبل جنس زيات نه زيات واحدونه له لاســـه ورکوي ترڅو اضـافي منابع نوموړي جنس توليد لپاره تخصـيص کړي . فرصـتي مصـارف: هغه مصارفو څخه عبارت دي=دXجنس فرصتي مصارف دyجنس ارزښت څخه عبارت دي چې دxجنس دتوليد له امله مودلاسه وځي يا ديو توليد فرصتي مصارف دهغه تبادلوي جنس دارزښت څخه عبارت دی چې دغه جنس دتوليد له امله زمونږ له لاسه وځي.دتعويض نهايي نرخ دyجنس لپاره دyهغه مقدار څخه عبارت دی چې يو هيواد يې بايد دxاضافي واحد دتوليد په خاطر له لاســه ورکړي دتعويض نهايی نرخ دفرصــتي مصــارفو بل نوم دی چې دتوليد په نقطه کې منحني ميلان رانيســـي . دټولنې بې تفاوته منحني : دټولنې بې تفاوته منحني ددوه اجناسـو داسـې مختلف ترکيبات ښـايي کوم چې ديوې ټولنې دمسـاوي اطمينان سـبب ګرځي. لوړه منحني زيات اطمينان ټيټه منحني لږ اطمينان ښــــکاره کوي . دټولنې بې تفاوته منحني

(c) ketabton.com: The Digital Library

منفي ميلان لري مبتدا ته محدبه وي او يوبل نه قطع کوي . دټولنې بې تفاوته منحني پورې اړوند ځينې ســــتونزې: لکه څرنګه چې دټولنې بې تفاوته منحني يو بل نه قطع کوي او دې دواړو دتقاطع نقطه عين رضــايت په دوه مختلفو بې تفاوته منحني ګانو کې ښـکاره کوي چې دابې تفاوته منحني دتفريف؟؟ ســـره تضــــاد کې دي=که حقيقي عايد ويش يو هيواد کې تغيير وکړي او بې تفاوته منحني ګانې يو بل قطع کړي نودې حالت کې بيامونږ دټولنې بې تفاوته منحني نشـو استعمالولی ترهغې چې دتجارت توسـعه دهيواد دفلاح او بهبود دزياتوالي سـبب ګرځي. دتجارت دمخه تعادل : دتجارت دنه شتون په صورت کې يو هيواد هغه وخت دتعادل په حالت کې دی لکه چې دهغې دتوليد منحني په نظر کې نيولو ســـره نوموړی هيواد لوړه ممکنه بې تفاوته منحني باندې قرار ولري. دجنس اړوند تعادلي اونسبي مزيت: دتجارت څخه دمخه دجنس اړوند تعادلي قيمت دتوليد منحني اودبې تفاوته منحني دتوليد او مصرف د نقطې په واسطه ښودل کيږي.زياتيدونکي مصارفو په صورت کې دتجارت لپاره اساس او تجارت څخه ګټه =دوه هيوادونو ترمنځ داړونده اجناسو پرقيمتونو کې تفاوت ددواړو هيوادونو نسبي مزيت ښـــايي او دواړه هيوادونو ترمنځ دګټور تجارت لپاره اســـاس تشـــکيلوي. =هرهيواد دنسـبي مزيت لرونکي جنس کې تخصـص ترلاسـه کوي او دازياتيدونکي فرصـتي مصــارفو سـبب ګرځي. تخصـص ترهغه وخت ادامه لري کله چې ددواړوو هيوادونو اجناسـو قيمتونه سره مساوي شي او دادتجارت دتعادل نقطه ده =په توليدکې دتخصص پروسه ترهغې پورې ادامه لري چې دواړه هيوادونو کې داجناسو قيمتونه سره مساوي وي؟ ---دتجارت په صورت کې دجنس په اړوند تعادلي قيمتونه ـد1=PB=PBدتجارت په صورت کې دجنس اړوند تعادلي قيمت په دواړو هيوادونو کې هغه مشترک قيمت دی پرکوم چې تجارت دتعادل حالت کې دی .=دتجارت موډل دتوســـعې دوهمه لاره داده چې دوه هيوادونو کې نړيوال تجارت اغيزې دتوليد دعواملو په عايداتو وڅيرو.=دکلاســـيکو اقتصـــاد پوهانو له نظره نســـبتي مزيت دهيوادونو ترمنځ دکارګرې قوي دمولديت تفاوت په اساس رامنځ ته کيږي خو دوی دمولديت تفاوت لپاره تشريح ورنکړه =دهکشر اوهلين تيوري موډل دتجارت موډل ته توسعه ورکوي او په دوه هيوادونو کې دنســـبي مزيت اســـاس او دســـرچينو پرعوايدو دتجارت اغيزې څـيـړي.دهـکشـــــر اوهـلـيـن تـيـوري لانـدې فـرضـــــيـي لـري:۱-دوه هـيـوادونــه دوه اجناس(xجنسyجنس)دوه دتوليد عوامل (کارګره قوه او پانګه)۲-دواړه هيوادونه په توليد کې دعينې تکنالوژۍ څخه کاراخلي ۳-دxجنس کاربره او دyجنس ســـرمايه بره دی ۴-دواړه هيوادونوکې دواړه اجناس دثابتې بهرې مقياس له مخې توليديږي.۵-دواړهيوادونو کې دتوليد نيمګړی تخصـص وجود لري ۶-په دواړو هيوادونو کې ذوق مسـاوي وي۷-ددواړه هيوادونو کې دعواملو او اجناسو په بازار کې کامل رقابت شتون لري : کامل رقابت معنا دا چې توليد کوونکي –مصــرف کوونکي او دتوليد عواملو خاوندان په صـــنعت اودهيواد په ټولو برخو کې داجناســـو قيمتونو عواملو دعوايدو په اړه پوره معلومات ولري۸-په داخل دهيواد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعواملو کامل انتقال وجود لري ولې په نړیواله ســـطحه عواملو انتقال وجود نه لري ۹- دنړیوال تجارت داجرا دجریان لپاره ترانســـپورتي مصـــارف تعرفې یانورې موانع وجود نه لري۱۰-په دواړه هیوادونو کې تولې ســـرچینې په بشـــپړه توګه په کارلویدلې دي ۱۱-ددواړه هیوادونو ترمنځ نړیوال تجـارت متوازن دی .معنـا داچې دهرهیواد دصـــــادراتو مجموعي ارزښـت دهغې وارداتو دمجموعي ارزښـت سـره مسـاوي دی.په تولید کې هغه حالت ته ویل کیږي چې دکار په پرتله ډیرې پانګې ته اړتیاوي نو هغه پانګه کښ یا ســـرمایه بر بلل کیږي.خو که تولید کې هغه حالت چې دپانګې پرتله ډیرکارته اړتیاوي هغې ته کاربره یا تشـدیدي کارغوښـتونکې تولیدوایي.دعواملو (سـرچینو) کثرت:دعواملو یا سـرچینو کثرت له دوه دیدګاه څخه تعریف کولای شــو۱-دفزیکي واحدونو له مخې تعریف: مثال دپانګې او کار مجموعي مقدار چې یو هیواد یی پراختیا کې لري۲-دعواملو اړونده قیمتونو له مخې : مثلا دپانګې لپاره کرایه او دکارلپاره دمزد نرخ پر یو هیواد کې ==دعواملو کثرت په یو هیواد کې دپانګې او کار مطلقه مقدار شـــتون نه ښـــایي لیکن د ( پانګې دمجموعي مقدار او دکار مجموعي مقدارنســـبت ښـــایي) =معمولا دپانګې دقیمت څخه هدف دربح اندازه وي او دکارقیمت څخه هدف دمزد اندازه وي نو په دې اســـاس لیکلی شـــوpk/pl=r/w.دســـرچینو موجودیت اودهکشـــر اوهلن تیوري : په ۱۹۱۹ م کال کې یو ســـویډني اقتصـــاد پوه ایلې هکشـــردنړیوال تجارت اغیزې دعاید ویش ترعنوان لاندې یو مقاله نشـــر کړه . په کومه کې چې دنړیوال تجارت دعصري تیوري طرحه ورکړه . دلسو څخه دزیاتو کلونو لپاره داتیوري له پامه لویدلې وه وروسته یو بل سویډني اقتصاد پوه او دهکشر شاګر برتیل اوهلن نوموړې تیوري ته توضیح ورکړه او پر۱۹۳۳ کال دساحوي او نړیوال تجارت ترعنوان لاندې خپل مشـــــهورکتاب کې خپره کړه. په خلص ډول دهکشـــر اوهلن تیوري ددوه نظریو په شـــکل وړاندې کولای شـو ۱-دهکشـر اهلن نظریه وایي : کوم چې دتجارت طرز پیشـبیني سـره سـروکارلري۲-نظردادی دعواملو دقیمت دتسـاوي والي نظریه ده کوم چې دعواملو په قیمت دنړیوال تجارت دتاثیراتو سـره سـروکار لري. دهکشـر اوهلن تیوري: دهکشـر اوهلن نظریه داوایي یو هیواد هغه جنس صـادروي دکوم جنس په تولید کې چې ازانه او بډایه سـرچینو ته ضـرورت ولري او هغه جنس به واردوي دکوم جنس په تولید کې چې دهیواد دکمو او قیمته منابعو او عواملو ته ضـــرورت ولري +=خلاصـــه ډول دکارله نظره بډایه هیوادونه هغه اجناس صـادروي چې کارجذبوونکې او هغه اجناس واردوي کوم چې زیاته پانګه جذبونکې وي =هرهیواد هغه جنس په تولیدولو اوصـــادرولو کې تخصـــص ترلاســـه کوي کوم چې دارزانه تولید عواملو په واسـطه تولیدوي او هغه جنس واردوي چې قیمت عواملو په واسـطه تولیدیږي.دعواملو دقیمت یوالی اود عـاید ویش:پـه دې برخـه کې دعواملو دقیمت پر یوالي تیوري بحث کوو کوم چې دهکشـر اوهلن تیوري څخه اسـتنباط شـوي اوداهغه وخت صـدق کوي کلـه چې دهکشـــر اوهلن تیوري صـــــدق وکړي دعواملو دقیمت یوالي تیوري دپـال

(c) ketabton.com: The Digital Library

سميولسن لخوا وړاندې شوي له همدې وجې ورته دهکشر اوهلن سميولسن تيوري هم وايي. دعواملو دقيمت يوالي تيوري: نړيوال تجارت کې دهيوادونو ترمنځ دعواملودنسـبي او مطلق عوايدو ديوالي سـبب ګرځي، په دې اســاس نړيوال تجارت کې دعواملو دنړيوال تحرک تعويض کوونکي دي په دې معنا چې نړيوال تجارت دټولو تجارت کوونکو هيوادونو دمشابه کارمزد مثال(کارګره قوه چې عين مهارت او مولديت ولري)ديوالي سـبب ګرځي. همدارنګه نړيوال تجارت ټولو تجارت کوونکو هيوادونو کې دمشـــابه پانګې عايد مثال(پانګه چې عين مولديت او خطر ولري )؟؟؟ديوالي سبب ګرځي. همدارنګه نړيوال تجارت ترهغې پراخوالی پيداکوي چې داجناســو قيمتونه کاملا يو شـــان وي معنا داچې دعواملو قيمتونه ددواړو هيوادونو ترمنځ يوشــان وي . دعواملو مطلق اونسـبي قيمت يوالی: دعواملو دمطلقه قيمتونو يوالی په دې معنا چې ازاد نړيوال تجارت په دواړه هيوادونو کې دعين کار حقيقي مزد او دعين پانګې حقيقي ربحې نرخ ديوالي سبب ګرځي. =دعواملو دکامل حرکت په صورت کې کارګره قوه دکم مزد لرونکي هيوادونو څخه لوړ مزد لرونکي هيوادونو ته هجرت کوي او نتيجه کې به دواړه هيوادونو کې مزد ونه سـره مسـاوي شـي.او که دپانګې دټيټ ربحې نرخ لرونکي څخه لوړربحې لرونکي هيوادونو ته حرکت وکړي نتيجه کې به دواړه هيوادونو کې دربحې نرخ سـره برابر شـي.دعايد په ويش دتجارت اغيزې:تيره برخه=نړيوال تجارت دوه هيوادونو کې دربحې نرخ باندې ديوالي سبب ګرځي.۱-اغيزه=نړيوال تجارت ديوهيواد بډايه او ارزانه عواملو قيمتونه لوړوي او محدود اوقيمته (لوړمصــــرفه) عواملو قيمتونه دټيټ والي سبب ګرځي۲-اغيزه=نړيوال تجارت دهغه هيواد چې کارګره قوه لري دکارګرې دقوي دحقيقي عوايد ودلوړوالي سـببګرځي.۳-اغيزه=داچې پرمختللو هيوادونولکه امريکافرانســه جاپان کاناډا هيواد کې پانګه بډايه عامل دی نو نړيوال تجارت دکارګرې قوې دحقيقي عوايدو دکموالي او دپانګې دماليکينو دحقييقي عوايو دزياتولي سـبب ګرځي. ۴-اغيزه=په وروسـته پاتې هيوادونو لکه هند-مصــــر-کوريا-کارګره قوه بډايه نونړيوال تجارت دکارګرې قوې دعوايدو دلوړوالي اودپانګې دحقيقي عوايدو دکموالي سـبب ګرځي. دهکشــر اوهلين تيوري په اســاس نړيوال تجارت دکارګرې قوې دحقيقي عوايدو او حقيقي مزدونو دکموالي ســبب ګرځي.

# اسلامي اقتصاد

په اســلامي اقتصــاد کې داقتصــاد په اســلامي طريقو بحث کيږي.لکه اســلامي بانکداري ، اسلامي تجارت (حلال تجارت)زکات ،فئ،غنيمت،توليه، اوداسې نور اسلامي بحثونه.


# بريښنايي تجارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکاروبار (business) پراخه اقتصـــــادي مفهوم لري چې عبارت له ټولو هغو مشــــروعو کارونو څخه دی چې داجناســو او خدماتو تولید او توزیع دګټي دلاســته راوړلو په مقصــد په کې ترسره کیږي.۲-بریښنایي کاروبار عبارت له هغه کاروبار څخه دی چې په اونلین ډول وجود لري نه په فزیکي ډول . په دې کې یو ه خبره چې مشروع به وي او دقانون مطابق . تجارت د(commerce) ټولې هغه اقتصـــــادي کړنې چې توکي دتولید له ځایه مصـــــرف کوونکو ته رســـوي دتجارت یاد(commerce) په نامه یادیږي. فریدریک ویلي: کله چې داجناسو او خدماتو پیرودلو او پلورلو پروسه دانټرنیټ په ذریعه وشـي دبریښـنایي تجارت به نامه یادیږي. بزنس په دوه ډوله ویشل شوی۱-کامرس۲-اندستري. داندستري کاردادی چې زمونږ خام مواد په تمام شد تولید باندې بدلوي دې نه بعد کامرس ته ځي کامرس یوه پروسه ده چې دتولید دځای څخه تولید اخلي مصــــرف کوونکي ته یي رســـوي او که دانټرنیټ په واســطه وشــي دe-commerceڅخه عبارت دی.۱-کامل بریښــنایي تجارت : داخیســتلو او خرڅولو ټوله پروسه چې دانټرنیټ په واسطه ترسره شي یا په فزیکي توګه کوم شی یا تولید وجود ونلري. ۲-نیمه کامل : په دې پروسه کې یو شی په فزیکي توګه راولیږل شي نودې ته ویلای شي نیمه کامل تجارت یا داخیستلو او خرڅولو پروسه بدون دانټرنیټ وشي. په ۱۹۵۰ م کال کې ترسـره شـو. انټرنیټ نه په ۱۹۶۰ م کال کې دامریکا په دفاع وزارت کې دفایلونو لپاره کاراخیسـتل شـوی . دادWWWویب سـایټ په ۱۹۸۹م کال کې Timbernerرامنځ ته کړی او هدف یي داوه چې انټرنیټ ته هرڅوک ننوځي په یوې لارې لاړشـي.دایو لندنی عالم وه او مور او پلار یی سـاینس دانان وه . په ۱۹۷۰ م کال کې e-commerceشـروع شـو. کله چې لوی سـهامي شـرکتونو خپلو شـریکانو سـره دکاروبار اړونده معلومات دنیټورک له مخې شــــریکول پــه ۱۹۸۰ م کــال کېinternet service provider(isp)پــه USAاو UKلابراتوارو کې راووتو. معلومات شریکول یا تبادله کول په دوو شکلونو (EDI)او (EFT) په ۱۹۸۰ کلونو کې ســــوداګریز شــــو.۱-(EFT)معنا بریښــــنایی (توګه) دفنډونو انتقال۲-بریښــــنایی(توګه) معلوماتو انتقال(EDI) په دې کې دوه برخې دي ۱-کاروباري معلومات وه ۲-دپیسو معلومات . په لومړي ځل سره دATMپه واسطه په امریکا کې ټرانزکشـن (راکړه ورکړه یا معامله)ترســــره شــــوه. په ۱۹۸۰ م کال کې )په ۱۹۹۵ م کال په USAاو اروپایي هیوادونو کې خلکو دانټرنیټ اســــتفاده کوله په ۲۰۰۰ م کال کې داســــې ځای نه وه چې بریښنایي سوداګرۍ به په کې شروع نه وه په USA او اروپاکې)داجناسو اخیستل او خرڅول دانټرنیټ په واســطه عبارت دبریښــنایي تجارت څخه دي . کاروبار یا Businessټول هغه فعالیتونه چې دګټې دلاســــته راوړلو لپاره ترســــره کیږي عبارت دکاروبار څخه دي په دې شــــرط چې قانوني وي اوفزیکي شــــکل وجود ولری. E-Businessټول هغه فعالیتونه چې دګټې دترلاســــه کولو لپاره ترســــره کیږی او په فزیکي ډول وجود ونلري او قانوني وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

.بریښـنایی تجارت ګټي : ۱-په اسانی سره داجناسو او خدماتو انتخاب او اخیستل۲-په هفته کې ۷ ورځې او ۲۴ساعته خدمات۳-عملیاتي مصارف یې کم وي او هم بهتره تولیدات ۴-په اسانی سره کاروبارشروع او ختمول۵-فزیکي توکه جوړښت ته ضرورت نه لري۶-مستهلیکین په اسانی سره کولای شي چې تولیدات انتخاب کړي بیدون له فزیکي توکه تللو ځخه.اودبریښنایی تجارت تاوانونه: ۱-دتولید دکوالیټی ضمانت نه شتون۲-دانټرنیټ هیکرانو ته موقع وي که راشي چې حمله وکړي،یعني هیکرانن کیدای شي زمونږ اکونټ هیک کړي اوپیسې ولیږي ځان یا دبل چا اکونټ ته.۳-انټرنیټ اضافه دډې نه سهولت او تعلیم سطحه۴-انټرنیټ coverageیعني ساحه موجود وي یعني زمونږ په زیاتره ځایونو کې انټرنیټ کار نه کوي۵-مسلکي کسان په کار دي بریښنایي تجارت سره نورتجارتونه هم نښتي وي




بریښنایی تجارتE-commerceهغه تجارت ته ویل کیږي چې په بریښنایی شکل دانټرنیټ له لارې سرته ورسیږي او په دې کې دکاغذ پرمخ معاملات سرته ونه رسیږي. traditional commerce: هغه تجارت ته ویل کیږي چې په هغې کې معاملات دکاغذ په مخ سرته رسیږي چې دې ته کاغذي تجارت هم ویل کیږي. Internet commerce: هغه تجارت ته ویل کیږي چې دانټرنیټ له لارې یا دانټرنیټي شبکو له لارې سرته رسیږي. Mobile commerce: داهغه تجارت ځخه عبارت دی چې دموبایل له لارې په کې معاملات سرته رسیږي. Business focused E-commerce: دادهغه تجارت ځخه عبارت دی چې په دې کې زیات تمرکز او ټینګار په کاروبار باندې کیږي یعني ټول هغه معاملات چې په تجارت پورې اړه لري مطالعه کیږی. Consumer focused E-commerce: دادهغه بریښنایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجارت څخه عبارت دی چې په دې کې زیات تمرکز په مشـــتري یا مصـــرف کوونکو (مستهلیکینو) باندې کیږي. یعنې ټول هغه معاملات چې په مصرف کوونکو پورې اړه لري مطـالعـه کیږي. B2B :Types of E-commerce: بریښـــنـایی تجـارت ددوکمپنیو ترمنځ بریښنایي تجارت ته ویل کیږي. داډول بریښنایی تجارت ددوو کمپنیو (کاروبارونو)ترمنځ په بریښـنایي توګه داجناسـو او خدماتو تبادله . لکه : دمایکروسـافټ او سـیسـکو کاروبارونه.۲-business to consumerB2C:داډول بریښنایی تجارت چې دیوکاروبار او مستهلک ترمنځ په بریښـنایی ډول داجناسـو او خدماتو تبادله صـورت نیسـي B2Cپه نامه یادیږي.دلومړي ځل لپاره B2Cبریښـنـایي تجارت دAmazon او CD-nowسـایټونو لخواشـروع شـو او همدارنګه Walmart.comسایټ هم دغه ډول تجارت پرمخ وړه۳-Biz2Biz2Consumer:په دې ډول بریښـــنایي تجارت کې لومړی یو کاروبار چې په دوهم کاروبار جنس خرڅوي له هغې وروســــتــه بـیـا دوهـم کـاروبـاریـي پـه مســــتـهـلـک بـانـدې خـرڅـوي.۴-C2CConsumer2Consumer:په دې ډول کاروبار کې مستهلک اجناس مستقیما اجناس په مســتهلک خرڅوي اوداډول کاروبار عبارت دی له Amazon.com and E-bay.com:۵-consumer to business: په دې ډول کاروبار کې مستهلک په کاروبار اجناس یا خدمات خرڅوي. C2Bلکه line.com. دیوسازمان په داخل کې داجناسو اوخدماتو ، معلوماتو تبادلې په موخه فعالیتونه دانټرنیټ په ذریعه ترسره شـي نوموړي سـازمان ته دانټرابزنیس سـازمان ویل کیږي، اودې کې ټول کار دانټرنیټ په واســطه جوړشـــوي وي لکه : بانکونه . Web Client: هغه اله ده چې دهغې په اســـاس مونږ خپل فرمایش کوو یا انتقالوو لکه کمپیوټر ،فون. Web server: عبارت له هغه ماشـــین څخه ده چې زمونږ فرمایش ویب ســـایټ (خرڅونکي) ته انتقالوي. Browser: هغه سـافټویر ده چې ددې په واسـطه مونږویب سـایټ ته ننوځو لکه ګوګل. Intranet: دیوې اداري په داخل کې دنیټورکونو مجموعې ته انټرانیټ وایي،خوچې کیبل دلارې شوي وي. Extranet: د ادارې په خارج کې دنیټورکونو مجموعې ته ایکسـټرانیټ وایي یا دمختلفو انټرانیټونو مجموعې ته ایکسـټرانیټ ویل کیږي. Internet: دنړیوالو نیټورکونو مجموعې ته انټرنیټ ویل کیږي چې بدون دلاین څخه وي، کله چې یو کاروبار خپل تجارتي معاملات ترســـره کولو په موخه دانټرنیټ اویا هم کوم بل معلوماتي تکنالوژۍ څخه استفاده وکړي دبریښـنایي کاروبار څخه عبارت ده. انلاین خریدارۍ پروسـه په ۴ ډوله ده:۱-ثابت قیمت۲-متغییر قیمت۳-بولېAuction۴-دمقایســـې له لارې . عامه تکلاره دقیمتونو انتخاب په موخه بریښنایي کتالوګ دی چې دتولیداتو او خدماتو ثابت قیمتونه په کې ذکر شـــوی وي ۲-ځینې وخت دتولیداتو او خدماتو متغییره قیمتونه په کې ذکر شـــوي وي لکه قیمت او مشخصه فیصدي دتخفیف۳-اوځینې وخت بریښنایی تجارتونه مشتریانو ته دافرصـــت ورکوي چې په ازاد ډول دبولې په اســـاس قیمتونه ټاکل کیږي۴-ځینې بریښـــنـایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاروبار دقیمتونو مقایسه سهولیت مستهلک ته ورکوي. لکه امریکاي ایرلاین او امازون .کام. تادیه یه paymentپه دوو طریقو ترسره کیږي. فوست تادیه۲-فري تادیه : چې دجنس دراتګ څخه دمخه تادیه کوي ۲-فوسټ تادیه : دجنس دراتګ څخه وروسته تادیه کوي . بریښنایي مارکیټ: عبارت له هغه مارکیت څخه دی چې اخیستونکی او خرڅوونکي په انلاین ډول خپلو منځونو کې سره تجارتي معاملات ترسره کوي. دبریښنایي مارکیټ دننده دفزیکي مارکیټ په شان ده مګربریښنایي مارکیټ مؤثریت نسبت فزیکي مارکیټ ته زیات دی مثلا دتولیداتو خدماتو په اړوند معلومات ارایه انلاین توګه پیرودل او همدارنګه خرڅلاو وروسته خدمات وکړه.دبریښنایی مارکیټ اجزا: هغه شخص یا(ویب سایټ) چې اجناس او خدمات اخلي او په استفاده یی رسوي دcustomerڅخه عبارت ده ۲-سیلرSeller:هغه شخص یا ویب سایټ چې اجناس دګټې په خاطر خرڅوي. یاداموالو عرضه په انلاین شکل وجود لري دسیلر څخه عبارت ده.ټول فزیکي شیان چې دانسان ضرورت رفع کړي دیته تولید وایی او ټول غیرفزیکي شیان چې دانسان ضرورت رفع کړي دي ته خدمات وایی او افلاین وي. جوړښتinfrastructureدبریښنایی تجارت هغه برخې چې بریښنایی تجارت دهغې په واسطه مخکې ته ځي هغې ته جوړښت وایي .front Endیا مخکې فعالیتونه:دانلاین بزنس ټولې هغه برخې چې مشتریان یی وګوري او او استفاده تري وکړي عبارت له فرنټ اینډ څخه دي اودانلاین بزنس ټولې هغه برخې چې مشتریان ورڅخه استفاده نشي کولای هغه ته بک اینډBackendوایي.یاوروستې فعالیتونه وایي.مینځګړي: هغه شخص ته وایی چې ددوافرادو ترمنځ تجارتي معاملو کې سهولت راولي یا یو ویب سایټ چې داخیستونکي او خرڅوونکي ترمنځ په تجارتي معاملو کې سهولت راولې . مستهلیکین: په نړۍ کې تردوومیلیونو څخه زیات انلاین مستهلیکین وجود لري چې دمختلفو ویب سایټونو له طریقه اجناس او خدمات رانیسي. خرڅوونکي: په بریښنایی تجارت کې پلورونکي هغه انلاین کاروبارونه دي چې اجناس او خدمات اخیستونکو ته په انلاین توګه عرضه کوي دا کاروبارونه کیدای شي چې دسهامي شرکت،دولت، او یا هم دیو شخص په ملکیت کې وي .تولیدات او خدمات: بریښنایی تجارت کیدای شي فزیکي توګه او غیرې فزیکې توګه اجناس او خدمات مستهلیکینو ته عرضه کړي. جوړښت بریښنایی مارکیټ په جوړښت کې بریښنایی نیټورک، ډیټا بیس، هارډویر، سافټویر مسایل شامل دي .دبریښنایي مارکیټ ډولونه:۱-شخصي بریښنایی مارکیټ۲-عامه بریښنایی مارکیټ . شخصي بریښنایي مارکیټ : هغه مارکیټ څخه عبارت دی چې دیوې کمپنۍ په ملکیت او کنترول کې وي چې عموما یی B2Bاو B2Cوي. عامه بریښنایی مارکیټ: عبارت له هغه مارکیټ څخه دي چې ددریم کاروبار په ملکیت کې وي چې داخیستونکي او خرڅوونکي له جملې نه وي. لکه ازاردبازار.کام .دمشتري دسوداکولو طریقي درې داني دي ۱-Web store:هغه بزنیسونه دي چې یوائې او یوائې دیوکاروبار تولیدات په کې خرڅول کیږي. عبارت له ویب ستور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه دي . انټرنيټ مالinternet mall:دمختلفو ويب ســتورونو مجموعې ته چې په انلاین ډول ســـره وجود ولري عبارت له مال ځخه دي . پورټل portal: پورټلونه عبارت دهغه کاروبارونو ځخه دي چې داصـــلي يا مرکزي کاروبار ځّخه اموال او خدمات دپورټل کمپنۍ ځخه مشـتري ته انتقاليږي. بريښـنايي سـازمانونه: بريک اينډ مورټرbrick and mortar: هغه بريښـنايي سـازمانونه دي چې په فزيکي ډول سره وجود لري يا هغه سـازمانونه چې تجارتي معاملې يې په فزيکي ډول سـره وجود لري لکه : flipcart.comلکه يو ويب سـايټ ته ځي کوټونه(جمپرې کورتۍ) انتخابوي او دهغې نه بعد بيا هغې مارکيټ ته ځي او په فزيکي ډول يي اخلو يا اخلي. يا په بل عبارت هغه بريښـــنايی ســـازمانونه دي چې دفزيکي ډول ســـره وجود لري او په مســـتهلک باندې مســـتقيمه توګه اجناس خرڅوي. ۲-کليک اينډ مورټرclick and mortar:هغه سـازمانونه دي چې تجارتي معاملې په انلاين ډول او هم په اف لاين ډول ترســـره کوي عبارت له کليک اينډ مورټر ځخه دي . ۳-حقيقي کاروبار يا virtual businessيا هغه بريښـــنايی ســـازمانونه چې انلاين (انټرنيټ) ډول ســـره فعاليت کوي.virtual bizحقيقي کاروبار هغه بريښـنايی سـازمانونه چې يوازې اويوازې دانټرنيټ يا انلاين ډول ســـره خرڅلا کوي. دبريښـــنايی تجارت جوړښـــت يا چوکاټframework:پنځه دانې دي خلک ۲-عامه پالیسي ۳-بازارموندنه۴-کومکي خدمات۵-کاروباربرخې.داهغه برخه ده چې ددې نه بغير بريښـــنايي تجارت په مخ نه شـــي تللی لکه خلک: ټول هغه افراد چې بريښنايی تجارت کې برخه اخلي په کې شامل وي لکه خرڅوونکي اخيستونکي او منځګړي، معلوماتي تکنالوژۍ.متخصيصين کارمندان، او داسې نور ددې سټرکچر نه بغير تجارت مخ ته نشـي تللې. ۲-عامه پاليسـي ټولې هغه پاليسـۍ ګانې او قواعد چې دحکومت لخوا دتخنيکي معيارونو په خاطر وضـــع کيږي. ۳-بازارموندنه اواعلانات: دنورو کاروبارونو په شـــان بريښـنايي تجارت هم بازارموندنې ته ضـرورت لري چې ترټولو زيات B2Cترمينځ تجارت کې مهم رول لوبوي. داځکه چې ذکر شـوی کاروبار کې اخيسـتونکي او خرڅونکي يو بل نه پيژني ۴-کومکي خدمات: بريښـــنايی تجارت هم بيدون دکومکي خدماتو ځخه نه شـــي کولای خپل فعاليتونه په مخ يوسي لکه دمشتري ځخه دپيسو يا رقم انتقال ، يا هم دمشتري له لوري اخيستل شوي جنس انتقال ټاکلې ځای ته ۵-کاروبار برخېbusiness partnershipبريښنايی تجارت هم دنورو بزنسـونو په شـان برخې لري چې دابرخې يي عرضـې ځنځير په اسـاس څرګندولی شو لکه ديوې کمپنۍ ارتباط دخپلو عرضه کوونکو اومستهلکينو او نورو سره . دبريښـــنايی تجارت ځانګړي خواص: داهغه خواص دي چې بريښـــنايي تجارت يې لري خو عنعنوي تجارت يي نه لري که لري يي هم ډير کم دي ۱-ubiquityپه هرځای کې موجود: داهغه شـــان تجارت دي چې په هرځای کې موجود وي لکه په کورکې په موټر کې يا بل هرځای کې وي ســـتا موجوديت ته په بريښـــنايي تجارت کې ضـــرورت نشـــته. لکه فزيکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجارت ۲-global reachنړیوال لاس رسـی : بریښـنایی تجارت دیو هیواد لپاره نه وي جوړشـوی بلکې برعکس فزیکي تجارت دیوهیواد لپاره جوړشـوي وي او بریښـنایی تجارت دنړۍ لپاره جوړشوی دی۳-universal standardنړیوال معیارونه: بریښنایي تجارت چې خرڅول کیږي ټول دنړیوال معیار مطابق وي بلکې په فزیکي تجارت دمشـخصـي منطقي دمعیار مطابق وي.۴-richnessکافي اندازه معلومات: معلومات په فزیکي تجارت کې هم ورکول کیږي مگر په بریښـنایی تجارت کې ډیر زیات ورکول کیږي دتولیداتو اوخدماتو په اړوند چې مشـتري یې توقع هم نه لري. لکه فزیکي سـټور ته ورشـه یو مبایل واخله دومره معلومات نه ورکوي بلکې یوه انلاین سټور ته لاړشـه په ویب سایټ کې معلومات پراته وي ،۵-دوه اړخیزه معلوماتو تبادلهinteractivity:دتولیداتو او خدماتو داسـتعمال په اړوند دکافي اندازه معلومات ورکوي لکه یو دوکان ته ځي کمپیوټر ترې اخلي خو هغه ته وایی داسـتعمال چل یې یې راوښـایه هغه درته وایي زه پرې خپله دومره نه پوهیږم بلکې په بریښـنایی تجارت کې معلومات پراته وي که هغه په یوټوب کې ویډیو وي اوکه دویب سـایټ له لارې وي. ۶-density of informationدمعلوماتو جمعوارې یا تراکم: بریښـنایي تجارت: کې دخپل کاروبار او مشتریانو دذوق مطابق پراخه معلومات جمعوارې کیږي او داسانه وي خو په عنعنوي تجارت کې دمشـتریانو او کاروبار دذوق اړوند معلومات نه وي او که وي هم ډیروخت یا ډیرزیات وخت او مصـارفو ته ضـرورت لري او سـخت وي. ۷-دمعلوماتو پټ سـاتنهpersonalizationپه بریښـنایی تجارت کې دمشـتریانو دخریدارۍ په اړوند هرډول معلومات مخفي ساتل کیږي، برعکس په عنعنوي تجارت کې دغه سهولت شته دی. دتولید او خدماتو په خصـوصـیاتو کې دخپلې خوښـې تغییر راوسـتل دي ته customizationویل کیږي. په بریښـنایی تجارت کې مشـتریان کولای شـویدخپل ذوق په اسـاس تغییر راولې برعکس په عنعنوي کې دغه کړنې امکان نه لري او یا هم کمي وي. Business model: دکاروبار دهرې برخې په باره کې تفصـیلي معلوماتو وړاندې کولو ته بزنس پلان وایی. دکاروبار په هرې برخې په باره کې تفصـیلي معلومات وجود لري بلکې په لیکل شـوي ډول وي. بزنس موډل :دهغه تفصیلي پلان څخه دی چې دکاروبار دهرې برخې په اړوند تفصیلي معلومات ارایه کوي یا په کې به ارایه شـوي وي . بزنس موډل نسـبت بزنیس پلان ته پراخه وي ؟یا بزنس موډل عبارت دهغه پلان څخه دی چې په دې کې دکاروبار فعالیتونه په ښـه شکل ترسره کولو په موخه دتمویل منابع، انتخاب شوي مشتریان او دکاروبار دنورو برخو په اړوند معلومات وي . بزنیس موډل : اته عناصر لري

1-value preposition2-revenue model3-market oppourtunity4-competitive environement5-competative advantage6-market strategy7-organizational developement8-management team.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-دارزښـــت دوړاندې کولو موډل : دارزښـــت باره کې معلومات وړاندې کول يو کاروبار دتوليد دلارې کوم ارزښـــت مشـــتر يانو ته وړاندې کوي ۲-دعايد موډل په دې برخه کې دامعلومات ارايه کوي چې زمونږ کاروبار دکومې لارې عوايد لاســـته راوړي . عمومي انلاين بزنيسونه د۵ لارو عوايد لاسته راوړي ۱-داعلاناتو موډل۲-سبسکريپشن موډل ۳-ټرانزکشنل في موډل۴سيلس موډل۵-افيليټ موډل.۱-داعلاناتو له طريقې دعايد لاسته راوړل: هغه بريښـنايي تجارتونه چې زيات شـهرت لري دنوروبريښـنايي تجارتونو اعلانات په خپل ويب سايټ کې ځاي په ځای کوي او په مقابل کې ټاکلې فيس ترې اخلي لکه yahooدمختلفو کاروبارونو تجارتي اعلانات په خپل ويب ســـايټ کې ځای په ځای کوي او په مقابل کې ټاکلې فيس ترې اخلي ۲-دبرخې ورکونې يا برخې اخيســـتنې په اســـاس عوايد لاســـته راوړل(سبسکريفشن): زياتره انلاين بزنيسونه دخدماتو داستعمال په مقابل (دبرخې اخيستنې ) مياشتنې ټاکلی فيس اخلي چې مشتري کولای شي دذکرشوي کاروبار عناوينو څخه استفاده وکړي.دانلاين خريداری پروســـه: ۱-دقيمت تګلاره:۱-ثابت قيمتونه ۲-متغيير قيمتونه۳-بولي کوونکي قيمتونه ۴-دمقايسو په اساس قيمتونه۲-داقلامو انتخاب په کارت يا bagکې اچول۳-داقلامو چيک کول۴-دانتقال دطريقې انتخاب:۱-دفاصـــلې په اســـاس انتخاب۲-دوخت په اســـاس.۵-دتاديې دطريقې انتخاب :۱-فوســـټ تاديه۲-فري تاديه. ۶-فرمايش يا ارډر په ځای کول.ډيبيټ کارډ : عبارت له هغه کارډ څخه دی چې بانک يې مشـــتري ته دخپلو پيســـو په مقابل کې ورکوی چې ځانګړی ليميټ ورته ټاکي چې دهغې څخه پورته معاملاتو په مقابل کې ورڅخه chargesاخلي او دازمونږ خپله شـــتمني ده ***ماســـټر ويزا: يوه نښـــه ده چې ډيبيټ کارډ يا هم په کريډيټ کارډ باندې ديوبانک لخوا لګول کيږي چې ترڅو په هرځای کې وکولای شـي چې معاملات ترسره کړي خوداصـرف تاجرته ورکول کيږي.دبرخې اخيسـتنې په اســـاس عوايد لاســـته راوړل :زياتره انلاين کاروبارونه دخدماتو داســـتعمال په مقابل کې دبرخې اخيستنې يا سبسکريفشن په اسس مياشتنی ټاکلی فيس اخلي چې مشتري کولای شي چې ذکر شـــوي کاروبار عناوينو څخه اســـتفاده وکړي عناوينو هغه څه چې ويب ســـايټ کې موجودوي .رقابتي مزيت يابهتروالی: هرهغه څه چې کاروبار يی دخپل رقابت کوونکو څخه په ښه شکل ترسره کوي که هغه دقيمت سره تعلق ساتي يا دکواليټي سره تعلق ساتي او يا هم دمصـارفو سره تعلق ساتي . دبازار ستراتيژی :په دې معنا چې کاروبار دکومې ستراتيژيی په وســـيله مشـــتريان تشـــويقوي چې ددوی اجناس او خدمات واخلي org development: دســـازمان پرمختګ په دې برخه کې داليکل کيږي چې ســـازمان کارمندان په کوم قســـم دپرمختګ طريقه برابروي يا ســـازمان کارمندانو ته ټريننګونه ورکوي او که نه ترڅو تاســـي کـارکوونکو تـه عمومي معلومـات راکړي او تحقيقي معلومـات هم.دانټرنيټ داســـتعمـال پـه کاروبار کې ۱-رقابتي تحقيق لپاره ۲-مشـــتريانو ذوق معلوم کړي۳-اخيســـتل او خرڅول۴-دګټې په خاطر۴-داشتهاراتو په خاطر۵-دمشتريانو ته دسهولتونو برابرولو په خاطر. تجارتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاملو دعوايد و موډل: ځيني كاروبارونه دتجارتي معاملو دترســـره كولو له طريقه خپل عوايد لاس ته راوړي. ياپه بل عبارت له هغه موډل ځخه دي چې دافرادو دكاروبارونو ځخه دتجارتي معاملاتو دترسره كيدو په مقابل كې عوايد لاسته راوړي. مثلا Ebay.comاو داسې نور. ټاكلي فيس: دخرڅلاو عايداتي موډل : دغه موډلونه كې كمپنۍ په مشــتري باندې دتوكو او يا خدماتو ياهم معلوماتو دخرڅلاو له لارې عوايد لاس ته راوړي لكه amazon.com. دبازار فرصــت: په دې برخه كې دكاروبار دماركيټ په موجوده او راتلونكي فرصــتونو په اړه تفصيلي معلومات وړاندې كوي. چې ايا كاروبار په ماركيټ كې اوس كوم فرصتونه لري او په راتلونكي كې دكومو فرصــتونو ځخه اســتفاده كولاى شـــي . رقابتي محيط يا بازار:: عبارت له هغه بازار ځخه دى چې ډير شـــمير كاروبارونه يو شـــان توليدات يا صــــنعت مشـتريانو ته وړاندې كوي . دمثال په ډول دبريښـنايي وسـايلو رقابتي بازار چې په دې برخه كې دكاروربا ر په اړوند معلومات ارايه كول دي چې ايا زمونږ كاروبار په رقابتي بازار كې خرڅلاو يا فعاليت كوي او كه په غيرېرقابتي بازار كې خرڅلاو يا فعاليت كوي. مديريتي ټيم : كـاروبـار لوړپوړي مـديران، منځ پوړي مـديران، او ټيـټ پوړي مـديران دي كوم ډول ځانګړنې ولري چې كاروبار بايد په ښه شكل مخ ته لاړشي. يو ښه مديريتي ټيم : بايد لاندې خصـــوصـــيات ولري:۱-دكاروبار لپاره يوه ښـــه كاروباري موډل وركړي او په هغه كې كاروكړي۲-دخارجي سرمايه ګذارانو توجه جذب كړي ترڅو زمونږ په كاروبار كې سرمايه ګذارې وكړي۳-دماركيټ په اړه خاصــــه پوهه ولري ۴-دكاروباري پلان په عملي كولو كې تجربه ولري .دانټرنيټ تاريخچه : انټرنيټ په ۱۹۵۰ م كال كې دكمپيوټر دپيدايښت سره سم منځ ته راوړل شـــو او په ۱۹۶۰ م كال كې دامريكا دفاع وزارت كې ترې دلمړي ځل لپاره اســتفاده وشــوه او په ۱۹۸۰ م كا ل پورې انټرنيټ په شــخصـــي توګه نه اســتعماليده او په ۱۹۹۵ م كال كې دانټرنيټ ځخه په شخصي توګه استفاده وشو ه .دانتقال دطريقې انتخاب ۱-دفاصــلي په اســاس۲-دوخت په اســاس.صــنعت په مجموع كې په ۵ ډوله دى۱-اســتخراجي صنعت۲-نسلي صنعت۳-primaryصنعت ۴-توليدي صنعت۵-ساختماني صنعت. تجارت په دوه ډوله دى۱-ټريډ trade۲-ايډ ټو ټريډaid to trade . ټريډ په دوه ډوله دى ۱-خارجي تجارت په دوه ډوله دى صـادرات ۲ واردات۲-داخلي ټريډ او داخلي په دوه ډوله دى ۱-عمده فروشـــي۲-پرچون فروشـــي.aid to tradeايډ ټو ټريډ: بانكونه بيمه ترانســپورټ . عملياتي مصـارف : هغه مصـارف دي چې بيدون دكاروبار يې په روزمره ډول ترسـره كوو . web portal: عبارت له هغه كاروبار ځخه دى چې دمركزي كاروبار ځخه اموال او خدمات دپورټل كاروبار په وسيله مشتري يا مستهلک ته انتقاليږي. لكه په دوبۍ كې يو جنس كمپنۍ شتون ولري او دهغې اجناس په افغانستان كې په نماينده ګۍ كې خرڅيږي. برقي يا بريښنايي تاديې سيستم : هغه سيستم ته ويل كيږي چې كاغذ په مخ تجارتي معاملات نه ترسره كيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اودا مصارف او کارونه کموي.۱-کاغذي کار۲-معاملاتومصارف۳-مزد مصرف یا دکارمند انو مصارف.

Mode of electronic payments۱-کریډیټ کارډ۲-ډیبیټ کارډ۳-سمارټ کارډ۴-بریښنایی پیسې۵-بریښنايي توګه دفنډونو انتقال. بریښنایی توګه دپیسو یا فنډونو انتقال EFTپه وسیله مونږ دیو اکونټ معلوماتو په اساس پیسې بل اکونټ ته انتقالوو .

Business model: these elements are the business model which are successful:1-value proposition2-revenue model3-market opportunity4-competative environment5-competative advantage6-market strategy7-organizational developement8-management team. Revenue model are: advertising model2-subscription3-transaction4-sales models5-affialiate model.

دبریښنايي تجارت ګټې

په اسانۍ سره داجناسو او خدماتو انتخاب او اخستل۲-په هفته کې اووه ورځې او ۲۴ساعته خدمات۳-عملیاتي مصارفو کموالی او هم بهتره تولیدات۴-په اسانۍ سره کاروبارشروع کول او ختمول۵-فزیکي توګه جوړښت ته ضرورت نه لري ۶-مستهلکین په اسانۍ سره کولای شي چې تولیدات انتخاب کړي بیدون له فزیکي توګه ورتلو څخه.

دبریښنايي تجارت تاوانونه

دتولید دکوالیټۍ ضمانت نه شته دی ۲-انټرنیټ هیکرانو ته موقع وي ۳-انټرنیټ سهوولت موجودوي او تعلیم سطحه باید وي۴-انټرنیټ ساحه یاکوریج باید موجود وي ۵-مسکي کسان پکاردي ، بریښنايي تجارت سره نور تجارتونه هم نښتي وي.

دمستهلک لپاره يې زیانونه:

دتولید راتلو پورې باید یو څه انتظار وکړې۲-ګرنټي نشتون دتولید دکیفیت۳-دمستهلک شخصي معلومات کیدای شي هک شي او خپاره به شي۴-تادیه کیدای شي غلطه وشي یا استعمال شي۵-نامتوقع او پټ مصارف.

دبزنس مین لپاره ګټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپلان مطابق جوړ/اغیزمن او جوړښتیز۲-۲۴ساعته خرڅلاو۳-مستقیما غبرګون یا فیډبک۴-معامله په اسانی سره معلومیږي یعني ټریک کیږي۵-نوي شراکت کوونکي او عرضه کوونکي۶-دمارکیټ پراخه کیدل۷-عملیاتي مصارف ۸-دتولید مصرف کټه

دبزنیس مین لپاره یې زیانونه

ویب سایټ کیدای شي هک شي۲-موده په موده دسافټویر او سیستم اپډیټ کول۳-دتغیر یا چینج کولو لپاره ډیر مصارف غواړي۴-دقانوني څارنې(تولید)کموالی.

دمستهلک لپاره یې ګټې

۲۴ ساعته دلاس رسي وړده۲-بوکینګ ډیریکټلي +اتومیټیک بیلس۳-دتولید بیا کتنه په اسانی سره پیدا یا کیږي۴-په اسانی سره مقایسه یا پرتله کولای شي.۵-زیات وخت نه نیسي.

.

# عامه بودجه

بودجه : دهغه مالي سند څخه عبارت ده چې څرنګه دمنابع حصول او په یو ځانګړې زماني دوره کې ددغو منابعو څخه استفاده واضح کړي دکلاسیکو تعریف له مخې بودجه دهغه سند څخه عبارت ده چې ددولت عواید او مصارف عموما دیوکال لپاره پیشبیني او تصویبوي. سیاسي تعریف : بودجه دهغه لایحې څخه عبارت ده چې دیو هیواد ټول عواید اومصارف دیوې مالي دورې عموما دیوکال لپاره پیش بیني ا وپارلمان څخه تصویبیږي.افغانستان بودجه دهغه قانوني سند څخه عبارت چې ددولت ټول عواید او مصارف دیوځانګړي وخت لپاره تعینوي چې دټولو سیاسي اقتصادي اجتماعي دفاعي فرهنګي انکشافاتواو فعالیتونو انعکاس کوونکې وي-مدیریتي تعریف: بودجه هغه سند څخه عبارت ده چې دمالي منابعو څخه ګټورتوب او دانساني کړنې داهدافو دتحقق اوسیاستونو په ایجاد سره همغږي کوي بودجه په درې ډوله ده ۱-متوازنه۲-کسري۳-مازاد.دمالي او اقتصادي نقطې له نظره تعریف:بودجه یوه مالي طرحه ده چې په کامل ډول د دولت پولي ضروریات مخکې له وخت دضرورت وړعواید او مصارف دمحدود وخت لپاره تعیین او پیشبیني کوي. دهغې مالي طرحې څخه عبارت ده چې په مختصرډول دعملیاتي کنټرول لپاره جوړیږي، دعوایدو او مصارفو تخمیین کوي دحکومتونو لپاره داسې کړنلاره چې دامکاناتو رهبري انساني مادي او نورو منابعو څخه حداکثر استفاده واضح کوي. دیومناسب بودجوي تعریف متشکله اجزا عبارت دي له

(c) ketabton.com: The Digital Library

:۱-دعوایدو او نورو تـامین اعتبـار منـابعو پیشـــبیني۲-دځـانګړو اهدافو او عملیـاتو لپـاره دمصـــارفو سـنجش او براورد۳-ځانګړی او محدود وخت. یا اقتصــادي یا ملې بودجه له هغې بودجې څخه بودجې څخه عبارت ده چې دهیواد ټول اقتصادي فعالیتونه دمالي نقطې له نظره منعکس کړي . دبودجې دخصـوصـي او عامې ځانګه توپیرونه:خصـوصـي : ۱-خصـوصـي وي۲-انحصـــاري وی۳-زیات نه وي.درهبرې نوعیت کې توپیر. عامه ځانګه ------۱-دګټې لاســته راوړنې انګیزه۲-تولیداتي او خدماتي انحصـــار۳-دفعالیتونو په اړه حســاســیتونه۴-دسیاسـت عامل۵-دټولو قانوني فعالیتونه۶-خدماتو اومحصـولاتو بازاري قیمت . عامه ځانګه تعریف: هغو افرادو او ســـازمانونو څخه عبارت ده چې دټولنې اکثریت منابع په نظر کې نیسي او غواړې چې عامه رضایت او انکشاف لاسته راوړي . خصوصي ځانګه: افراد ډلې او تجارتي واحدونه شاملیږي او بازار کې دخرید اومصـرف له پلوه تولیدونکي موجود وي. دخصـوصـي چارو اداري تعریف : دخصـوصـي سـازمان پالیسـي او سیاستونو داجرا لپاره فردي او عمومي کوښـښـونه سـره همغږي کوي او دعامه چارو اداري تعریف دهغو افرادو ډلو او سازمانونو څخه عبارت دي چې دټولنې اکثریت منابع په نظرکې نیسي او غواړې چې دعامه رضایت او انکشاف ترلاسه کړي. ددولت دسیاستونو داجراپه خاطر فردي او اجتماعي فعالیتونه سـره هماهنګ کوي.دبودجې اهمیت : دهیواد سـیاسـي اقتصـادي اجتماعي او اداري پرمختګ کې له بودجې کاراخیسـتل کیږي۲-بودجه دهیواد په لویو اقتصــادي متغییراتو باندې اغیز لري ۳-اقتصادي او سیاسي اهداف لاسته راوړي ۴-دولتونه دبودجې له لارې دموجوده منابعو څخه ترحد اکثر او مطلوب سرحده استفاده کوي اواړتیاوي په سالم ډول لاسته راوړي نوځکه له دولت بودجه زیات اهمیت لري۱-۵-بودجه دهیواد دسـیاسـتونو اجرایوي لارښـود دی ۲-بودجه ددولتونو لپاره داجراتو حدټاکي ۳-بودجه دیو ملت اقتصـــادي ژوند پلان ګذاري کوي. دبودجې اهمیت دادی چې ددولت بودجه دامکاناتو ســـنجش او داهدافو تطبیق واضـــح کوي او دټولنې رضـــایت اخری هدف دی. دمالي او اقتصـــــادي له نظره دبودجې تعریف: بودجه یوه مالي طرحه ده چې دضرورت وړ عواید او مصارف دمحدود وخت لپاره پیشبیني کوي او تعینوي. دسیاسـي له نظره دبودجې تعریف: بودجه دهغه لایحې څخه عبارت ده چې دیوهیواد ټول عوایـد او مصـــــارف معمولا دیوکـال لپـاره پیشـــبیني اوپـارلمـان څخـه تصـویبیږي.دبودجې دتعریف متشـرک نقاط: بودجه یو کاري او مالي پلان دی ۲-دضـرورت وړعواید او مصـارفو پیشـبیني۳-هغه سـند دی چې دمقننه قوه یې تصـویبوي۴-دبودجې وخت محدود دی۵-هیڅ یو دولت نشــي کولای چې بغیر دبودجې حاکمیت ترســره کړي.ددولتي او اقتصـادي(ملي) بودجې ترمنځ توپیر بودجه له ملي اقتصـاد سره څرنګه ارتباط لري-دبودجې حجم او تاثیرات یو له بله سره مستقیم ارتباط لري نوځکه خو باید اقتصادي شرایط او دولت دبودجې ترمنځ لازمـه همغږي وجود ولري-ملي بودجـه دهغې بودجې څخـه عبـارت ده چې دهیواد ټول اقتصـــــادي فعالیتونه دمالي نقطې له نظره منعکســـوي ملي بودجه څلوربرخې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري۱-مســتهلک۲-تصــدی۳-خارجي تجارت۴-دولت....ددولتي او اقتصــادي (ملي)بودجي ترمنځ توپير-ملي بودجې ترتيب اقتصادي سياست له مخې صورت نيسی-په اشتراکي نظام کې ملي بودجه دحکومت دتصــاميمو تابع ده-ازاد بازارنظام کې ملي بودجه دخصــوصــي موســساتو او اشــخاصــو تابع کيږي او دولت بودجه دقانوني مکلفيت درلودونکی ده-او ملي بودجه دملي اقتصــادعوايد او مصــارف په برکې نيســي –دبودجې دندې دبودجې اســاســي وظايف: ۱-ددولت دفعاليتونو داســي ترتيب چې دحکومت دپلان شــويو تدابيرو انتخاب او تطبيق ممکن کړي۲-دعمومي رفاه تامين۳-ددولت داقتصــادي فعاليتونو او خصــوصــي اقتصــادي فعاليتونو ارتباط=دبودجې طبقه بندي اودعوايدو طبقه بندي ۲ســازماني طبقه بندي او عملياتي طبقه بندي۳-اقتصــادي طبقه بندي اودبودجې دکســر طبقه بندي . دبودجې پلان جوړونه : دولت خپل فعاليتونه دارنګه ترتيب او رهبري کړي چې دولت په يو ه معينه دوره کې درفاه او انکشــاف په تامين کې پوره ونډه واخلي G.colmوايي دبودجې پلان جوړونه دولت اقتصــاد ته دمرکزي اعصــابو په څير اهميت لري . دمصــارفو تعريف: دهغو مبالغو څخه عبارت دی چې ددولت داقتصادي ، سياسي ، اجتماعي اهدافو داجرا او لاسته راوړنې په موخه ددولت په بودجه کې په تصويب رسيږي . دمصارفو طبقه بندي اهداف ددې امکان پيداکوي چې دبودجې په اجراتو باندې کنترول اســانه کړي۲-مديرانو ســره کومک وکړي ترڅو داداراتو لپاره مناسب وسايل او خدمات سنجش کړي۳-که مصــارف په يوه ماده کې امکان پذيره نه وي دعنوان په څير يې بايد ذکر کړو۴-ددولت انتقالي تاديات ۵-عادي مصــارف۶-انکشــافي مصــارف:۷-دمناســبو اقتصــادي ســياســتونو ترتيب او تدوين اســانه کوي.دعوايد تعريف: ټول حصول شوي او غيري حصول شوي مالي منابع چې په يوه معينه دوره کې ددارييو زياتوالي باعث ګرځي عبارت له عوايدو څخه ده.مالي پلان جوړونه دمخکېني پيشبيني او دڅوکالونو لپاره دعوايدو او مصارفو پيشبيني ده ۲-دحکومت دمتوسط المدت او طويل المدت مالي ســياســت لپاره بنســټ جوړوي۳-ديوه هيواد دپروګرامونو مالي نتايج څرګندوی . مالي پلان بايد تغيير منونکې وي .ب: يو فعاليت په دوامداره توګه د رهبرې کنترول او مساوات ورکولو امکانات ولری سي: پلان جوړونه اوتحليل يو له بل سره نسبت ولري. دمالي پلان جوړونې مفهوم : دمالي پلان او کلنې بودجې بهتره توافق لپاره بايد چې لاندې موضوعات شامل وي۱-دوضعيت تحليل او پيژندنه۲-ددولت دمالي اقتصاد موجود وی۳-مالي پلان کې بايد چې داقتصــادي او ســياســي اهدافو په اړه توضــيحات او لمړيتوب معلوم وي۴-اقتصــادي انکشــاف او بې اطميناني عوامل څرګندوي۵-دپلان جوړونې او دمالي وسايلو پلان معلوم وي۶-ضروري تشريحات، انحرافات ، اصلاحات واضح وي. او نتايج موجود کړای شي دمالي پلان جوړونې تعريف: يوه کلنه بودجه دمالي سياست دداسې تدابيرو په واســطه چې څو کلونه په برکې ونيســي. دمالي پلان جوړونې ضــرورت : مالي پلان جوړونې ته ديو کلنې بودجې دکموالي له امله ضرورت پيداکيږي۲-دحکومت دسياست په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلي او انتقادي قضاوت ۳-په عمومي او انفرادي اقتصاد باندې دبودجې اغيز تخمين يو کال کې امکان پذيره نه دی ولې چې دعوايدو او مصارف څو کلونو پورې تړل کيږي۴-داوږدمهاله پلانونو لپاره دمحدود مالي وسايلو معقول په کاراچول ۵-درشد سياست : توزيع سياست، او اجتماعي سياست په يو کال کې امکان نلري چې يو کال کې لاسته راوړل شي۶-ددې ستونزو دحل لپاره بايد ملي پلان جوړونه صورت ونيسي . دبودجې اصول ۱-اجتماعي علو م دطبيعي علومو په څير قاطع نه وي خو بيا هم دبودجې اصولو رعايت په اجتماعي کړنو کې دنظم باعث ګرځي-دعوايدو او مصارفو کنترول لپاره لارښوونه کوي-داقتصادي سياسي او اجتماعي اهدافو دلاسته راوړنې لپاره مهم دي دپلان دمعقولې طرحې دتطبيق دپاره داصول مهم دي.دبودجې جوړونې پيدايښت!!!مالي علم ددولت دمصارفو او عوايدو څخه بحث کوی يا په بله مانا مالي علم ددولت داقتصادي سياستونو لاسته راوړنې دنده په غاړه لري نو ځکه دمختلفو عوايدو وصولي او دمصارفو څرانګوالي تاثيرات په اقتصاد جامعه او هيواد کې ترڅيړنې لاندې نيسي. مالي علم ديو هيواد اقتصادي وظايفو پورې تعلق لري ځکه نو څومره چې اقتصادي دندې ډيرې وي هماغه اندازه دمالي علم اهميت هم زيات وي او برعکس حالات هم دمطالعې وړدي په کلاسيکه دوره کې ددولت دندې يوازې په دفاع ، نظم عدالت اجرا باندې استواره وي په ټولنه کې دسياسي اواقتصادي ايجاد سره دولت دندې له دې محدودې دايري څخه ووتلې اوزياتې اقتصادي سياسي دندې يې په غاړه اخيستي دنويو دندو اخستنی سره دولت مکلف دی چې دټولنې ، اجتماعي ، سياسي ، او اقتصادي اهدافو لاسته راوړنې په موخه پلان جوړونې ترتيب وکړي او دغې پلان جوړونې متقابل تاثيرات ترڅيړنې او بحث لاندې ونيسي . دمتنوع اهدافو لاسته راوړنې په موخه دپلان جوړونې لزوم دبودجې جوړونې فن سبب وګرّځيد. اوس بودجه دعمومي اقتصادي سياستونو وسايلو دتعين څخه شميرل کيږي او بودجه جوړونه نوي تخصص دی او اړتيا بريښي چې په دې اړوند زيات انکشافات او پرمختګ صورت ونيسي خو نن ورځ بودجه دصحيح مديريت له غوره وسايلو څخه شميرل کيږي. دبودجې دتکامل پړاوو:په ملوک الطوايفي حکومتونو کې دعوايدو او مصارفو ترتيب او ابلاغ مستوفيانو په واسطه کيده چې دمصارفو او عوايدو زياتوالی او کموالی دوخت دپادشاه مصارفو پورې تړاوو درلود نو ّځکه په دې وخت کې دبودجې ترتيب کوم لازمې امر نه وو او دحسب ضرورت له مخې طرحه او اجراکيده . کله چې پادشاه غوښتنې زياتيدلې نو له دې سره سم په مصارفو مالياتو کې زياتوالی محسوسيده چې دغې کړنې خلک مجبور کړل څو دنظام اړوند لازم تصميم ونيسي دمالياتو زياتوالې سره ښارې خلک په دې فکر کې وه چې څنګه کولای شو دوخت حاکم نظام په مصارفو باندې نظارت وکړي دنظارت موضوع زيات سياسي کشمکشونه وليدل او بلاخره دزياتو جنجالونو څخه وروسته دلمړي ځل لپاره دمالياتو په وضعه کولو باندې دنظارت مجلس تشکيل شو. دنظارت او مالياتووضعه کولو وروسته پارلمان ځانګړی اهميت پيداکړ دعوايدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیســـتنې او مصـــــارفو خرڅ ترڅنګ يې نظارت ددې مجلس مهم وظايف وګڼل شــــو ددې وظايفو صـــــحيح اجرا او انجام يوي دقيقي پلان ګذاري ايجاب وکړ چې دپلان ګذارۍ همدغه مجموعه يې دبودجې په نوم سره ياده کړه.دبودجې اړوند بايد زياته کړو چې دبودجې شروع او اجرا د۱۲۱۵م کـال حکومتونو پورې مشـــــروط او تړل کيږي او پـه دولتي اداراتو کې دمصـــارفو پلان تصـــويب د۱۷۳۳ کال دانګلســتان په هيواد کې پيل شــو او دلمړي ځل لپاره دانګلســـتان پارلمان څرګنده کړه چې دپارلمان نه يوازې ماليات تصــــويبوي بلکې دولت په مصارفو او عوايدو باندې اظهارنظر هم کولای شي.۱۲۱۵م کال کې دانګلستان پادشاه فرمان صـــادر کړ چې دمالياتو تصـــويب بايد دپارلمان لخوا صـــورت ونيســـي چې دغه امر يوازې دبودجې دعوايدو دبخش يا ځانګې پورې تړاوو درلود او ترډيره وخته په ټولنه کې دا فکر موجود وه چې پارلمان يوازې د مالياتو دتصـــــويب حق لري او پارلمان نه شــــي کولای چې ددولت په مصــــــارفوباندې نظارت وکړي. نو له دې امله ددولت او پارلمان ترمنځ دمالياتو تصــويب ۱۶۲۶ کال پورې پادشــاه امر يا فرمان يو جنجالي امر پاتې شــو چې په نتيجه کې دپارلمان دحقوقو لايحه .(bills of rights) تصويب او دايې په کې واضح کړه چې پارلمان ددولت دمصارفو لپاره عوايدو تصويب او په مصارفو باندې دنظارت حق لري. له ۱۳۴۴ م کال څخه وروسـته دانګلسـتان پارلمان کې په مصـــارفو او عوايدو باندې دنظارت موضـوع تربحث لاندې ونيولـه او اړونده يې دزيـات اوږد بحث څخـه وروســـــتـه دلمړي ځل لپـاره داموضـــوع تصـــــويب او نهايي کړه. په تاريخي لحاظ ددولتونو لپاره په بودجه جوړونه کې دتوجو وړموضـــــوع دواقعي عوايدو تعيين دی ځکه چې د واقعي عوايدو تعين دبودجې په ترتيب کې لومړنی قدم شميرل کيږي. نو ځکه په تاريخي حافظه کې دبودجې ( domesday book) ډامســـډای په نوم کتاب چې دانګلســتان هيواد زراعتي ځمکو اړونده معلومات په کې درج شــوي وو وجودلري په کتاب کې درج شــو يو حوالو له مخې پادشـــاه کولای شــو چې دخراج او باج وصـــول لپاره له ځانه دســـتوراوقانون وضـــع کړي چې دغه احکام په مطلق مورثي نظام کې وجود درلود.خو په ديارلســـم قرن او نرمانانو حکومت په دوران کې دمالي تنظيم او مديريت لپاره هلې ځلې پيل شوي چې بلاخره په ۱۲۱۵ م کال کې دحکومت مشران بادشاه دسنګينو مالياتو څخه په تنګ راغلي وو دهمدې وجې دحکومت مشران او عوام يو له بل سره متحد او دانګلستان بادشاه څخه يې غوښتنه وکړه چې دمالياتو تعيين او تسهيم اړوند تصـميم ته په حقوقي امتياز قايل شـي. او دغه حقوق يې په يو لوی منشور يا ازادۍ منشـور کې سـره ترتيب کړې وه ،چې دبادشـاه په امضـا ورسيد او په دغه منشـور کې راغلي وه چې په يو هيواد کې هيڅ ډول ماليات دهيواد شورا له اجازه پرته نه شي وضعه کيدای چې بلاخره ددې هڅو په نتيجه کې دانګلسـتان خلک په دې وتوانيدل چې دمنشـور څخه په ګټې اخيسـتنې دمالياتو په وضـــع کولو او په مصـــارفو باندې دنظارت حق ترلاســـه کړي. په ســـازماني او حقوقي اداراتو کې عمومي بودجې اهميت ته په کتو ســـــره دبودجې اجرا پيشـــــنهاد او دتهيې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضـوع اداري او مالي ســازمانونه کاملا نوي وه ځکه دبودجې شـروع او اهميت دتاريخي سـازمانو او مبارزارتو او کوښښونو پورې اړه لري او دانګلستان له هيواد څخه بيا تر نورو هيوادو پورې دمالياتو وضع کولو حق دعمومي مصارفو تصويب او خلکو ته دنظارت واک ورکول په تاريخي حافظه کې اوږده سـابقه لري. دمشـروط حکومتونو ايجاد سـره دعمومي نظارت لپاره دمهمو مقرارتو رامنځ ته کيدل ددې باعث وګرځيدل چې دبودجې اهميت لاپسې زيات کړي. په ۱۲۱۵ کال کې دمالياتو او محصـولاتو دتصـويب حق بادشـاه لخوا نه پارلمان ته وسپارل شـو ولې تر ۱۶۱۶ م کال پورې دغې موضـوع داوږد سياسـي کشمکش له امله عملا داحق اجرانشـو ولې دحقوقو دلايحې دتصـويب څخه وروسـته حکومتونو داحق حاصـل کړ چې دمالياتو وصـول دتل لپاره ځانته تثبيت کړي په مصــارفو باندې دپارلمان نظارت او حکومتونو ته دمصـارفو تصـويب په انګلستان کې ۱۳۴۴م کال څخه وروسـته اغاز شـو ولې دغې موضـوع يوازې نظرياتي اړخ درلود. دانګلستان پارلمان له زياتو هڅو وروسته په دې وتوانيد چې په کلي ډول ددولت دمصـارفو اړوند جامع اطلاعات اوصـورت حسـابونه لاسـته راوړي اوددغې حق دلاسـته راوړنې اصـلي علت ددولت دبودجې کسـر وه چې ددولت يې مجبور کړ ترڅو دکسر مخنيوي په موخه دمالياتو زياتوالی تصويب کړي دغې عمل عموميت پيداکړ او دماليې وزير مکلف وګرځيد چې ددولت دمصارفو اړوند معلومات پارلمان ته ارايه او وړاندې کړي. دحکومت او پارلمان پرلپســـې د اختلاف نظر وروســـته بيا هم دولت دمصارفو او عوايدو پيشبينی ترڅنګ دهغوی مصارفو اړوند حساب په منظم ډول پارلمان ته تســـليم کړي چې له همدې ځايه دبودجې ترتيب اغاز کيږي.د۱۸قرن په اوايلو کې دبودجې دتهيې او جوړولو موضـــوع دانګلســـتان حکومت مجبور کړ چې دمصـــوبې په بودجې په اجراباندې مکلفيت او الزامي وګرځيد. چې دبودجې له تصـويب نه علاوه هغه با صـــلاحيته مقام چې بودجه تصـويبوي دنظارت حق هم لري دې پوښـتنې ته ځواب بيامومي. ايا بودجه چې دڅه لپاره ترتيب شوي اجرا او که حکومت پخپل ذوق او ميل مصرف کړي ده؟ دبودجې اجرا باندې نظارت موضـوع دانګلستان لمړي وزير ګلادستون په وخت کې چې له ۱۸۱۶ م کال سره سمون خوري دنظارت موافقه پارلمان ته پيشنهاد کړه نو په لنډيز سره ويلای شو چې انګلســـتان هغه لمړی هيواد دی چې دبودجې څلورګونې اصـــول يې منلې دي او له دې وروســـته دبودجې کامليت جريان بشـــپړيږي.چې دغه عمل نورو هيوادونو په ډير ســـرعت ســره.....افغانسـتان کې دبودجې سـير. په افغانسـتان کې دسياسـي او اوداري نظام اصـلاح داحمدشـــاه باباله دور څخه پيليږي ، احمدشـــاه بابا څخه پخوا افغانســـتان کوم ادارې نظم نه درلود نو ځکه احمدشـــاه بابا کاملا نوی نظام قايم کړ چې دانظام دايران دصـــفوي او مغولي هند دتشـــکيلاتو او وظـايفو لـه پلوه يو ترکيب وخو پـه خپلـه دافغـاني ټولنې دقبيلوي عرف عناصـــر هم پکې ګډ وه. داحمد شـــاه بابا زياتې نظامي اواداري چارې ديوې شـــورا له خوا رهبري کيدې په اداري چارو کې يې مهم مقام ديوان اعلی (ماليې)اداره وه او احمدشاه بابا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کې دغې ادارې مشـــر تـه ديوان بيگې ويل کيده ديوان اعلی په وظـايفو کې دټولو مسـتقيمو او غير مسـتقيمو ماليا‌تو راټولول،په ټولو دولتي عايداتو او منابعو باندې کنترول او ددولتي ځمکو (خالصّ) اداره،دټولو مصـــارفو حواله خراب دانو او جنســـې موادو ذخيرو او عامو خلکو ته دپورونو څارنه او اجرات يې دوظيفي جز وه. امير عبدالرحمن په خپل کتاب تاج التواريخ کې ليکې : له مخکې دلته منظمې ادارې موجودې نه وې ځينې ادارې په ځينو نورو ورننوتې وې او ديوکس چارې په ځينې وخت کې بل اجرا کړې وې چې همدغې علت دخلکو کارونه اوادارو وظايف ناسـم کړي وه. دنورو ادارو دڅيرنې څخه په انحراف يواځې دلگښـت او عوايدو اړوند موضـوعات چې دبودجې پورې مربوطيږي بحث کوو. زما دهيواد ټول عايدات خزانې ادارې ته راځې او ټول لگښـتونه هم له دغه ځايه ورکول کيږي خزانه په دوه برخو ويشـل شـوي يعنې ټولنيزه (عامه)خزانه او ځانگړې خزانه (خالصــه خزانه) پرما پورې اړه لري هلته يواځې زما عايدات لکه دملکانو ، سـوداگرو، او نورو څخه راغونديږي او يواځې دخپلو ځانگړو مصارفو پيسې له خاصې خزانې څخه اخلم. دواړه خزانې بياپه دوو برخو ويشـل شـوي دي نقدي خزانه او جنسـي خزانه او داټولې خزانې په ارگ کې له ارگه دباندې هيوداني دفترونه عام دفترونه دي نژدې دافغانستان په ټولو ښارونو او سيمو کې ددې خزانې څانگې پرانيستل شوي دي او دهرکال په پای کې ترحساب وروسته هغه څه چې په دغه خزانو کې پاتې وي کابل ته راليږدول کيږي او که چيرې ولايتي لگښـت دهغه ځايه له عايداتو زيات وي نو دهغه اړتياوو دليرې کولو لپاره کابل څخه نغدې پيسـې وراسـتول کيږي په لنډيز اميرعبدالرحمن خان دهيواد دمالي سـيسـتم جوړښـت لپاره مختلفي ادارې دمسـتوفي المالک تررهبرئ او څارنې لاندې خپل حسـابونه محاسـبه کوي او دهيواد لگښـت او عوايد لپاره په مرکزونو او ولايتوکې منظمې ادارې ايجاد شـــوي وې. لکه څرنگه چې مالي ادارې اوادارې مسايل دنوروسياسي اقتصادي او اجتماعي شرايطو او موادو سره نژدې اړيکې لري نوويلای شو چې دټولنې سيستم کې تحولات په مالي طرز او سيستم باندې اثر پريباسې . په افغانسـتان کې مالي سـيسـتم دحکومتونو له جوړښـت او تشـکيل سـره سـم ايجاد شـوی نو داچې ؔڅه رنگه يې مالي چارې تاريخي حوالو له مخې دغزنويانو حکومت په وخت کې يوه داســـې اداره موجوده وه چې دهغه حکومت عوايد او مصــــارفو دتنظيم وظايف په غاړه وه. داميرشـيرعلي خان په وخت کې هم دولت دعوايد و او مصـارفو اړوند ادارې موجودې وې چې دمســـتوفي الملـک لـه خوا نـه اداره کيدي چې داوس وخـت دمـاليې وزيروظـايف يې وه.د۱۲۱۸ ه شـمسـې کال کې دخپلواکئ داخيسـتنې پورې ددولت حسـابونه دروزنامچې په ډول دســـياق او رقوم احوالو له مخې ترتيبيده ســـياق دطرز او لارې ،او رقوم: داعدادو مجموعي شکل څخه عبارت دي چې له مخې يې ددولت حسابونه وروسته دمالي کال له ختم څخه ترتيب او خلاصه کيږي دوخت حکومتونو اوسنی شکل سره بودجې سيستم نه درلود. په ۱۲۹۹ ه ش کال کې دسياق او رقوم اصول په دفترې اصولو باندې بدل شول چې دفترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصــول له ۵دفترونو څخه ترکیب و ددې اصــولو له مخې دولت باید ټول کلني حســابات په حسابې شکل او اسنادوو سره سم پایتخت ته انتقال کړي دفترې اصولو لکه ۱۳۰۰؟ه ش کال پورې دوام وموند او په ۱۳۰۳ ه ش کال کې دفترې اصــول په شــهریه اصــولو باندې تبدیل شــول. دشــهر یه او دفترداری اصــولو ترمنځ توپیر په دې کې وه چې په دفترې اصــولو کې دولت حسابات په کال کې یوځل ترتیبیده اما په شهریه اصولو کې دولتي حسابونه په میاشت کې ترتیبیږي نو ځکه ویل کیږي چې شـــهریه اصــول دهغه اصـــولو څخه عبارت دي چې دولت حســابونه په میاشــتنی توگه ترتیب او پایتخت ته انتقالوي. په افغانســتان کې دبودجې سیستم او دعوایدو او مصارفو پیشبیني سیستم په ۱۲۹۹ ه ش کال کې پیل دبودجې سیستم په ایجاد سـره دشـاهي خزانې او دولت بودجه بودجې ترمنځ توپیر منځ ته راغلی شـو؟دگډوډیو په کلونو کې د۱۳۰۷-۱۳۰۸دسیاق او رقوم اصولو سره ددولت مالي سیستم حرکت پیل کړ چې دگډوډیو له منځه تګ سـره بیرته دوباره شــهریه اصــول رایج شــول چې تر۱۳۱۴ ه ش کال پورې دغو اصــولو دوام وکړ.په ۱۳۱۵ه ش کال کې ایټالوي عالم موسـیو ژینو مانچولي په مشــوره په بودجوي ســیســتم کې لاندې تغییرات راغلل. ۱-له دې تاریخ نه وروســته دي کوشــش کیږي چې دبودجې ترتیب په علمي شــکل سـره صــورت ونیسـي دعایداتي بودجې او انکشـــافي بودجې ترمنځ دي توپیر رامنځته شـــي. ۲-ددولت مصـــرفي حســـاباتو لپاره باید دمقایسې دفاتر او دتحفیظاتو کنترول او دمصارفو تمرکز لپاره دي دمصارفو دفاتر دنغدي او جنسي راکړي ورکړې لپاره دي انفرادي حسابات طرحه او تطبیق شي. ۳-داسنادو ترتیب : باید اجرایوي ارگانونو ته وســپارل شـــي کنترول او محاســـبه دي محاســبوې دفترونو ته تفویض شي ۴-دبودجې دعواید او مصارفو تخصیصاتو کنترول سیستم دي معرفي او دعمل ساحه کې دي تطبیق شـي ۵-دقطعې حساباتو تطبیق په موخه نقدي او جنسـي حساباتو لازم اسـاسـات طرحه او په عملي ډګر کې دي پلي شـي . څرنګه چې دمانچولي سیسـتم ډیر سـاده اوبســـیط وه نو ځکه له دوو کلونو څخه په کمه موده کې یې عمومیت وموندہ دمانچولي سیستم .داسیستم بیا دموسیو کلمان له خوانه وڅیړل شـو او د ځینې تعدیلاتو وروسته د تاید وړوگرځید .په ۱۳۳۳ه ش کال کې مضــاعفي محاسـبې سـیسـتم دنیازې شـاهي ترکې له خوا پیشنهاد شو چې دغه په کامل ډول تطبیق نشو اوسنی بودجوي سیستم دpasامریکایي موسسې لخوانه طرحه او تطبیق شـو. خو دبودجې تاریخي سـیسـتم هیڅکله جامد او ثابت نشـي پاتې کیدلی بلکې داقتصـــادي ، ســیاســـي ، او اجتماعي تحولاتو ســـره ســم تحول خوري اوس د افغانسـتان بودجوي سیسـتم دنړۍ له ځینو هیوادونو سره سم حرکت کوي او لرې نه ده چې بودجه دیوواقعې اقتصادي انعکاس په توګه ځان څرګند کړي.

دافغانستان په بودجه کې دمصارفو طبقه بندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دافغانستان دولت په بودجه کې مصارف په پنځو عمده فصلونو باندې ویشل شوي او فصل بیا په مختلفو کوچنیو فصلونو باندې تقسیم شوي دي. ۱-دمزد او معاش مصارفو ۲۱باب چې په دغه باب کې لاندې فصلونه دي . نقدي مزد او معاش، غیرې نقدیمزد او معاش ، پیشکي مزد او معاش، نقدي اجتماعي منفعتونو او غیرنغدي اجتماعي منفعتونو او دمعاشاتو ورکړې فصلونه شامليږي. ۲-داجناسو او خدماتو څخه داستفادې ۲۲باب کې لاندې فصلونه دي . سفريه ، اړیکې او ارتباطات، دحفظ اومراقبت ترمیمات، عام المنفعه ، روغنیات ، سامان او لوازم چې۵۰۰۰۰ افغانیو څخه کم ارزښت ولري. پیشکي تادیا ت او نورمصارف په دې باب کې شامليږي. ۳-دټکستاني او سود۲۳باب: ۴:داجتماعي کومکونو ۲۴باب په لاندې فصلونو شامليږي.سبسایډي،دولت خارجي مساعدتونو عملیات، ددولتونو غیرمنقول خارجي مساعدتونه، غیرنغدي اجتماعي تامینات داجتماعي کومکونو ګټورتوب او داسې نور . ماشینونه ، ځمکه ، بهاداره اشیا شامليږي. په افغانستان کې دعوایدو طبقه بندي په اکثره هیوادونو کې عواید دمستقلو حسابونو په اساس ترتیبيږي چې دغه مستقل حسابات په ۵بابونو او هرباب بیا په څوکوچنیو فصلونو تقسیميږي عبارت دي له : دمالیاتو یوولسم باب: په دې باب کې لاندې فصلونه شامل دي : ثابت مالیات، په عوایدو مالیات، په دارېي مالیات ، په فروشاتو مالیات ، په داخلي محصولاتو باندې دولتي مالیات په عوایدو باندې نور مالیات، جریمې ، مجازات او ګمرکي مالیات شامل دي. دغیرمالیاتي عوایدو دیارلسم باب: دغیرمالیاتي عوایدو باب کې لاندې عواید چې دثابتو دارایو له درکه عواید اجناسو او خدماتو عرضه ، اداري فیس، حق الامتیاز، متفرقه عواید، دځمکو او تعمیراتو خرڅلاو عواید شامليږي. داجتماعي سهیمو۱۷م باب: ددولت دکارکنانو تقاعد دسهیمې او شرکتونو دکارکنانو تقاعد سهیمي عوایدو فصلونه شامليږي. دقرضونو ۱۸باب: کې دخارجي هیوادونو قرضونه او نړیوالو اداراتو قرضونه شامليږي دمساعدتونو ۱۹باب لاندې فصلونه لري: دخارجي هیوادونو جاري مساعدتونه دنړیوالو موسساتو دغیرمنقولو سرمایه ګذاریو مساعدتونه، دنړیوالو موسساتوو جاري مساعدتونه ، دنړیوالوموسساتو غیرمنقول مساعدتونه دي. دولت په مصارفو باندې نظارت ډیر پخوانی تاریخ لري او له دې امله دمصارفو تاریخ ډیر تاریخي قدامت لري اما دعواید و طبقه بندې دولت دوظایفو په پراخوالي سره زیات اهمیت پیداکړ، نن ورځ دعوایدو طبقه بندي دبودجې دمهمو ځانګړنو څخه شمیرل کيږی اوده دغې طبقه بندی مهم اهداف عبارت دي له ۱-تصمیم نیونه ۲-دعوایدو او نورو عایداتي سرچینو تامین اعتبار دطبقه بندی پیشبني ۳-دعوایدو اومصارفو ترمنځ داړیکې ساتل. دبودجې پړاوونه !!!دبودجې ترتیب یو ضروري امر دی اوهغه هیوادونو کې چې دولتي سیستم يي په درې ګونو قواوو ولاړ وي . بودجوي دوري په څلورو پړاوونو سره نو یشل کيږي۱-دبودجې دترتیب پړاوو: ۲دبودجې تصویب۳-دبودجې داجرا۴-دبودجې دکنترول پړاوو: دبودجې دترتیب پړاوو۱-دبودجې دترتیب مرحله اساسي برخه ده ۲-په دې پړاو کې دیو هیواد دعنوان

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځیر اهدافو ته ګوري۳-دبودجې په جوړولو کې باید علمي اوفني میتودونو څخه اســـتفاده صــورت ونیســي ۴-چې داچاره دبودجې ترتیب بشــه ، قابل اطمینان او پوهیدو وړ جوړوي۵-دبودجې ترتیب یو لوی کاري پلان دی او داهغه مهال بشـــه تطبیق کیږي چې ســـالم ، دقیق ، تغییر منونکی ، مدیریت، اودمناســبو لاربشــودونکو لرونکی واوســي ۶-دبودجې اجرا کې له اجرایوي او مدیریتي میتودونو څخه ګټه اخیســـتل کیږي۷-دبودجې ترتیب مختلفو ادارو ته محول کیږي او په دې پړاوو کې لومړیتوبونه انتخاب، اعتبارات ورته تخصــیص کیږي۸-په پرمختللو هیوادونو کې دبودجې تهیه دفني میتودونو له امله وي۹-او پرمختیایي هیوادونو کې پیشــبیني شــویو او ســنجش شــویو ارقامو کې عدم دقت او کارپوه اشــخاص نه شــتون دبودجې ترتیب اواجرا له مشکلاتو سره مخامخ کیږي. دیوي اغیزمنې بودجې جوړولو خصوصیات: ددې لپاره چې بودجه اغیزمنه اوســـې باید۱-ټول مقامات په کې شـــامل وي۲-دتیرې دورې پایلې له حقایقي نتایجو ســره پرتله کړي او دې پوښــتنو ته ځواب وایي . ایا توپیر موجود وه؟ دتوپیرونو لپاره دمنلو وړ دلایل موجود دي؟ایا ادارې اواهدافو ترمنځ ســـمون لیدل کیږي؟د ادارې ډیر بهرني او داخلي چاپیریال څیړل دموجوده نتایجو او بودجوي سیاستونو سره پرتله کول چې مؤثر دي او که نه ؟ راتلونکې دورې لپاره داهدافو پراختیا بشـــکاره کیږي دبودجې ترتیب یو تکراری پړاوو. دیوې بشـــې بودجې دترتیب نقاط: ۱-ســـاده او دپوهیدو وړوي، داهدافو په لورلاربشــوونه وکړي۲-بدلون منونکې او اجرات وکړي۳-دکارکوونکو او مدیریت یوګډ قضـــاوت بیانوونکي وي او داقتصـــادي اټکلونو لرونکي اوســـي. دبودجې په ترتیب کې نورې ځانګړنې ۱-خلک باید وپوهیږي چې بودجه په کوم ځای کې په مصـــرف رســـیږي۲-دمالي انضـــباط رعایت۳-په بودجه کې دســـتراتیژیکو او لیتونو تعیین۴-دقوانینو او مقرراتو رعایت۵-او بلاخره دبودجې ترتیب باید لاندې ســـوالونه حل کړي. په بودجه کې دهرې څانګې اهداف کوم دي؟دبودجې اجرا یو له بل ســـره څنګه اړیکه مومې ؟ دبودجې ارقامو او پلانونو ترمنځ کومه رابطه وجود لري ؟ دبودجې په واســـطه چیرته ځان رســـوي؟ دبودجې ترتیب ولې دحکومتونو پورې اړه لري۱-نن ورخ دبودجې ترتیب اجرایه قوي په انحصـــار کې دی نوځکه یې اصــلي علت په لاندې نقاطو کې واضــح کیږي.۲-په سیاســي لحاظ بودجه دتوزیع سیاست دنده اجرا کوي نوځکه خو اجرایه قوه دمالي فعالیتونو رهبري په غاړه اخلي او ځواب یې هم وایي۳-له فني نقطې له نظره عواید وصول اومصــارف دحکومت پورې اړه لري نوځکه یې ځواب هم وایي۴-دنړۍ ټولو قوانینو اجرایـه قوي تـه اجـازه ورکړي چې بودجه ترتیب کړي۵-داهدافو لاســته راوړنې لپاره مصـــارف کوي ۶-دبودجې دارقامو جمعه دارې دحکومت لپاره اســـانه وي. دبودجې په ترتیب کې مالي قدرت: دبودجې په ترتیب کې بودجه دارنګه ترتیبیږي۱-اداراتو مصــارف دمالي تثبیت اواصــلاح په موخه دټیټو ادارو څخه لوړو ادارو ته وړاندې کیږي۲-مالي قدرت په هرهیواد کې توپیر لري په انګلستان هیواد کې دمالیې وزیر زیات مالي قدرت لري ، اودنظامې مصــارفو کې تغییر دکابینې په خوښــه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

. فرانسه کې مالیې وزیر کم مالي قدرت لري صدراعظم او دولتي هیت تغییراتو صلاحیت لري. دامریکا متحده ایالاتو ولسمشر پوره صلاحیت لري۳-دمصارفو پیشنهادات له عوایدو زیاتوي نوځکه خو پرې بحث او غورکوي۴-اوخطي تنقیص پریکړه عملي کیږي۵-دمقننه قوې مالي او بودجوي کمیسون مباحثه او مشوره دپاملرنې وړ ده او اضافي مصارفو تصویب او دپورغوښتنه هم دمقننه قوي پورې اړه لري۶-بودجوي واحدونه مجموعي مصارف دموجوده مصارفو په اساس دراتلونکې بودجوي دورې لپاره په انکشافي ډول تخمین وي۷-دغه تخمین کې دوه امکانات موجودیږي۱-محاسبوي مصارف دراتلونکې بودجوي کال دواقعي مصارفو په پرتله کم وي کیدای شي چې دغه حالات له دوو عواملو څخه رامنځ ته شي. په لومړي عامل کې غلطي ، نه لیاقتو دعلمي او عملي میتودونو نشتون اوداسي نور..په دوهم عامل کې قصدي او عمدي مسایل شاملیږي۳-کیدای شي محاسبوي مصارف راتلونکې بودیجوي کال دواقعي مصارفو په پرتله زیات وي ،دبودجې دتنظیم میتودونه په بودجه جوړونه کې دوه میتودونه وجود لري سیاسي میتود: دبودجې سیاسي میتود: هدف دمالي منابعو حد اکثر کول ، دلمړیتوبو او ضرورویاتو درجه بندې دمناسبو مصارفو دسطحو تعیین او دمنابعو تخصیص څخه عبارت دي.په دې میتود کې سیاسي تصمیم نیونکي معاملاتو ته زیاته توجه کیږي په سیاسي میتود کې داعتباراتو مبلغ سیاسي مشران ټاکي .اقتصادي یامنطقي میتود په دې میتود کې دمنابعو بهترین تخصیص لپاره هڅه کوي۲-اقتصادي معیارونه ، مطلوبیت مؤثریت، مثمریت، اوسپما ته پاملرنه کیږي. ۳-دبودجې جوړونې وړمسایل په کمي او کیفي توګه څیړل کیږي. دبودجې ترتیب داجرایه قوې دنده ده تر څو: اهداف په ښه شکل سره ترلاسه کړي دبودجې په ترتیب کې لاندې میتودونو څخه ګټه اخیستل کیږي. دعمومي عوایدو فني سنجش میتود . لکه څرنکه چې عواید او مصارف تامین لامل کیږي. نوځکه خو دعوایدو دفني میتودونو څخه استفاده کیږي.دبودجې پوهان فکر لري چې دبودجې ترتیب کې دیو میتود څخه استفاده مطلوب نتایج نه لري. نوځکه خو باید دټولو میتودونو نه استفاده صورت ونیسي . دماقبل کال اخر میتود : ددې میتود له مخې دمورد نظر بودجوي کال دعوایدو اندازه دوو وروستیو کلونو دقطعي وصولي په اساس صورت نیسي د۱۳۹۷کال عواید پیشبیني د۱۳۹۵کال قطعي وصولي په بنسټ ترسره کیږي ولې لاندې نیمګړتیاوي وجود لري:۱-په دې میتود کې نژدې کال له پامه غورځول شوی ۱۳۹۶دکارپوهانو دنظریاتو ته توجه نه کیږی۳-دامیتود هغه مهال مؤثر دی چې اقتصادي تغییرات ډیرزیات نه وي ولې؟نړۍ کې اقتصادي تغییرات زیات لیدل کیږي. داوسط میتود : په تیر میتود کې دنیمګړتیاوو شتون دلیون سي په هڅو داوسط میتود پیشنهاد شو په دې میتود کې د۵ یا ۳ کلونو زیاتوالی او کموالی دبودجوي دورې دعوایدو پیشبیني لپاره نیول کیږی.=27.2/5=Xدفیصدي اوسط*داخري کال مبلغ وصولي=دمورنظر بودجوی کال پیش بیني شویو عوایدو زیاتوالي. دبودجې دمصارفو طبقه بندي: دمصارفو طبقه بندي تاریخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قدامت لري او لاندې نقاطو کې ورته توجو کيږي۲-عادي مصارف بايد له انکشافي مصارفو سره تفکيک کړي۲-نظارت او کنترول اسانه کوي. دمحاسبې اجرايوي ميتودونو لپاره مناسب وي. دبودجوي مديرانو انعطاف پذيره معلوميږي۳-په دولتي حسابدارۍ کې دمصارفو طبقه بندي دلازمو حسابونو تنظيم .دمعلوماتو پوره ورکول. دبودجې دکلني کيدو اصل: که چيرې دوخت عامل مشخص نه شي نو دمنابعو پيشبيني ارزيابې او کنترول عمل ستونزمن کيږي. ۲-يوکال وخت سياسي اړخ لري او دبودجې داجرا باندې دمقننه قوي نظارت لپاره مناسب وخت دی . دبودجې په تعريف کې مو لوستې وه چې دوخت، پيشبيني ، عوايد او مصارف ، مهم دي بودجې کلني کيدو اصل انتخاب داقتصادي سياسي او فني له مخې اهميت لري۱-اقتصادي دليل: دزراعت پرمختګ سره دطبيعي زراعت اهميت کموالی ۲-فني دليل: دپيشبيني په دقت استواردی ۳-سياسي دليل: په کنترول او دحکومت په نقش اغيز لري. دبودجې دوحدت اصل: دبودجې واحدونو اجرات په يوواحد سند کې تدوين او دلايحې په شکل يې پارلمان ته وړاندې کړي. ستونزې : دعنعنوي بودجه هرارګان ځانګړي بودجه جوړونه ۲-عوايد او مصارف په يوه دوره کې نه تصويبيدل۳-شته منابع دوباره مصرفيږي۴-دپوهيدنې نشتوالی دپلانونو او اهدافو نظارت پيچيده کوي.ګټې : بودجه متوازنه ده او که نه ده ۲-دمصارفو نسبې ګټه دبودجې په تنظيم کې سنجش کړي۳-دبودجې کسر مخنيوی او لمړيتوبونو ته پاملرنه کوی. دبودجې دانعطاف پذيرئ اصل: مديرانو ته کوچني او جزوي کلني تغييرات په نظرکې ونيسي ۲-اجرايوي ارګانونه داعتباراتوله کموالي او مازاد سره مخامخ کيږي. نوځکه بايد دانعطاف مننې اصل ته اجازه ورکړي۳-هغه مهال ترې استفاده کيږي چې اقتصادي شرايطو دتغييرپه حال کې وي۴-په مصوبو اعتباراتو کې عدم مداخله جرم دی دعدم پيشبيني شويو شرايطو کې مديرانو ته اجازه وي ترڅو بديل امکانات ولټوي۶-دبودجې اهدافو دلاسته راوړنې لپاره دانعطاف اصل: بايد په پارلمان کې تصويب شي. دبودجې دوضاحت اصل: دبودجې شکل او محتوا بايد ښکاره وي ۲-دبودجې محتوا هغه مهال مؤثره واقع کيږي چې دبودجې تعاريف وضاحت ولري۳-دبودجې ترتيب بايد ټولو ته واضح او دپوهيدو وړ وي.۴-که چيرې بودجه وضاحت و موجود نه وي نو =نو له بودجې مختلف تعبيرونه اخيستل کيږي۲-په مصارفو باندې نظارت اصل ته ضرر رسيږي۳-ددولت داجراتو اخلال باعث ګرځي۴-دبودجې او پلان جوړونې مخالف عمل دی په اهدافو پوهيدنه سختيږي او خلک نه پوهيږي دولت اهداف کوم دي. دکامليت اصل: ددې اصل ددې اصل هدف دادی چې دجامعې پلان جوړونې لپاره امکان مساعد وي۲-دغير خالص پرنسيپ څخه استفاده صورت ونيسي ۳-دالمان هيواد دغير خالص پرنسيپ څخه استفاده کوي له مخکې چې دمصارفاتي پروژو متوقعه ګټه ښکاره شي۴-پيشبيني شوي عوايد او سنجش شوي مصارف بايد چې په تصويب ورسيږي۴-بديل نشي. دتعادل اصل:دتعادل اصل موخه دهيوادو دبودجې عوايد او مصارف بايد سره برابر وسي۲-که چيرې په عوايدو او مصارفو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې تغییر مشاهده شي نو بودجه دکسر او مازاد حالات غوره کوي۳-کلاسیک پوهان عقیده لري که بودجه کسر ولري نومفهو م يي کمیږي۴-مرکنتلستان ادعا کوي چې دبودجې دکسر تاوان راتلونکې نسلونه اداکوي۵-کینز بیا په عادي مصارفو کې دنظریه تاییدوي خو په انکشافي مصارفو کې دانظریه ردوي ځکه مفیدیت يي دواړه نسلونه اخلي . دبودجې دتعادل په اړه نظریات :---دبودجې دتعادل اړونده پوښتنه کیږي چې دبودجې تعادل رعایت شي او که نه؟.کلاسیک پوهان وايي داچې دبودجې کلنی دتعادل ضروری دی دولت مسول دی چې په کلنې توګه عواید او مصارفو نسبت ترمنځ تعادل رعایت کړي۱-او لاندې دلایل يي وړاندې کړي۲-خصوصي اقتصاد دبودجې تعادل ساتي دولت يي هم باید وساتي۳-دبودجې کسر دانفلاسیون سبب ګرځي۴-دولت دبې ځایه مصارفو مخنیوی کوي ۵-دمالیاتو د زیاتوالی باعث ګرځي ، دبودجې عدم تعادل نظریه : ددې نظریې پلویان استدلال کوي چې دولت۱-باید اقتصادي اهداف ترلاسته کړي ترڅو اقتصادي او سیاسي ثبات ایجاد او حفظ کړي ۲-کینز وايي دبودجې کسر په ټولنه کې پیسې زیاتوي چې دغه جریان رشد لپاره زمینه مساعدوي۳-او مازاد حالات بیا برعکس تاثیر لري. دبودجې دوره ای تعادل ۱-دبودجې وظایفو په زیاتوالي سره دبودجې ترتیب په نوساناتو باندې اغیز لري ۲-دبودجې دوره ای تعادل کې دانفلاسیون انقباضې سیاست اودرکود مخنیوی کوي له بودجې کسر څخه استفاده کوي۳-دوامداره کسر په اقتصاد ناوړه اغیزه کوی ۴-دولت باید څو کلنی تجارتي دوره کې بودجه متوازنه کړي. دجامعیت اصل موخې ۱-دبودجې په تنظیم کې او اجرا کې دقت او وضاحت تامین وکړي۲-دولت باید دټولو بودجوي واحدونو بودجه په یوواحد سند کې پارلمان ته تقدیم کړي د ټولو انتفاعي او غیرانتفاعي اداراتو عواید اومصارف دبودجې په سند کې راټول او پارلمان ته يي تقدیم کړي دبودجې ارقام باید خالص ډول درج شي. دتخصیص اصل:تعریف په یوه معینه دوره کې دهغو پیسو څخه عبارت دی چې لوړو مقاماتو لخوا یوي ادارې ته دهدف لپاره داجرا صلاحیت ورکوي۱-تخصیص اصل : په دې نقطه تاکید کوي چې دبودجې دعوایدو اومصارفو مندرج ارقام تغییر ونکړي۲-نشي کیدلی چې دبودجې مودې اعتبارات په نورو مواردو او فصلونو کې په مصرف ورسیږي۳-موظفې ادارې مکلفې دي چې دقانون له حکم سره سم عواید واخلي۴-دهرې ادارې عواید او مصارف چې څرنګه تعیین شوي وي دهغې مطابق عمل سرته ورسوي ددې اصل رعایت ۱-دبودجې مالي انظباط اواهدافو لاسته راوړنې سبب کیږي۲-دبې ځایه مصارفو مخنیوی کیږي عدم رعایت دبودجې مسیر تغییروي وسایل په غلطو عدو کارول کیږي/اقتصادي شرایط تغییر کوي او باید چې دعوایدو او مصارفو ځایونه تغییر وکړي.دعدم تخصیص اصل: دولت ټول عواید اومصارف دي دولت عمومي خزانې ته داخل او عمومي عوایدو څخه تامین کړی شي. داستهلاکي او انکشافي مصارفو توپیر اصل:استهلاکي مصارف هغه دي چې عاید اوداریې زیاتوالي باعث ونه ګرځي۲-انکشافي مصارف هغه مصارف دي چې عاید اوداریې دزیاتوالي باعث وګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتوپير نقاط يي دادي:--داستهلاكي مصارفو زياتوالى ، دانفلاسيون سبب كيږي اوانكشافي مصارفو زياتوالى دتوليد، استخدام ، او ملي عايد لامل كيږي . دمصارفو داندازه كيدني اصل::ددې اصل څخه هدف دادى چې تصويب شوي عبارات  بايد په ځاى او دقيق ډول ولګول شي۲-هغه اعتبارات  چې تصويب شوي نه وي دوركړي وړنه دي او جرم نه شميرل كيږي.دعوايدو دتخمين اصل:دعوايدو تخمين اصل څخه هدف ۱-دبودجې له تصويب سر ه اجرايه قوه اجازه لري تصويب شوي عوايد حصول كړي او په مصرف ورسوي۲-دعوايدو لاسته راوړني دقانوني اجازې نه پرته نه شي عملي كيدلې۳-دعوايدو پيشبيني تخمين اړخ لري . دقانوني كيدنې اصل: بودجه يو قانوني سنددى اودبودجې په ارقامو كې تغييرات دقوانينو اومقراراتو تابع ده۲-دټولو پيشبيني شويو عوايد حصول دقانوني تصويب محتاج دي دولت بايد داقتصادي حالاتو په نظر كې نيولو سره خپله بودجه ترتيب كړي په ۱۹۹۸ م كال كې دنړيوال بانک لاندې اصول معرفي كړي.دمسوليت اصل: داصل واضح كوي چې دبودجې اجراكوونكو وظايف كوم دي. دكفايت اصل: دټولنې ستونزو دحل لپاره كافي منابع ولري۲-دتناوب اصل: ددې اصل له مخې بودجه بايد كال په كال او پرله پسې ډول تنظيم شي . دمديريت اصل: دبودجې په ترتيب  كې دمديريت ټول شرايط  په دقيق ډول عملي كړي۵-دتنوع اصل: بودجه اني نتايج ولري منځ مهاله ، اوږدمهاله اهداف هم توضيح كړي۶-دبودجې دصحت كيدنې اصل: دبودجې په ترتيب كې بايد دعلمي او عملي ميتودونو په اساس سرته ورسيږي چې نتايج  يي هم درست وي. دبودجې نوي اصول: دهيوادونو په شرايطو تغيير كوي دبودجې اصول هم بايد تغيير وكړي/پخوانې اصول داجرايوي قوې دكنترول لپاره رامنځ ته شوي دي/اونوي اصول بيا دبودجې دتصويب په مهال رامنځ ته شوي . هدف يي۱-دولت دمالي فعاليت محدودول۲-داجرايوي قوې دصلاحيت محدودول۳-دبې ځايه مصارفو مخنيوى دكلاسيكو اصولو ترڅنګ نوي اصول هم ضروري دي :دبودجې اجرايه اصول: دبودجې ترتيب داجرايه قوي دنده شميرل كيږي ./مقننه قوه زيات تغييرات راولى/دبودجې له تصويب څخه وروسته دبودجې اجرايوي صلاحيت اجرايه قوې ته سپارل كيږي/په دې اصل كې اجرايه قوه اهداف معرفي كوي او اهدافو ته رسيدل دعددي نقطې نظره درجيږي. تاثيرات  او اداره يي څرګنديږي/دبودجې اجرا بايد دمقننه قوې دسياسي تاثير لاندې رانشي ولې؟ يوازې دنظارت حق لري اجرايه قوه دصلاحيت او مسوليت لرونكې او مسوليت لري چې دبودجې معقولې اجرا لپاره تدابير سرته ورسوي. دبودجې دصلاحيت اصل: په بودجه كې پيشبيني شويو او تعيين شويو اهدافو ته ورسيږي بايد دلازمو صلاحيتونو لرونكې وي دبودجې دازادئ اصل اومتغير وخت تعيين اصل: دبودجې اقلام بايد په محدوده شكل سره تعريف نشي ترڅو د اداري تدابيرو دانعطاف پذيرئ اواقتصاديت مانع وګرځي  دبودجې اجزاوې  اجرايه قوي ته دلاربسوود اومعلوماتو منبع اوسي /دااصل دكلني توب اجرات له منځه وړي هغه تغييرات چې غيرمترقبه او قابل پيشبيني شويو عواملو له امله رامنځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کيږي رعايت کړي او داسې مقرارات رامنځ ته کړي چې په متغييرو شرايطو باندې اني وارد کړي.دبودجې دطرزالعمل اصول:--دګذارش دورکړې اصل:--ددې اصل په اساس اجرايه اومقننه قوه بايد ديواطلاعاتي سيستم په واسطه دتيتې اداري نه ترلوړي اداري پورې دبودجې په اړه جامع معلومات ترلاسه کړي . ګذاريش بايد چې تغيرات اوستونزې څرګندې کړي، دلايل اوتصميم نيونه وړانديز کړي. دميتودونو دتعدد اصل: دميتودونو دتعدد اصل له مخې دولت بايد دمختلفو فعاليتونو لپاره مختلف ميتودونه اختيار کړي۲-تعدد ميتودونو په نتيجه کې دولت اداري کارونه مؤثريت او مولديت مومي. دبودجې د اداري تماميت اصل: ټول بودجوي واحدونه په مجموعي پروسې کې اداري تماميت څرګند کړي :دبودجې ډولونه : اداري بودجه او وظيفوي بودجه : اداري بودجه په بودجوي واحدونو تقسيميږي ا و وظيفوي بودجه دبودجوي واحدونو وظايف څرګندوي. منظمه بودجه دايمي عوايد اومصارفو درلودونکی وي او غير منظمه بودحه دتمويل غيرمنظمې منابع ولري. استهلاکي او سرمايوي بودجه هغه مصارف شامليږي. چې دولت په دارېي کې مستقيم سهم ونلري او سرمايوي بودجه چې مستقيم سهم لري . بايد او واقعي بودجه : بايد بودجه دپيشبيني شوو پلان ګذارۍ شو يو عوايدو او مصارفو څخه عبارت دي او واقعي بودجه بيادعمل په ساحه کې تطبيق شوي وي.

# بودجوي سياست

دبودجې مفهوم اوماهيت: دبودجې کلمه په لغت کې دبکس يا چرمي بکس څخه اخيستل شوی چې په سلسله واره توګه د bulgaدلاتيني کلمې څخه دانګليسي دbudgetکلمې چې په پښتو کې دبودجې په نوم يادېږي راورسيده . دبودجې اصطلاح په لومړي ځل دفرانسې لخوا په کال ۱۸۱۴ م کال په رسمي ډول ددولت دعوايد او مصارفو په برخه کې په کاريوړل شوه او بيا په ټوله نړۍ کې استعمال شوه . بودجه په افغانستان کې ددولت مجموعي عوايدو او مصارف ديوې ټاکلې دورې معمولا يوکال لپاره پيشبيني او تصوييږي . بودجه ديوداسې منظمې طرحې څخه عبارت ده چې په هغې کې ددولت مجموعي پلان شوي مصارف دتخميني او پيشبيني شوو مجموعي عوايدو سره مقايسه او په قرار کې واقع کيږي.بودجه هغه سند دی چې په هغه کې ديو معين وخت معمولا ديوکال لپاره ديوې دستګاه يا سازمان عوايد او مخارج پيشبيني او صلاحيت لرونکي مقام لخوا تصويب شوي وي ديونسبتا کاملترين تعريف له مخې بودجه ديوقانون په شکل دراتلونکې بودجوي دورې لپاره ددولت دمالي اقتصاد دعوايدو پيشبيني او پلان شوو لګښتونو دمنظم مقابله کولو څخه عبارت دي kolmsپه عقيده ددولت بودجه دمختلفو اهدافو دسلسله مراتبو دکمي اومقدارې انعکاس څخه عبارت دی چې دسياسي تصاميمو دعاميلينو لخوا انتخابيږي . نن ورځ new marks

(c) ketabton.com: The Digital Library

fritsتعریف زیات مشـــهور دی او عمومیت یي موندلې دی ددی تعریف په انعکاس بودجه دراتلونکي دورې معمولا دیوکال لپاره دیوې منظمې طرحې او پلان شــوو لګښــتونو اوددې لګښتونو دجبران او پوره کولو لپاره دپیشبیني شووعوایدو داټکل اوتخمین دمخامخ کول څخه عبارت دی چې دپرنســـیپ له مخې دتطبیق او مکلفیت لري new marks fritsدتعریف خصوصیات: ۱-بودجه ددولت دعوایدو او لګښتونو دمخامخ کولو څخه عبارت دی۲-بودجه دیو پلان خاصیت لري چې په راتلونکي دورې پورې اړه لري۳-دبودجې ترتیب باید په منظم او دایمي توګه صـــورت وومي۴-بودجه دحقوقي الزام او مکلفیت لرونکې ده معنا داچې په عمل کې باید تطبیق شـــي۵-بودجه دیو هیواد داړتیا پربنا ترتیب کیږي له دې امله عواید او مصارف باید په خپل منځ کې سره مطابقت وکړي۶-بودجه دحکومت دکاردپلان دعددي بیان څخه عبارت دی چې په اجتماعي اقتصـادي او سـیاسـي سـاحو کې ددولت دوظایفو دحل په اړوندټول تدبیرونه په برکې نیسي .دافغانستان دبودجې په مقرره کې دبودجې تـعـریـف هم ددې تعریف څخه الهام اخیستی او دکلاسیک تعریف په نسبت جامع تر دی. لکه څنګه چې د۱۳۵۳ کال دبودجې په مقرره په لاندې ډول تعریفوي . بودجه ددولت دقانوني ســـند څخه عبارت دی چې په هغې کې دیو معین وخت معمولا دیو کال لپاره ټول عواید او مصـــارف تعیین او په اقتصـــادي اجتماعي دفاعي کلتوري او ســـیاســـي ســـاحو کې دټولو فعالیتونو اوانکشـــافاتو انعکاس ورکوونکي وي. باید زیاته کړو چې هروخت چې دبودجې څخه بحث کیږي باید ددولت په اړوند لاندې تفاوت په پام کې ونیسو .۱-په تاریخي لحاظ دولت لومړنی واحد یا شـخص دی چې دبودجې په تنظیم او ترتیب یي پیل کړی۲-په هرهیواد کې دحجم له مخې ددولت بودجه زیاتریه سازماني بودجه ده په دې اساس هغه مسایل او موضوعات چې په هغې کې طرح کیږي دنورو بودیجو څخه زیات او پیچده وي۳-دبودجې داجرا په وخت کې ددولت محدودیت دنورو اقتصـادي موسـسـو او اشـخاصـو څخه زیات دی معنا داچې دبودجې داجرا دقیق ترومقرارتو تابع ده په همدې ډول دکلاســـیک تعریف له مخې بودجه دهغه ســند څخه عبارت ده چې ددولت دعوایدو او مصـــارفو دیو معین وخت معمولا یو کال لپاره پیشـبینیاو تثبیت کیږی دفرانسـي مالي علم هم بودجه دلګښـتونو او عوایدو دمخکې اټکل او تخمین پـه توګـه تعریفوي. چې داتعریف دپورتني تعریف څخـه چنـدان تفـاوت نـه لري. دبودجې دندې دبودجې اســاســي دنده عبارت له دې څخه ده چې ددولت فعالیت داســي ترتیب کړي چې دحکومت دپلان شـــوو تدبیرونو انتخاب او تطبیق ممکن کړي او برســـیره په دې دعمومي رفاه تامین سره چې ددولت اساسـي هدف تشـکیلوي ددولت داقتصـادي فعالیتونو او خصـوصـي اقتصـادي فعالیتونو دمؤثر ارتباط له لارې مسـاعدت وکړي. دبودجې مهمترینې دندې عبارت دي له:۱-دبودجې عنعنوي یا قدیمي دندې ۲-دبودجې نوي یا موډرنې دندې عنعنوي دندې عبارت دي له a-دبودجې ســیاســـي دندې : ددیموکراســـۍ په هیوادونو کې دبودجې پلان یوه اساسي سیاسي دنده سرته رسوي. دبودجې دورې یا بودجې کال دشروع

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه مخکې دبودجې تصويب دلمړنی سياسي دندې اوياداساسي سياسي دندې په نوم ياديږي.
چې دحکومت دحقوقي مؤثر طرزالعمل لپاره اســاس تشــکيلوي. B-دبودجې حقوقي ياقانوني
دندې: دبودجې دســياســي دندو ســره يو ځای دي دبودجې لمړی حقوقي دنده چې دحقوقي
اساسي دندې په نوم هم ياديږي دحقوقي او قانوني اساس په واسطه تعيين کيږي. په دې معنا
چې صرف ديو دقيق قانون په اساس دموجوديت په صورت کې دبودجه قانوني اجراتو قدرت
لاس ته راوړلای شــو . دوهمه حقوقي دنده دحقوقي الزامي دندې په نوم هم ياديږي په هغه
اعدادو او ددندو پورې چې بودجه کې په ګوته شــوی او دمقننه قوي لخوا تصــويب شــوی
دحکومت او ادارې بستګي احتوا کوي او په تشبث شوو اعدادو او دندو پورې دحکومت او
ادارې دغه بستګي دحکومت لپاره دقانوني خاصيت يا اجرايوي مکلفيت درلودونکې دي c-
دبودجې دمالي سياست دندې: دحکومت ديوکارپلان صرف هغه وخت کولای شي چې عملي
او تطبيقي جنبه غوره کړي چې دلګښــتونو دپوره کولو لپاره په کافي اندازه عوايد وجود
ولري له دې امله دمالي احتياج اودمالي وســايلو موجوديت ترمنځ موافقت ددولت دبودجې
دمالي سياست اساسي دنده تشکيلوي چې دادنده دمالي سياست دلمړنی دندې په نوم ياديږي ،
دمالي سياست دوهمه دنده عبارت له دې ځخه ده چې دبودجې درهنمايي اقتصادي مؤثريت
او معقوليت تقويه اومساعده کړي چې دادنده دمالي سياست دسازماني او اقتصادي رهبري
کوونکي دندې په نوم هم ياديږي.d-دبودجې داقتصادي سياست دندې :داقتصادي سياست ددې
دندې په واسطه کوښښ کيږي چې ددولت بودجې چې کوم اقتصادي نسبت ورکول کيږي
دهغه ځخه داقتصــادي عمومي پروګرام اوددولت دمالي اقتصــاد دهماهنګ کولو لپاره ګټه
اخيســتل کيږي يا واخيســتل شــي. ددولت دبودجې لخواددې دندې ســرته رســول دبودجې
داقتصادي سياست لمړنی دندې يادبودجې دساختماني دندې په نوم ياديږي او دهغې مطابق
دبودجې پلان ديوې تنظيم کوونکي وســيلې په توګه داســتفادې لاندې راځي او ديو ټاکلي
اقتصادي سياست دتحقق او اقتصادي معقوليت لپاره خدمت کوي چې دبودجې دغه تنظيمي
دنده دبودجې داقتصادي سياست دثانوي دندې په نوم ياديږي. دبودجې نوي دندې عبارت دي
له۱-دبودجې دپلان ګذاری دنده۲-دبودجې تحليلي دنده۱a-دبودجې دپلان ګذاری مفهوم په
خپل ذات کې معنې ورکوي چې عوايد او مصارف په يوي ټاکلې راتلونکې دورې پورې اړه
لري نو له دې امله دبودجې په تهيه او ترتيب کې دسياسي ارادې تشکل بايد دراتلونکو ټاکلو
اهدافو په اساس ځان عيار کړي. دهرې بودجې دارنګه ساختمان بايد تامين شي په دې اساس
داهدافو ټاکل دبودجې دپلان ګذاری لمړنی دنده تشــکيلوي چې دپروګرام دجوړولو ددندې په
نوم ياديږي دبودجې دپلان ګذاری دوهمه دنده عبارت ددې ځخه ده چې دبودجې دترتيب
دمخه بايد واضــح شــي چې په بودجه کې ټاکلي اهداف ځرنګه براورده کيدای شــي.b۲-
دبودجې تحليلي دندې: بايد وليدل شي چې داهدافو دترلاسه کولو لپاره پيشبيني شوی وسايل
کافي دي او که نه. دبودجې هدفونه:دبودجې هدفونه او هغه نقش چې بودجه يي دهيواد په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالي او اداري سازمان کې سرته رسوي په لاندې ډول دمطالعې لاندې نیول کیږي.۱-داهدافو ارزیابې کول۲-دنظریاتو هماهنګ کول۳-دعمومي او خصوصي فعالیتونو اړیکه۴-ددولت په وسیله دقانوني جواز لاسته راوړل۵-دعوایدو او لګښتونو طبقه بندي ۶-دفعالیتونو نتیجې او بریالیتوب درجې ته رسیده ګي ۷-دمسولیتونو تشخیص او تفکیک. دبودجې ډولونه۱-منظمه بودجه۲-غیرمنظمه بودجه.منظمه بودجه عبارت له هغه بودجې څخه ده ده کوم چې دمنظمو تمویلي وسایلو پواسطه تمویلیږي. غیرمنظمه بودجه عبارت له هغې بودجې څخه ده کوم چې دغیر منظمو تمویلي وسایلو په واسطه تمویلیږي.۲-استهلاکي او سرمایوي بودجهA-استهلاکي بودجه هغه مصارف په برکې نیسي کوم چې دسرمایي په شکل اوددولت په دارییو کې دمستقیم سهم لرونکې نه وي بلکه : معمولا په یوه بودجه تاثیر واردويB-سرمایوي بودجه : عبارت له هغې بودجې څخه ده کوم چې په اقتصاد کې ددارییي او سرمایوي په شکل کې دمستقیم سهم لرونکې وي او برسیره په دې دجاري بودجوي دورې دتیریدو څخه وروسته هم مفیدتونه منځ ته راوړي .۳-پلان شوی (باید)او واقعي یا حقیقي بودجه:A-پلان شوی(باید) بودجه: دیوې راتلونکې مالي دورې لپاره دیو هیواد دعوایدو او مصارفو داټکل او پلان ګذاری څخه عبارت دهB-واقعي یا حقیقي بودجه:داسې عواید او مصارف په برکې نیسي چې واقعا به عمل کې تطبیق شوي وي چې نوموړي بودجې ارقام دحقیقي ارقامو په نوم یادیږي.۴-عادي او انکشافي بودجه:Aعادي بودجه معمولا هغه مصارف په برکې نیسي کوم چې دعادي او روزمره فعالیتونو لپاره دانکشافي پلانونو دلګښتونو څخه غیر په نظرکې نیول کیږيB-انکشافي بودجه : معمولا هغه مصارف په برکې نیسي کوم چې دعادي او روزمره فعالیتونو لپاره دانکشافي پلانونو دلګښتونو څخه غیر په نظر کې نیول کیږي.۵-اداري او وظیفوي بودجه:Aاداري بودجه عبارت دهغه بودجې څخه ده کوم چې دوزاتونو له مخې تقیسمیږيB-وظیفوي بودجه : عبارت له هغه بودجې څخه ده کوم چې دمختلفو وظیفو یا مختلفو پروګرامونو په بنا ترتیبیږي چې دولت یې په اقتصاد کې سرته رسوي. دبودجې حالات: دپرنسیپ له مخې بودجه باید دتوازن په حالت کې قرار ولري ولې په عمل کې اکثرا اقتصادي شرایطو په تغییر اوتحول سره کموالی یا زیاتوالی په بودجه کې منځ ته راځي چې اوس دبودجې درې ګونو حالاتو او علتونو څخه بحث کوو۱-دبودجې توازن۲-دبودجې زیاتوالی یاتفاضل: زیاتوالی یا تفاضل په بودجه کې هغه وخت منځ ته راځي چې عواید په هرحالت چې وي نظر مصارفو ته زیات شي اومعمولا دازیاتوالی په بودجه کې په عمومي توګه ددولارو منځ ته راځي .الف: دلګښتونو په کمیدو او دعوایدو په خاص ډول دمالیاتي عوایدو په ثابت پاتې کیدوسره.ب:دعوایدو په لوړولو او لګښتونو په ثابت پاتې کیدو سره: ۳-دبودجې کسر: دبودجې دکسر مفهوم : څه وخت چې ددولت دمصارف دهغه له عوایدو څخه اضافه شي نو ویل کیږي چې دولت بودجه دکسر سره مواجه ده . دبودجې دکسر درامنځ ته کیدو مهم عوامل.الف: د اداري امورو دضعف له امله دبودجې درامنځ ته کیدونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسر: دبودجې اداري کسر داسې کسر دی چې دیوې صحیحې او سالمې ادارې نشتوالی په صـــورت کې رامنځ ته کيږي مثلا: هغه وخت چې موجوده اداري ســـازمان دتشـــکيلاتو او پرسونل دنقیصـی له مخې دوظایفو داجرا قدرت ونلري او دولت ددغې نقیصـې دلرې کولو لپاره نوي کارکوونکي استخدام کړي ددغه اضـافي اسـتخدام نتيجه کې ادارې او دمعاشـاتو مصارف لوړ ځي او يو تشکيلاتي تورم رامنځ ته کيږي او په نتيجه کې ددولت بودجه دکسر سـره مخامخ کيږي.ب: داقتصـادي وضـعې دتغییر له امله دبودجې کسـر : دبودجې کســر داقتصـادي وضـعې دتغییر له امله هغه وخت منځ ته راځي چې داقتصـادي وضـعې تغییر په نتيجه کې ددولت عواید او مصــــارف خپله هماهنګي له لاســـه ورکړي او يا په بل عبارت داقتصـادي وضـعې په تغییر سره ددولت عواید او مصـارف په نامتناسب يا حتی په معکوس شـکل تغییر وکړي نامتناسـب تغییر په دې معنا چې اقتصـادي شـرايط دمصـارفو دلوړوالي غوښـــتنه کوی مګر دعوايدو لوړوالی ته په هغه اندازه امکانات نه وي موجودج: ديو هیواد داقتصـــادی سـاختار دبودجې دکسـر دعلت په توګه : دبودجې دکسـر پورتنې نوعې چې ذکر شـوي اکثرا دلندې مودې ماهیت لري او دبودجې دغه ډول کسر چې داقتصـادي جوړښـت له وجې دعمومي عوایدو او مصـــــارفو ترمنځ دهماهنګۍ دنه موجودیت له امله په اوږده وخت کې څرګندیږي. چې دغه عدم هماهنګي بعضې وخت دبیاودانوي یاانکشافي مصارفو له مخې داقتصـادي توسعوي سیاسـت په واسطه منځ ته راځي چې داقتصـادي او اجتماعي زيربنا او اقتصادي پروژو دتقویت په خاطر صورت نیسي چې ډېر وخت ته ضرورت لري چې ددې په نتيجه کې دټولنې اقتصـــادي او اجتماعي جوړښـت دپرمختګ په حال او دملک اقتصـــادي دابتدایي مراحلو پرمختللو مرحلو ته ځي په دي معنا چې دملک اقتصـــاد دټیټې سـطحې څخه دپراختیا سطحې ته میلان پیداکوي. دبودجې دکسر سیاست: څرنګه چې وويل شو بعضـې وخت دولت دبودجې کسـر څخه ديو سـياسـت په ډول داســې اسـتفاده کوي چې داقتصـــادي رکودي حالت داقتصادي رونق په حالت مبدل کړي چې دبودجې دتعادل داصل سره مخالفت نـه واقع کيږي دولتونـه دپولي تورم دمخنيوي لپاره خپل مصـــــارف کموي چې دادبودجې يوعمده رقم تشـکيلوي. چې ددې په واسطه دټولنې مجموعي تقاضـا کميږي. او په دې شـکل دتورم سره مقابله کوي چې داقتصادي رکود په صورت کې هم دبودجې دکسر دسياست څخه اســـتفاده کوي او دغه درکود حالت درونق په حالت بدلوي. هغه ارقام چې دبودجې دکســـر ترعنوان لاندې قرار نیســـي دهغه منابعو څخه عبارت دي چې دعوایدو او مصــــارفو ترمنځ فرق وجود لري دبلې خوا نه دولت په دې توانيږي چې دخپلې بودجې هغه مازاد چې رامنځ ته شـوی او دبودجې دبې تعادلۍ سبب ګرځي په دوه ډوله مصـرف کړي۱-دخارجي قرضـو او په دولت باندې دشـــوو اعتباراتو تاديه کول۲-دراتلونکې برداشـــتونو په خاطر دذخيري په ډول دهغې ساتل*دبودجې دکسر اقتصـادي تاثيرات: ددغه سوال دځواب په برخه کې چې ايا دولت دبودجې دکســـر نامســـاعد اقتصـــادي تاثيرات لري نشـــي کولای چې يو کامل او دقيق

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب وګنل شـــي . ځکه دولت دبودجې کســـر اقتصـــادي تاثير دمالي تامين دمنځته راتلو دځرانګوالي دعلت پورې تړاوو لري. څرنګه چې ددولت دبودجې کســـر دجاري مصـــارفو دزياتوالې په خاطر وي نو دي ته بايد توجه وشـــي چې دغه ډول مصـــارف فقط دمجموعي تقاضا دزياتوالى سبب ګرځي چې کيداى شي چې تورم رامنځ ته کړي. ماليه : دهغه اجباري ورکړي څخـه عبـارت ده چې خلـک يې ددولـت دمصـــــارفو دتمويـل پـه منظور ددولـت دغيرمســتقيمو خدماتو په مقابل ورکوي.ماليات معمولا په دوه ډوله دي ۱-مســتقيم ماليات ۲-غيرمستقيم ماليات. غيرمستقيم ماليات : عبارت دهغه مالياتو څخه دي چې دمالي مودي يو او حامل يي بل شــخص وي لکه ګمرکي تعرفي : بهرنۍ مرســتي او پورونه : بهرنۍ مرســتي اوپورونه هم ددولت دبودجې دتمويل يوه منبع ګڼل کيږي اودولت انکشـــافي معمولا دهمدغو مرســـتو او پورونو په واســـطه تمويليږي.دولتي داريي : دولتي داريي هم ددولت دبودجې دتمويل يوه منبع کيداى شي ځکه دضرورت په وخت کې ددولت کولاى شي خپلې داريي په خرڅلاو ورســـوى او دنوموړي مصـــرف بودجه پري تمويل کيږي؟. دولتي تصـــديګاني : ددولت دبودجې بله تمويلوونکي منبع دولتي تصـــديګاني دي چې هغه عوايد چې دنوموړيو تصـــديو څخه لاس ته راځي دبودجې په تمويل کې اهم رول لوبوى. دبودجې حقوقي مراحل: دبودجې مراحل چې دبودجې ددوران په نوم هم ياديږي. دبودجې ترتيب مرحله. دتصـــويب مرحلـه، داجرا مرحلـه، دبودجې دنظـارت(کنترول )مرحلـه پـه برکې نيســـي . دبودجې څلورګونې مراحل: داجتماعي او اقتصـــادي ســيســتم په نظر کې نيولو ســره په هرهيواد کې وجود لري اما دمحتوياتو او شکلي نقطي له نظره يوهيواد څخه وبل هيواد ته طبعا فرق کوي چې کولاى شــو هره مرحله په مختصــره توګه په لاندې ډول تشــريح کړو۱-دبودجې ترتيب: دبودجې لمړۍ مرحله تشـــکيلوي چې دبودجې داترتيب ديوې خوا په راتلونکي کې دعوايدو دانکشاف ديو تخمين له مخې اساس ګذاري شوي اودبلې خوا ددولت داينده مصارفو دحدودو په اړوند دمالي سياستمدارنو نظرپه برکې نيســي . د اداري امورو دضـعف له امله دبودجې رامنځ ته کيدونکي کســر دلاندې عواملو څخه خالي نه وي.۱-دعوايدو دلاســته راوړنې غلط جوړښـــت۲-د اداري کارمندانو عدم صـــلاحيت غيرى تخصـــص وال چې ماليات لاســـته راوړي۳-دمالياتو دغلط ســيســتم انتخاب ۴-دبودجې دکســـر دمالي تامين هره يوه منبع ديوبل څخه مختلف تاثيرات لري چې لاندې ذکر شـــوي دي او په تفصـــيلي شـــکل يي لاندې ذکر کوو:۱-دنووپيسو نشرول۲-دداخلي منابعو څخه قرضـه اخيستل۳دلنډي مودې لپاره دخارجي منابعو څخه قرضه اخيستل. مستقيم ماليات: عبارت له هغه مالياتو څخه دي چې دمالي مودي او حامل يو شــخص وي لکه: په ځمکه ماليه. په دوه طريقو ســره منځ ته راتلى شــي۱-دولت کولاى شـــي چې په عين وخت او حال کې بدون ددې څخه چې خپل مصـــارف او خاصـــتا ماليات لوړکړي۲-په يو اقتصـــاد کې دمجموعي تقاضـــا دلوړولو لپاره بله طريقه ددې څخه عبارت ده چې دددولت دمالياتو اندازه راټيټه کړي. دولت جان ميناپارد کينز دکســري بودجې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشنهاد کړی ترڅو په دي توګه دولت وکولای شي چې دکومکونو ورکولو له لارې دارزانو پورونو له لارېپ انګه اچونه تشــویق شـــي او په دې ډول اقتصـــادي بحران پرضـــد مبارزه وکړي.البته دادنړیوال اقتصادي بهران څخه وروسته خبره وه.

# بودجوي سیاست بله یعنې دوهمه برخه په لنډه توګه

ســریزه بودجوي سـیاسـت دعوایدو او مصــارفو بدلون څیړي ، بودجوي سـیاسـت دوســایلو (عوایدو او مصارفو)په مټ په اقتصادي متغیراتو باندې اغیز ښندD،داقتصادي ستونزو دحل لپاره دبودجوي سیاست له وسایلو څخه په استفادې لپاره دستونزو مناسب مدیریت اوحل لاره وړاندې کوي.، بودجوي سیاست داجتماعي او اقتصادي سیاست دیوې وسیلې په توګه ددولت بودجه دساختماني سیاست دوسیلې په توګه ، په دې مبحث کې لاندې موارد څیړل کیږي. په تولیدي جوړښــتونو باندې دبودجوي ســیاســت هغه عوامل تربحث لاندې نیول کیږی. چې اقتصــادتراغیز لاندې راولي . مخکې له دې نه چې په تولیدي جوړښـتونو او ملي عاید باندې یی اغیزې مطالعه شي لازمه ده چې تولیدي جوړښتونوانواع وڅیړو. په یو ملي اقتصاد کې تولیدي جوړښتونه لاندې ډولونه لري ۱-منطقوي تولیدي جوړښتونه:اقتصادي تولیدي څرنګه په اقتصادي ساحاتو باندې تقسیم شوي دي ۲-سکتوري تولیدي جوړښتونه: سکتوري تولیدي جوړښـتونه : توضـیح کیږي پوره تولید ي سـکتوري جوړښـتونه په اقتصــاد کې په څومره اندازه دهیواد په اجتماعي تولید کې ســـهم لري مثلا: په اجتماعي تولید کې دزراعت ســـهم اوداســـې نور۳-عواملي تولیدي جوړښـــتونه: دانوعه تولیدي جوړښـــتونو کې تولید عوامل (ځمکه اوسرمایه) شاملیږي.په تولیدي جوړښتونو باندې دبودجوي سیاست اثرات: بودجوي سـیاسـت دعوایدو او مصــارفو له لارې دیواقتصــاد په تولیدي جوړښـتونو باندې متفاوت اغیز لري نو له دې امله ضــروري ده چې هریو یي په جلا ډول تربحث لاندې ونیول شـــي .الف: تولیدي جوړښـتونه باندې دبودجوي مصــارفو اغیزې: په تولیدي جوړښـتونو باندې دبودجوي مصارفو له نظره لاندې مصارف دتشخیص وړدي. داشیاو خریداري فرمایشاتو لپاره دولت مصــارف په ســکتوري او منطقوي تولیدي جوړښـتونو باندې تاثیرات لري مثلا: د(تعمیراتي اقتصــاد قدامت حق)دتعمیراتي اقتصــاد دتشویق اوتقویي لامل ګرځي. یادوروسـته سیمو لپاره ددولت فرمایشـــات هم ددې منطقو دتشـــویق ســـبب ګرځي.۲-دتخنیکي اجتماعي اوکلتوري زیربناوو لپاره ددولت مصـــارف دتولیدي منطقوي او تولیدي ســـکتوري جوړښـــتونو لپاره اســاســي شــرط شــمیرل کیږي.۳-دوزګارتیا مخنیوي لپاره دولت مصــارف دتولید په عواملي جوړښتونو باندې تاثیر لري . مثلا کله چې دولت په ساحه کې داستخدام کچه لوړه شي نوپه کاروبار کې دعرضه کمیږي او مزدونو نرخ صعودیا پورته کیږي په دې صورت کې ممکن کاري قوه دسرمایي په کاراچوني سره تعویض شي برعکس که دولت په ساحه کې استخدام ســطحه کموالی ومومي نودکارعرضــه زیاتیږی. اومزدونو نرخ کمیږي په دې صــورت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرمایه په کاري قوې باندې تعویض کیږي. ۴-دولتي کومکونه: دجبران وړنه دي او دمقابلې ورکړې وړ نه دي . کومکونه ورکول دیوخاص طرز العمل له مخې صورت نیسي اودولت غواړي لاندې خاص اهداف لاسته راوړي .الف: تشویقي انطباقي کومکونه: دوخت له نظره محدود وي :ترڅو دتصدیو امکانات او سهولتونه دیو نوي تولیدي جوړښت لپاره اماده شي یا له ځان سـره اماده او مطابق کړي.ب: حفاظوي کومکونه: داډول کومکونه : دحمایوي ګمرکي محصـولاتو سـره نږدې تعلق لري داکومکونه دوامداره خاصـیت لري او دکومک اخیستونکي دعاید وضعیت بهتره کوي تولیدي شرایطو ته کوم تغیر نه ورکوي. ۵-دقرضونو ورکول: کولای شـي چې په منطقوي ، سـکتوري او عواملي تولیدي جوړښـتونو باندې تاثیروارد کړي . په تولیدي جوړښتونو باندې دبودجوي عوایدو اغیزې : دولته مختلف عواید اومصـارفو په ځیر متفاوت تاثیرات لري اوپه لاندې ډول توضـیح کیږي. :اقتصـادي عواید داقتصادپه منطقوي اوسکتوري جوړښتونو باندې مستقیم تاثیر لري مثلا: په یوه معینه ساحه کې دبرق دمصـارفو معاف کول باید نورو سـاحاتو په نسـبت دنرخ دکموالي په منطقوي تاثیراتو کې شـمیرل کیږي. یا مالیاتي معافیت او تخفیف په معینه سـاحه کې سـرمایه ګذاریتشـویقوي۲-په تولیدي جوړښـتونو باندې مالیات تاثیرات لري. اول : دتصـدیو دپانګې اچونې فرسـایش لپاره مالیاتي مسـاعدتونه اومالیاتي تخفیفات ډیر اهم رول لري او په یوه معینه سـکتوري سـاحه کې تاثیرات واردوي او همدارنګه منطقوي تاثیرات هم لري.دوهم : دتصـدیو دخرڅلاو په دوران باندې مالیات تصدئ مجبوروي چې مرکزیت ته خواته حرکت وکړي الحاقیې ختموي اوتصدئ تشـویقوي چې دمالیې څخه ځان ساتنې په موخه اقتصـادي مراحل کم کړي۳:مالیات کولای شـي چې دتصـدیو حقوقي شـکل ته تغییر ورکړي. مثلا په موسساتومالیات اودشرکتونو دسرمایي په عوایدو مالیات مجبوروي چې دمالیې نه دخلاصون پیه موخه ځان دیوې مالي تابع کړي۴-مالیات په تصـدیو باندې عوض تاثیرات واردوي او تولید عوامل ترتاثیر لاندې راولي. مثلا: کله چې په مزدونو باندې لوړشـي نوکارګران یي په تصدیو باندې تاثیر اچوي ،سرمایوي تولیدي وسایلو باندې تعویض کیږي. ۵-په عوایدو باندې مالیات :دتولیداتو دترک تشـویق باعث ګرځي. مثلا د وسطې حدله عوایدونه دمالیاتواخیستل :په ملي عاید باندې دبودجوي سیاست تاثیرات ===په لاس کې شته عوایدو په درست ډول کارولو سـره دمصـرف اوپس انداز په جوړښـتونو باندې دبودجوي سـیاسـت اثر لري چې تربحث لاندې نیول کیږي. دازاد بازارپه اقتصادي نظام کې هراقتصادي عامل دبازاردعملیې اودمالیې دتادیه کولو نه وروسته عاید لاسته راوړي او داعواید داحتیاجاتو سره سم کاراچول دیولړعواملو پورې اړه لري، مصرفي عادات۲-پس اندازعادات۳-دمصرف نورم ۴-اجتماعي موقف اونورداقتصادي واحدونو تخمینات فرق کوي اومتفاوت تاثیرات لري په مصرف اوپس انداز باندې دبودجوي سیاسـت تاثیرات: په مجموعي عاید کې دمصـرف اوپس اندازنسبت سـرمایه ګذارئ په واسـطه لوړیږي مثلا دپس انداز تشـویق ، معافیت او جایزي پس

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندازکوونکي ترتاثير لاندې راولي ۲:؛دمصـــــارفو ترکيب هم کولای شــــي چې په پس انداز اومصـــرف باندې تاثير وارد کړي مثلا په تجملي اشــياوو باندې مالياتو وضــعه کول دجنس قيمت لوړوي او تقاضــا کموي اوداشــياو مصــرف لپاره کميږي. دولت بودجه دتوليد عواملو معقول په کاراچولو وســيلې په توګه: کيريشـــن : دتحقيقاتو نتايجو له مخې چې په انکشـــافي اواقتصادي همکاريو هيوادونو سازمان کې يې ترسره کړي دي دولت بودجه کولای شي چې لانـدې اهـداف ترلاســــه کړي organization, economic, of cooperation and development(OECD)دداخلي رقابت تشويق اوتقويه: درقابت تشويق داقتصادي سياست اوقانوني تدابيروپه واســـطه صـــورت نيســـي. انحصـــاري قدرت: رقابت محدودوي وي اوانحصــاري بازارونه منځ ته راوړي .ددې ستونزو مخنيوي لپاره بودجوي سياسـت(عوايد اومصــارف) وسـايل لري چې درقابت محدودونکې عوامل په ضـد ترې اسـتفاده وکړي، اوپه لاندې توګه دبودجوي سـياسـت له هغو وسـايلو څخه يادونه کوو چې رقابت تشـويقوي:الف: دولت عوايد درقابت تشـويق ديوې وسـيلې په توګه : لکه څرنګه چې مخکې يادونه شـوي وه چې غيرنـاخـالص خرڅلاوو پـه دوران مـاليـات اوپـه مرحلـه اي خرڅلاو دوران مـاليـات پـه اقتصاد کې دتصديو دتمرکز او الحاق باعث ګرځي او په نتيجه کې درقابت مانع ګرځي. ځکه په دې ډول مالياتو ســره يوازې دتصــديو دبازارفروشــي دمالياتو کيږي او دتصــديو داخلي خرڅلاو دماليې تابع نه ګرځي چې ددې سره بازار عمليه له منځه ځي او مالياتونه ځان ساتي نو له دې امله دولت عوايد درقابت مانع کوونکي بنه غوره کوي ددې لپاره چې دولت عوايد درقابت مانع کوونکي واقع نه شــي نو بايد داضــافي ارزش ماليه وضــعه شــي ځکه په دې صورت کې اضافي ارزش توليد دماليې تابع ګرځي که تصدئ په الحاق اومنفرد ډول فعاليت کوي ودارزش سره به سمه ماليه تاديه کوي . دتمرکز دموجوديت : نشې کولای چې دمالياتو پس انداز رامنځ ته کړي چې دولت عوايد زياتيږی اورقابت محدوديت له منځه وړي، داډول تدابير هغو تصـــديو ته چې کم امکانات لري دزيات رقابت امکانات رامنځ ته کوي داډول اضـــافي ارزش ، دتصـــديو حقوقي شـــکل او لويوالی رعايتوي اورقابت محدوديت له منځ نه وړي . دولت مصـــارف درقابت تشـــويقونکې وســـيلې په توګه : دولت مصـــارف درقابت دمحدوديت باعث ګرځي. هغه تصـــدئ چې کومک ترلاســـه کوي مالي وضـــعيت يې بهتره کيږي دتصـديو تفوق اوبرتري رامنځ ته کيږي دنورو تصـديو په پرتله دزيات رقابت توانايي پيداکوي رقابت محدوديت مخنيوي لپاره بايد داکومکونه دايمي خاصيت ونه لري اوداقتصادي شـــرايطو تر/له مطابقت پورې اوســـې .دتادياتو دبيلانس پيژندنه: دتادياتو بيلانس دعمل په سـاحه کې مثبت او منفي حالاتونه غوره کوي دتادياتو بيلانس هغه مهال مثبت شـميرل کيږي چې دســـره زر او ســـرمايي نورملکونو نه مطلوب هيواد ته تاديه شـــي. ديو هيواد دتادياتو بيلانس هغه مهال منفي ګڼل کيږي. چې ياد هيواد دبيلانس کســـردســـره زرو او ســـرمايي په واســـطه متوازن کړي. دتادياتو بيلانس دبې توازنۍ علتونه: دغيرې واقعي تبادلې نرخ ټاکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغيرې واقعي تبـادلې نرخ تعينول دتـاديـاتو دبيلانس دبې توازنـی لامـل ګرځي . کلـه چې ديو هيواد دپيســو ارزښـــت ټيټ تعين شـــي نو په دې صـــورت کې دصــــادراتو قيمت کميږي اودوارداتو قيمت پورته کيږي. چې په دې سره صـادرات زياتيږي اوواردات کميږی. دپيسو دارزښت کموالی ددې لامل کيږي چې داخلي هيواد پيسو ارزښت دخارجي پيسو په وړاندې کم کړي چې ورسـره سـم دخارجي اجناسـو قيمت په داخلي بازار و کې ارزانه تماميږي او دوارداتو لپاره زمينه مســاعديږي اودتادياتو بيلانس دمازاد باعث کيږي . که چيرې يو هيواد دپيسـو ارزښـت نسـبتا لوړتعيين شـي نو ورسـره سم ديادهيواد صـادراتي توکو قيمت نورو خـارجي هيوادونو تـه ګران تمـاميږي. اودوارداتي توکو قيمـت ارزانـه کيږي چې پـه دې صـورت کې صـادرات محدوديږي واردات زياتيږي دتادياتو دبيلانس منفي او کسر رامنځ ته کيږي.که چيرې داحالات(بې توازنـي )اوږد مهاله شکل ولري داچې تغييرات دتبادلې تغييراتو له امله وي نو له دې امله بايد دتبادلې ثابت نرخ له منځه نه يوړل شــــي . مثلا: که چيرې تادياتو بيلانس کســر ولري نوداخلي پيســو په وړاندې خارجي پيســو ارزښــت لوړتعينيږي ياداخلي پيســو ارزښـــت ته تنزيل ورکول کيږي . ترڅو خارجي هيوادونو ته دتوکو قيمتونه ټيټ تمام شي او دصادراتو زياتوالی ومومې او دتادياتو دبيلانس کسر له منځه يوړل شي. په تبادلې نرخ کې تغيرات داسعارو احتکار ته لارښوونه کوي او داچاره نړيوال پولي سيستم ته تاوان رسـوي او که دا کسـر په نورو اقتصـادي سياسـتونو اوتدابيرو سـره دتوازن امکان ونه لري نوبيا دتبادلې نزخ تغيرته هغه مهال اجازه ورکول کيږی چې دتادياتو بيلانس عدم توازن دوامداره او ناوړه حالت ته داخل شـی دانفلاسـيون منځته راتلل :دانفلاسـيون منځته راتلل: په هغو هيوادونو کې چې دبازار اقتصادي نظام موجودوي دانفلاسيون له ستونزې سره مخامخ دي کله چې په يوهيواد کې انفلاســيوني تمايلات وجودولري نو:دنورو هيوادونو په پرتله يي دتوکو او مزدونو قيمت په زياته اندازه لوړيږي.۲-اودکارمولديت يی دقيمتونو زياتوالی سـره مطابقت نه لري يا داچې په اجتماعي محصـول کې زياتولای رانه ولي نوله امله يي دتادياتو بيلانس کســر رامنځ ته کيږی ځکه دتادياتو بيلانس کســر رامنځ ته کيږي چې : داجناســو او مزدونو قيمت دانفلاسـيون له امله زياتيږي۲-نوځکه دصـادراتو دکموالي لامل کيږي.دبودجې انقباضـي سـياسـت کولای شـي چې دداخلي قيمتونو له لوړوالی څخه مخنيوی وکړي .هرکله چې ددې سياست له امله داخلي قيمتونه درقابت کوونکو هيوادونوپه پرتله راکم شي نو په دې صــــورت کې صــــادرات زياتيږي او واردات راکميږي اودبيلانس مازاد رامنځ ته کيږي. دبودجې سياست:دتادياتو دبيلانس سياست ديوې وسيلې په توګه هر کله چې دتادياتو بيلانس کسر دانفلاسيون له امله وي نو دډداسې کسر مخنيوي لپاره لازمه ده چې انفلاسيون يي ضد تدابيرو څخه استفاده وکړو چې په دې حالاتو کې دانفلاسيون ضد بودجوي سياست وسـايل عبارت دي له۱-دمالياتو موقتي لوړوالی. دداســـې مالياتو لوړوالی په پراخه او کتلوي تاثير ولري په مجموعي تقاضـا باندې تاثير وارد کړي لکه په عايداتو اودخرڅلاو په دوران باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماليات ددې مالياتو په عملي کولو سره په اقتصادي مجموعي تقاضا کې کموالی څرګنديږي او دقيمتونو دنزول باعث ګرځي.۲-ددولتي قرضونو لاسته راوړنه: دداسې چې ددولت دقرضونو دلاسته راوړنې لپاره اسناد نشروي او له دې لارې غواړي چې په اقتصادکې دخلکو قدرت خريد جذب راکم کړي.چې په نتيجه کې ورسره په اقتصادکې دقيمتونو دنزول باعث ګرځي داچاره هغه مهال غوره اوسم تاثير لري چې دولت لاسته راوړي پولي وسايل بيرته اقتصادي جريان ته شامل نه شي ځکه که چيرې داوسايل بيرته اقتصاد ته جريان ومومي نو په اقتصاد باندې توسعوي تاثير واردوي نوترمورد نظر مهال دي ياد پولي وسايل راکد وساتې ترڅو مؤثر نتايج لاسته راشي.۳-په دې اقتصادي حالاتو کې دولت بايد دقرضونو له ورکړې څخه ډډه وکړي ترڅو په اقتصاد کې له اضافي تقاضا څخه مخنيوی وشي اودقيمتونو لوړوالی کابو کړي. ۴-ددولت دهغو سرمايه ګذاريو تعلق کول چې عايداتي تاثيرات يې نسبتا ظرفيتي تاثيراتو ته لوړوي لکه څرنګه چې عايداتي پروژو کې دعايد سطحه لوړوي اودعايد په اندازه توليد او عرضه کې زياتوالی نه راځي نو ددې لپاره چې تقاضا زياتوالی ونه مومي او قيمتونه لوړ نه شي نوبايد عايداتي پروژې تعليق شي . لکه عمراني پروژې اوپه دې کې سرمايه ګذاري ددې لامل کيږي چې عايداتي سطحه لوړه کړي دپورته تدابيرو علاوه يو لړ نور اقتصادي سياست او بانکي سياست ، ازاد بازار سياست، دحداقل ذخيرې سياست ، دتنزيل سياست، دقيمتونو کنترول سياست، اوبلاخره په اقتصاد کې مجموعي تقاضا سهيمه بندي کول او محدود کول دقيمتونو دنزول باعث ګرځي. دقيمتونو دکميدو سره سم داخلي اجناس خارجي هيوادونو ته ارزانه تماميږي دصادراتو زياتوالی اوبيلانس کسر مخنيوي لامل کيږي.هرکله چې دتادياتو بيلانس کسر دمالي توسعوي سياست له امله وي نو په دې صورت کې دکسرله منځه وړلو لپاره انقباضي بودجوي سياست يا محدود کونکی بودجوي سياست مناسب ګڼل کيږي.داسياست په اقتصاد کې دپيسو مقدارکموی او قيمتونو صعودي ميلان له منځه وړي چې ورسره سم صادرات زياتيږي او بيلانس کسر مخيوی کيږي. کله چې دتادياتو بيلانس کسر دزياتو پيسو دارزيابۍ له امله اوسي نودصادراتو پانګه اچونه کموالی او تضرر مومي له ناقص استخدام سره تيټ استخدام حالات رامنځ ته کيږي په دې صورت داهداف تضاد هم رامنځ ته کيږي . په دې معنا چې دتادياتو بيلانس کسر دزياتو پيسو له امله دی نو بايد انقباضي بودجوي سياست عملي شي ترڅو صادرات زيات اوواردات کم کړي ولي دبيکارۍ مخنيوي کې توسعوي بودجوي سياست څخه استفاده کيږي اوکه چيرې دتادياتو بيلانس مازاد انقباضي بودجوي سياست له امله رامنځ ته شي.

# ماركيټينګ (بازارموندنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارکیټینګ عبارت دارزښـــتونو دپیداکولو دپروســـي څخه ده ؟ټولې کاروباري اداري په کاربوختې په عمومي توګه ، په دوو برخو ویشـــل شـــوي دي۱-انتفاعي ۲-غیرانتفاعي ===غیرانتفاعي اداري ډتولني دخیرښیګڼې لپاره جوړیږي او دشخصي ګټو په اساس فعالیت کوي او دا اداري بیل  اهداف او بیلې ګټې لري ۲-انتفاعي اداري بیادنورو اداري اهدافو سره ســره په عمده ډول دګټې  دترلاســه کولو لپاره کولو لپاره فعالیتونه  کوي او دغه اداري هڅه کوي چې خپل فعالیتونه په دقیق ډول په هره برخه کې ترجدي کنترول لاندې ونیســـي ترڅو دبیځایه مصــارفواو دګټې دفرصـتونو څخه دښـي استفادي شـرایط برابر کړي. مالي څانګه : دغه څانګه دکاروباري اداري دمالي برخو دټولو چارو مسولیت په غاړه لري او مهم وظایف یي دپیســو تدارک او دتمویل دسـرچینو برابرول پرمختګ او فعالیتونو او ځایونو  کې دهغې مناســب اســتعمال دکاروبار په نتیجه باندې تصــمیم نیول دپانګې دکمښــت په صــورت کې دبیلابیلو ادارو څخه دپانګې لاس ته راوړنه دکاروبار پراخول اودکمپنۍ دپلانونو ســـرته رســول  او داســي نورو فعالیتونو  په مخ بیولو کې ســهیم وی. دبشــري منابعو څانګه: دغه څانګه دکاروبار لپاره دمسـلکي او وړ پرسـونل داسـتخدام چارې دهغوی لپاره دوظایفو ټاکنه او دکاري طرز العمل  جوړونه دټکنالوژۍ دتغییر  په صـــورت کې دهغوی لپاره ټرینګ چارې دکارکوونکو دوظایفو ترفیع او تنزیل دمعاشـــاتو ټاکنه ، دکارګرانو دڅوندچاپیریال او داســـي نور په مخ بیایي. دمارکیټینګ څانګه : دغه څانګه دکمپنۍ دتولیداتو دتولید په اړه تصمیم دقیمتونو ټاکنه و دهغوی تشهیر او توزیع ټولې چارې په دې څانګه پورې تړاوو لري . دمارکیټینګ څانګه : د اداري دډیرومهمو څانګو څخه ده چې د اداري سره داهدافو په لاس ته راوړنه او دمنابعوپه ســـمه کارونه کې مرســـته کوي.مارکیټ هغه ځای دی چې هلته اخیســـتونکي او خرڅوونکي یو ځای کیږي او داجناســـو او خدماتو دتبادلې په وســیله خپلې اړتیاوې  پوره کوی. یعني مارکیټ دبازار په مفهوم سره له هغه ځای یا ماحول څخه عبارت دی چې هلته اخیستونکي او خرڅوونکي دشیانو او خدماتو تبادله کوي . یا مارکیټ : دشیانو او خدماتو موجود متوقعه(بالقوه)اخیســـتونکو دمجموعي څخه عبارت ده . دمارکیټ ډولونه: مارکیټ دمختلفو اړخو له مخه تقسیم شـوی خو مونږ یي یوائې له مهمو څخه یادونه کوو ۱-دمشـتریانو دخصـوصـیاتو له نظره ۱-دمولدینو بازار۲-دمستهلیکینو بازار-د عرضـه کوونکو او تقاضـــا کوونکو دشـــمیر له پلوه ۱-دکامل انحصـــار رقابت بازار۲-انحصـــاري بازار۳-اولیګوپول بازار. دیادولو وړده چې په کوم بازار کې رقابت زیات وي په نتیجه کې مشتریانو او مســـتهلیکینو ته ګټه زیاته وي ولې په هغو بازارونو کې چې انحصـــار زیات وي ګټه کاروبار ته وي ځکه هغوی په خپله خوښــه قیمتونه ټاکي . مارکیټینګ: یوه پروســه ده چې په هغې کې افراد او ګروپونه ګډون لري ترڅو خپلې اړتیاوې او غوښـــتنې دتولیداتو او دهغوی دارزښـتونو دتخلیق او تبادلې له لارې ترلاســه کړي. تولید په دې برخه کې دتولید پلانول او ډیزینول ، کیفیت دبرانډ نوم ، بسته بندۍ اندازه ضمانت او داسې نورراځي . قیمت ایښودنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمختلفو تولیداتو لپاره دمصـــرف جدول جوړول اوبیا دهغې له مخې دمناســب قیمت ټاکنه ، همدارنګه دخپلو رقیبانو دقیمت په اړه معلومات حاصلول او په پای کې دمشتریانو رضایت سره سم دقیمت ټاکنه. تشـهیر یا پروموشـن: داشـتهاراتو مقصـد دخلکو خبرول او دهغې تشویقول دي په دې برخه کې دتولیداتو معرفي کولو او پرمختګ لپاره کمپاینونه په کاراچول کیږي او په دې اړوند مختلف تصامیم نیول کیږي. توزیع PLACEMENT: په دې برخه کې دتولیداتو دتوزیع لپاره مختلفي لارې چارې تربحث لاندې نیول کیږي،دمثال په توګه مسـتقیم ډول توزیع ترسره شي یا دمنځګړو په واسطه توزیع مصارف په تولیداتو څانګه تاثیر لري دتوزیع دچینلونو ټاکنه همدې برخې دنده تشریح کوي.بازار موندنې اهمیت : بازار موندنه هم دمولد او هم دمستهلک له پلوه مهمه ده داځکه چې دداسې یوې پوهې او سیستم په لرلو سره کولای شو تولید شوي مواد او خدمات داړتیا په مهال په ښه ډول دمولد څخه مقتضي ته هغه ځای ته اړتیا پکې لیدل کیږي وړاندې کړو. دبازار موندنې یو شـمیر خدمتونه دلته په لنډه توګه ووایو-----دتولیداتو ترانسپورت ۲-زیرمه۳ـــسورت، ستنډرډ، بسته بندي او بارجامه . دبازارموندنې تکاملي مرحلې:دتولیدولو اصل۲-دتولید اصل۳-دخرڅلاو اصل۴دبازارموندنې اصل ۵-دبازار موندنې ټولنیز اصل. دبازارموندنې چاپیریال –دیوې کمپنۍ مارکیټ چاپیریال دټولو هغو عواملو اواسبابو څخه عبارت ده چې دکمپنۍ په خرڅلاو دمشتریانو سره ګټورو اړیکو دتغییرسـبب ګرځي. خارجي عوامل: داسـې عوامل دي چې په کمپنې پورې نه مربوطیږي ولې دکمپنې دداخلي کچې دچاپیریال ټول عوامل او کاري اسـباب ترخپل اغیز لاندې راولې . په خارجي عواملو کې دنفوسـو شـمیرنه او تحلیل اقتصـادي حالت ،تخنیکي مهارت، خارجي شرایط ، سیاسي کلتوري ځواکونه شامل دي داهغه ځواکونه دي چې دیوې کمپینۍ په باندې چاپیریال اغیز کوی. داخلي عوامل هغه عوامل دي چې په خپله په کمپنۍ پوري مستقیم ارتباط پیداکوي او ترډیره حده کمپنۍ کولای شي چې مهار یي کړي او کنټرول ورباندې ولري یعني کمپنۍ ددې توان لرلای شي چې داتاثیرات کنترول لکه : مشتریان ۲-رقابت کوونکي ۳-دمارکیټینګ مینځګړې۴-دخامو موادو برابرونکې او داسې نور. دخارجي چاپیریال عوامل ۱-دیموګرافیک عوامل۲-اقتصـادي چاپیریال ځواکونه ۳-طبیعي چاپیریال عوامل (ځواکونه)۴-ټیکنالوژیکي چاپیریال ۵-سیاسـي او قانوني عوامل۶-ټولنیز اوکولتوري عوامل. دټیټې کچې چاپیریال : په دې برخه دمارکیټینګ دچاپیریال داسـې ځواکونه او تاثیرکوونکي عوامل راځي چې دکمپنۍ سره ډیرنژدې وي او مشـتریانو ته دخدمت کولو په اړه په کمپنې باندې تاثیرکولای شـي چې هغه عبارت دي له:۱-دیوي کمپنۍ مارکیټ۲-دکاریدونکو موادو عرضـه کوونکي۳-دمارکیټ منځګړي۴-مشـتریان۵-رقابت۱-مارکیټ دمشـتریانو مارکیټ۲-صـنعتي مارکیټ۳-تجارتي مارکیټ۴-تجارتي مارکیټ ۵-حکومتي مارکیټ۶-نړیوال مارکیټ۷دمسـتهلیکینو مارکیټ۷-دمارکیټینګ منځګړي خپلواک کاروباري ادارې اواشخاص دي چې په مستقیم ډول دکمپنۍ او دمارکیټونو ترمنځ دشیانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدماتو په جريان او تبادله کې مرســـته کوي. دغه منځګړي په عمومي ډول په دوه ډوله دي۱-middle men۲-facilitating org.دمارکيټ په اړه کولای شــو چې دلاندې مراجعو څخه معلومات په لاس راوړو ۱-داخلي ياداشـــتونه۲دبازارموندنې تيټ کارمندان ۳-دبازار موندنې تحقق. دزياتو توليداتو دخرڅلاوو لپاره مارکيټينګ معلوماتي سيستم ته اړتيا پيداشوه چې په لاندې ډول تشــريح کيږي۱-شــيانو ته غوښــتنه۲-دشــيانو کيفيت او خوښــه۳-دخلکو غبرګون . ديوه غوره او ښــه مارکيټ دمعلوماتي سيستم لپاره اړينه ده چې په دې باندې پوه شــي چې دمارکيټ داداره کوونکو لپاره څه ډول معلومات ضــروري دي او ترکومې کچې کولای شــی چې دا معلومات راټول کړی . دمعلوماتو پرمخ بيول کله چې دلاندېنيو ســرچينو څخه معلومات راټول شــــي نودلاکټورتيا لپاره بايد تحليل شــــي ۱-داخلي ريکارډونه۲-دمارکيټينګ سيستم۳-دبازارموندنې څيړنه. دمارکيټينګ څيړنه: دشيانو او خدماتو دمارکيټ په اړه داړونده مســـايلو په اړه په منظمه طريقه دمعلوماتو برابرول هغه په ليکلي بڼه چمتو کول او دهغه تحليل کول دي. دبازار موندنې په اړه دڅيړنې اهداف:۱-دمصـــارفو کموالی۲-منظمه پلانيونه۳-دنوي مارکيټ پيداکول۴-دقيمت په اړه پاليســـي جوړول۵- liking and disliking۶-دمارکيټنګ رقابت۷-study the impact of external forces. دمارکيټ په اړه دڅيړنې ګټې : ۱-دمارکيټ په اړه دڅيړنې ســره مونږ ته دمســتهليکينو خوښــه او ددوې عادات معلوميږي۲-دمارکيټ په اړه څيړنې ســـره کولای شـــو چې دخپلو توليداتو لپاره نورمارکيټونه پيداکړو۳-دمارکيټ په څيړنې ســره دمارکيټ مدير ته داڅرګنديږي چې ترڅو په خپلو پاليســـيوکې تجديد نظر وکړي او نوي پلانونه طرحه کړي۴-دشـــيانو دکيفيت بهتره کول۵-په لګښتونو کې لږوالی۶-په توليداتو کې تنوع راځي.دبازارموندنې دڅيړنې پروسه : ۱-دمسلې پيژندنه۲-دځانګړو موخو ټاکل۳-دڅيړنې لپاره پلان جوړونه ۴-دمعلوماتو دتفصيل يوځای کول۵-دراجمع شــويو معلوماتو تحليل۶-نتيجه اخيســتل او د ســپارښــتنو برابرول۷-دراپور برابرول۸-دمعلومــاتو دراټولنې ســـرچينې ۱-داخلي ســـرچينې دکمپنۍ دداخلي کارکوونکو او شعبو دمعلوماتو څخه عبارت دی۲-بهرنۍ سرچينې ۱-ثانوي سرشميرنه دا په کم لګښــت ســره ترســره کيږي او سم لاســي ورځيني وخت ستونزې راولاړوي ځکه دادبل هدف لپاره راجمع شــوي وي۲-لومړۍ ســرشــميرنه: زيات مصــرف ته اړتيا لري او دزيات وخت ته ضــرورت لري ولې زيات دقيق وي.دمارکيټ دمعلوماتي سيستم او څيړنيز سيستم ترمنځ فرق۱-ځيني خلک وايي چې ismدمارکيټ په اړه دڅيړنې پرمختللی شـــکل دی چې داوســـنۍ تکنالوژي په واســـطه يي پرمختګ موندلی۲-دمارکيټ په اړه څيړنې تعريف: دمارکيټ دستونزو په اړه بشپړ او باهدفه معلومات راټولول او دهغه تحليل او ارزونې څخه عبارت دی. توليدات څه شـــي دي: له توليداتو څخه هدف هغه څيز دی چې په مارکيټ کې دپاملرنې وړ وګرځي.داستعمال دحصول لپاره وړاندې شي او دغه څيز دمستهليکينو اړتياوې لري او غوښـــتنې پوره کړای شـــي په دې څيزونو کې وجود لرونکي فزيکي محصـــولات

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمات،وګړي ځايونه اداري او نظريات هم شـــامل دي . هغه کســـان چې دشـــيانو تو ليدولو لپاره دپلان طرح کړي هغوي ته دشـيانو په اړه دلاندېنيودريو اصــلو په اړه فکر کولو اړتيا بريښــي ۱-بنسـټيز محصـول۲-ريښـتيني توليدات داډول ځيزونه بايد لاندې ځانګړتياوي ولري ۱-کيفيت په کې درج وي۲-ځانګړتياوې۳-جوړښت۴-دنوموني نوم(نمونه) بسته بندي کول۳-اضـــافي ځيزونه (توليدات): په دې شـيانو کې مصــرف کوونکي ته دخرڅلاوو نه وروســته داضـــــافي ګټې رســـــولو او خدمات کولو کوښـــــښ کيږي دتوليداتو طبقه بندي ۱-بې دوامه توليدات۲-دوام لرونکي توليدات۳-خدمات. بې دوامه توليدات: دا هغه شــيان دي چې په يو يا څو ځله استعمال سره بيخي له منځه ځي او ختميږي لکه ډوډۍ مالګه صابون۲-دوام لرونکي : توليدات داهغه شـيان دي چې دډيروخت لپاره دوام کوي لکه:بړمنځ ، کالي، موټر وغيره ۳-خدمات: دبيلګې په ډول : ډاکټر، استاد ترکاڼ، او داسې نور. دخلکو داستعمال له مخې شيان (توليدات) په دوه برخو ويشلاى شو ۱-دمستهليکينو توليدات۲-صنعتي توليدات۱-دمستهليکينو اجناس: داهغه شيان دي چې لګښت کوونکي يې دخپل شخصي استعمال لپاره واخلي او په هغو اړتياوي لري کوى. اســـتهلاکي شـــيانو بيلابيل ډولونه ۱-هغه شـــيان چې اســـانتياوي برابروى: داډول شيان هغه شيانو ته ويل کيږي چې پيرودونکى يې بيا بيا او ژرژر اخلي او داخيستلو په مهال نه خو لکه دورځپانې تيل صـابون کريم اونور(ب) هغه شيان چې دموازنه کولو وروســـــته اخيســـــتل کيږي داهغه شــــيان دي چې پيرودونکى يې دپيرودنې په مهال ګټورتوب کيفيت بيي او ځانګړنو موازنه کوي چې ډير وخت ورباندې لګيږى لکه : رختونه فرنيچرونه موټرونه اونور . نو داډول شـيان په دووبرخو ويشـل شـوي دي۱-يوډول اوورته شـيان۲-غيرمشـابه اوناورته شـيان. ورته شـيان: کله کله مسـتهليکينو لپاره دورته او يو ډول ځانګړتياوو لرونکې شيان په بيلابيلو بيو ترلاسه کيږي خوپه بيو کې ډير زيات توپير موجود وي لکه يخچال ، او تلويزون اونور.غيرمشــــابه ناورته شــــيان: په دې کې پيرودونکي دپيرودنې په مهال کې دشيانو دبيي په ځاى دشيانو کيفيت په پام کې نيسـي(ج)ځانګړي شيان داسـې شيان چې ښـه اوبې سـاري وي يا هغه داسـې وي چې دپيرودونکو يوه مهمه ډله دهغو دپيرلو هيله وکړي لکه دمرسيډيز موټر خوښوونکې ځانګړي کسان دي(د) نااړين شيان هغه شــــيان دي چې په اړه يې خو مســــتهليکين معلومات نه لري او که معلومات لرى هم خو دپيرودنې په اړه يې فکر نه کوي مثلا: ټيپ ريکارډر۲-صـنعتي توليدات: هغه شـيان دي چې افراد يي او يا اداري يې دنورو شيانو دجوړولو لپاره اخلي لکه تار چې درخت جوړولو لپاره اخيسـتل کيږي صـنعتي شـيان په ۳ ډوله دتوليدي عمليې له مخې ۱-سـامان او پرزي۲-پانګه درانه شــيان ۳-عرضـــه او خدمات. که کومه کمپنۍ دانفرادي شــيانو دجوړولو پريکړه کوي نولاندې ټکې دي په پام کې ونيســی۱-دڅيز ځانګړني۲-نښــه لګول۳-بسـته بندي کول۴-ليبل لګول۵-دڅيز مرســـتندويه خدمات. دڅيز ځانګړني ۱-کيفيت۲-دڅيز بنې۳-دڅيز طرحه يا خاکه . کله چې مارکيټ ته يوشــی دخرڅلاوو لپاره وړاندې شـي نو هغه بايد يو څه ځانګړني

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولري چې داسی شیانو ته stripped down model وايي . براند: په اصل کې دپیرودونکي له خوانه لیکل شـوي ژمنه ده . براند مارکه دیوڅیز دپیژندلو لپاره یو ځانګړي نخښــه ده لکه دیورقم غوړو ؟ نخښــه خرما ده دعنوا صــابون نخښــه غواده. ټرید مارک: ټرید مارکه دبراند یوه برخه ده چې دیوه کمپنۍ په قانوني ډول راجســـتروي او نورې کمپنۍ دانخښــــه نشــــي اســـتعمالولی. بســـته بندي .پاکټ کول یا پیکینګ کول دي ته وايي چې شــــیان په قطیو او کاغذونو کې بند کړای شي. داعمل په دريو مرحلو کې ترسره کيږي الف لو مړی پیک کول ب ثانوي پیک کول ج شـیپنګ کول. لیبل : دپیک کولو یو مهمه برخه شـمیرل کیږي په لیبل باندې بشــــپړ معلومات لیکل شـــــوي وی لیبل یعني چاپ شـــــوي معلومات په لیبل باندې دجوړیدونیټه فارموله وزن او داسـتعمال طریقه  او داسـې نور. دتولیداتو ټولګه یا ګډ شـیان: یوه داســـي کاروباري اداره چې دګڼ شــمیر شــیانو دتولیدولو لیکه یې غوره کړي وي دغو تولیدی توکو ته دشیانو ټولګه وايي . دشیانو ټولګې څلور مهمې ځانګړنې دادي۱-پلن والی۲-اوږدوالی۳-ژوروالی. دبیو پالیســي تعریف : هغه پالیســي دکومې په واســطه چې یوه کمپنۍ دخپلو تولیداتو او خدماتو دخرڅولو لپاره په عمده او پرچون ډول بیې ټاکي . دبيي مفهوم : له بيي څخه مراد هغه پیسي دي چې دشیانو دحاصلولو او دهغوی داستعمال لپاره په کارراځي . دبيي اهمیت : اقتصـــاد کې دبیې اهمیت : په اقتصـــاد کې دشـــیانو  بیي دتولید دعاملینو  په معاوضــه  یعني په اجوره اغیز کوی۲-دکمپنۍ لپاره دبیې اهمیت۳-دمستهلکینو له نظره دبیی اهمیت. دبیو ټاکلو اهداف۱-په لنډه موده کې اعظمي ګټه۲دټاکل شویو عوایدو لاسته راوړل۳-دشـیانو دخرڅلاو زیاتوالی  دنویو شـیانو دبیې دټاکلوبهیر په دوه برخو ویشـل شـوی۱-دنوي څیز یا نوي  تولید شــــوی څیز بیه۲-دموجوده څیز څخه دنوي نقلي څیز جوړولو بیه. نوی تولید شـوی څیز بیه دبیي ټاکلو له مخې په دوو اســاســي برخو ویشــو ۱-دلوړې بیې ټاکل۲-دکمې بیې ټاکل. دمرکبو یا ګډو شیانو دبیي ټاکلو پالیسي. که چیرته یوه اداره ګڼ شمیر شیان جوړوي نو دهغې دیو شــي بیه ټاکل ســتونزمن وي ځکه چې داټول یوله بل ســره تړاوو لري په دي اساس اداره دبیو دیو اسي سیټ ټاکي  چې په مجموعي شیانو کې زیاته لاسته راوړنه راوړي نوځکه داسې شیان دبیې ټاکلو په اعتبار په ۵ برخو ویشل شوي ۱-دورته شیانو بیه ۲-دمرســتندویه شــیانو بیه ۳-دلازمي شــیانو بیې۴-دضــمني شــیانو بیې۵-دډیروشــیانو بیې. رعایت  پخوانیو شـــــیانو په بدل کې دنویو شـــــیانو په پیرودنې کې چې کوم رعایت ورکول کیږي. هغه ته په تجارت کې رعایت یا تخفیف وايي. دبازار موندنې چینلونه: هغه لارې چارې چې تولیدونکې  دهغې په واسطه  معلومات ورکوي خپلو مشتریانو او مستهلیکینو ته دتولید شـوو اجناسـو او خدماتو په هکله مشـتریانو او مسـتهلیکینو ته دهمدې لارې اجناس او خدمـات انتقـالول  چې دبـازار مونـدنې چینلونو پـه نوم یـادیږي. یـادبـازار مونـدنې چینلونـه دتولیدونکو څخه هغه شـیان او خدمات  اخلي  او مســتهلیکینو ته یې رســوي دبازار موندنې چینلونو اهمیت:۱-دوســــایلو کم کارول۲-دځانګړي مهارت له امله غوره کړنه ۳-بیلابیلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسانو ته کارویشنه . دبازارموندني چینلونه لاندې وظایف سرته رسوي ۱-معلومات۲-دخیال تبادله کول۳-اړیکه۴-همغږي. دهدف شــوی مارکیټ ته دشـــیانو درســـیدو لپاره درې ډوله چینلونه وجود لري۱-ارتباطي وســـایل۲-دتوزیع چینل۳-دخرڅلاو چینل . توزیع کوونکي چینل په دوو برخو ویشـــل شـــوی۱-ډیریکټ چینل: هغه چینل دی چې دتولیدوونکو څخه مســـتقیما اجناس تر مصــــرفوونکي پورې رســـوي. ۲-اینډیریکټ چینل: هغه چینل دی چې دتولیدوونکو څخه اجناس په غیرمستقیمه توګه مصرفوونکي ته رسوي. دخرڅلاو چینل: هغه وسایل چې دپیرودونکي ته دمعاملاتو په اجرا کې اسانتیا راولي لکه بانکونه او نور. داهدافو په اړخ کې نړیوالو چینلونو ته شـــکل ورکول لاندې عواملو پورې اړه لري ۱-دپیرودونکي ځانګړتیاوي ۲-دمحصـــول ځانګړتیاوي ۳-دواســـطه ځانګړتیاوي؟۴-محیطي ځانګړتیاوي. دخرڅلاوو پرمختیا ټول پیشـــنهادونه چې په عادي حالت کې اخیســـتونکی تشـــویقوي ترڅو زیات نه زیات اجناس واخلي نو په دي اســـاس دتولیداتوپه خرڅلاو کې زیادات راولو چې داجناســـو دخرڅلاوو دغه وســـیله دخرڅلاو دپرمختیا په sale promotionپه نوم یادیږي. پرمختیا داســـې یو کمونیکیشـــن دی دکوم په وسـیله چې نه یوائې خلک دتولید او موجودیت دتولید دکیفیت اوکټورتوب څخه خبروی مګر همدارنګه هغوي تشـــویقوي ترڅو نوموړي تولیدات واخلي.Davidوله نظره دی وایي پروموشـــن یو تشـویقي افهام او تفهیم څخه عبارت دی کوم چې خلک تشـویقوي ترڅو هغه څه چې یوه اداره یې خرڅوي که هغه اجناس وي او که خدمات وي یا نظریات وي واخلي. دپرمختیا اهداف : دپرمختیا اصـــلي هدف په خرڅلاو کې زیات وي ددي ترڅنګ ځیني نور ا هداف هم لري ۱-چې نوی تولید معرفي کړو۲-چې موجوده اخیســـتونکي په قبظه کې وســـاتي او دنورو اخیســـتوونکو توجو راجلب کړو۳-چې موســـمی تولیدات حمایه کړي۴-درقابت دچیلینجونو ســـره مخامخ کیدل. دخرڅلاو طریقې : دهرتولید لپاره پرمختیا او زیاتوالی لپاره تولیدونکې مختلف قوانین اختیاروي لکه نمونه، تحفه ، بونس، او داســې نور چې همدغه دخرڅلاوو دسـامانو(وسـایلو)toolsتکنیک او میتود په نوم یادیږي. کوپون یعنې دجایزي کاغذونو چې دځینو شیانو سره وي دخرڅلاوو دپرمختیا په اړه تخنیکونه کوم چې په عام ډول اســـتعمالیږي لازیات دمعلوماتو ترلاســـه کړو۱-وړیا نمونې ۲-جـایزه یـا دبونس ورکول۳-دتبـادلې طرحـه۴-فرایـث افرprice offer۵-کوپون ۶-میلې یا ننداړتونونه۷-trading stump۸-scratching and win offer۹- money back offerدتولیدوونکو دنقطو له نظره پرمختیا ځکه ضـــروري ۱-په رقابتي مارکیټ دخرڅلاو په زیادت کې کومک کوي ۲-او په دې توګه ګټه کې زیاتوالی راځي۲-دممکنو مصـــرف کوونکواهمیت دتوجو راګرځولو په ذریعه په مارکیټ کې دنوي تولیداتو په معارفي کولو کې کومک کوي۳-کله چې یو نوی تولید معرفي شـوی وي اویا دمشـتریانو په ذوق کې تغییر راشي نو موجوده زیرمه یا ذخیره په ډیره چټکی سره خلاصیدای شي ۴-دخپلو مشتریانو په قبظه کې ساتلو سره دخرڅلاوحجم ثابت ساتي او ترزیاتې اندازې امکان لري چې درقابت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرحله کې يو مشـــتري خپل ذهن ته تغيير ورکړي او بل مارکه وازمويي مختلفي انګيزي دخرڅلاو دپرمختيا طرحې لاندې وجود لري چې دمشتريانو په قبضه کې ساتلو سره مرسته وکړي. دمرسته کوونکي دنقطې له نظره ۱-دخرڅلاو پرمختيا دمصرف کوونکي لپاره ځکه ضـروري ده چې ۱-مصـرف کوونکي توليد په ارزانه بيه ترلاسـه کولای شـي ۲-مصـرف کوونکي ته مالي ګټې ورکوي دتحفو په ورکولو ســـره مختلفو ځايونو ته ليږلو په ذريعه۳-مصـرف کوونکي ته دمختلفو توليداتو دکيفيت جنسـيت او اسـتعمال په اړه معلومات ترلاسـه کول۴-دخلکو دژوند دسطحې په لوړلو کې مرسته کومک کوي. ۱-په انفرادي ډول سره ديوه توکي پلورل په يوه کس يا فرد باندې عبارت دی دشـــخصــــي يا انفرادي خرڅلاو څخه ۲-خرڅوونکي عبارت له هغه کس څخه دی چې توکي يا خدمات په خرڅلاو باندې رســـوي۳-خرڅوونکي شخصيت: خرڅونکي بايد يو شخصيت وي چې هغه وکولای شي چې دنورو په ذهن کې يو مثبت فکر يا نظريه پيداکړي يا دخيري يا مخ ځښـــتن وي کوم چې ډيرژر اخيســـتونکي ته دقبليدو وړوي. دخرڅونکي ورځنې وينا۱-خرڅونکي بايد دهغوخبر و کولو څخه خودداري وکړي کو م چې اخيستونکي لپاره دورځنې شرايطو له کبله بې باوره شوي وي۳-خرڅوونکي بـايد دهغـه خبرې وکړي کوم چې نوي وي او پيرودونکي کلـه نـه وي اوريدلې په ښـــار او بازار کې نوي وي.په ســـاده مفهوم بازار عبارت له هغه ځای څخه دی چې هلته اجناس او خدمات اخيســـتل او خرڅول کيږي. دمارکيټ کلمه دلاندې حالاتو لپاره اسـتعماليږي۱-مارکيټ شـايد يو ځای وي چيرته چې اخيسـتل او خرڅول صـورت نيسـي ۳-يوسازمان چيرته چې داجناسو تبادله صورت نيسي ۴-داجناسو داخيستلو او خرڅوولو عمل. بازارموندنه يوه پروســـه ده چې دمشـــتري او دهغه په رضـــايت تمرکز کوي. دعصـــري بازارموندنې په مفهوم : بازار موندنه دتوليد په نظريه شـــروع او دمشـــتري په رضـــايت ختميږي. په خلاصه ډول بازارموندنه په مناسب قيمت په مناسب وخت کې په مناسبه طريقه داجناسو او خدماتو رسول مشتري ته دبازارموندنې څخه عبارت ده . دبازارموندنې اهداف: ۱-دعصـري بازارموندنې دپاليسيو عملي کول۲-دښـې نتيجې ترلاسـه کولو په خاطر دپاليسيو ايجـادول او دهغې پلي کول۳-دبـازارمونـدنې مربوط مشـــکلاتو مطـالعـه او دهغوی حـل وړانديز۴-دمارکيټ دشـــکل په هکله دنورو اضـــافي معلوماتو ترلاســـه کول ۵-دبازارموندنې دموجودو وظايفو تقويه کول ۶-دضـرورت په وخت کې دمناسـبو کړنو ترسـره کول . دبازار موندنې اهميت۱-داســـتخدام ســـطحه لوړول۲-دهغه توليداتو ســـره مرســـته کوي چې دنورو هيوادونو کې ورته تقاضـا وی۳-دنويو کاروبارونو ايجاد سـبب کيږي۴-دنويو کاروبارونو په ايجاد دبيکاری له منځ نه وځي۵-دخلکودعايد سطحه لوړول۶-دپس انداز رامنځ ته کيدو سبب ګرځي. خرڅلاوو او دخرڅوونکو دضـرورتونو څخه حسـابيږي چې دکاروبار داخلي اهدافو برخه ده چې دخرڅلاو دبازارموندنې يوه برخه تشکيلوي. توزيع په فزيکي شکل دمولد څخه مستهلک ته داجناسو او خدماتو رسول دی. عصري بازارموندنه دمشتري رضايت ترلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول داجناسو او خدماتو په رسولو کې دعصري بازارموندنې په نامه یادیږي. دبازارموندنې ځانګړتیاوي۱-دمصـــــرف کوونکي جهت لري یعنې مشـــتري دمارکیتینګ لپاره ځانګړی ارزښت لري ۲-عصري بازارموندنه دمشتریانو څخه شروع کیږي او په مشتري ختمیږي . rightڅه ته وایې : عبارت له هغه څه څخه دی چې په تولید کې/ موجود وي او مشـتري دهغې په اساس له تا څخه راضي وي او rightته ځکه ضرورت پیداکیږی چې په مارکیټ کې رقیب شـتون لري۱-صـحیح تولید۲-صـحیح کیفیت۳-صـحیح خلک۴-صـحیح قیمت ۵-صحیح ځای په دې معنا چې مشتریان په اسانۍ سره وکولای شي چې تولید ترلاسه کړي۶-صـحیح پرمختیا. په صـحیح شـکل دمشـتریانو خبرول ترڅو سـتاسـي تولید زیات واخلي ۷-صحیح توزیع : رقیب په نظر کې نیولو سره دتولید نوعیت اقتصادیت او دمشتري درضایت په نظر کې نیولو سـره دتولید ویشـنه . ۱-دتولیدولو اصـل : په دې اصـل کې دتولید مولدیت یادتولیدزیاتوالی په نظر کې نیول کیږي او دمشـــتري غوښـــتنې په نظر کې نه وي او نه یې کیفیت په نظر کې نیول اوداصل هغه وخت رامنځ ته کیږي چې په بازار کې مشتریان زیات وي او مولدین کم۲-دتولید اصل له دې اصل څخه هغه وخت استفاده کیږي کله چې په بازار کې مولدین تر اندازې زیات شـــي او مولدین خپلو تولیداتو په کیفیت کې په خپله خوښـــه ښـــه والی روالي۳-دخرڅلاو اصـل: له دې اصـل څخه هغه وخت اسـتفاده کیږي کله چې تولیداتو له تقاضـا او عرضـي سـره مسـاوي وي نو مولدین کوشـش کوي چې څنګه وکولای شـي په بازار کې زیات اجناس او خدمات دتخنیک په اساس خرڅ کړي . ۴-دبازار موندنې اصل: له دې اصل څخه هغه وخت استفاده کیږي کله چې په بازار کې رقیبان زیات وي او مولدین هم په کیفیت کې په زیاته اندازه ښـه والی راوسـتی وي او نو مولدین دکیفیت دښـه والي ترڅنګ دمشـتري رضـایت او تسـکین په نظر کې نیسـي . مولد دتولید په ښـه والي مولد کولای شـي چې ټولنې ته په لاندې ډول پرمختګ ورکړي۱-داستخدام سطحه لوړول۲-اسانتیاوي رامنځ ته کې ۳-ضـــرورتونه رفع کوی۴-عمومي رفاه رامنځ ته کوي۵نوی کاروبار رامنځ ته کوي او داسې نورporter 5 force model۱-دنوي داخلیدونکي خطر یعنې نوی کمپنۍ مارکیټ ته داخلیدل۲-substitute pro په دې معنا چې دوه اجناس په یو شـان بازار کې وجود لري لکه موبایلونه ۳-دخامو موادو عرضـــه کوونکي۴-دخامو موادو اخیســـتوونکي . دمشـــتریانو دتجاربو مدیریت . په دې معنا چې مشـتریانو سـره دخپل نوي تولید او یا هم موجوده تولید په اړه مرکه کول ترڅو خپل تولید دنواقصو او ګټو څخه خبردار اوسې چې په هغې bassمطابق تولید ترســـره نشـــي چې همدغه مرکه دمشـــتري ســـره دمشـــتریانو دتجاربو مدیریت په نامه یادیږي.marketing information systemدبازارموندنې معلوماتي سیستم : دیو سـازمان دبازارموندنې معلوماتي ســـیســـتم دې ته وایي چې په هغې کې دمارکیټ په هکله پراخه معلومات موجود وي څو اجزاوې لري۱داخلي ریکارډونه : په دې کې داتربحث لاندې نیول کیږي چې مونږ څومره فرمایش لروا و څومره تولیدات موخرچ کړي دي یعنې دتولیداتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخرڅلاو په هکله داخل دسازمان کې دمعلوماتو ریکارډ کول ده۲-دمارکیټینګ پټ سیستم : په دې معنا چې درقیب په هکله ټول معلومات ترلاســـه کوي یا په بله وینا مارکیټینګ پټ کارمندان چې پر مارکیټ درقیب په هکله تاســو ته دښــکاره یا پټه توګه دمعلومات ورکوي. دمارکیټینګ څیرنه: دیوېمشـخصـېسـتونزې دحل لپاره دمعلوماتو لاسـته راوړل. دمارکیټینګ decision support systemپه دې معنا چې په دې ســـیســـتم کې دمارکیټ په هکله ټول معلومات تهیه تنظیم اودپریکړي لپاره یې ستاسو په واک درکوي ترڅو تاسې په ښه شکل سره پریکړه ترسره کړی یعنې په پرمختللې تکنالوژۍ موجودیت. داقتصـادي قیمت اهمیت: دتولید په عواملو تاثیر کوی.یعنې کله چې دشـیانو بیې لوړیږي نو عوامل هم خپل معاوضــه پورته بیایې چې ویلای شـو چې قیمت په اقتصــاد کې یو اســاســي اله دی*دکمپنۍ د؟؟قیمت اهمیت : څومره چې یو جنس قیمت لوړیږي خلک ورته تقاضا لږی او څومره چې دیو جنس قیمت ټیټ وي نو خلک ورته زیاته تقاضـــا لري . دقیمت ټاکلو اهداف: ۱-په لنډه موده کې اعظمي ګټه ترلاســـه کول۲-دټاکل شـــویو عوایدو لاســـته راوړل۳-داجناســـو دخرڅلاو زیاتوالی*په کومو حالاتو کې دلوړقیمت ټاکنه غوره ده ۱-نوی تولید بایددمشتریانو دغوښتنې سره سم تولید شوی وی۲-دنوي ټکنالوژۍ په اساس دخپلو تولیداتو لپاره لوړ قیمت ټاکل۳-له سیالو څخه دنویو شیانو ساتل*دمستهلیکینو لپاره دقیمت ټاکنه اهمیت: هرڅومره چې دیوجنس مطلوبیت دقیمت په اســاس زیات وي نو زیات خلک یې اخلي او په مصــرف یې رســوي . دقیمت ټاکلو طریقې۱-دقیمت توپیري ټاکنه۲-تبلیغي قیمت ټاکنه۳-قیمت ټاکنه دپیشـنهاد شــوو وړاندیزونو په بنسـټ لکه دتجارله خوا دالماریۍ قیمت ټاکل۴-قیمت ټاکنه دروان شـنـاسـی په بنســـټ (مارکیټینګ ټیم)۵-امتیازي قیمت ټاکنه۶-نفوذي قیمت ټاکنه۷-قیمت ټاکنه داجناســـو دلګښتونو په اساس۸-اقتصـادي قیمت ټاکنه۹-قیمت ټاکنه داختیاري محصـولاتو په بنسټ۱۰-قیمت ټاکل داجباري محصــولاتو په بنســټ. دریسـرچ پروســه۱-دمشـکل پیژندنه۲-دځانګړو موخو ټاکل۳-دڅیړنې لپاره پلان جوړونه۴-دمعلوماتو دتفصـیل یوځای کول۵-تحلیل یاارزونه دمعلوماتو۶-پایله اخیســـتنه۷-دراپورچمتو کول. دڅیړنې لپاره معلومات له دوو لارو څخه ترلاسـه کوو۱-بهرنۍ سرچینه۲-داخلي سرچینه: بهرني په دوو ډلو ویشل شوی لمړني لاس معلومات---دڅیړنې طریقه۲-دارتباط طریقه۳-دبیلګې اخیســـتنې طریقه۴-دڅیړنې وســـایل دتولیوښتنلیک برابرول۲-دوهم لاس معلومات: چې له رسالوسوداګریزو خونو مجلو کتابونو او دشـخصـي ادارو څخه په لاس راځي . لمړي لاس معلومات : دمرکو پوښتنو یا سروې او په مستقیم ډول په لاس راځي .دفلیف کوټلر له نظره تولید : هرڅه چې مارکیټ ته دمصرف یا اســـتعمال لپاره وړاندې کیږي او یو ضـــرورت پوره یا رفع کولای شـــي تولید بلل کیږي دکټګورۍ له مخې تولید : ۱-نوی جهان یا نړۍ ته ۲- نوي کمپنۍ ته ۳-کله چې یوه کمپنۍ نوی تولید کرښــې ته اضــافه کړي۴-دترقي اونوښــتونه۵-تولید ته نوی ســاخت ورکول۶-دمصـــــارفو کموالی. دبازار موندنې تکاملې مرحلې ۱-production conceptدتولیدولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصـــل۲-دتولید اصـــل product concept۳-دخرڅلاوو اصـــل selling concept۴-دبازارموندني اصـــل marketing concept۵-دبازار موندني ټولنيز اصـــل marketing social concept .


# پولي(پيسو) اقتصاد

پولي اقتصـــاد عبارت له هغه اقتصـــاد څخه ده چي په عمومي ډول دپيســـو څخه بحث کوي. Crowther په خپل کتاب outline of money کې ليکلي چې هرشی چې په عمومي ډول داجناســو دتبادلې لپاره دوســيلې په شــکل او همدارنګه ديو مقياس به شــکل دارزښــت دذخيره کيدو په توګه په کاريوړل شـــي پيســـې بلل کيږي همدارنګه Coleborn وايي هرهغه شـــی چې په پراخه ډول دتادياتو لپاره او همدرانګه دپورونو دتاديه کولو لپاره په کاريوړل شـي عبارت دپيسـو څخه دی. دپيسـو اصـلي وظايف احتوا کوي چې هغه عبارت دي له ۱-داجناسو دتبادلي وسيله۲-دپوردتاديي وسيله ۳-دارزښت دذخيره کيدو وسيله۴-دپيسو قانوني تعريف:the state theory of money په اساس واضح کيږي اوددې تعريف لاندې يوشی ددولت له خوا دپيسوپه نوم اعلان شي دپيسو په نامه ياديږي. دپروفيسرknop په اصـطلاح هرهغه شـی چې ددولت لخوا دپيسـو په نوم اعلان شـي دپيسـو په نوم ياديږي. او همدارنګه : د Hartley په اصطلاح پيسې بايد ديو قانوني حيثيت لرونکې وي پورته نقطو ته په کتو سره ويلای شـو چې هرهغه شــی چې داجناسـو دتبادلې دوسـيلې په توګه کارول کيږي بايدددولت لخوا په قانوني ډول اعلان شـــي. دعمومي قبوليت تعريف: ددې تعريف لاندې دپيســـو يو بل بعد ترنظر لاندې نيول کيږي اوداپه دې معنا چې هرهغه شـــی چې داجناســـو او دتبادلې د وسـيلې په توګه ددولت لخوا دقانوني پيسـو په شـکل اعلانيږي بايد خلکو ته قابل قبول وي په دې اسـاس selly?man وايي يوشـی چې دپيسـو په شـکل رامنځ ته کيږي بايد عمومي قبوليت لرونکې او همدارنګه او ارزښتونو دمعيار په توګه خلکو ته قابل دقبول وي پيسې ګڼل کيږي. نوبلاخره H-D-Robertson وايي هرهغه شـی چې داجناسـو دتادياتو لپاره خلکو ته قابل قبول وي پيســې بلل کيږي.جنسـي پيسـې سـيسـتم : دهغه سـيسـتم څخه عبارت دی چې اجناس لکه غرمن،روپۍ پانې، دتادياتو دوسيلې په سيستم کې دپيسو وظيفه اجراکوي خو داخبره بايد په ياد ولرو چې دغه اجناس په خپله ديوخاص ارزښـــت څخه برخوددارډي خو ديو اندازه مشــکلاتو لکه ذخيره کول(ســتورکول)ددوام کموالی ، انتقال مشــکلات، او همجنس والی او دويش قابليت په دې سيستم کې دناکاميدو عومي علتونه دي credit money؟؟دپيسو اهميت : په پانګه وال نظام دپيســـو قواعد 1-money and price mechanism2-importance in production 3-importance in consumption4-importance in trade5-importance in discription6-importance in saving &investment7-

(c) ketabton.com: The Digital Library

importance in public finance 8-importance in political progres9-social importance10-index of growth.په پانګه وال نظام کې دپیسـو اهمیت دقیمت په جـوړښـت کـې ډیـرزیـات دی. Secondary functions of money1-aid to specializaion2-production and trade3-influence of income and consumption4-making loans5-tools of monetary management6-instrument of economic policy 7-measurment of marginal productivity liquidity of porperty8-?basis of credit system9-distribution of income.دپیسو وظایف په درې ډوله دي ۱-دپیسو ابتدایي یا اصلي وظایف۲-دپیسو دویمي یاضمني وظایف۳-دپیسو تصادفي اضطراري وظایف.اصلي وظایف: هغه وظایف دي چې دڅه شي لپاره پیسې رامنځ ته شوي دي او دې وظایفو اجراسره دبارتر اقتصادي مشکلات له منځنه یوړل شـوي دي.measurement of marginal productivityدنهایي مولدیت اندازه ګیري: لکه څرنګه چې دتولید په پروسـه کې دیوعامل لوړوالی دیوې اندازه تولیداتو دزیاتوالي سبب ګرځي. چې دغه عامل تولید زیاتوالی دتولیدزیاتوالی په پیسو اندازه کیږي نو په دې اساس ویلای شو چې دپیسو یو وظیفه دنهایي موجودیت اندازه ګیري ده . الکترونیکي سیستم : هغه اعتباري سیستم ده چې مال دځای نه ځای ته انتقالوي.بانکي سیستم : دانلاین اخیستلو او خرڅولو داعتباري پیسو په اساس ولاړوي . دښـو پیسـو مشـخصـات۱-عام قبولیت۲-دارزښـت ثبات۳-دانتقال قابلیت۴-دویش قابلیت۵-یوشـانوالی۶-دذخیري قابلیت۷-دشناخت قابلیت۸-نرم والی۹-کموالی۱۰-ګټورتوب.

(c) ketabton.com: The Digital Library




دنماينده ګې کوونکي پيسو ځخه مراد goldenدي او کاغذي تبادله کيدونکي روپي : ځومره چي سره وړاندي کوي په همغومره اندازه يي ساتم. حکمي پيسي کاغذي معنا داده چي ددي شاته ذخيره موجود نه وي بلکي حکومت اعلان کوي چي داسي دي کاغذي پيسي عبارت دهغه سندونو(کاغذونو) ځخه دي چي دمرکزي بانک لخوا په خاص شکل ډول چاپيږي او خلکو ته دتبادلي دوسيلي په شکل وړاندي کيږي چي ددي پيسو استعمال په ۱۹ م پيړی کي او همدارنګه په اوسني وخت کي زيات شوی. دلاندې خصوصياتو لرونکي کاغذي پيسي زياتي راحت کوونکي او دزياتي بدو درلودونکي دي۱-هغه پيسي چي شاته يې پيسي وي يعني سره زر نه وي يعني پيشتيباني پيسي ۲-يو شان ته ورته والی لري۳-دارزښت ثبات. ددي ښه ارزښت داده چي دوخت په تيريدو سره خپل ارزښت له لاسه نه ورکوي۴-ارتجاعيت: په کومه اندازه چي ضرورت وي ارتجاعيت کوی۵-داقتصادي ودي پرمخ وړونکي دي۶-ددولت ګټي په کې وي . قانوني حيثيت لرونکي يا های پاورډ لرونکي پيسي: قوت لرونکي پيسي دهغه پيسو ځخه عبارت دي چي ديو هيواد اوسيدونکي يي قانونا ددغه پيسو دتاديياتو کي داجناسو او خدماتو دراکړي ورکړي لپاره مکلف ګڼل کيږي نو په دي اساس ويلای شو چي دهيواد قانوني حيثيت لرونکي پيسي دهغه هيواد پولي واحد دی چي په دوو برخو ويشل کيږي۱-نامحدودي قانوني روپۍ۲-محدود قانوني روپۍ. پيسو ته نژدي پيسي : هغه تول اسناد چي په وسيله يی په عاجله توګه پيسي لاسته راوړل کيږي پيسو ته نژدي پيسي ګڼل کيږي. خوداخبره بايد په يادوساتو چي چيکونه پيسو ته نژدي پيسي نه ګڼل کيږي. برقي پيسي: دانترنيت او انلاين ځخه په استفاده چي کوم معاملات دتادياتو لپاره ترسره کولو لپاره په کاروړل کيږي برقي پيسي ګڼل کيږي.دپيسو ارزښت ځخه هدف ديو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پولي واحد په مقابل کې دځومره اجناسو او خدماتو خریداري ده چې دغه د پیسو دارزښت تاکل دمختلفو علماوو له نظره مختلف عوامل لري چې یوه برخه علما یي دپیسو مقدار پورې تړي او دپیسو مقدار روابط دپیسو دارزښت او دقیمتونو دعمومي سطحې پورې تړاوو لری لکه څرنګه چې پورته ذکر شو دپیسو مقدار دپیسو دارزښت سره معکوسه رابطه لري دپیسو دارزښت دپیسو دعرضې او تقاضا سره تړاوو لري په دې اساس لازمه  ده چې ترهر څه دمخه دپیسو دعرضې او تقاضا په هکله لازم بحث وکړو. دپیسو دعرضې منابع: ۱-مرکزي بانک۲-دتجارت بانک۳-دولت .دکینز په نظر خلک په درې حالاتو کې پیسو ته تقاضا لري۱-دمعاملاتو په اساس پیسو ته تقاضا۲-دپانګې اچونې لپاره پیسو ته تقاضا۳-دپیسو لپاره احتیاطي تقاضا. دکینز په نظر پیسو ته هروخت دمعاملاتو په اساس تقاضا پیداکیږي چې خلک داجناسو او خدماتو دتادیه کولو لپاره پیسو ته ضرورت لري داډول تقاضا په مستقیم ډول دملي عاید سره تړاوو لري په دې مفهوم چې دزیاتو پیسو موجودیت دعاید دزیاتوالي په معنا ده ۲-دپانګې اچونې لپاره پیسو ته تقاضا هغه وخت پیداکیږي چې دهغه دمصارفاتو څخه اضافه شي چې په دې برخه کې اضافه پیسې په دوو لارو استعمالیږي لومړی داچې اضافي پیسې له ځانه سره اوزګاره ساتې او دوهم داچې دنورودلاسته راوړلو په خاطر یې دسود په مقابل کې پانګه کوو که چیرې دسودنرخ لوړیږي نو یو شخص دپیسو اضافي برخه دسود په مقابل کې ورکوی او که چیرې دسود نرخ ټیټیږي خلک پیسې دځان سره دراتلونکې لپاره ساتي ۳-دریم دپیسو لپاره احتیاطي تقاضا رامنځ ته کیږي کله چې خلک دغیرې مترقبه مصارفاتو لپاره پیسو ته ضرورت پیداکوي داډول تقاضا دپیسو دعمومي تقاضا ډیره کوچنۍ برخه جوړوي. ښې پیسې کومې پیسې دي هغه پیسې دي چې دپیسو اساسي حتمي — او مشکله وظایف په ښه ډول اجرا کړي.دښو پیسو مشخصات عام اعتبار او قبولیت۲-دارزښت ثبات۳-دانتقال قابلیت۴-دتقسیم قابلیت۵-دذخیري قابلیت۶-یوشان والی ۷-دشناخت وړ۸-نرموالی۹-کموالی . دپیسو ډولونه : ډیرموجود دي خو دلته تري ترټولو مشهورې دادي ۱-کرنسی۲-اعتباري پیسی۳-سنډرډ پیسی۴-قوت لرونکې (قانوني ) پیسې ۵-پیسو ته نژدي پیسی۶-بریښنایي پیسې . کرنسی دیو ملک پولي واحد ته کرنسی ویل کیږی دیادونې وړ دپیسو اصطلاح نظر کرنسی

کرنسی

په دوه ډوله ویشل شوي ----۱-کاغذي پیسي ۲-فلزي پیسې کاغذي په دري ډوله ویشل شوي دي ۱-حکمي روپی۲-دتبادلې کیدونکې کاغذي روپی۳-نمایندہ کوونکي او فلزي هم په دوه ډوله دي ۱-فول باډیډ ۲-ټوکن.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پولي اقتصـاد پیسـې هغه جنس ده چې داجناسـو دتبادلې اړتیاوي ولري. دپیسـو په تشـریحي تعریف کې دپیسـوپه وظایفو بحث کیږي. هرهغه څه چې ددولت له خوا نه پیسـو په شـکل اعلان شـي هغه پیسـې بلل کیږي. قانوني تعریف : عمومي قبولیت تعریف : هرهغه شـی چې عموي قبولیت ولري پیسې بلل کیږي رابرټ سن او شـکین وایي هرهغه شـی چې دتادیاتو یا دقرضـونو دتادیې لپاره وکارول شـي . دپیسـو عمومي تعریف: پورته نقاطو ته په کتو سـره دپیسـو لپاره عمومي تعریف په دې ډول دی هرهغه شـی چې په با قاعده ډول په اقتصـادي معاملو کې دتبادلې دوسیلې دشمیر دواحد او دارزښت دذخیره کیدو په توګه په کاروړل شي عبارت له پیسو څخه ده . دبارتر سیستم ځیني مشکلات: داشخاصو په ضرورتونو کې عدم مطابقت۲-دپور دراکړپورکړې مشکل۳-دتقسیم نه قابلیت۴- دارزښت عدم ذخیره ۵-دارزښت دانتقال مشـکل۶-ددولت دمالیې او تادیاتو مشـکل. په پانګه وال نظام کې دپیسـو رول: پیسـې دټولو خوشـالیو طاقتوره ملکه ده داسـتاد لپاره دهغه اسـتادي دوکیل لپاره دهغه فیصـله . په کپیټلیزم نظام کې پیسې ځیني عمده فعالیتونه سرته رسوي. دقیمتونو جوړښت او پیسې اصلا په کپیټلیزم کې رامنځ ته کیږي۲-دتولید په برخه کې مرسـته۳-دمصـرف په برخه کې اهمیت۳-دتجارت پـه برخـه کې اهمیت۴-دتوزیع پـه برخـه کې اهمیت۵-دذخیره کیدو او پانګونې په برخه کې اهمیت۶-ددولت دمصـارفو تمویل۷-اجتماعي اهمیت۸-سـیاسـي پرمختګ۹-دپرمختګ دښودلو شـاخص. دپیسو اهمیت په سوسیالیسـت اقتصـادي نظام کې : پیسـې دتبادلې دوسیلې دارزښـت ذخیره او بلاخره دارزښـت دښـودلو لپاره اسـتفاده کیږي په سوسیالستي اقتصـاد کې داقتصـاد درې مهمې پوښتنې ؟څه باید تولید شـي –څرنګه باید تولید شي-دچالپاره باید تولید شی. په سوسیالستي نظامونو کې پیسې ددولت په لاس کې وي. دپیسو منفي اړخونه : ترهغه وخته چې اقتصـاد ته ګټه رسـول چې ترکنترول لاندې وی او که له کنترول ووځي تاونونه اقتصـاد ته رسـوي. چې دپیسو کنترول او مدیریت ونشـي انفلاسـیون رامنځ ته کیږي چې داضافي پانګونې دتشویق سبب ګرځي . دجعلي پیسو نقصانونه : جعلي پیسـې دپیسو اعتبار له منځه وړي –کورنیو بزنسونو ته تاوان رسـوي-دمخنیوي مصـارف له منځه وړي-داعتبار بایلل-دمخنیوي مصارف-دپیسو ډولونه ۱-کاغذي پیسې ۲-جنسي پیسې۳-فلزي پیسـې ۴-کریډیټي پیسـې ۵-الکترونیکي پیسـې .دپیسو دندې په درېو برخو ویشـل شـوی دی ۱-دپیسـو اصـلي یا ابتداي دندې ۲-دپیسـو حتمي دندې ۳-مشـکله (مشـروطي) دندې . اسـاسـي دندې دهغو وظایفو نه عبارت دي دکومو لپاره چې پیسـې رامنځ ته شـوي ۲-دپیسـو ضـمني دندې : هغه دندې دي چې داسـاسـي وظایفو په خوا کې پیسـې سـرته رسـوي ضـمني دندې بلل کیږی۳-مشـکله یا مشروطي دندې : دهغو دندو څخه عبارت دي چې دپیسو دمثبتو نتایجو له وجې رامنځ ته کیږي. دپیسـو اصـلي دندې لاندې وظایف ترسـره کوی۱-پیسـې دتبادلې دوسـیلې په توګه۲-داجناسـو اوخدماتو اندازه ګیري اله ۳-دټولو اجناسـو ارزښـت بیانوي۴-دراتلونکو تادیاتو ترسـره کول۵-دارزښـت ذخیره مطلب پیسـې اوس مهال او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکي کې داجناسـو او خدماتو داخيسـتلو توان لري. دپيسـو ضـمني وظايف:۱-دتخصـص توليد او تجارت سـره مرسـته کوی۲-عايد او مصـرف باندې تاثيرات۳-دپورونو درامنځ ته کولو منبع۴-دپولي مديريت دتطبيق وسـيله ۵-داقتصـادي پاليسـيو وسـيله=اصـلا دپيسـو په واسطه صورت نيسي دپولي مديريت دتطبيق وسيله لکه مرکزي بانک چې پيسې دوسيلې په توګه کاروي ترڅو دپيسـو ښـه مديريت وکړي مشـکله وظايف: ۱-دتوليد نهايي بهرې اندازه ګيري۲-دملکيت دخرڅلاوو اسـانتياوي دپيسـو رامنځ ته کړي ۳-اعتباري سـيسـتم اسـاس۴-دعايد توزيع دندې دپيسو په واسطه صورت نيسي. دفلزي پيسو ارزښت په څه کې ده ۱-ژرله منځه نه ځي۲-دنورو هيوادو ته تري قاچاق نه کيږي. دکاغذي پيسو ښه والی اقتصادي دي کاغذ ارزانه ده نسبت نورو اجناسـو ته ۲-دانتقال اسـانتيا۳دپيسـو ارتجاعيت۴-يوشـان ته والی۵-دارزښـت ثبات۶-اقتصـادي ودې پرمخ وړل ۷-دولت ته ګټه. دکاغذي پيسـو بدوالی: دانفلاسيون ويره۲دخارجي تادياتو ويره ۳-خرابولي خطر۴-جعلي پيسې۵-دنوروهيوادونو په حدودو کې اسـتعمال. پولي نورم پولي سـيسـتم يا monetary systemدهغه ميکانيزم څخه عبارت دي چې دهغې په اساس ددولت دپيسو شکل ډيزاين اودهغوی دمقدار اندازه دپيسو په دوران کې ټاکي که چيرې ديو هيواد پولي واحد سره زر وي نو پولي معيار هم سره زر دي golden coin standard-golden bullion –golden exchange-gold reserve standard.علما دانفلاسيون علتونه په دوه برخو ويشـي۱-دمصـارفو په اساس انفلاسيون۲-دتقاضا په اساس انفلاسيون۱-دمصارفو په واسطه انفلاسيون هغه وخت رامنځ ته کيږي کله چې داجناســو او خدماتو په توليد کې داســتعمال کيدونکي خامو موادو او کارګرې قوې په مصـارفو کې په دوامداره توګه زياتوالی رامنځ ته شي او دتقاضا په اساس انفلاسيون دعامه خلکو ته خطر صورت په داسې حال کې چې دمصارفو په اساس انفلاسيون دعرضه کوونکو له خوا صـورت نيسـي په دې اسـاس دکينزيانو عقيده دانفلاسـيون رامنځ ته کيدو ددوهم علت دتوليد په مصــارفو کې دزياتوالي څخه دمجموعي عرضــي دکمبود سـبب ګرځي . دګټې په اســاس انفلاســيون په هغو ټولنو کې چې دبازاري انحصــاراو يا دانحصــار ته نږدې وي انحصـارکوونکي دلوړې ګټې طلب کوي . دغه ګټه دانفلاسيون په ډول څرګنديږي دموادو په اسـاس انفلاسـيون که چيرې په هيواد کې دځينو مهمو عناصـرو لکه تيل-او سـپنه ګاز او نور قيمتونه لوړ لاړشي داجناسو او خدماتو په توليد کې نوموړي مصارف راڅرګنديږي. دوامدره زياتوالی يې دمصــــارفو په اســــاس انفلاســــيون رامنځ ته کوي۳-که چيرته هيواد ته په واريديدونکو توکو مصـارف لوړ شـي او يا په صـادرونکي هيواد کې داجناسـو قيمتونه پورته لاړشی نودغه مصارف زياتوالی دانفلاسيون په شکل څرګنديږي.دانفلاسيون علاجونه۱-پولي پاليسـي : عبارت له هغه تدابيرو څخه ده چې له مخې په يو هيواد کې دپيسـو عرضـه دپيسـو تقاضـا دمرکزي بانک له خوا کنټروليږي ددې ډول پاليسـي دتطبيق لپاره دوو عناصـرو څخه استفاده کيږي۱- quantities controlکمي کنترول۲- qualitative controlکيفي کنترول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپیسـو دکنترول لپاره دمرکزي بانک له خوا مختلفي پالیســې په کاراچول کیږي او دهغې له مخې دانفلاســیون مخنیوی کیږي چې ځینې یې عبــارت دي لــه 1-open market operation2-variation in bankrates3-credit rating4-varing reserve requirement5-consumer credit requirement.

# سټنډرډ

مفاهیم :سټنډرډ جوړونه هغه قوانین او قواعد دي چې بشري کړنې او فعالیتونه په یوه معلومه ساحه کې چې عموما دګټې دلاسته راوړلو په منظوروي منسجموي. سټنډرډ : له هغه تخنیکي سند څخه عبارت دي چې نورمونه ، قوانین ، غوښتنې تقاضـاوې،اومعیارونه په کې په نظر کې نیول کیږی. او ذیصــــلاح ارګانونو لخوا ټاکل کیږي. نورم: دعلم او تخنیک په وســـیله دسنجشونو اساس دی او یا هم ویلای شو چې نورم یوه کمیټه ده چې دعلمي او دعملي تجربو په ترڅ کې طرحه او تثبیته شــوي ده. او دیوې ذیصـــلاح مرجع لخوا تصــویب شــوي ده. تخنیکي کمیټه : عبارت له یو ګروپ پوهانو څخه ده چې داړونده ســکتورونو او مشــخصــو موضـوعاتو دسـتندردونو دانکشـاف او دسـتندردونو جوړولو په منظور دملي سـتندرد دقانون دنهمې مادې په اساس دعلمي تحقیقي ، خصوصـي اونورو اړونده دولتي نهادونو څخه تشکیل کیږي. دسـتندرد نړیوال سـازمان درهنمود په اسـاس تخنیکي کمیټه دریې ډوله غړي لري۱- ثابت یا اصـــلي غړي: دســـتندرد جوړونې ریس، دلابراتوار کارپوه، دســـتندرد جوړولو متخصـــص ، دمســـتهلیکینو دحمـایت نهـاد ســـوداګریزخونې او نوردولتي اداری دي۲- متغیریاغیرثابت غړي: دتولیدونکو اسـتازي اودصــنایعو مالکان دمسـلکي اتحادیو اسـتازي، دوزارتونو او سکتورونو استازي اوصادراتي او ورداتي سکتورونواستازي دبهرنیو موسسو استازي کوم چې له دولت سره همکارې وی۳-ناظره غړي: دولتي او غیر دولتي نهادونه او ټولنې او یا هغه ځانګړي اشخاص چې دستندرد پروسې دتعقیب او څارنې غوښتي وي پرته له دي چې په فعاله توګه په فعالیتونو کې سهم او حضـور ولري په ۱۹۰۱ م کال کې دبرتانیا ستندرد کمیټه دایره شوه . دملي ستندرد دډیروموسسات له لومړۍ نړیوالي جګړي وروسته جوړ شو دهیوادونو ترمنځ دنړیوال تجارت اړیکي او دمالونو اومه موادو بدلول او همدارنګه دفرهنګي علمي او تخنیکي اړیکو دپیداکولو اړتیا ددې سـبب شـوه ترڅو دسـتندرد ایښـودنې نړیواله ټولنه(iso) رامنځ ته شــي په ۱۹۴۶ کال کې د ســتندرد نړیوال ســازمان په لندن کې جوړشـو(iso). چې په هغه کې ۲۳مملکتونه شـامل شـول. دسـکرو او فولادو اروپایي اتحادیه وه په ۱۹۵۲ کې تاســیس شـــوه په ۱۳۴۵ کال کې دوه ډوله نړیوال ســـتندردونه اوږدوالي واحد(متر)او بل دمتریک اوزان (کلو ګرام)دافغانستان دتجارت وزارت په چوکاټ کې مروج شول. متریک سیستم : دنړیوال عصري او ساده سیستمونو څخه شمیرل کیږی چې دعلمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تحقيقاتي او توليدي فعاليتونو دښــــه تنظيم لپاره داخلي اوخارجي تجارت ســــاحو کې يې خاص نقش درلوده او ديوې بيلې مقررې په مرسته دياد شوي سيستم تطبيق دهيواد په ټولو ځايونو کې ترســــره کيږي. دســــتندرد دنورم لومړي دمعادن وزارت په چوکاټ کې په کال۱۳۵۲ کې رســما په عملي ډول په کار پيل وکړ او په ۱۳۵۳ کال کې لومړنۍ مقالې او علمي مضــامين دستندرد او دهغه داهيمت په اړه دټولنيزو اطلاعاتو له لارې خپاره شـول.په ۱۳۵۷ کال کې دحمام او جامو مينځلو دصابون ستندردونه دافغان صابون جوړوني صنعتي فابريکې لپاره دصـــابون ســـتندرد کميســـون په منځګړيتوب بشـــپړ شـــو.په ۱۳۵۸ کال کې دترانسپورتي موټرو دسوځنده موادو لګښت مقررات او نورمونه بشپړ شو په (ستندرد افغان) مجلې دستندرد دنورم اداري په امتياز په خبرونو پيل وکړ په ۱۳۵۹ م کال کې دداخلي سمنټو توليد ستندرد دتثبيت کميسون په منځګړيتوب بشپړ شواوهم ددانه لرونکو مالوچو دسورت بندۍ طرزالعمل ، کيفيت دښه والي او دتکړه بزګرانو دهڅوني په موخه توزيع شو. سيستم : يو له بل سره دتړلو برخو او اجزاوو مجموعه ده چې دموخو دترلاســه کولو په برخه کې يو دبل ترڅنګ فعاليتونه سرته رسوي. هغه سيستمونه : چې دستندرد جوړونې تراغيزې لاندې راځي په لاندې ډول دي۱-ټولنيز سيستم ۲-پوهنيز سيستم ۳-دقانون پريښودنې سيستم ۴-اجرايوي سيستم۵-قضايي سيستم دستندرد جوړونې سيستم ۶-دښوونيز اوروزنيز سيستم۷-اقتصـادی(پلان جوړونې)سـيسـتم۸-کرنيز سـيسـتم ۹-صـنعتي سـيسـتم ۱۰-سـوداګري۱۱-چاپيريال۱۲-مسريز سيستمونه (مديريت)۱۲-لوبه ييز سيستم . دستندرد جوړونې ارکان۱-ستندرد څيړنه او پراختيا۲-دستندرد ټولونه تدوين۳-دستندردونو دودول۴-ستندردونو سرته رســـول(اجرا ) څيړنه او پراختيا : ســـتندردونو په هغه وخت کې عملي لورى ولري چې له څيړنې او پراختيا ســره يو ځای وي پرته له دي نه شـــي کيدای ګټورواقع شـــي. سـتندردونو دوديدل دلاندې امکاناتو په منځګړيتوب ترسره کيږي . ښوونه۲-اطلاعات۳-مشاور. عمومي او اســاســي ســتندردونو ډولونه : په عمومي توکه ســتندردونه په ۴برخو ويشــل شــوي دي۱-کارخانه يي ستندرد۲-ملي ستندرد۳-سيمه ييز ستندرد۴-نړيوال ستندرد. کارخانه يی ستندرد ديوي توليدی کارخانې دطرحې دنظريو اتفاق توليدکنترول اوزياتره کړو وړو په برخه کې شـامل دي۲-ملي ستندرد داستندردونه له بررسـي او مشـورې وروسـته دتخنيکي صـنايع او تجارت دکارپوهانو اومتخصـصـــانو په مرســته دملي ګټو دســـاتنې په موخه په هرهيواد کې راټوليږي چې البته په هرهيواد کې دملي ســـتندردونو دتدوين اصـــلي دنده دهيواد دســـتندرد دســازمانونو او موســســاتو په غاړه وي . سـيمه ييز سـتندرد: داسـتندردونه ديوې ډلې دګټې اخيســتونکو وګړو په مرســته په دوو يا څو ګاونډيو هيوادونو کې چې ګډ صـــنايع لري او يا دتجارتي راکړي ورکړي لرونکې وي تدوين کيږي.نړيوال ســـتندرد : دادســـتندرد ددغو هيوادونو دستندرد دنړيوال سازمان داړوندو کارپوهانو دنظريو سره دتوافق لاسته راوړنې دي.نوټ===کارخانه يي ستندرد دکارخانې دسطحې په محدوده کې ،ملي ستندرد دمملکت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په محدوده کې ، سیمه ییز ستندرد دځوهیوادونو په محدوده کې ، او نړیوال ستندرد دنړۍ په ټولو هیوادونو کې په کاراچول کیږي.دهر ســـتندرد اجرا او جوړونه په لاندې مرحلو کې ځرګندیږي۱-ستندرد جوړونې تنظیم اوټولنه ۲-ستندرد دچاپ اوخپرول۳-دستندرددسندګتې او اجرا. دستندرد جوړونې اصول او ګټې : ستندرد جوړونه اودستندردونو کاراچونه دتولیدونکو او مصـــرف کوونکو لپاره لاندې ګټې په خوا کې لري ۱-دناســـالمو ســـیالیو او دبې ځایه او غولوونکو تبلیغاتو لـه منځـه تلل۲-دپیریدلو پـه وخـت دمصـــرف کوونکي دغولیدلو څخـه دانديښــنې له منځه تلل۳-په اړیکو کې دپوهاوي رامنځ ته کیدل۴-دتجارتي بدلونونو اســانتیا-تولیدونکو لپاره ګټې : ---دپام وړمشـخصـاتو او خواصـو ټاکل، دتولید دچلند ټاکل او تشـریح نصـبول(مونتاژ)ازموینه دنمونې اخیسـتل، دبسـته بندیو ډولونو، لیږد رالیږد،دسـاتنې لارې چارې ، دعبارتونو ټاکل ددواړو خواو دپوهونې لازمي نښـــې اواصـــطلاحات ډلبندي او اصـطلاحات په دولونو کې ټیټوالی ، دتولید دساحې زیاتوالی او په لومړنیو موادو او بریښـنا کې دلګښت مخنیوی ، دضایعاتو ټیټوالی، دمحصولاتو دکیفیت ښه والی، په زیرمه ساتنه کې اسـانتیا دداخلي او بهرني تجارت پراخیدل. دمصـرف کوونکو لپاره ګټې : دغوره کالیو سـاتنه ،دکالیو او محصول لـه امن څخه ډاډ په سپارښتنه کې اسانتیا دلږو پیسو ورکړه، دپام وړ کالیو ته په اسـانۍ سـره لاس رسـی او دیو شـمیر ملي او نړیوالو سـتندردونو پیژندل.دسـتندریشـن ددولتي سـیسـتم دمحتویاتو داسـتعمال دځایونو لـه مخې لاندېنې سـتندردونه ټاکې ۱-دتخنیکي شـــرایطو ســـتندردونه دهراړخیزي تخنیکي غوښـــتنې۲-دپارامترونو ســـتندردونو دکچې یا اندازې۳-داسـاسـي پارامترونو اوټیپونو؟ستندردونه۴-دسورتمنټ ستندردونو دسورت کول۵-دنښـو سـتندردونه (مارکه)۶-دکنترکشـن سـتندردونه دودانۍ اواندازې ۷-دتخنیکي غوښـتنو ستندردونه؟۸-دمنل شو مقرارتو ستندردونه۹-دازموینې دمیتود ستندردونه(کنترول) تحلیل او اندازه نیونه۱۰-دنښې ایښودنې ، بسته بندۍ ،ساتنې ، ترانسپورټ، دمقرارتو ستندردونه۱۱-دکچې نیونې دالاتو عیارولو میتودونو لپاره ســـتندردونه۱۲-دجوړونې (ترمیم ) اواســـتعمال مقرارتو سـتندردونه۱۳-دټینګ، تکنالوژیکو عملیو (پروسـیسـونو) سـتندردونه . دسـتندرد محتویات: دعلمي او نړیوال تاریخ له پلوه دســـتندردونو یوه بڼه هغه ســـنددی چې دنورمونو دغوښتنولرونکی وي او دباصـلاحیته ځانګې لخوا نصـب شـوی وي . دسـتندریزیشـن نړیوال ســـازمان په عمومي توګه دوه لاندې اندازې تثبیت او ســـپارښـــتنه یي هم وکړه۱-a4-۲-a5دســـتندرد دپښـــتی (پوښ) عنوان. دســـتندرد دپوښ دمخې عنوان او نښـــې هم له اړینو موضوعاتو څخه دي. معمولا دپوښ پرمخ دستندرد دموسسې نوم ، دستندرد پرلپسې شمیره ، دستندردونو چاپ او دچاپولو کال ستندرد نښه او ستندردشوي محصول نوم چاپیږي دستندرد متن کوم اســاســي موضــوعات چې په ســتندرد کې ځای په ځای کیږي په لاندې ډول دي ۱-دهغوخلکو نومونه چې دستندرد دجوړونې دتثبیت په کمیسیون کې په رسمي ډول ګډون کوي ۲-دســـتندرد دســـرلیک یا نوم ۳-ســـرټکي یا ســـریزه۴-موخه۵-داســـتعمال ځایونه(موارد)۶-

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعریفونه۷-سمبولونه او نښي ۸-دمحصول ډلبندۍ یادرجه بندي ۹-ترمینالوژي۱۰-دمحصول دتولید میتودونه۱۱-دمحصـــول ځانګړي خواص۱۲-دتو///؟؟؟۱۳-نمونه اخیســـتنه اودنمونې اخیستنې میتودونه۱۴-دازمایښت اوبررسۍ میتودونه۱۵-نښه او اوایښودنه او بسته بندي۱۶-مرســـتندویه او لارښــود ضـــمایم۱۷-دصـــفحې لاندېنې یاداشـــتونه۱۸-دمتن اړوند ضـــمایم . دپرنسـیپ له پلوه یاد شـوي سـتندردونه په متن کې ځای په ځای کیږي. زمونږ په هیواد کې داسنادو واحد سیستم دستندردونو دپروژې دکارطرح او نښې ۱۳۵۵ کلونو راپه دیخوا دکابل پولیتخنیک دانسـتیټیوټ او دنورم اوسـتندرډ په اداره او ځینو نورو موسـسـاتو او اداراتو کې پیل شـوي دي۱-دمدیریت کنترول: له هغو لارښـونو او دستورالعملونو څخه عبارت دی چې مدیریت په یوه تصدۍ کې دټولو بیلابیلو اقتصــادي عملیاتونو په کنترول قادروي۲-اجرایوي چلند ونه په یو ه تصدۍ کې له اړینو ټکو دچلند څرانګوالي او داقتصــادي او خدماتي بیلابیل عملیاتو سرته رسول په هغه سازمان کې دي . چاپیریال:--دیوه مناسب چاپیریال شتون دیوي تصدۍ دبریالیتوب لپاره ناسم شرایط برابروي دچاپیریال دکیفیت ستندردونه باید دعمومي ګټو دســاتنې په منظور اجراشــی۴-ماشـین الات او تجهیزات: ماشـین الات او تجهیزات ســاتنې ته اړتیا لري په یوي تصــدۍ کې دوســایلو اوافزارو ته لاس رســی او دهغو دپیژندنې ســربیره دجامه بندي او کوډ ایښــودنې له ســیســتمونو څخه ګټه اخیســتل هم اړین دي .طراحي::---- دتصدیو په زیاتره عملیاتو کې دطرحې عملیات تل له بدلونونو او نوښتونو سره یوځای وي. له دي امله تصـــدیګانې داطمینان دلاســـته راوړنې لپاره دښـــو چلندونو او تجربو دکارولو او لاس رسي یو مناسب سیستم دی.دستندرد کارپوه صلاحیت ::--په یوه سازمان کې دستندرد ځانګې واک او ځواک باید داســـې وي چې دټاکلې اقتصـــــادي کارله اجراڅخه مخکې .په موسسه کې دستندرد له ځانګې سره مشوره وشي. یا دستندرد دځانګې واک او ځواک داسې دی چې دتولیدي کوښـــښ دکارله ترســـره کیدو مخکې باید دســـتندرد دځانګې نظریات اولارښـووني وپلټل شـی، په عمومي ډول ستندردونه جوړوني او تولوني له پلوه په دوه ډوله دي ۱-هغه سـتندردونه چې دبهرنیو سـتندردونو په مرسـته بیرته ګرځول شـوي چې دهغوي دجوړولو اړتیاسرچینه isoستندردونه دی لکه ۱-اصطلاحاتو ستندردونه۲-تحقیقاتي چلندونو ته اړتیا لري.؟؟.دملي ســـتندرد په موســـســـه کې دیوه ســـتندرد دراتولوني دکارمراحل۱-دوراندیزونو موضــوع او ټاکلو موضــوع . لومړنی کمیسـون دپیل لیکنې (چمتوالی) لومړنی کمیســـون دتولیدونکو مصـــرف کوونکو او پوهنتونونو له هغو وګړو څخه چې درســـره مینه لري، تري جوړه شـوی دي.وروسـتنی کمیسـون: وروسـتنی کمیسـون جوړشـوی متن دنظر غوښـتنې لپاره دولتي مراکزو کې ذیصـلاح وګړو ، پوهنتونو او دصـنایعو مرکزونو ته لیږي او دوړاندیزنو په لارښونو؟ دهغوي لخوا راټول شوی متن وروستی کیږي.ملي کمیټه : دملي کمیټې غړي دمنشـــی او دراټولوني مدیریت په همغږۍ ذیصـــلاح واحدونو او ســـازمانونو دنماینده ګانو له منځه بلل کیږي.دستندرد دموسسې جګپوړي مسولین ، دتدوین منشي ریس او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفني كميسونونو غړي شتون لري له غور او دقت نه وروسته دتاكل شوي متن په اړه دملي ستندرد په توګه نتيجي ته رسيږي . ځانګړی كميسيون : داصلاحاتو او مهمو فني ستونزو دله منځه وړلو لپاره ځانګړی كميسيون اړتيا په وخت جوړه شوي چې ستندرد ارزيابۍ كوي اوبيايي خپروي. دستندردونو دبيا ليدو وروسته دانتايج لاسته راځی ۱-ستندرد دتجديد نظر ته اړتيا نه لري او په خپل مخكني اعتبار پاتې كيږي۲-جزوي بدلون او دبشپړ توضيحات۳-ستندردونه چې په عمومي بدلون ته اړتيا لري په فني جلسو اودملي تصويب په كميټه كې له څيړنې او اصلاحاتو وروسته چاپيږي. په دي حالت كې دستندرد شميره تغيير نه كوي خو مخكېنې چاپونه باطله اعلانيږي۴-ستندرد باطل اعلانيږی او امكان لري دهغه پرځای نوی ستندرد له نوي شميري سره ځای په ځای شي. په اوسني وخت كې دISOنړيوال سازمان دنړۍ په ۱۷۵ هيوادونو كې دملي ستندرد دموساتو له يوي شبكې څخه جوړه شوي چې په هر هيواد كې ديوي مركز ي څانګې په توګه اواصلي مركز يي دژنيف او سويس په ښارونو كې فعاليت كوي. كوم سازمان چې نن ورځ isoپه نوم پيژندل كيږي خپل كار يي له ۱۹۳۶ كال څخه دملي ستندرد دانجمنونو نړيوال فدراسيون iso ترعنوان لاندې پيل كړ ددوهمې نړيوالې جګړي دپيښيدو په دليل منحل شو خوله نړيوالې جګړي وروسته په ۱۹۴۷ م كال كې د۲۵ نړيوالو هيوادونو دناستې له كبله په لندن ښار كې دستندرد لپاره دنړيوال سازمان په تاسيس موافقه وشوه او له هغه وروسته د۱۹۴۷ م كال دفبروري په ۲۳ نيټه ايزو رسما تاسيس شو. دسازمان لوګو په دوو انګليسي او فرانسوي ژبو په لنډو تورو isoښودل كيږي په حقيقت كې ايزو كلمه له يوناني كلمې ايزو څخه اخيستل شوي ده چې دمساوي يوانداز زبر ابر او همرنګي په معنا ده.دايزو نړيوال ستندردونه ددی سازمان دتخنيكي او فرعي كميټو په مرسته شپږ مرحلو كې راټوليږي۱-دوړانديز مرحله۲-دتدوين مرحله۳-دكميټې مرحله۴-دبررسي مرحله۵-دمنلو مرحله۶-دخپريدو مرحله.دايزو دغړوهيوادونو غړيتوب په ددي سطحو كې ځای لري۱-اصلي مرحله : هغه هيوادونه چې دستندرد او دهغې داړوندو مباحثو په برخه كې زياته او ښه سابقه لري او ستندردونه يي دزياتو هيوادونو تايد وړ وي يواځي هماغه غړي په رايه اچونې او نظر غوښتنه كې درايې وركولو حق لري چې دغو غړو په تخنيكي كميټو كې فعاله ونډه درلوده يعنې دايزوفعال غړي parti patting membersهم نومول كيږي ۲-خبروركوونكي غړي يا على البدل : هغه هيوادونه چې دستندرد دسازمانونو نه لري داغړي دايزو دسازمان اقداماتو په جريان كې ځای لري خو دستندردونو په راټولونه او اعلان كې دخالت حق نه لري همدارنګه داغړي په كميټو كې درايیي او ګډون حق نه لري ۳- ناظر غړی: ددی سازمان موادو ته لاس رسی لري مګر داريي حق نه لري اودايزو كتونكو په حيث رسما لري چې افغانستان په ۲۰۰۵ م كال كې دايزو دا ډول غړيتوب ترلاسه كړ. ګډ (مشترک) غړي: هغه هيوادونه چې دكوچنې اقتصادلرونكې وي داغړي نسبت نورو ځه حق العضويت لږ وركوی اوپه دې كې كولای شي دستندردونو پراختيا تعقيب كړي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرحال دایزو دنده چې وکولای شي دټولو غړو ترمنځ دستندرد دراټولونې او خپریدا په اړه نظریوالی رامنځ ته کړي. .رایه اچونه :::دایزو نړیوال ستندرد په توګه دیوه ستر منل کیدلو ته لازمه ده دایزو دغړو ددوه ثلثو رایې چې په راټولولو کې ګډون درلود مثبتې وي مشروط په دې چې دټولو ورکړل شویو رایو څخه یې یو له څلورمې رایو لږ منفي وي . ټول نړیوال ستندردونه باید لږ ترلږه درې کاله وروسته له خپریدا تجدید نظر شی له هر۵کالو وروسته داخلي غړو په مرسته تجدید نظر شي داکتوبر۱۶نیټه دستندرد نړیواله ورځ ده او هرکال لمانځل کیږي.دافغانستان دملي سټندرد نښه (ANSA) انسا ده. دستندر محتویات عبارت له :دسټندرد اندازه او۲عنوان سټندرډ عنوان یا پوښ۳-دستندرد متن . دافغانستان دستندرد قانون په ۱۳۹۱ کال کې جوړشو.

# د اقتصادي پرمختیا تیوري

اقتصادي ترقي دخلکو دژوند دښه والي په مانا ده چې یواوسط حد ورته ټاکل کیږي.پروفیسر مایر او پروفیسر باالدوین اقتصادي پرمختیا تعریف داسې کوي.اقتصادي پرمختیا یوه پروسه یا پړاوو دی چې دهغې په ترڅ کې دټولنې حقیقي عاید په یوه اوږده موده کې زیاتوالی مومي . دملي عاید او نفوسو ترمنځ اړیکه په فرمول کې ښودنه په لاندې ډول د.y=y/p(y)(y) سړي سر عاید(y)ملي عاید(p)نفوس دی. دپرمختیا دمطالعې ارزښت :داقتصادي ودي او پرمختیا دپراخه اقتصادي ډګرونو سره سیده اړیکې لري او خپلې زیرمې شتمنې خپلواکې ملي تقویت او پرتم وسائلای شي. ۴-نرکسي : هغه هیواد پرمختیایې بولي چې دطبیعي زیرمو او نفوس په انډول لږ اندازه پانګیز-اجناس او ابزار ولري.۵دشلمې پیړۍ له نیمایې راهیسې دهغې ترپای پورې دنړۍ هیوادونه په کومو برخو ویشل شوي وو. جواب :دشلمې پیړي له نیمایې راهیسې بیا ترپای پورې په اکثروسیاسي اقتصادي بحثونو کې هیوادونه په لاندې درې برخو ویشل شوي وو۱- صنعتي چې اقتصاد یې دازاد بازار په بنسټ وو. سوسیالستي هیوادونه چې مرکزي پلان جوړونه پکې معموله وه او ددریمې نړۍ چې په دریمې نړۍ کې همدا وروسته پاتې هیوادونه راځي.کوزنتر داقتصادي پرمختیا په هکله وایې اقتصادي پرمختیا په اوږده موده کې دیوه هیواداو ټولنې بیلابیلو تولیداتو دظرفیت اوچتیدل دي کوزنتر دتولید په تنوع او ظرفیت تاکید کوي اقتصادي وده دملي عاید دزیاتوالي اواقتصادي ترقي دسړي سر ګټې سره سراو کارلري. اقتصاد پوهان وایې : اقتصادي پرمختیا دیوې ټولنې داقتصادي ،ټولنیزو، دوګړوو درفاهي وضعیت، اقتصادي دوام لرونکې ودې ښه کیدل دي چې ددغې ټولنې داقتصادي ټولنیزو سیاسي علمي اوفرهنګي بنسټونو دمثبت بدلون له امله پیښیږي.ده یو هیواد په ټول ملي اقتصاد کې دلوی اقتصاد په کچه په یوټاکلي کال کې دتیرکال دمقدار په پرتله دتولید زیاتوالی اقتصادي وده ، اقتصادي پرمختیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفزيکي ،بشـــري او ټولنيزو ظرفيتونو په پام کې ســـاتلو ســـره يوځای دتوليدي ظرفيتونو له زياتوالي ســـره تړلي وده پرمختيا بلل کيږي. همدارنګه : افغانســـتان دنړۍ په پرمختيا هيوادو کې شـميرل کيږي. دوه ګونی اقتصــاد عبارت له هغه اقتصــاد څخه ده چې يويې بلکل طبيعي اقتصــاد سـره مشــابه (عنعنوي) اوبل بازار اقتصــاد په کې مروج وي يا شـتون ولري. ددوی عنعنوي اقتصاد ډيرمړژواندې بڼه لري دي ته subsistence economicهم وايې .دنفوسو فشــار ســتونزه زياتره دپرمختيايي هيوادو ســتونزه ده چې په راتلونکې دوی ته داســتونزې راولاړه ولی شي: اقتصـادي ، اجتماعي ، صـحي،محيطي ،فرهنګي، او ان سياسـي ستونزې رامنځ ته کولای شـــي.معمولا پرمختيايي هيوادونه خپل مواد بهر ته صـــادروي ددې پرځای مصـــــرفي نوري (اجنـاس) او لومړني توکي لـه بهره پوره کوي. پـه پرمختللو هيوادو کې هروګړي ته دورځې ۳۵۰۰-۳۰۰۰واحده کالوري ميسره خو زمونږه په هيواد کې په مشکله سره ۱۷۰۰کالوري ميسره کيږي پرمختللو هيوادو کې هروګړي ته دورځې ۳۰ګرامه پروتين مهيـا کيږي حـال داچې زمونږ هيواد اوس هم ځينو مرفـه کورنيو تـه ايلـه ۱۵ګرامـه پروټين ورســـيدلای شـــي.دملګروملتونو دارقامو له مخې به دزيږونونو مجموعي اندول(۱۷اعشــــاريه ۶)ده دماشومانو دتغذيې سلنه (۱۳)دپنځه کلنۍ عمر څخه دټيټ عمر مړينې سلنه (۱۷اعشاريه ۲۵) ښودل شوی دعمر منځنی حد(۴۷-۴۲) دنفوسو کلنۍ وده (۱۷اعشاريه۲)فيصده او ځينې وخت له دې پورته ښـودل شـوی دی. دافغانسـتان طبيعي سـرچينې عبارت له :افغانسـتان په جنوب او جنوب لويديزو ولايتونو کې دکرولو لپاره پراخې ځمکې لري چې داوبه خورسيستم په جوړولو سـره د۹۰ميليونو ټنو غنم توليدولای شـي. او همدارنګه دکانونو او نورې زيرمې هم شــــته او همدارنګه ځنګلونه هم لري، ترڅنګ يې دخامومواد‌و او کاني توکو په غيرې قانوني او غيرې فني ډول ويسـتل کيږي او همدارنګه ځنګلونه او څرځايونه په مناسـبه توګه نه کارول کيږي. چې ګڼ شــــمير ځنګلونه دبربنډيدو په حال کې دي چې په راتلونکې کې دژورې ويجاړتيا(erosion)امکان شـته ، او داسـې نورې ډيری بدې بيلګې په دې برخه کې له نورو پرمختيايي هيوادو زمونږ حالت ډير بدتردی په بل عبارت ديوېځانګړي دورې په لړکې دهرمتغير کمي بدلو ن ته وده وايې. دهارولډ ډومر دودي موډل: دغه موډل په پانګو او سـپما او دسـپما په اندازه باندې تاکيد کوي او داقتصــادي ودې ملي توليد په زياتيدو پورې تړلی بولي i=dk

$$=\frac{\Delta k}{dy}\Delta k = k = k\Delta y\frac{k}{x}$$

1.3=3

2.3=6

(c) ketabton.com: The Digital Library

2.5=6

يوبشـــپړ تولنيز پلان لاندېني پړاوونـه لري۱-دپلان طرحـه او تهيې پړاوو۲-دپلان دتطبيق پړاو۳-دتير پلان دارزوني او دراتلونکې پلان لپـاره مقدمـاتي چمتوالى.دپلان دتطبيق لپـاره لاندېني عناصر ضروري دي.۱-دبودجې ارزښت۲-دادري مناسباتو سيستم۳-دروزل شوي فني پرســـونلو شـــته والى ۴-دپلان ســـره ســـمه او اغيزمنه رهبري۵-بيلابيلو څانګو کې هماهنګي.په پلان جوړونه کې ســـيميز توازن اهميت لري په پلان جوړونه کې بايد ديوې ستراتيژۍ اودورنما هدف په توګه دهيواد دبيلابيلو سيمومتوازن پرمختګ په نظر کې ونيول شي. دپلان جوړونې نړيوال تجارب:لکه چې وويل شول پلان جوړونه داقتصادي علومو يوه نسبتا نوې څانګه ده نن ورځ داسې هيڅ يو هيواد نشته چې په هغه کې پلان په يوه نه په يوه بڼه رواج نه وي. دپلان جوړونې دتيوري موضـــوعات:۱-دپلان ټولنيزه او اقتصـــادي برخه، دټولنې داړتياو دپوره کولو لپاره دمجدد توليد او ملي عايد دلوړولو د تدابيرو عملي والى يا دتطبيق امکانات څرګندوي۲-دپلان اســـلوب پيژندنه برخه دپلان تخنيکي او تشـــکيلاتي چاروترتيب او په ټولو ټولنيزو او اقتصـــادي برخو کې دپلان اجرا څيړي. ددغو ټولو برخو ترمنځ رياليکتيکي (سـره پيبلې)اړيکې شـته . اقتصـاد علم په مجموع کې هغه ټولنيز علم دى چې دټولنې پراخو غوښتنو ته محدودې سرچينې بيلوي.داقتصادي پلان جوړونې ميتودولوژي :دپلان جوړونې ميتودولوژي ددولـت داقتصـــــادي پلانونو دطرح دلارو چـارو عمومي پرنسيپونو دمجموعې څخه عبارت ده. افغانستان کې تراوسه لاندېني پلانونه تطبيق شوي :په هيواد کې لومړنى اقتصـــادي اجتماعي پلان په ۱۳۳۵ کال طرح او په تطبيق يې پيل وشـــو. ډيره غوره نتايج يې درلودل. دويم ۵کاله پلان په ۱۳۴۰ کال پيل شـــو چې دترانســـپورتي ســتونزو له امله پيشـبيني شـوى ارقام پوره نه شـو خو بيا هم بريالى ګڼل کيده. دريم پلان : په۱۳۵۲ بدلون پيښ شـو او په ۱۳۵۴ د۷کلن اقتصـادي پراخ پلان په تطبيق شـروع وکړه او ډيرې ښې پايلې يې لرلې.عامه مرستې په دوو برخوويشل شوى odaيعنې رسما پرمختيايي کومکونه : هغه مرســـتې دي چې رســـما راته راځي په ملي بودجه کې ليکل کيږي۲-اعلى بشـري کمکونه : دي چې دسـره مياشـت يونيسـيف او نوروموسـسـاتو له خوا ورکول کيږي. ياني اقتصـاد: هغه اقتصـادي نظام دى چې هلته اړتياوو دپوره کولو لپاره داجناسـو او خدماتو توليد دټولنې اکثريت غړو داړتياوو پوره کولو په خاطر او اقتصـــاد ى او ټولنيزو اهدافو ته درســـيدو لپـاره دپلان جوړونې اداري لـه خوا پـه پـام کې نيول کيږي. ځوانـان : دهيواد دپرمختګ لپاره کولاى شى لکه ځوانان بايد نورو هيوادونوته لاړنه شي اودلته په خپل هيواد کې خپلو وطنوالو تـه خدمت وکړي او ځـان پـه معيـاري بڼـه برابر کړي ترينګونـه واخلي اودروزنې بيلابيل مرکزونه ولټوي ترڅو هيواد مو پرمختيا وکړي . دبيوزلۍ شيطانى دايره : دفقر کړښـه هغه ده چې دژوند سـطحه داسـاسـې اړتياو له پوره کيدو څخه راټيته وي يا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندازه عايد چې په کورنۍ يې لري او له هغه څخه ډېر لږ راکم شي نودغه کورنۍ په بيوزلو کې شميرل کيږي. ديوې کورنۍ حداقل ژوندې پاتې کيدو په اندزه . په پرمختياېې هيوادو کې دپانګې عرضـــه ځکه کمه ده چې دلته پس انداز وجود نه لري. دليويس داقتصـــادي پرمختيا درې شرايط ښودلې چې ډېر ضروري دي.۱-دپانګې اچول۲-دپوهې دسطحې لوړول۳-دپلان جوړونې څخه کاراخيستل. دپرمختيا لپاره ضـــروري شـــرايط دادي :۱-اقتصـــادي ۲-غيري اقتصـــادي شـــرايط. دپرمختيا غيرې اقتصـــادي شـــرايط په څلور ډوله دي :۱-ټولنيز کلتوري: دغه شرايط پس انداز ته دوګړو علاقه او ميلان ټاکي۲ښوونه اوروزنه-پروفيسر ګالبريټ په دې هکله ويلې دي ننې وخت کې دپرمختيا لپاره دښوونې او روزنې بل هيڅ ضروري شرط نشـــته دی۳-باکيفايته حکومت: باکفايته وګړنيز احســـاس لرونکی ، باوجدانه ، او صـــادق حکومت کولای شـــي قانوني نظم برقراره، ښـــه لوايح تطبيق، ښـــې پروژې پيل،ښـــه هيوادني پلانونه طرحه، او په نهايت کې داقتصادي پرمختيا زمينه برابره کړي،او خپل خلک ټولنيزې رفاه ته ورســـوي او وګړو ته دژوند دلوړي کچې (رفاه) امکانات برابر کړي. ۴-نفوس: که چيرې دپانګې دزياتوالي ضـــريب دنفوس دزياتوالي په اندول لږ وي اقتصـــادي پرمختيا نشـــي راتلای . ښکيلاک دوروسته پاتې هيوادو سره څه وکړل او لابه څه کوي.دوي ته ېې صنعتي کيدو اجازه نه ده ورکړي او يايې هم ډېره انرژي وخت او پاملرنه دازادۍ دګټلولپاره تير شـــوی نوځکه اقتصـــادي ودې ته نه دې وزګار شـــوي اســـتعمار ددغو هيوادونو خلکو ته يوه ناوړه احساس پريښې چې دوی دترقې په لور نه هڅيږي او ځان ورته دروحې پلوه وروسته پاتې او ناتوان ښـــکاري. نيمګړی بازار هغه بازار ته ويل چې ؟؟؟؟له لږ مولد ســـکتور څخه لوړ مولد سکتور ته دتوليدي عواملو دليږدولو خنډونه بايد له منځه ولاړشي کورنې توليد کې انحصـــارکه موجود وي له منځه ولاړ شـــي مارکيټ ته دهرمتشـــبث داخليدل او پانګه اچونه وهڅول شـــي ترڅو بازارپه بشپړ ډول ښه ونيســـي.دپانګې ټولول يوله بل سره درې پړاوونه لري.الف: پس انداز او زيرمو زياتول ب: مالي او کريديتي ميکانيزم ج: دپانګې اچونې څخه عملي ګټه اخيستنه. دپرمختيايي اقتصـــاد عوامل او داقتصـــادي ودې لپاره شرايط او دوروسته پاتيوالي لاملونه :۱-دډيرومنابعو څخه لږ اســـتفاده۲-دپانګې کمښـــت۳-تکنالوژۍ کمزورتيا۴-زيربناوي چارې۵-دښکيلاک تاثيرات۶-موسسو وروسته پاتې والی . غير اقتصادي وروسته پاتې والې لاملونه: ۱-ناپوهي۲-بې اتفاقي۳-بې قانوني۴-خرافات. افغانســـتا ن کې دوروســـته پاتې والې نښـــې چې ښـــکاري هغه کومې دي نظر دادی چې په افغانســـتان کې دوروســـته پاتې والې ټولې نښـــې ښـــکاري.متوازنه وده : په هيواد کې دپرمختيا هغه ډول حالت دی چې دملي اقتصـــاد ټولې برخې او ســـکتورونه يوبل سره برابر په برابره توګه وده کوي. فزيوکراتان په اقتصاد کې دعلمي او عملي مکتب لومړني بنسټ ايښودونکي ګڼل کيږي. مخکې ځينې منفرد موضـــوعات وه لکه بهرنۍ ســـوداګري دپيســـو دجريان ربح او نور خو فزيوکراتانو دلومړي ځل لپاره داقتصـــاد دکلي جريان جامع تحليل وړاندې کړ.کرنه دلاندې شـــپږو عواملو له امله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دملي اقتصـــاد په وده اثر کوي۱-دنفوســـو زیاتوالی ســـره ســـم دهغوی غذایي اړتیاوې پوره کول۲-دصنعتي محصولاتو ورځ په ورځ زیاتیدونکې تقاضا ډیرومهمو اقتصادي سکتورونو دپراختیا اړتیا رامنځ ته کوي۳-دکرنیزو محصـــــولاتو زیاتوالی ددې امکان برابروي چې بهرني اسعار جذب او په دې ډول دراتوليې شوی پانګې په ذریعه ماشین الات وارداو هیواد دترقی باعث شي۴-دکلیوالي وګړو دعاید دسطحې لوړول چې بیا دحکومت له خوا راټوليږي دمالیاتو په بڼه ۵-دبیکاری دټولو ډولونو کمښت او دکاردزمیني برابرول۶-په مجموعي توګه دستندردونو لوړول. Johnston and mellow or melonله نظره دکرنیزوتوکو زیاتوالی: دعامه لومړنیو اړتیا دلګښـــتونو کمښـــت دکرنیزو امتعو دبیو راټیټیدل او له کروندګرو له بیلابیلو لارو دمالیاتو ترلاسه کول په برکې لري نوددې لپاره چې زیاته پانګه ترلاسه شي. په متوازنه ولې انتقاد شـــوی ؟ځکه Hirschman په خپل اثر کې متوازنه وده داقتصـــــادي پرمختیا تیوري په توګه نه مني داځکه چې دوروسته پاتې اقتصاد په فرضیه ولاړه نظریه ده په یو پرمختیایي اقتصـــاد کې تل دتولید عوامل ناانډوله موجود وي نو ځکه دمتوازن رشـــد دپالیســـی تطبیق په کې ګران ښـــکاري. په متوازنه وده کې اقتصـــادي ســـکتورونه یو په بل اغیزې لری .:پرمختیایې هیوادونه دڅو ســـکتوري اقتصـــاد دودي یا دورې یا دڅو ســـکتوري انکشـــاف په شـــرایطو کې ډیرې زیاتې پانګې ته اړتیا لیدل کیږي یا لري یعنې دی وایې که مونږ اقتصـــاد ته متوازنه وده ورکو نو اړیو چې ټولو برخو کې پانګه واچو او داډول پانګه اچونه ډیره پانګه غواړي حال دا چې په پرمختیایي اقتصاد پانګې دکمښت سره مخامخ وي. نوځکه دداډول اقتصـــاد شـــرایط غواړي چې غوره شـــویو ډګرونو پاملرنه وشـــي له بلې خوا پرمختیایي اقتصـــاد دفني پرســـونلونو او کدرونو صـــنعتي ماهرینو له کمښـــت ســـره اوپه تیره دمنجمنټ او تشبث په ساحه کې دمجرب سټاف دنشتوالي سره مخامخ وي نو نشـي کولای ســـکتورونه په متوازنه توګه پرمخ بوزي. که عاید او نفوس یو شـــان وي دي ته ثابت حالت وایې یعنې دي ته ولاړ حالت وایي یعنې اقتصـــاد پوهان وایي داهم ناسم حالت وي یعنې عاید باید دنفوس نه زیات وي، داسم حالت دی. دپرمختیاوي هیوادونو ځانګړتیاوي۱-دهیواد د ټول مساحت په مقایسه کم نفوس۲-دپانګې کمښـت . داقتصـــاد نامتو څیړونکې R.Rodanپه خپل مشـــــهور اثرکې دکرنې او صـــــنعت کلکې اړیکې یې تشـــــریح کړي. داځکه دا دواړه مولد ســـکتورونه دي دهغو په پرمختیا سره کانونه جوړښـتونه سـوداګري او نور ټول ســـکتورونه تحرک او پرمختیا مومي. دکرنې سکتور په بنسټ دصنایعو وده وښودله رودان هغه لومړنی اقتصـــاد پوه وه چې پرته له دي چې دمتوازنې ودې اصـــطلاح یې وکاروله دمتناســـب رشـــد تیوري یې په ۱۹۴۳ کال کې کشـــف کړه. دافغانســـــتان لپاره متوازنه وده ښــــه ده ځکه په پرمختیایي هیوادو کې غیرې متوازنـه وده حـالات نورهم خرابوي. دهیرشـــــمین لـه نظره : دپرمختیایي هیوادو ستونزه دمنابعو کمښت نه دی بلکې دمنابعو څخه دګټې اخیستنې دظرفیت نشتوالی دی دغه خبره په خپل استدلال او نظر توضیح کړي. داقتصـادي پرمختیا موخې ۱-

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ناخالص ملي تولید کې زیاتوالی۲-دبشـــارونو انکشـــاف او پراختیا نفوس/عاید=pci۳-دټولنیزې رفاه اواســـوده ګـې شـــکـل لـري۴-دکار او روزګـار رامنځ تـه کول..Type equation here.پرمختیایي تیوري پوهه او علم عقل اوپرمختیایې پالیســـي تطبیق اواجراکول دي . هغه څه چې مونږ ته نظرونه او پیشـنهادونه راکوي او هغه څه چې مونږ ته لارې چارې جوړوي هغه پالیســـي ده . دپرمختیا مهم پړاوونه ۱-ابتدایي او عنعنوي ټولنه۲-تولیدي ټولنه۳-ټوپ وهل۴-پوخوالی۵-وخت .پرمختیا یو شـمیر پلانونو ته اړتیا لري پلان یو شمیر تدابیر نیول داینده لپاره پلان دپرمختیا لپاره اړین دی. بلاعوضـه مرستې هغه پیســـې دي چې دیو هیوادوګړو یا ســـازمانونو لخوا نورو هیوادو وګړو یا ســـازمانونو ته دمرســـتې ترعنوان لاندې راشـــي . ســـړي ســـرملې ناخالص تولید. دیوهیواد ټول هغه ملې ناخالص تولید چې ددغه هیواد په نفوس تقسیم شي حاصل یي هغه عاید دی چې ددغه هیواد هروګړي ته رسیږي. اقتصـادي پرمختیا دژوند دمعیارونو وار په وار او چټیدل اودخلکو په هوســـایني بنـــه کیدل پرمختیا بلل کیږي. دوه ګونی اقتصـــاد : دپرمختیایي او وروســـته پاتې هیوادو دښـارونو او کلیو ترمنځ دژوند دکچې او اقتصـــاد وضـعیت ډېر تولید ته ویل کیږي. مطلق فقر: هغه حالت او وضعیت دي چې یو وګړی ته دده حد اقل لومړنی اړتیاوې چمتو نه وي. ملي عاید په یو هیواد کې یاملي اقتصاد کې دټولو وګړو دعوایدو مجموعه ده او کله چې داعوایددهیوادونو په نفوسو تقسیم شـي سـړي سـرګټه ورته وایي آیم فکتورونه: هغه نامتو فکتورونه دي چې په اقتصـــاد کې یې ځانګړی ارزښـــت موندلی۱-ماشـــین۲هدف۳دمدیریت طریقه۴-وسیله median۵-سړيmen. نړیوال ددغو نفوسو څخه جوړشوی دی . دنړیوال پرمختیا اتحادیه، دبیارغاونې او پراختیا بانک میګا او نړیواله مالي موسسه . دبیوزلۍ عوامل هم اقتصـادي او غیرې اقتصـادي دي او دپرمختیا میکانیزمونه دادي ۱-سړي سر ګټه لوړه کړو۲-دپانګې دتولیدو مرحلې ته ورســـیږو او ۳-میکانیزم دادی چې پانګه باید په مولده تولیدونکې سرمایه بدله شـي او په تولیدي برخو کې په کارولویږي. په عمومي توګه بهرنی مرستې دوروسته پاتې او اړو هیوادونو لپاره لاندې ګټې لري ۱-دفقر په کمښت کې مثبت رول۲-داقتصـــــادي زیربناوي پروژو فعال کیدل ۳-دجګړي وچکالی یابل ناڅاپي عامل دتاثیراتو مخنیوی۴-کلیوال انکشـاف۵-داسـتخدام دفرصـتونو ایجاد۶-دودې دداخلي منابعو په کاراچول. پرمختیایي هیوادو ته دبهرنیو مرســـتو منفي اړخونه ۱-عیاشـــي اودلتې روحیې خپریدل۲-دبیعدالتۍ زیاتیدل۳-په خپل ځان دبسـیاوالي روحیي ضــعیف کیدل۴-دتوراوجرمي اقتصـــاد پراختیا۵-دمرســـتو اخیســـتونکو هیوادونو ملي غرور ته زیان رســیدل۶-دمرســـته اخیسـتونکو له خوا په پټه یو شـمیر(نه ښـکاره کیدونکو ) شـرایطو تحمیل ته غاړه ایښـودل. مونږ دیو شـــمیر نامتوپوهانو نظریات ددوی ژوند لیک او اثار هم معرفي کوو. پروفیســـور لویس: میردال روسـتو، الفرد مارشـال، نیو کلاسـیکانو، جوزف شـومپټر جان تنبرګن جیمز بوکان او هارود دومر نظریات او مودولونه مو بیان کړل. پروفیســـور ایم –ایل- جهنګان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپرمختیا لپاره لاندې عوامل ډیر ضــــروري بلليي ۱-طبيعي ســـرچينې۲-دپانګې تجمع۳-اورګانيزيشـن۴-تکنالوژيکي ترقي۵-دتوليد برخو او دکارويش۶-په اقتصـادي جوړښـت کې بدلون. ځانګړتياوي عمومي دپرمختيا۱-دهيواد ټول مساحت په نسبت دنفوسو کموالی دپانګې کمښـت۲دنورو توليدي عواملو په نسـبت دپانګې کموالی ۴-دصـنعت کمه ونډه ۵-ديوهيواد دازدۍ عمر پرتله ۶-دسـړي سـر عايد دزياتوالی امکانات.په اقتصــاد کې يوه تيوري کوم څلور شـــرايط چې لري هغه دادي :۱-فرضـــيات۲-ديوې تيوري دارايي لپاره متغيرات ۳-ادعا۴-اساس ، قاعده ، قانون. دشومپټر دتيوري اصـلي ټکې دادي يانې نوموړي داقتصـادي پرمختيا عوامل هم دغه بولي:دغه تيوري داقتصـــادي ودي محدودونکی عامل دمتشــبث قلت ښـکاره کوي، برخلاف دمتشـبث موجوديت داقتصـادي پرمختيا عامل بولې. روسـتو والټ په ۱۹۱۶ م کال کې نړۍ ته سـترګې غړولې په ۱۹۳۶ م کال کې خپل ليسـانس دبيل پوهنتون څخه او فوق لسانس يي په ۱۹۳۸ م کال کې له کمبريج پوهنتون څخه او دکتورايې ۱۹۳۹ م کال کې دبيل پوهنتون څخه ترلاســـه کړه او په ۱۹۵۲ م کال کې ددغه پوهنتون داقتصـــاد دتاريخ په تدريس پيل وکړپه ۱۹۶۶ کال کې دملي امنيت په چارو کې دامريکا دمتحده اياﻻتو دهغه مهال دولسـمشـر جان کينډي ځانګړی مشـاور غوره شـو. دکارل مارکس او روسـتو دپرمختيا تيوري يوله بل سـره توپيرلري چې: يوشـمير اقتصـــاد پوهان دروســـتو نظريات دمارکس دنظر سره ورته بولي ،خو کټ مټ يا ددهغه نقل يي نه بولې داځکه مارکس دټولنې ټول نهادونه په پنځو مرحلو کې ښـودلې خوروسـتو يواځې داقتصــادي ودي پړاودپرمختيا پړاوونو باندې تمرکز کړی دی.زيربناوي : داقتصادي ودې لپاره هغه بنسټيز جوړښتونه دي چې دتوليد اودخدماتو دپرمخ بيولو لپاره اســـانتيا رامنځ ته کوي. ارتور لويس دهغه نامتو اقتصــــاد پوهانو په لړکې دی چې داقتصــــادي پرمختيا په هکله يې نظريات ورکړي وه . په ۱۹۱۵ کال په سن لوسيا کې زيږيدلی دی نوموړی يوتورپوستی او دنوبل دجايزي ګټونکې دی او دوه ګوني اقتصـــاد نظريه هم ده ورکړه يعنې توضــيح کړله . هغه معيارونه او علايم چې دپرمختيا په پايله کې راڅرګنديږي. ۱-دکرنې په ســـکتور کې ديو تن زراعتي کارګر دتوليد داندازې لوړاوی۲-دسړي سر دبريښنا دلوړوالي دلګښت۳-ددبروسکرو يا کومې بلې منبع انرژيکي منبع لګښت۴-دګړو دعمر اوږدوالی۵-دسړي سر حيواني پروټين لګښت۶-په ښوونځيو کې دماشومانو دشموليت سليقه۷-داوسيدو په يوه کوټه کې دوګړو سطحې شمير۸-دهروزروتنو لپاره دورځپاڼو شمير۹-ددوکتورانو شـمير ۱۰-دښـارونو پراختيا۱۱-داجتماعي تحرک درجه۱۲-دليک او لوسـت لوړښـت۱۳-دعصـري ژوند دبيلګو سـره اشـنايي۱۴-دمطبوعاتو دازادۍ درجه۱۵-دبهرنۍ سوداګرۍ دجوړښت ښـه والی۱۶-دبشـري کار ځواک ورځ په ورځ ښـه والی۱۷-دمادي او پولي موسسـاتو اغيزمنتوب۱۸-په صـنعت کرنه کانونو ودانيزو او نورو بنسـټيزو برخو کې دتکنالوژۍ عصـري والی۱۹-دسـړي سـر ګټې وده۲۰-سياسي استقرار اودوضعي ثبات۲۱-د اداري کفايت درجه۲۲-دګوندونو ازادي ۲۳-دتفريحي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلتوري اواموزشي مرکزونو شمیر او دې برخو کې اسانتیاوې اوداسې نور. بهرنۍ مرستې : په اقتصـــــاد کې یو بحث اوددولتي عوایدو یا ددولت دمالي وســـــایلو منبع او عامل دی. دوروسته پاتې هیوادونو په مالي منابعو کې یویې بهرنۍ مرستې او پورونه دي .البته پورونه وروسته بیا په بیلابیلو قسطونو سـره ادا کیږي او کله هم ډیور ورکوونکو له خوا په بشـپړ ډول ښښـل شـوي هم دي. پرمختیایي هیوادونه ځکه پورونو او مرسـتو ته اړ دي چې دناوړه ناڅاپي پیښو څخه متاثره شوي او دجګړو له امله یې اقتصـاد ځپل شوی او یادطبیعي ناڅاپي پیښـو له امله زیانمن شـوی وي.دنړیوال بانک له موخو څخه یوه یې داده چې په هغو هیوادو په اړینو سـاحاتو کې دپانګوالی لپاره شـرایط مسـاعد کړي او هڅه وکړي چې اقتصـادی وده چټکه او د دڅوندانه کچه لوړه شـي او دا هیوادونه په ځان بسـیا کړي په ښـو مشـورو سـره اساسـي بنسټونه په پښو ودوروي او دپرمختګ اداري جوړې کړي .مرستې ورکول مرستو ورکوونکو هیوادو (پرمختللو هیوادونو ) په سیاسي ستراتیژۍ کې داخله خبره ده۲-دوی ځکه هم خوارو ملکونو سره مرسته کوي چې هغوی له رواني پلوه ځان ته متمایل اولیواله وساتي ۳-خپلو تولیداتو ته دخرڅلاو مارکیټ پراخ کړي۴-نړیوالي اقتصـــــادي اړیکې هم ددې ډول مرســتو غوښــتنه کوي اوورســره موافقه خبره ده ۵-دبشــري عواملو اوانســاني انګیزو او دپرمختللو او وروســــته پاتې هیوادونو ترمنځ ډیرزیات توپیر او واټن راکموي. ځیني انتقاد کوونکي دنړیوال دپورونو په هکله مخالف نظر لري او په دې اند دي چې دنړیوال بانک موخه څنګه چې دلومړي سره یا دپیل په وخت کې وه، هغسې ترسره نه شوه، یعنې بیوزلي لاهم شته دغریبو او بې وزلو دژوندانه په کچه کې دلوړاوي راوستل نه دي ترسترګو شوي خو داچې دنړیوال بانک خپلې زیاتې پیسې اوس په بنسټیزو بدلونونو ولګوي نو غریبو ته یې مخامخ ګټه لږ یا هیڅ نه رســـیږي.افغانســــتان باید له پورونو څخه په لاندې ځایونو کې کار واخلي : دابايد دانکشافي بودجې په ترڅ کې په عام المنفعه چارو اوملي انکشافي پروژو کې ولګول شي.پولي سیاست : ټول هغه تدابیر چې دهغو په واسطه مرکزي بانک دمالي او پولي وسیلوپه کاراچولو سره دپرمختیایي هدفونو دترلاسـه کولو په لورګام اوچتوي. په پرمختیایي هیوادو ځکه پولي پالیسي نه شي تطبیق کیدای چې: دپولي موسساتو عدم انکشاف۲-دصنایعو او بازارونو عدم انکشاف۳-لنډ مهاله او ژر سرته رسیدونکو پروژو ته لومړیتوب ورکول۳-په حکومتونو داطمینان نه موجودیت۴-داقتصـادي وضـعیت او حکومتي پلانونو وضـاحت۶-دکارګري اتحادیې ضـعف. په لنډ ډول باید وویل شـي چې دپرمختیایي هیوادونو پانګه اچونه یعنې :دملي (لوی) اقتصـــــاد له نظره: په معلوم وخت کې دثروت او حاصـــــل زیاتوالی ده یادپـانګې داســــې پـه کـاراچول دي چې پـه ملي ذخـایرو کې دزیـاتوالي ســــبب وګرځي . دتصـدۍ(کوچنې اقتصـــاد)له نظره : په مادي ، غیرمادي او مالي شـتمنیو باندې چې دهغوی څخه په مستقیم ډول یا غیرمستقیم ډول دتصـدۍ په تولیدي فعالیت کې استفاده وشـي دپانګې اچونې په نامه یادیږي. په پرمختیایي هیوادو کې دپولي ســــیاســــتونو محدودیتونه دادي:لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه مو چې ولیدل په وروسته پاتې هیوادو کې غیر تنظیم شوي او یاغیرې متشکله مالي موسسـې په پراخه کچه خوري دي اکثره تجارتي بانکونه په دي هیوادونو کې دخارجي بانکونو شعبات دي ، له دي پلوه دځو میلیته تصدیګانو په شان دهغوی زیاته پاملرنه خپلې مورنۍ تصدۍ ته چې په خارج کې ده نظر دوروسته پاتې هیوداونو اقتصاد ته ده . بهرنۍ پانګه اچونه : هرهغه پانګه اچونه چې دخصوصي شرکتونو یا افرادو لخوا دخپل هیواد څخه دباندې ترسره شي ، خو ددولت دهدفونو په چوکاټ کې وي بهرنۍ پانګه اچونه بلل کیږي. دڅوملیتي کمپنیو مثبت رول:۱-دمنابعو خلا له منځه وړل۲-څوملیتي کمپنۍ دبنې ګټې نوي منابع رامنځ ته کوي۳-دپرمختللي تکنالوژۍ استعمال۴-دپرمختیایي هیوادونو دمنابعو ښه استعمال۵-ددولت د عاید زیاتوالی۶-له داخلي استعدادونو ښه استفاده۷-نړیوال کیدل۸-دنړیوالي سولې منبع. دڅوملیتي کمپنیو منفي رول:۱-انحصار۲-خاص هیوادونه او خاصې ځانګې په نظر کې نیسي ۳-نامناسبه تکنالوژي۴-دپانګې بهر ته تګ ۵-په کورني اقتصاد باندې ناوړه اغیزې۶-سیاسي مداخلات ۷-ټولنیزې اغیزې۸-دنړیوال کنترول کموالی.کورنۍ پانګه اچونه : داهغه پانګه اچونه چې پانګه وال یې دیو هیواد په دننه کې په کاراچوي اوبیلابیل ډولونه لري.چې مخکې مو تري یادونه وکړه، .بهرنۍ پانګه اچونه: هره هغه پانګه اچونه چې دخصوصي شرکتونو یاافرادو لخوا دخپل هیواد څخه دباندې ترسره شي .خو ددولت دهدفونو په چوکاټ کې وي. بهرنۍ پانګه اچونه بلل کیږي.بهرنۍ پانګه اچونه په عمومي ډول په دوه برخو ویشل کیږي.خصوصي بهرنۍ پانګه اچونه ۲-رسمي یا عمومي بهرنۍ پانګه اچونه ده .خصوصي بهرنۍ پانګه اچونه هرډول فزیکي یا مالي شتمني چې دافرادو یا خصوصي شرکتونو په واسطه یو بل ملک ته انتقال شي، دخصوصي بهرنۍ پانګې اچونې په نو م یادیږي .خصوصي بهرنۍ پانګه اچونه په دوه برخو ویشل کیږی.۱-مستقیمه ۲-غیر مستقیمه .مستقیمه بهرنۍ پانګه اچونه : له هغې پانګې اچونې څخه عبارت ده، چې بهرنۍ پانګه اچونکې په مستقیم ډول په کوربه هیواد کې پانګه اچوونه وکړی ، په مستقیمه بهرنۍ پانګه اچونه کې پانګه اچونکې داقتصادي واحد اداره او کنترول مستقیما دخپل فزیکي حضور او مالي مسولیت په منلو سره په واک کې لري.غیرې مستقیمه پانګه اچونه : له غیرې مستقیمې بهرنۍ پانګې اچونې څخه مطلب دمالي داریي ګانو اخستل دي، لکه اسهام چې په واردونکې هیواد کې پیسې نشرکیږي. ۲:رسمي یا عمومي پانګه اچونه: عمومي یا رسمي بهرنۍ پانګه اچونه په دوه ډوله ترسره کیږي. ۱-ددو هیوادو یا ددهغوی دمرکزي بانکونو ترمنځ اوقرضې دقرارداديا بهرنۍ مرستې په شکل۲-چې دنړیوالو سازمانونو لکه نړیوال بانک ، دپیسو دنړیوال وجهي صندوق اونورو په واسطه داپیسې دهیوادونو ترمنځ انتقال پیداکړي.دبهرنۍ پانګه دکومو علتونو له مخې کیږي.په بهر کې دداخل په پرتله دزیاتې ګټې موجودیت۲-دمستقیمې بهرنۍ پانګې اچونې بل علت په بهر کې په خپله پانګه او مدیریت دمستقیم کنترول درلودل دي.۳-له ګمر کي تعرفو او نورو ګمرکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تجارتي موانعو څخه مخنيوى يا له صــــادراتي اعانو څخه اســــتفاده.۴-دFDIلپاره دتوليد دعواملو دقيمت کموالى هم يو دليل کيداى شــــي.۵-څرنګه چې اکثره پرمختيايى هيوادونه په دې ونه توانيدل چې دتکنالوژۍ په پرمختګ باندې عيار کړي.۵-لکه څرنګه چې په دې ورستيو کلونو کې ځيني هيوادونه لکه چين ، جاپان ، جنوبي کوريا ، پرمختګ ۶-په يوجنس کې ديو هيواد نســبي مزيت درلودل۷-ځيني کمپنۍ ديوخاص جنس په توليد کې دزياتي پوهې درلودونکې وي اونه غواړی چې دامعلومات نورو ته انتقال کړي.۸-شايد ځيني شرکتونه چې بهرنۍ پانګه اچونه کوي دا ارزو ولري چې دخامو موادو يوه منبع مستقيما کنترول کړي، ۹-شايد دپانګې اچونکې هدف ديو معين هيواد داوليګوپول بازار ته داخليدل وي او په دې ډول نه غواړي چې ممکنه ګټه له هغه شـرکت سـره چې نيمه انحصــاري شـکل لري تقسيم کړي .دغيرې مســتقيمې بهرنۍ پانګې اچونې عمده علت دهيواد څخه دباندې دزياتې ګټې ترلاســه کول دي بنا داقتصــادي مقاصــدو په نظر کې نيولو ســره دغيرې مســتقيمې بهرنۍ پانګې اچونې عمده عامل زياته ګټه ده ، ديوهيواد اتباع په دې خاطر يوه بهرني هيواد کې دقرضې اوراق يا اســـهام اخلي چې دهغه ګټه دهيواد دداخل په نســبت زياته وي ، څرنګه چې پانګه اچوونکې کوښــښ کوي، چې دپانګې اچونې خطر حد اقل ته ورســـوي ، بنا دهغو کمپنيو اســهام اخلي چې دهغو ګټه زياته او دضــرر خطر يې کم وي.دبهرنۍ پانګې اچونې دجذب اغيزمن عوامل کوم دي. جواب په درې برخو ويشــل کيږي۱-اقتصــــادي عوامل۲-حمايت اوتشـــويقي عوامل۳-بنيادي (امنيتي) عوامل. دپولي ســياســت عمده وســايل عبارت له :۱-دبانکنوټونو دنشــر امتياز۲-دحداقل ســپما ســياســت۳-دازاد بازار ســياســت۴-دمجددتنزيل سياست۵-دطلا او اسعارو سياست۶-دکريډيټ سياست۷-دپولي او مالي موسساتو شخصي غوښــتنه(خواهش).دبهرنيو پانګه اچونو مثبتې اغيزې۱-دســپما خاليګاه پوره کول۲-دباندېنو اســـعارو دتبادلي دکمبود پوره کول۳-دتوليداتو دکمبود پوره کول۴-دتوليد دعواملو په توليدي ظرفيت کې زياتوالى۵-ټولنيزي ګټې ۶-دګټو دوباره اســتعمال. دبهرنۍ پانګې اچونې منفي اغيزې۱-هوســاينه او ســهولت۲-دوړوســرمايوي ســکتورونو وده۳-دتادياتو دبيلانس دتوازن مشــــکل۴-ددولت دعوايدو کميدل۵-نامناســــبه تکنالوژي۶-منفي ټولنيز او اقتصــــادي چلند. دپرمختيايي هيوادو ســره بهرنۍ مرســتې تاثيرات لري :داداقتصــادي ثبات او پرمختګ ســره مرسته کولای شـي. پلان : هغه منسجمو تدابيرو مجموعه ده چې دهغو په پلې کولو سره په ټولنه کې دبيلابيلو سکتورونو هغه اهداف چې دټولنې داقتصادي ځانګړتيا او عيني قوانينو يا شرايطو په پام کې نيولو سره په نظرکې وي ترلاسه شي عبارت له پلان څخه ده. او پلا ن جوړونه دهغو تدابيرو مجموعه ده چې دچارو مســـولين يې په يو ټاکلې وخت کې يو يا څو هدفونو ته درسيدو لپاره په نظر کې لري. دوخت له پلوه پلانونه په درې ډوله دي۱-لنډمهاله ۲-منځ مهالـه ۳-اوږد مهالـه. دمرکزيت ددرجې او اداري لـه پلوه ۱-کنترول کيدونکې او مرکزي پلانونه ۲-مختلط يا ګډ پلانونه۳-لارښـــود يا رهنما پلانونه: په رهنمايي پلانونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتطبیق له پلوه مســـولیت حکومت ته نه راجع کیږي او یوازې لارښـــوونه کوي حکومت په مختلط پلان ؟عامه سکتور کې داومرو او هدایاتو په واسطه دمرکزې پلان مطابق وده مومې او خصـوصـي سـکتور دمطلوب هدف ته درسیدو په منظور رهنمایي او تشـویقي وسـایلو په واسـطه لارښـوونه ورته کیږي زمونږ په هیواد کې تطبیق شـویو پلانونه اکثرا همدا بڼه لري ۳-دددې پلان هدف داده چې ټولنه دترقۍ عالي درجو او دهوسـاینې لوړ حد ته ورسـیږي او هرنظام همدا هدف خوطریقې بیلې وي.


# پانګه اچونه

دتصـــدۍ اقتصـــاد له نظره دپولي پانګې تهیه کول دتولیدي فعالیت په منظور دتمویل په نامه اودپولي پانګي تبادله په داســـې مادي، غیرمادي او مالي شـــتمنیو باندې چې دهغوی څخه په مستقیم او غیرمستقیم ډول سره دتصدۍ په تولیدي فعالیت کې استفاده وشي دپانګې اچونې په نامه یادیږي.۲-دیوي تصـــدۍ بیلانس له دوو برخو څخه جوړ دی چې یوې برخې ته یې پسـیف او بلې برخې ته یې اکټیف دبیلانس پسـیف اړخ ښـکاره کي چې دتصـدۍ پولي پانګه دکومو منابعو څخه تهیه شـــوي ده او دبیلانس اکټیف اړخ څرګندونه چې دتهیه شـــوي پولي پانګې څخه څومره په مادي او غیرمادي او مالي شـتمنیو باندې بدلې شـوي او څومره داریې او نقده داریې په څیر دتولیدي فعالیت داجرا لپاره چمتو دي۳-خپلنۍ پانګه : یعني دتصـــدۍ مالک شـخصـــي پانګه او پردۍ پانګه یعني هغه پانګه چې دنورو څخه یعني بانک او نورو اشـــخاصـــو څخه دقرض په ډول تمویل شـــوي وي۴-دتمویل او پانګې له نظره چې دپانګې دتهیې منابع ښـکاره کوي دتمویل دسـاحې په نامه ، دبیلانس دکیڼ اړخ هغه برخه په هغه کې پولي پانګه په شـتمنیو بدله شـوي دپانګې اچونې دسـاحې په نامه او دبیلانس دکیڼ اړخ پاتې برخه چې دتصـــدۍ پانګه اونقده داریې ښـــکاره کوي دتادیاتو دســـاحې په نامه یادیږي. ۵-دشـــتمنیو؟؟ دخصـــوصـــیاتو له پلوه پانګه اچونه په درې برخو ویشـــل کیږي. ۱-مادي پانګه اچونه۲-غیرمادي پانګه اچونه۳-مالي پانګه اچونه.۶-که دتصـــدۍ پولي پانګه دمادي شـــتمنیو ــلکه تعمیر،تجهیزات، مواد، ترانسپورتي وسـایل، اوداسـې نوردرانیولو له پاره په کاراچول شـــوي وي دمادې پانګه اچونه په نامه او دتصـــدۍ پولي پانګه دغیري مادي شـــیانو لکه حق الاختراع ، علمي،تحقیق، تعلیم وتربیه ،اشـتهارات، او اجتماعي خدماتو دلاسـته راوړلو لپاره په کاروړل شـــوي وي دغیرمادي پانګه اچونې په نامه یادیږي.همدارنګه دپولي پانګې تبادله په مالي شتمنیو باندې لکه : دقرضـي سـندونه ، دسـهم سـندونه،....اوداسـې نور دمالي پانګې اچونې په نامه یادیږي.

پولي پانګه چې دیوې استهلاک شوي دستګاه دتعویض او بیا فعالولو لپاره په کاروړل کیږي دتعویضـــي یا تجدیدي پانګه اچونې په نوم یادیږي. ۹-پانګه اچونه ۱-بنســـټیزه ۲-توســـعوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانګه اچونه۳-تجدیدي پانګه اچونه په دوه برخو ویشل شوي دتعویضي پانګه اچونه توسعوي




تاثیرات ۲-دتعویضي پانګه اچونې کم مصرفي تاثیرات۱۰-پانګه اچونه نظر دپانګې اچونې حقوقي موقف ته په دوو برخو ویشل شوی۱-دولتي پانګه۲-خصوصي یاشخصي پانګه اچونه. ۱۰-که پولي پانګه ددولتي ارګان لخوا دتولیدي فعالیت داجرا لپاره په مادي ، غیرمادي، یامالي شتمنیو بدله شوي وی ددولتي پانګې اچونې په نامه یادیږي. او برعکس که پولي پانګه دخصوصي سکتور یاانفرادي اشخاصو لخوا دتولید ی فعالیت داجرا لپاره په شتمنیو بدله شوي وي دشخصي پانګه اچونې په نامه یادیږي.۱۱- پانګه اچونه

۱-تولیدي پانګه اچونه۲-شخصي پانګه اچونه : پانګې اچونې دسنجش عنعنوي میتودونه۱-دپانګې اچونې دسنجش عنعنوي میتودونه ۲-د پانګه اچونې دسنجش نوي میتودونه دپانګې اچونې دعنعنوي میتودونو په واسطه دپانګې اچونې اقتصادي ګټورتیا سنجش او دمختلفو امکاناتو اقتصادي ګټورتیا یودبله سره مقایسه کیږي. په دې میتودونو کې دپانګې اچونې رابطه دتمویل او تولید په نظرکې نیول شوی نه دی.پانګې اچونې په نوي میتودونو کې نه یواځې دپانګې رابطه دتمویل او تولید دساحو سره په نظر کې نیول شوي دي. دپانګې دسنجش عنعنوي میتودونه په عمومي ډول سره په دوو ګروپونو ویشل کیږي. ۱-دپانګې اچونې دسنجش ساکن میتودونه۲-دپانګې اچونې دسنجش متحرکه (ډینامیک) میتودونه ۱-دپانګې اچونې دسنجش ساکنه میتودونو دعملي تجربو په واسطه په تصدییو کې انکشاف کړي او له دې پلوه په تصدیو کې په اسانۍ سره دتطبیق وړ دي. دپانګې اچونې دسنجش ساکنه میتودونو په چوکاټ کې لاندېني میتودونه دیادونې وړدي۱-دمصرف دمقایسې میتود۲-دګټې دمقایسې میتود۳-ګټورتیا اودپانګې دبیا اعادې میتود۴-دپانګې دبیرته راګرځیدو دوخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمقايسې ميتود. دمصرف دمقايسې ميتود په دې ميتود کې معمولا دوه يا څو پروژې ،دوه يا څو توليدي ماشينونه او يا توليدي مستعمل او توليدي نوي ماشينونه ديوي اقتصادي دورې دمجموعي مصرف اوفي واحد مصرف له پلوه يو دبله سره مقايسه کيږي.دپانګې اچونې هغه پروژېاو هغه توليدی ماشينونه چې مساوي توليدي ظرفيت ولري دمجموعي مصرف له پلوه او هغه پروژې يا توليدي ماشينونه چې متفاوته توليدي ظرفيت ولري دفي واحد مصرف له پلوه يودبله سره مقايسه کيږي.دګټې دمقايسې ميتود : په دي ميتود کې دوه يا څو پروژې دکلنۍ متوسطې ګټې له پلوه يو دبله سره مقايسه او په هغه پانګه اچونه ګټوره بلل کيږی. چې دټولو څخه لوړه کلنۍ متوسطه متوقعه ګټه ولري.دپانګې دبيرته راګرځيدلو دوخت دمقايسې ميتود دپانګې دبيرته راګرځيدلو دوخت څخه مطلب هغه وخت دی چې په هغې کې ټوله په کاراچول شوی پانګه دشتمنيو دفرسايش او کلنۍ متوسطې کلنۍګټې له لارې تصدۍ بيرته راګرځوي.

# منجمنټ(مديريت)

منجمنټ : دهغې پروسې څخه عبارت دی دکومې په وسيله چې بشري ټولنې او تخنيکي منابع په اعظمي او مؤثره ډول په کاراچول کيږي کوم چې دنن ورځ دغوښتنو او ضرورتونو لپاره جواب ويونکي شي . يا په بل عبارت منجمنټ دداسې محيط طرح کولو اوساتنې څخه عبارت دی په کوم چې انفرادي وګړي په ګروپي شکل په مشترک ډول کارکوي ترڅو ټاکلي اهداف په اغيزناکه توګه ترلاسه کړای شي . يا منجمنټ ديوې ادارې دمنابعو داستعمالولو دپروسې څخه عبارت ده کوم چې دپلان جوړونې ،تنظيمونې رهنمايي او دکنترول په وسيله په اغيزناکه او مؤثره توګه د ادارې ټاکلي موخې ترلاسه شي. منابع عبارت دي له خلک ماشين الات، اومه مواد، معلومات مهارتونه ، مالي سرمايه .منجمنټ : دهغه مهارت او پوهې څخه عبارت دی دکومې په وسيله چې دنوروانسانانو څخه په لازم ډول سره کاراخيستل کيږي. دمنيجر دندې : منيجر دهغه کس څخه عبارت دی کوم چې دنورو په وسيله دکاردترسره کولو مهارت ولري. ۱-هغه کيدای شي خپله شخصي قدرت ولري او يا ونلري۲-هغه په رسمي ډول دقدرت لرونکی وي حق لري چې امر وکړي۳-منيجر ټاکل کيږي او له ټاکلو وروسته په موسسه کې خپل موقف ترلاسه کوي. هنري فايل دمنيجر دندې څلور وبللې په اتلسمې پيړۍ کې کله چې هغه په فرانسه کې ديوکان مشر وه.۱-پلان جوړونه۲-تنظيمونه۳-رهنمايي ۴-کنترولونه. دمنجمنټ خصوصيات: ۱-منجمنټ يوه پروسه ده۲-منجمنټ باهدفه دی۳-منجمنټ انساني فعاليتونه په برکې نيسي۴-منجمنټ يو جامع او ټولنيزه پروسه ده۵-منجمنټ يوه نړيواله پديده يا مفهوم دی۴-منجمنټ په هرډول ادارو کې دتطبيق وړ ده ۷-منجمنټ په هره سطحه منيجرانو تطبيق ده۸-منجمنټ کارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرته رسوي۹-منجمنټ هم ارت يعني هنرده او هم ساينس ده. دمنجمنټ او اداري توپير په څه کې دی:منجمنټ هغه ميتود طرز او طريقه ده چې په ذريعه يې مادي وسايل او بشري زيرمې په اغيزمن ډول استعمال او دلږ وخت او لږ زيار په ويستلو ټاکلې موخې ترلاسه کيږي.مګر اداره هغه ځای او محل چې يوشمير کارکوونکي (وګړي) په کې دوضع شويو مقرراتو په رڼا کې دمادي او نورو زيرمو څخه په استفاده دندې سرته رسوي ترڅو ټاکلې اهداف ترلاسه کړي.(زما په نظر داتعريف د ځای په لحاظ د اداري تعريف اوداهم درست ده). مولديت: په يوخاص وخت کې کې دکيفيت په نظرکې نيولو سره دحاصل او عامل ترمنځ نسبت څخه عبارت دی.په دې معنا چې دتوليدقابليت=$\frac{عامل}{حاصل}$ .

Efficiencyيا باکفايتي(مثمريت): کارونه په ښه طريقه ترسره کول يا ترټولو ډير حاصل دخورا لږ عامل څخه ترلاسه شي اداري اندازه اخلي چې څومره په ښه توګه دغه منابع استعماليږي ترڅو هدف ته ورسيږي. موثريتEffectivenessيا اثرناکي: ښه کارونه ترسره شي. يا په بل عبارت کړنې په داسې شکل ترسره کول ترڅو ديوې اداري ټاکلي اهداف ترلاسه شي.دمنجمنټ اهميت:۱-منجمنټ انساني ، نيرو ته وړتيا ورکوي ترڅو دموسسې موخې په لازم ډول ترلاسه کړي او ددوې کوښښونه رهنماي کوي ترڅو دموسسې دموخو څخه لاس ته راوړنې ريښتيني کړي.۲-منجمنټ يواځېنې لار ه ده چې په هغې کې منابع په لوړه پيمانه په کاراچول کيږي۳-منجمنټ دغوره پلان ، غوره تشکيل او مؤثر کنترول په لرلو سره دموسسې لګښتونه راټيټوي اوددې قابليت وربښي ترڅو نورو سره رقابت وکړي۴-منجمنټ دموسسې دکارونو دمؤثر او ښه ډول په مخ بيولو کې ضمانت ورکوي۵-منجمنټ موسسې ته دنويو ايډياګانو فکرونو او يوې ښې اينده په اړوند دسوچ کولو قدرت وربښي ۶-منجمنټ موسسه دوخت دتغييراتو سره اشناکوي اودوي ته قابليت وربښي ترڅو چيلينجونو دوخت ضرورتونو ته ځواب ووايي.دمنجمنټ مقاصد:دزيات توليد ترلاسه کول، دمصارفو کموالی او لوړمؤثريت۲-دکار لپاره دروزل شوی او غوره انساني قوي وړاندې کول۳-دکاردميتودونو موادو او سامان الاتو ستندرد او معياري کول۴-دانساني کار دهرې برخې لپاره دعلم او پوهې رامنځ ته کول۵-ديوبل سره کومک کول او دهمکارۍ کولو دروحيې رامنځ ته کول۶-دکارويش او دهغوی دمسوليتونو تامينول. ۱۴نظرونه او دهنري فايل

دمنجمنټ بنسټونه:

-۱ division of work-۲authority and responsibility-۳discipline-۴unity of command-۵unity of direction-۶subordination of individual to general

(c) ketabton.com: The Digital Library

interest-۷remuneration-۸centralization-۹scalar chain-۱۰order-۱۱ equity-۱۲stability-۱۳initiative-۱۴esprit de corps .

سازماني محيط: كې سازمان ياادارہ فعاليت ترسره کوی دهغه چاپېريال تاثيرات د ادارې په کړنو باندې ډېر زيات دي په چاپيريال کې ډيرزيات عوامل دي کوم چې د ادارې په کړنو باندې مستقيم ياغير مستقيم تاثير اچوي. سازماني محيط: هغه قوتونه دي چې کوم يې دسرحداتو نه خارج وي کوم چې کولای شي متاثره يې کړي. تهديدات : هغه مسايل دي کوم چې کولای شي يوسازمان متضرر کړي . چاپيريال په دوه برخو ويشل شوی۱-عمومي چاپيريال ۲-عملياتي چاپيريال يا خصوصي چاپيريال.عمومي چاپيريال ديوې ادارې لپاره روښانه او عام چاپيريال په کوم کې چې يواداره خپلې کړنې ترسره کوي. دعمومي چاپيريال دعواملو په لاندې ډول يادونه کوو. اقتصادي برخه ۲-تکنالوژي شرايط(برخې)۳-قانوني شرايط۴-ټولنيز شرايط۵-سياسي شرايط. عملياتي يا خصوصي چاپيريال دلاندې برخو درلودونکی دی۱-عرضه کوونکي : عرضه کوونکي هغه څوک دي کوم چې ادارو ته خام مواد برابروي او تهيه کوي۲-مشتريان : هغه څوک دي چې دچا لپاره چې اجناس او خدمات توليدېږي يامشتريان هغه څوک دي چې کوم اجناس او خدمات اخلي خوښوي او يا مستردوي. رقابت: په عملياتي چاپيريال کې يو مهم علت رقابت دی اودرقابت کوونکو اثر دکاروبار لپاره دکاميابۍ راز ده.يوه اداره بايد په مارکيټ کې رقابت کوونکي . دهغوی اصول، دهغوی دتوليد کيفيت او نور عوامل په دقيقه توګه مطالعه کړي.۴کارګر ديوې ادارې مؤثريت دهغې دکارکونکو په نوعه او کيفيت پورې اړه لري. خصوصا دپرسونل په عرضه پورې اړه لري کوم چې دچاپيرپال څخه ترلاسه کوي . داخلي محيط: ددې لپاره چې يو مناسب پلان طرحه او تطبيق کړو نو يوائې دبهرني محيط مطالعه او پيژندنه حالات نشي روښانه کولای بلکې ددې ترڅنګ د ادارې دداخلي محيط مطالعه هم هم دومره ضروري ده څومره چې دبهرني محيط دداخلي محيط اساسي عوامل چې بايد مطالعه شي هغه عبارت دي له د ادارې دمنابعو ، منجمنټ ، پانګه اونورو ټولو ساحو دقوت او ضعف نقطو .په دې مانا چې اداره په کوم نقطه کې قوت لري او په کومه ساحه کې ضعف. دمنجمنټ درجې . په يوه موسسه کې دمشرتابه دموقفونو غوره تشکيل دی دمنجمنټ سطحې دمنيجرانو دصلاحيت او قدرت حالت اندازه بيانوي. دمنجمنټ لپاره ټاکلې اندازه وجود نلري. په هرصورت مختلف برخې په لاندې دريو کټګوريو ويشل شوی دي. دلوېې سطحې مديريت۲-منځنۍ سطحې مديريت ۳-ټيټې سطحې مديريت.

ديوې کمپنۍ يا کاروبار دلوړې سطحې مديريت عبارت له ۱-اجرايه مشر۲-عمومي ريس۳-دمشرتابه هيت. دلوړې سطحې مديريت دموسسې دصلاحيتونو هغه لوړه سطحه ده چې په هغې کې دموسسې دټولو برخو دپرمخ بيولو لپاره پلان او پاليسي جوړيږي. دلوړې سطحې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدير يا مديريت وظايف: ۱-دموسسې اوياكاروبار دټولو اهدافو ټاكنه۲-دموسسې تشكيل جوړول۳-دټاكلو اهدافو دلاسته راوړنې لپاره پلان اوپاليسي جوړول۴-دموسسې دداخلي او بيروني چاپيريال ترمنځ داړيكو ايجادول او هم دموسسې نماينده ګي كول ۵-دموسسې اړوند انساني ،ماشيني او مادي اوپولي ، منابعو يوځاى كول۶-دموسسې ټولو څانګو ته دليډرشيپ برابرول دي ۷-بلاخره دموسسې دټولو برخو او څانګو په مؤثرډول دكنټرول څخه عبارت دی. دمنځنی سطحې منجمنټ دديپارټمنټونو معاونين دڅانګو منيجران ساحوي منيجران او نور په بركې نيسي . دمنجمنټ داسطحه دپاليسيو او پلانونو دعملي كولو دنده پرمخ وړي كوم چې دلوړپوړې مديريت لخوا تصويب شوي وي . دمنځنی سطحې دمديريت عمده وظايف: ۱-دلوړي سطحې مديرانو دتصويب شويو پاليسو او پلانونو په عمل كې پياده كول۲-دمناسبو كاركوونكو او څارونكو كسانو ټاكل ۳-دوظايفو او مسوليتونو ټاكل اوسپارل ترڅو پلان په خپل وخت او لازم ډول عملي شي ۴-دموسسې كاركوونكي تشويقول ، ترڅو دكارونو په ترسره كولو كې لوړمؤثريت رامنځ ته شی۵-دموسسې په جوړښت او تنظيم كې دبقا لپاره اړونده دنده اړونده ديپارټمنټ ته سپارل ۶-څارونكو يا سوپروايزرانو ته دهغوی دكنټرول لاندې وظايفو په اړوند لازم معلومات او پوهه مهيا كول۷-دموسسې دټولو څانګو ترمنځ دهماهنګی رامنځ ته كول ترڅو دموسسې دټولو څانګو دپرمختګ تضمين به يقيني شي ۸-دلوړي سطحې مديريت ته دكارونو دنتايجو دراپور تهيه او ليږل۹دموسسې دروانو پروژو په اړوند دمعلوماتوجمع كول او دراپور ليږل.۱۰-بلاخره دپلانونو او پاليسيو دغوره تطبيق لپاره(T.L.M)ته دغوره پيشنهادونو وړاندې كول. دمنځنی سطحې مديريت عبارت دي له دلويو څانګو مشران يا Departmental headsاو دوړوڅانګو مشران branch managers.دټيټې سطحې مديريت دعمل او دڅارنې مديريت هغه مديريت دی كوم چې ديوې موسسې دمديريت په لاندې برخه كې وجود لري. دمديريت لمړنې څارونكي او دكمپنۍ دتوليداتو دخرڅون افيسران او همداراز منشيان او نورپه خپل تركيب كې نيسي. دټيټې سطحې دمديريت وظيفي په لاندې ډول دي ۱-دلاس لاندې كاركوونكو ته حكم او لازمې لارښوونې كول او همدا راز دهغوی د كارونو څارنه او كنترول ۲-دلاس لاندې برخې ته دفعاليتونو پلانول طبقه بندي كول او كاركوونكو ته ددندو مشخص كول ۳-دكاردپروسې په نظر كې نيولو سره دكاركوونكو رهنمايی كول۴-ددندو په اړوند دكاركوونكو روزنه ۵-دلاس لاندې كاركوونكو دستونزو حلول۶-دلاس لاندې كاركوونكو ترمنځ دنظم راوستل او په دوی كې دكارغوره اجراكولو توانمندي پيداكول ۷-دلاس لاندې كاركوونكو ترمنځ دګروپ په شكل دكاركولو لپاره دلوړ ميلان رامنځ ته كول۸-په كاركې دانساني اړيكو (همكاری) مينه، عدل، وروګلوی،خوشاله فضا، رامنځ ته كول. دټيټې سطحې مديريت : دكارګرو مشر ۲-څارونكي ۱-supervisors-۲foremenديوي غټې اداري غوره تنظيم لپاره دمختلفو ډولونو مهارتونو ضرورت پيښيږي۱-مفكوروي مهارت دادهغې توانايی څخه عبارت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکوم په وسیله  چې دمختلفو فعالیتونو یوځای کول او هماهنګ کول  ترسره کیږي۲-انساني مهارت: څرنګه چې منیجر  ته په کارده چې دنورو خلکو په وسیله  کارونه سرته رسوي همداراز ضـــروري ده چې انســـاني مهارات یا هغه مهارتونه  چې انتخاب ، تشـــویق، او کارکوونکو لارښوونې او کارونو سپارل په برکې نیسي ولري.تخنیکي مهارات  څرنګه چې یو منیجر ته انســـاني او مفکوروي مهارتونه ضـــروري اولازمې په همدې ډول که منیجر غواړي منابع په مؤثر ډول وکاروي لازمې ده چې دمنابعو ، اجناســـو ، تکنیکونو ، او پروسیجرونو،سره بلد  او دهغوی څخه لوړه استفاده وکړي مهارتونه په مختلفو درجو کې فرق کوي .ځکه C.Sیا مفکوروي مهارتونه باید دلوړې ســـطحې مدیران ولري او منځنۍ سطحې مدیران باید مفکوروي مهارتونه او انساني مهارتونه ولري او ټیټ پوړې مدیران باید په پوره ډول تخنیکي مهارتونه ولري ځکه دوی دعمل په ســـاحه کې کارکوي دوی په ټوله معنا تخنیکي مهارتونو ته ضرورت لري مدیرانو ته دانساني مهارتونو لرل یوه لازمي خبره ده  ځکه دوی دانســـانانو او دهغوی څخه دکاراخیســـتلو ســـره ســـراو کارلري چې داعمل دمدیریت په دریو سطحو کې صورت نیسي . رولونه : دخوی اخلاقو  او مدیریتي صفاتو دمجموعي څخه عبارت دي چې په منظم ډول دکارونو په ترسره کولو کې ور څخه استفاده کیږی داداخلاقو مختلف اړخونو سره سراوکارلري Henry Mintzbergد اداري او مدیریت عالم  دمنیجر رولونه په دریو برخو ویشـــلي ۱-دخلکو اوافرادو ترمنځ رول۲-معلوماتي رول۳-تصـــمیم نیولو رول. دخلکو او افرادو ترمنځ رولونه کوم چې دیومنیجر په وظیفي پورې تړلي  دي او نه بیلیدونکې  دي ترسره کويa-دیو سمبولیک مشر په حیث: دلته یو منیجر  دخپل اداري لپاره دیو ســـمبول په توګه دقانوني صـــلاحیت لرونکی او دځینو نورو مشخصو مراسمو وظیفي لکه داسنادو امضا کول دفتر ته دراتلونکو اشخاصو یا مراجعینو پذایرایې کول(منل) او نورb-دلیډر په حیث په دې ځای کې منیجر دلیډر په حیث ځیني نوررولونه لکه مزدورانو نیول دهغوي روزل او تشـــویقول په برکې نیســـيc-درابطه ټینګوونکي په حیث: درابطه ټینګوونکې په حیث یو منیجر رول داســـې بیانولی شـــو چې منیجر دخپلې ساحې یعنې موسسې څخه بیرون دډیرو خلکو سره په تماس کې کیږي کوم خلک چې دده دلاس لاندې خلکو یا دده دمشـــرانو پورې تعلق لري۲-معلوماتي رول: دمنیجردارولونه یو له ډیرو مهمورولونو څخه دي چې نوموړي ته دمالوماتو دســـرچینې په توګه ورپیژني A-څارونکی رول: دلته منیجر  دټولو فعالیتونو څارونکي  په توګه رول ترســـره کويB-دمالوماتو خپرونکی: څرنګه چې منیجر دمعلوماتو ســـرچینه ده نو ټول معلومات چې نورورڅخه باید خبر شـــي  هغوی ته پرخپل وخت ورســـويC-دویاند په توګه: منیجردلته دټیم دویاند اوســـرواک په توګه رول لري ترڅو دخپل ټیم نماینده ګي وکړي . ۳-دتصـــمیم نیونې رول: دادهغو میتودونو پورې تړلی ده چې منیجران یې دیوې ســـتراتیژۍ دطرحه کولو اودمنابعو دپه کاراچولو په منظور اســـتعمالوي ترڅو خپلو اهدافو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورســـيږي.A-دتشـــبث کوونکي (معامله کولو ) رول دنوي پروژي او پروگرامونو په هکله تصـــميم نيســـي ترڅو هغه پيل کړي او پانگه اچونه په کې وکړيB-دمزاحمتونو دلرې کولو رول دناڅاپي واقعاتو او بحرانونو دليرې کولو اواداره کولو مسـوليت په غاړه لري C-منابعو ته اختصـــاص ورکولو رول: دادوظايفو او تقسـيماتو ترمنځ منابع ته اختصـــاص ورکوي او لاندې طبقې منيجرانو ته بودجې تعينويD-دمذاکره کوونکي په توگه: کوښـــښ کوي ترڅو نورو منيجرانو ، اتحاديو ، مشـــرانو، او ســـهم لرونکو ترمنځ دحل دلارو چارو دپيداکولو په رابطه مذاکره وکړي.دمنجمنټ دمطالعې لاملونه په لاندې ډول ۱-ودظيفي تخصص۲ صنعتي انقلاب په ۱۸ م پيړۍ کې رامنځ ته شو د۱۸ م پيړۍ څخه وروسته دمديريت رسمي مطالعه رامنځ ته شوه نو همدا وه چې دمنجمنټ تيوريگاني رامنځ ته شوي او لومړۍ رسمي مطالعه چې ترسره شـوي هغه دکلاسيک په نوم ياده شوله په کوم چې دوه مهمې تيورياني مطالعه کړي چې يوه يې لومړي ، علمي مـديريـت۲-عمومي اداري تيوري پـه نوم يـاديږي . Fredrick Taylorڅلور قاعدې وړاندې کړي۱-هغه لاره مطالعه کړئ په کومه لاره چې دغه وظيفه اوس ترســـره کيږي اودکومو لپاره يې نوي معلومې کړئ يعنې ددواړو لارو په ځای دنوولارو څخه رامنځ ته کوي خپل مفصـــل وخت او حرکت معلومات ســـره شـــريک کړئ په مختلفو ميتودونو باندې ازمايښـــت وکړئ چې کوم يو ترټولو غوره دی.۲-په علمي توگـه دنوي ميتودونو تعين او کـارکرانو تـه تـدريس ورکولو ، ټريننـگ ورکول اودهغوی دسـويې لوړول۳-هغه کارکوونکي انتخاب کړئ دچا چې مهارتونه په دوهم قدم کې دځای په ځای شـو اصـولو سـره انډول کيږي. په دې معنا چې څوک په کوم کار پوهيږي هغه ته هغه کاروسپارل ترڅو وکولای شـي هغه په خپله خوښـه کار ترسـره کړي۴-يوه مناسـبه سـطحه داجراتو لپاره تاســـيس کړئ او دنورو لوړو اجراتو په خاطر تاديه کړئ. کارکوونکي بايد ددغه اوچتې کارکردگۍ outputاو محصول نه گټه واخلي . همدارنگه منيجر او کارکوونکو ترمنځ دي کارويش رامنځ ته شـــي او منيجران دي هغه کارونه ترســـره کړي کوم چې دوی سره وړ او مناسب وي.

the gilberts گلبرتس

فرانک او ليلين گلبرتfrank and Lilian gilbertsخاوند او ښـځه وه دواړو دټيلر ميتودونه تصـــفيه کړه. دوخت او حرکت په مطالعاتو کې يې ډير زيات اصـــلاحات رامنځ ته کړل. او کوښـــښ يې وکړو ترڅو دلاس او وجود ترمنځ غير مؤثر حرکت دمنځه يوســـي . دوخت او حرکت مطـالعـات time and motion studies۱-هريو عمل ويش پـه اجزاوو بـانـدې۲-داجراکولو لپـاره يې دغوره لارو پيداکول۳-دزيـاتي اغيزنـاکۍ پـه خـاطر دهريوکـار دوبـاره تنظيمول گلبرتس همـدارنگـه دســـتړيـا مشـــکلات لکـه گرمي روښـــنـايي او همـدارنگـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکارکوونکونورمســــایل هم مطالعه کړي وه. دویمه تیوري general administrative theoryیو بله ډله لیکوالانو چې هغوی منجمنټ ته دســازمان له نظره ګوري ،دې طریقې ته د اداري عمومي تیوري ویل کیږي. داتیوري داتشـریح کوي چې منیجر څه کوي؟ او یو ټاکل شـــوی منیجر څه په عمل کې تطبیق کوی. په دې ډله کې ددوعلماو نظریات مطالعه کیږي لومړی دهنري فایل او دویم ماکس ویبر

لومړی هنري فـایل : دهنري فـایل نظریـه مخکې پـه لومړي فصـــــل کې وړانـدې کړې او دمنجمنټ تعریف وو چې په هغې کې دمنیجر لپاره ۴دندې ښـــودلې وې چې عبارت دي له پلان جوړوني ، تنظیموني ، رهنمـایي ، او کنترول څخـه . فـایل پـه هغـه وخـت کې خپـل نظریات وړاندې کړل په کوم وخت کې چې ټیلر وړاندې کړي وه . ددوې دنظریاتو فرق په دې کې دی دټیلر نظریات یواځې دټیټې ســـطحې مدیرانو لپاره وو ولې دفایل نظریات دټولو ســـطحو مدیرانو لپاره دي. فایل په دې عقیده وه چې منجمنټ دتولید ، غیرتولیدي ، دولتي ، شخصي ،کاروباري یاغیرې کاروباري ټولو ادارو لپاره ضروري دی اود منجمنټ دپروسې دپرمخ بیولو لپاره یی ۱۴ اصول وړاندې کړل دکومو څخه چې مونږ مخکې یادونه وکړه .

دویم ماکس ویبرتیوريMax Weber theoryماکس ویبردجرمني هیواد ټولنپوهني عالم وه .ده د ادارو مطالعه وکړه او ۱۹۰۰ پـه اوایلو کې یي لیکنـه وکړه اودیوې خیالي اداري پـه اســـاس یی دصـــلاحیت اواړیکو په اســـاس یي یوه نظریه رامنځ ته کړه چې دبیروکراســـۍ پهbureaucracyمفکورې په نوم یادیږي. بیروکراســي د اداري داســي یو رســمي شــکل یی وړاندې کړلو په کوم چې دکارویش موجود وي، واضیح سلسله مراتب وجود ولري، مفصل

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوانين او اصـــول ولري او په اداره کې بې طرفه اړيکې موجودوي ويبر ځنې اصـــولو ته




پراختيا ورکړه چې په لاندې ډول ورڅخه يادونه کو .

واک يا Authority: عبارت دهغه قوې څخه ده کوم چې خلک دخپلو کارونو لپاره مســـول ساتي. مقامونه په يو شرکت کې بايد په اجراتو باندې بنا وي نه په اجتماعي روابطو باندې . دمقام وظايف په واضـــحه توګه مشـــخص شـــوي خلک بايد پوه شـــي چې ددوی نه توقع څه ده؟Lines of authorityبايد واضحه توګه مشخص شوي وي کارکوونکي بايد پوه شي چې څوک دچالپاره کارکوي او دچاپه وړاندې مسوليت لري چې بايد راپور ورکړي  او دچا څخه هدايت ترلاســه کوي. قواعدrules: ســتندرد عملياتي پروســيجرونه(sops)اونورمونه په دې خاطر باندې استعماليږي ترڅو داتشـخيص کړي چې يو شـرکت په څه شـکل عمليات ترسـره کوي. دکارويش: هرکارکوونکي بايد پوه شي چې زما کارڅه دی او کوم کاربايد ترسره کړم دهرکارلپاره بايد خپل کارکوونکی اوســي . يعنې دکارکوونکي دمسـلک او اسـتعداد په اساس وويشل شي. بې طرفي impersonality:داپه دې معنا چې په اداره کې روابط بايد دشخصي اصـولو په رڼآ کې نه وسـي اونه دکوم طرف په خاطر ، بلکې ټولې اړيکې د اداري داصـولو مطـابق وي. څوک چې ښـــه کـارکوي هغـه تـه ارزښـــت ورکول اوبرعکس. اداري اخلاق organization behavior: داپه هغه طرز العمل باندې تمرکز لري دکومې په وسيله چې يومنيجر ته بايد چې مشـخصـا داسـي اداره ورکړي چې دهغې په وسيله کارګران تشـويق کړي. Mary parker پوليټ: په خپله تيوري کې کارګرانو ته زيات (ارزښت)چانس ورکړی چې کارګرپه خپله دکاردښـه ترسـره کيدو په خاطر نظريات ورکړي اوداســې اســانې لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چارې رامنځ ته کړي او کارګران خپله خپل کارونه تحلیل کړي. کارکوونکي په غوره توګه پوهیږي چې په څه شکل خپل وظایف اصلاح کړي . که چیرې کارکوونکي دخپلې وظیفېپه هکله پوهه لري نو بیادوی باید خپل وظایف کنترول کړي.

دهاوتورن مطالعاتthe Hawthorne studies

د۱۹۲۴-۱۹۳۲ کلونو په دوران کې دکارکوونکو داغیزناکې مطالعه په (هاوتورن دغربي برقي کمپنۍ په کارونو کې Hawthorn works of the western electric co.دکارکوونکو دتولید قوه productivity په مختلفو سطحو کې دواضحو څرګندونو په ترڅ کې اندازه کړای شوه.پلټونکو researchersبیاموندل چې په اعتنایي سره یا light levelپورته تللی وو یاداچې ښکته راغلی وو مګر تولیدي قوه یې پورته تللې وه. په واقعیت کې داڅرګندیږي چې کارکوونکي دهغه توجه او پاملرنې نه کوم چې دوی دمطالعې دیوې برخې په حیث لاسته راوړي دي خوند واخسته او زیاته تولیدي قوه یې ترلاسه کړه.

د(z)تیوري-Z-theory

ویلیم او چي William OuchiدUSAاو جاپان ترمنځ مختلف کلتوري فرقونه پلټلې وه دUSAکلچر په فرد باندې تاکید کوي او مدیران متوجه کوي ترڅو کارکوونکو ته دوی احساس ورکړي چې دXماډل تیوري تعقیب کړي

دجاپان کلتور داتوقع لري ترڅو لومړی کارکوونکي دسازمان سره متعهد کړي او ځکه نو دUSAدکارکوونکو په نسبت په بیل شکل سلوک کوي . دZتیوري هم دجاپان او هم USAدساختمانونو برخې سره یوځای کوي.مدیران په طویل المدت شغل باندې فشار اچوي ګروپي کار او همدارنګه سازماني تمرکز باندې ددې تیوري اساسي هدف منجمنټ دی چې باید عملي دول سره دموسسې په بیلو بیلو منابعو اوبرخو کې ترې کارواخیستل شي . منجمنټ باید کاري ساحې بلکه تولید او مارکیټینګ له ځانه سره ولري اوداسې چې باید په هغه کې دتولید کوونکي او لګونکي ګټې خوندي وي. منجمنټ دزیاتو حاصلاتو په ترلاسه کولو کې دانساني سلوک دهڅونې په چوکاټ کې تولید کوونکي او لګونکي سره نژدې کوي ترڅو په دې لاره کې ستر بریالیتوبونه لاسته راشي.


دډوګل مې ګریګور دوه مختلفې تیوري:دxتیوري دا دامریکې اداري سیستم پورې تړاوو لري په xتیوري کې دانسان کرامت ته هیڅ اهمیت نه دی ورکړل شوي اودی وایي چې کارګران لټ خلک دي او دباید کنترول شي او له دوی څخه کارواخیستل شي. او تیوريyدادجاپان اداري سیستم پورې اړه لري په yتیوري کې دانسان کرامت ته زیات اهمیت ورکړی شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی ددوی وپه وينا کارګر په خپله خوښـــه پريږدی چې کارترســــره کړي يعنې هرکارګر دخپلې خوښې ساحې کې په کاروګمارل شي ترڅو کارونه په ښه شکل ترسره شی.دZتيوري دادواړه تيوريګانې ســره يوځای کړي او دا تيوري يې ترې جوړه کړي ده. چې دZتيوري په نوم يادېږي. په دې تيوري کې هم انسان کرامت ته اهميت ورکړی شوی او هم ددوی نظر په کې اخيستل کيږي چې په نتيجه کې پريکړه په شريکه صورت نيسي او کارونه په شه شکل ترســـره کيږي. تجربوي منجمنټ : تيوري په دې تيوري کې دايې وځيړل چې څنګه کولای شــو چې دکارداجرا وخت راکم کړو چې په نتيجه کې يې په في واحد مصـــارفو کې کموالی راشــي. دمنجمنټ سـلوکي تيوري داتيوري دمنجمنټ په سـلوک اسـتواره ده چې دهغه افرادو اداره کول دي او هغه کومه طريقه خپل پرســونل تشــويقوي . ســاينتيفيک تيوري په تجربو ولاړه ده.پلان جوړونه : يوه پروسـه ده چې په نتيجه کې يې پلان جوړيږي . پلان هغه ذهني طرحه ده چې دکاغذ په مخ رسميږي اودهغې له مخې اهدافو ته ځان رسول کيږي. نوټ پلان جوړونه يوه عمليه ده چې دکاغذ په مخ ډيزاين کيږي. Planningيوه عمليه ده چې دهغې په وسـيله ديوې ادارې اهداف تامينيږي اودهغې دلاسـته راوړلو لپاره وسـايل او امکانات چمتو کوي ترڅو ټاکلي اهداف په ښـه شـکل ترلاسـه شي. *پلان دپل حيثيت لري چې اوسنی حالت دراتلونکي حالت سره وصل کوي يا پلان هغه اسناد دي چې دکاغذ په شکل وي چې په هغې کې واضح ذکرشوي چې ټاکلي اهداف په ښه شکل ترلاسه کول*هدف ديوې ادارې غوښتل شــوی ټارګيټ دهدف په نامه ده . دپلان قســمونه*پلان اســناد دي ۱-دپراختيا په اســـاس پلانونه:A-اساسي يا مهم پلانونه ستراتيژيک پلانونه: هغه پلانونه دي چې دټولې ادارې لپاره جوړشوي وي اوپه دې کې د ادارې اهداف معرفي شوي ويB-عملياتي پلانونه: هغه پلانونه دي چې مختلف ډوله وي او په مختلف وخت کې تطبيق کيږي چې ديوې ادارې مشـــخصـــې ســـاحې لپاره ترتيب شـــوي وي او هلته په کاراچول کيږي۲-دوخت په اســـاس پلانونه:A-داوږدې مودې پلان هغه پلان دی چې د۳ څخه تر ۵ کلونو لپاره ترتيب کيږي.B-متوســـط پلان هغــه پلان دی چې ديوهــدف لپــاره ترتيبيږي چې دهغې موده ديو کــال څخــه تر۳ کلونوپورې ويC ـــدلنډې مودې پلان : هغه پلان دی چې ديوکال څخه کم وخت لپاره ترتيب کيږي.۳-دمشـــخصـــوالي په اســـاس:direction plan-Aهغه پلانونه دي چې په هغې کې عمومي فعاليتونه ترلارښـــوونې لاندې نيول کيږيspecific plan-B: هغه پلان دی چې ديو خاص فعاليت يا هدف په خاطر ترتيبيږي۴-داســـتعمال دتکرار په اســـاس پلانونه:۱-يوځل داســـتعمال وړ پلان: هغه پلان دی چې ديو ځل لپاره ترتيبيږي او هدف ته درســـيدو څخه وروســـته بيا په کاراچول کيږي او ترمنځه ځي لکه په ننګرهار پوهنتون کې دســـرکونو جوړول . B-ثابت پلانونه: هغه پلانونه دي چې ديودوامداره فعاليت داجرا لپاره جوړيږي او په هغې کې دفعاليت په تغيير سره تغيير رامنځ ته کيږي. دپلان جوړونې مرحلې : ۱-داهدافو مشــخصــول يا تعيينول۲-دفعاليتونو يا کړنو مشــخص کول چې دهغې په وســيله تاســو خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهداف لاسته راوړی۳-دفعالیتونو یا کړنو تحلیل کول ۴-دبهترینې طریقې یا لارې انتخاب۵-دتطبیق په خاطر دمنابعو تخصـــیص کول ۶-دهرفعالیت داجرا لپاره مهال ویش ترتیبول۷-مالي منابع .organizingترتیب کول : یوداســې پروســه ده دکوم په واســطه چې دبســت یا دتشـــکیل تعینول او پیژندل کیږي او همدارنګه ددې په واســـطه هماهنګي او دوظایفو صـلاحیت او مسـولیت پیژندل کیږي او ترتیب کیږی دorganizeمعنا دنظریاتو ځای په ځای کول دي placement of ideaاو خلکو ته دصـــحیح اوامرو ترتیب او داســـې ترتیب کول چې په اســـانی ســـره هغه خلکو ته موجود کړي او هغوی چې کله وغواړي هغه ورته ورکړشـي لکه د اداري شـخص داوامرو صـلاحیت*یا د اداري تشـکیل یا سلسـه مراتب منظم تنظیم او ترتیب کول د organizingځخه عبارت دي د organizingپروســـه یا مرحلې : ۱-دکـارونو طبقـه بنـدي ۲-دمختلفو کـاري واحـدونو ســـــاختمـان جوړول۳-دمختلفو فعـالیتونو مشـخصـول۴-دمختلفو واحدونو ترمنځ هماهنګي رامنځ ته کول اوتشـکیلونه یا positionځای په ځای کول او دهغوي ترمنځ ارتباطات جوړول لکه داسي




دتنظیمولو پروسـه : ۱-مخکې له دې چې د اداري سـاختار په نظر کې ونیسـي نو لمړی باید پلان باندې ریویو وشـي ۲-دفعالیتونو په نبنـه کول ۳-دفعالیتونو تقسـیم بندي ۴-کارپه مختلفو ډیپارتمنتونو باندې ویشــــل۵-اداري ســـــاختار جوړول basic۱-وظیفي ســـــاختار۲-منطقي سـاختار۳-میتریک اورګانیزیشـن metric org۴-مهم کاروباري سـاختار۱-وظیفي سـاختار : داساختار دوظیفي د تخصیص په اساس رامنځ ته شوی دی افقي ساختارشکل لري او له دې ســاختار څخه دمؤثریت او اقتصــادیت په خاطر ورځخه اســتفاده کیږي. ۲-منطقي یا تقسـیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـوي سـاختار: له هغه سـاختار څخه عبارت دی چې په هغې اداري واحدونه کارونه تقسـيم شوي خو ټول ديوچتر لاندې کارکوي.

# اداره

داداري دندې او عناصر کوم دي واضح يي کړئ.۱-پلان جوړول: دهدف يا داهدافو ټاکل او هغو ته درسـيدلو دلارې دپيشـبيني څخه عبارت ده۲-اسـتخدامي چارې: اسـتخدام چارې چې ټول هغه پرواګرامونه او فعاليتونه چې دبشـــووني اوروزنـي ســـويي په بنســـټ ولاړ وي.۳-سـازماندهي :ديوې موسـســي تشـکيل دوظيفو دډول حدودو له مخې جوړيږي او په هغه کې صلاحيتونه اداري اړيکې او مسوليتونه مشخص وي.۴-داوامرو ورکول:چې دعامو تصاميمو نيول په کې شامل دي او په يوه موسسه کې دوظيفو دښه ترسره کولو په غرض دلاربښووني او احکـامو دورکولو لارې چـارې دي ۵-همـاهنـګ کول ټول هغـه فعـاليتونـه مســـلي پکې ځانګړي کيږي چې دموســـســـي هدفونو ته درســـيدو په غرض دوظيفو دتطبيق وړوي.۶-رييپورتينګ:په يوټاکلي وخت کې اړوندو مقاماتو ته د تشکيلاتي واحد دکار رييپورټ برابرول دي.۷-بودجه جوړول: چې دمالي بودجي او مسايلو تنظيم تخصيص او دطرحي موضوعګاني په کې شاملي دي.ديوې سالمې ادارې مشخصات په لاندې ډول دي.۱-په يوه سالمه اداره کې دمقرراتو، قوانينو ، لوايحو، اواصـــولو رعايت حتمي ده.۲-بايد د ادارې تشـــکيل دلازيمو اړتيـاوســـره برابروي اود ادارې لـه اهدافو ســـره ســـم اجرات وکړي۳-دکـارکوونکو پـه انتخاب،انتصـاب، تبديلی اومعاشـونه کې دتعادل، تخصـص، ګټورتوب، اغيزمنتوب، انسـاني روابطو کلتوري سطحې سره سم چلند وشي اود ادارې مراتيبو سلسله مراعت شي ۴-اداره بايد دتقلب، اسـتفاده جويی،رشـوت بيروکراسـی څخه پاکه وي۵-کاربايد اهل کار ته وسـپارل شـوی وي۵-په اداره کې بايد هماهنګي ، دکنترول ښـه سيسـتم اودهبرئ له مقام څخه اطاعت موجود وي.ددوسيي جوړولو څخه هدف داده:۱-ټاکلي وخت کې شتوالی۲-دووسيي ناشخصي والی۳-دقيق والی او شـفافيت۴-ددوسـيي منطيقوالی ۵-کنترول۶-قانوني مصـونيت. دغونډو ډولونه:۱رسـمي۲-غيررسـمي۳-رييسـه هيت غونډه۴-عامه غونډه۵-خصـوصـي غونډه۶-عمومي کلنۍ غونډه.دمفـاهمي عنـاصـــر:۱-ليږونکی ۲-پيغـام۳-چينـل۴ـــاخيســـتونکی۵-غبرګون۶-غالمغال.مفاهمې ته ورپيښ خنډونه: غالمغال۲-له خبرو څخه مختلف درک۳-په ځان بې باوري۳-عقيدوي سـيسـتم۴-دمعلوماتواعتباري منبع (کيدای شـي نه لرې)۵-ټولنيزه فيصله۶-دمفاهمې لپاره دمناسب وخت ټاکل۷دمعلوماتو ورکول لپاره دځای انتخاب. دسې اوو ګوني اصـــول:۱-دوينـا او ليکنې بشـــپړوالی۲-لنډيز۳-دقت۴-محکموالی اومرتـب والی۵-وضاحت۶-تواضع غوره کول۷-د وينا او ليکنې سموالی.سمپوزيم:ديوشميرپوهانو لخوا ديوي ټاکلې موضوع په هکله پرله پسې ډيرې لنډې لنډې خبرې دي، يعنې ډيرکسـان دډيرو کسـانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اړوند معلومات ورکوي مطالب له یوبل ســـره اړیکې لري . پلان تعریف او اهداف په لاندې ډول دي.پلان جوړول . دهدف یاداهدافو ټاکلو او هغې ته درســـیدلو دلاري دپیشــــبیني څخه عبارت ده . دپلان جوړونې اهداف: ۱-دفعالیتونو تنظیم په وســــیله هدف ته درســــیدلو داحتمال لوړوالی ۲-دفعالیتونو دښــه تنظیم په واســطه په لګښــت، وخت ، انرژئ او کارکې سپما راوستل۳-داهدافو او مقاصدو په لاسته راوړلو تمرکز او اصلي مقصد ته ډیر ځیرکیدل اوله مســـیر یا لارې څخه دانحراف مخنیوی۴-دکنټرول دلارو چارو برابرول۵-دهماهنګی رامنځته کول۵-دپلان ترتطبیق وروســـته دراپور دچمتوکولو په خاطر دیو معیار موجودیت. دراپورډولونه۱-کلنی راپور۲-دکمیټې راپور۳-دمجلس راپور۴-دپروژې راپور۵-میاشـــتنی ، ربعوار، اوشپږمیاشتنې راپور. ددفتر جوړونې عمومي عناصر :ددوسیو مجموعه، دمعلوماتو میز۲-لارښـــوونې او اشـــاري۳-د دفتر نښـــې ۴-کاري چوکاټ(دکارټاکلي وختونه،دصـــلاحیت ورکړه، پرځای کول)۵-دد‌فتر لوازم (میز ، چوکی، کمپیوټر، اسـناد، اوالماری)۶-دواردي او صادري مدارکو او اسنادو ته منظم سیستم۷-دکارپړاوونه په یوه دفتر کې (دندې ،ددندو ټاکل ، دکارویش)۸-خپل ځان جوړونه۹-معیارونه(لستونه، مکتبونه، اسناد اومدارک، چک لستونه اوداســـې نور)دشـــخړو پـه اوارولو کې درې مهـارتونـه عبـارت لـه :۱-دمقـابـل لورې نظرمونډل.الف:موضـوع په اړه پوښـتل ب:له پرغل او بې ځایه اشـارو څخه ډډه کول ت:په دقت ســره اوریدل۲خپل نظرپه روښــانه توګه بیان کړئ.الف : ډیرو کوچنیو خبرو پســې مه ګرځئ اوله تعرض څخه ډډه وکړئ ب: په دقت ســـره مقابل لورې ته درناوې ســـره غوږ ونیســئ ت: ډاډ ترلاســه کړئ چې مقابل لوري تاســې دخپلو پوښــتنو په ترڅ کې درک کړي یاســت.۳:دګډې لارې موندل:الف: دمقابل لورې دغوښــتنې لپاره دحل مناســب ټکي پیداکړئ ب: مقابل لورې ســـره په معقوله او عادلانه ډول خبرې وکړئ.تهیه او تدار ک دوه ډولونه لري ۱-مستقیم ۲-غیرمستقیم ؟.راپور نیولو کې باید لاندې نقطې په نظر کې ونیول شي.۱-ایا راپور دچا لپاره لیکل کیږي۲-پرته دپام وړشـــخص څخه نوریي څوک لولي۳-ترکومه حده باید رسمي او غیر رسمي وي اودراپور اساسي اوغیر اساسي مقاصد کوم دي ۴-په راپور باندېصرف تاسو خپله کارکوی او که له نورو سره یې هماهنګ جوړوی۵-دراپور تفصیل او لنډوالی له نورو ســـره دهغه په هکله مشـــوره اونه مشـــوره مهمه ده . دیوې ښـــې پروژې ځانګړتیاوې.۱-واضـــح هدف ولري۲-مرتب شـــوي او منظمې کړنې او فعالیتونه ولري۳-دژوند دوران ولري۴-پیل اوپای بایدولري۵-خاصـــو منابعو ته چې په بودیجه کې به ترې یادونه وشـــي ضـــرورت لري۶-دپروژې فعالیتونه باید چې مورد هدف خلکو او ټولنې کې تغییر راوړي. .پروژه هغه ســـیتم دی چې پـه هغـه کې عوامل پـه محصـــو ل اونتـایجو بدلیږي.مفاهمه دوه لوري لري چې یو یي ویونکی اوبل اوریدونکی دی . دوســـیو مجموعه، دمعلوماتو میز اودلارښـوونې اشـاري دد‌فتر جوړونې او عمومي عناصـرو له جملې څخه دي. لیډرشـیپ یوه متحرکه او متقابله پروســه ده چې دانســـانانو انرژي دګډ هدف خواته رهنمایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي.لیډرشیپ تعریف : لیډرشیب یارهبري هغه ځواک دی ،چې دانسانانو فکري او جسمي توانایي له مادي معنوي منابعو سره یوځای داسې ترلاربښوونې لاندې راولي ، چې هغوی په فردي اویاهم په جمعي توګه یوه اجتماعي عمل ته اړباســـې. دتاریخ په اوږدو کې لیډران په داسې شکلونو رامنځ ته شوي۱-دعلم تجربې ،او اجتماعي اخلاقو له لارې۲-دعنعنې سره سم ۳-په میراثي بڼه ۴-فوق العاده صـــفات۵-دکلکې اړتیا له مخې ۶-دخلکو رایه اواتفاق و چې رهبر بـه یي رامنځ تـه کـاوه. درهبرۍ شـــیوې یـا طریقې ۱-امرانـه رهبري(اتوکرات یادکتاتور)۲-مشـارکتي رهبري (دموکراتیکه رهبري )۳-ازاده رهبري(خودبخودي رهبر)۴-پلارانه رهبري.

# بانکداري

بانک دسهامي شرکت په ډول یوه موسسه ده ،چې دهرهیواد دسوداګریز قانون مطابق بانکي چارې ترسره کوي.او دبانکدارۍ علم دبانکي کړنو دپیدایښت پایښت اودځرانګوالي له ودX څخه عبارت دی . اوهمدارنګه بانک پوهانو بانکي عملیات په لاندې برخو ویشـــلې دي :۱-پولي تجارت۲-کریدیتD یا اعتباري عملیات۳-بانکي مالي عملیات.دبانک په اړه په ټولیز ډول دوه موخې ترڅیرنې لاندې نیول کیږي.۱-دخلکو لپاره دبانکي خدمتونو سرته رسول۲-دکارول شـوي پانګې په تناسـب دسـود لاسـته راوړل. دلومړۍ موخې ترلاسـه کولو لارې چارې عبارت دي له : ۱-دټولنې دپیسـو راټولول اوداسـې عقلاني او اوږدې مودې ته په کټو په کاراچول چې خاوندانو ته یي ترټولو ګټه ورسـیږي۲-دنوروموسـسـاتو یا بانکونو داعتبار جلبولو هڅه۳-په ښـوشـرایطو سـره دنماینده ګیودموقیعت انتخاب.ددویمې موخې ته درسـیدو لارې چارې عبارت دي له ۱-دموخو تشـخیص۲-سـتونزې په نښـه کول۳-دسـتونزې حل او دخلاصون لارې ۴-بانکي پوهه ۵-دفرصتي مصارفو له منځه وړل.دجاري حسابونو له پلوه : ۱-دمال التجاره کریدیت۲-سـاده کریدیت۳-دارزښـت لرونکو پاڼو کریدیت۴-مثل کیدونکي کریدیتونه۵-بورسـي کریدیتونه. په باندنۍ سوداګرۍ کې کریدیتونه: اکریدیتیف ۲-ریمباورس (rembours) اوهمدارنګه بانکي بانکي ذخایر هم په دوه ډوله ویشـــل شـــوي دي ۱-قانوني ذخایر۲-اختیاري ذخایر.کریدیت دوخت له پلوه په لاندې برخو ویشـــل شـــوی۱-لنډ مهاله ۲-منځمهاله۳-اوږد مهاله او دجاري حساب له پلوه په لاندې برخو ویشل شوی۱-دمال التجارې کریدیت۲-ساده کریدیت۳-دارزښت لرونکو پاڼو کریدیت۴-منل کیدونکی کریدیتونه۵-بورسي کریدیتونه. دکارونې له پلوه کریدیت په لاندې برخو ویشـــل کیږي۱-ســرمایوي کریدیت ۲-اســتهلاکي کریدیت. او په عمومي توګه بانکي مالي عملیات په دریبو کټګوریو کې ترڅیرنې لاندې نیســو:۱-اوږدمهاله بانکي عملیات۲-لنډ مهاله بانکي عملیات۳-دارزښـــت لرونکو پاڼو خپرول.داعتبار ددرجې له پلوه دمشـــتریان په دریبو ډولونو ویشـــل شـــوي:۱-لومړي درجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعتبار ۲-دویمه درجه اعتبار۳-دریمه درجه اعتبار.امانت هغه مبالغو ته ويل کيږي، چې دتولنې دافرادو له خوا په بانک کې کېښودل کيږي،چې دهغه خاوند کولای شي دارتيا پرمهال له هغې نه ګټه واخلي او په هره اندازه چې يې غواړي هغه ترلاســـه کړي. امانتونه په دوه کټګوريو ويشـــل کيږي.۱-رويتي (ناټاکلي وخت)امانتونه۲-ميعادي(ټاکلي وخت)امانتونه. دميعادي امانتونو دحساب ځانګړتياوي عبارت دي له ۱-له حساب څخه برداشت ديوه ټاکلي وخت له تيريدنې سره امکان لري۲-ګټه يا سود ددغه وجهې دکارونې په مقابل کې دحساب خاوند پورې اړه پيداکوي۳-دغه مبالغ دټاکلي وخت لپاره دلګښت له ساحې وځي او دبانک په واک کې وي ۴-بانک مشـتري ته چک،يا بانکي کتابچه ورکوي چې دچک له مخې وکولای شـــي خپل وړضـــرورتونه له خپل حســـاب څخه پوره کړي.چک : ليکلې حواله ده ، چې په بانک کې دحواله کوونکي دخاوند له خوا صـــادريږي او بانک ته اجازه ورکوي چې ټاکلی مبلغ شـخص ته چې په چک کې نوم ذکرشـوی پرداخت کړي. حواله(يامخکې ليکلي شـوي پاڼه)هغه ليکنه ده چې دهغې له امله يوکس ته دســـتورورکوي چې دژمنې، يا ټاکلې وعدې ســـره ســـم دهغې له مخې دربيم تن يا حامل ته پيســـې حواله يا ورکړي. په اوږدمهاله بانکي عملياتو کې لاندې کړنې ترســـره کيږي. ۱-دپانګونې داعتباراتو ورکول۲-مالي عمليات (داقتصـــادي کمپنيو يا فابريکو په ونډه اخيســـتو کې دګډون اومالي موســـســـاتو ايجادولو په توګه)۳-دبانکي اعتباراتو ورکول،چې دبانکونو ډيرمعمول کاردی چې دښـــه مديريت په لرلو ســـره کولای شـــي(فوق العاده)ګټې بانک ته ورســـوي.او دمنځمهاله اعتبارځانګړنې : ۱-دلنډ مهاله او اوږد مهاله اعتبارترمنځ دفاصـــلې حد دی۲-زيات وخت يې پنځه کاله ټاکل شـــوی دی۳-تردويمې نړيوالي جګړې وروسته دصنعت په ترکيب کې رامنځ ته شو.تنزيل هغه مبلغ ، چې له يوې قرضـي يا يو برات څخه دچټکې تاديې په نسبت وضـع کيږي.ارزښت تنزيل: ديوه ملت پولي ارزښت ته دبل ملت دپيسو دارزښت په مقابل کې تنزيل ورکولو ته دارزښت تنزيل ويل کيږي.دخبرودتاثير تنزيل: له دغه اصـــطلاح نه موخه داده ، چې ځنې وخت افواهاتو په ســـازمانونو کې دتجارتي اســـنادو پربيو مثبت يا منفي اثرات غورځوي ، چې داخبارونو داغيزو په ترڅ کې داســـنادو دقيمتونو تنزيل ته اخباري تنزيل ويل کيږي. تجارتي تنزيل : داهغه ډول تخفيف ته ويل کيږي،چې دفيصـــد په حســـاب رامنځته کيږي، کله چې له داسې تخفيف څخه کارواخيستل شي، نوپلورونکی دې ته اړوځي، چې قيمتونه دبازار دقيمت په ترڅ کې نوي کړي . دپام وړ تنزيل : دبې ســـوده حجت تنزيل له قانوني نرخ څخه په دتنزيل په ډير لوړنرخ سره عبارت دي له دپام وړتنزيل څخه. نقد تنزيل : داپه اصل کې هغه تخفيُف دی،چې ديوې قرضـــې دوخت له پوره کيدو دمخه پلي کيږي. ســـپما دراتلونکې لپاره دمادي يا پولي اجناسو ذخيره کولو عمليې ته وايي. په ټوليز ډول په دوو برخو ويشل کيږي.
۱-ارادي سپما : هغه سپما ته ويل کيږي ، چې په قصدي اوشعوري ډول ديوه پلان په ذ ريعه دبيلابيلو دلايلو په لرلو دبيلابيلو افرادو په ذريعه او يا هم داقتصـــادي موســـســـاتو له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

داقتصــادي فعالیتونو دپراختیا په منظور ترســره کیږي.۲-اجباري ســپما: هغه وخت رامنځته کیږي،چې حکومت دمالیاتو په زیاتولو سره دافرادو اوخصوصي برخو دلګښتونو کچه کموي . قانوني ذخایر: هغه ذخایرو ته ویل کیږي، چې بانکونه دقانون له مخې مکلفیت لري دخلکو دامانتونو یوه برخه د(ودیعې) په ډول په مرکزي بانک کې کیږدي ،ترڅو دمشکلاتو په وخت کې بانکي ودایع بیرته ورکړي چې دبانک مشــتریان له خنډونواوربړو ســره مخ نه شـــي . اختیاري ذخایر: هغو ذخایرو ته ویل کیږي ،چې دعادي او تجارتي بانکونو په واک کې دي او بانکونه کولای شي له بانکي تحلیل یا څېړنې سره په مطابقت کې چې دبانکي معاملاتو له مجموعې څخه ترســـره کیږي اودهغې په ایجاد کې لاســـوهنه وکړي.. داعتباري بانکونو نظارت په دوه ډوله دی ۱-کمي نظارت ۲-کیفي نظارت او اصـلي ذخایر په څلورو کټګوریو کې ترنظارت لاندې راولو . قانوني ذخایر ۱-په صندوقونو کې نقد وسایل ۲-دمعاملې دطرف په بانکونو کې دبانک دطلباتو پاتې برخه ۳-په نقدو بدلیدونکي چکونه. ددولت دبانک دایجاد سبب عبارت و: دیوداسې موسسې رامنځ ته کول چې وشي کړی دمرکزي بانک ټولې دندې دهغه دابعادو سره چې دغربیانو له هغه څخه کاروانخیست او تریوې اندازې دتجارتي بانکونو ســپما صـــندوق، او تریوه حده دمالیې وزارت دنده په غاړه واخلي . په همدي موخه ددولت بانک رامنځ ته شوی دی اودندې په لاندې ډول دي ۱-دبانک نوټونو دنشربانک۲-دلنډ مهاله اعتباراتو ورکړه۳-دټولو تعمیراتو تمویل چې دولت ته حیاتي ارزښـــت لري۴-کروندګرو ته داوږدمهالـه اعتبـاراتو ورکړه ۵-پـه کلیو او بـانډو کې دکورونو دجوړولو لپاره داعتبـاراتو ورکړه ۶-ددولت دورکړو او دعواید دورود ځای. په عمومي توګه بانک په ۳ ډوله دی ۱- مرکزي بانکونه: مرکزي بانکونه په ټوله نړۍ کې دبانکي فعالیتونو اصـــلي ســـازمان ورکوونکي ، لوري ټاکوونکي او حرکت ورکونکې رول لري . چې ډیری ددولتي بانک په توګه جوتیږي او په نیمه انتفاعي ډول خپل بانکي پالیســیو ته نظم وربخښـــي۲-ســـوداګریز بانکونه: په اکثرو هیوادونو کې تجارتي بانکونه هغه بانکونو ته ویل کیږي چې لنډ مهاله بانکي عملیات او امانتونه ترسره کوي. ۳-تخصصـي بانکونه: دبانکي فعالیتونو هغه برخه ده چې داقتصـــادي تکامل په خاص یا ځانګړي پړاوو کې رامنځ ته شـــوي وي دغه بانکونه وروســته دټولو هغو دندو څخه چې دتخصـص په برخه کې تجارتي بانکونه سـرته رسـوي، دخپلو صلاحیتونو په چوکات کې راوستل او اقتصادي تازه انکشافات یې رامنځ ته کړي او دفعالیت ســاحه یې پراخه شــوې.دســویفت نړیوالې شــبکې په اړوند معلومات:ســویفټ کلمه دلاندې جملې لنډیز دی

SWIFT=Society for worldwide interbank financial telecommunication.
سـویفټ دمالي نهادونو له جملې څخه دی چې دبانکدارۍ په سـاحه او نورو اقتصـادي سـاحو کې ورځنې کاراخیســـتل کیږي . اوددغه دجوړولو موخه دځانګړوبین المللي معیارونو په چوکـاټ کې دمـالي معـاملاتو لپـاره دیوې نړیوالې عـامې مـالي ژبې ایجـاد، دیوه نړیوالو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اطلاعاتي او دنړيوالو مالي موسساتو ترمنځ داطلاعاتو موسسه اوداړيکو دشبکې جوړول و.
دسويفټ کارونکي ۱-بانک۲-بروکرز/ډيلرز۳-central counterparties-۴clearers-۵-
issuer -۹fund manager-۸fund administrators-۷exchanges-۶custodians
markets data providers-۱۰agents.الکترونيکي بانکدارۍ دپيدايښت تاريخچه کولای
شـــو په څلورو دوروکې رالنډه کړو۱-لومړی دوره : دعقبې اتوماســـيون: دغه پړاو چې
دبانکدارۍ په سيستم کې دکمپيوټر دکاروني دپيل ټکی دی دمرکزي کمپيوټر نه په استفادې
اطلاعات او په دفترونو کې کاغذې اسناد په ډلييزه توګه مرکز ته ليږدول کيدل اودشـــپې له
خوا په دې کار کيده ۲-دوهمه دوره : دمخامخ اتوماســـيون: دغه مرحله هله پيل شـــوه چې
دشعبې کارکوونکي دمشتري په مخ کې بانکي عمليات په الکترونيکې دول ثبت او تعقيبول.
۳-دريمه دوره : دمشتريانو نښلول خپلو حسابونو ته : په دې پړاو کې چې د۱۹۸۰لسيزو په
منځ کې رامنځ ته شوه ، مشتريانو ته په مستقيم ډول ددې امکان برابر شو چې خپل حسابونو
ته لاس رســـی ولري په دې مانا چې مشـــتري دتيليفون يادصـــرافۍ ماشـــين په ذريعه او
دالکترونيکې کارتونو اودخپلو شـخصـي کمپيوټرونو نه په استفادې سـره خپلو حسـابونو ته
لاسـرسـی ولري. ۴-څلورمه دوره : دبانکي سـيسـتمونو يوځای کول او دټولو بانکي عملياتو
سره دمشـتري نښلول: دغه پړاوو هغه وخت پيليږي چې له مخکښيو دريو دورو څخه ټولې
لاسته راغلې پايلې ترپوره دقت او څيړنې لاندې ونيول شي او په هغو پورې تړلې ستونزې
له منځه يوړل شي او ټول بانکي عمليات په الکترونيکي ډول ترسره شي، په دې دوره کې
هم بانک او هم مشـــتريان کولای شـــي په منظم او دقيق ډول خپل اړين اطلاعات ترلاســـه
کړي.صـــنعتي بانکونه: دغه بانکونه دتجارتي بانکونو په څير عادي عمليات نه ترســـره
کوي،بلکې دغه بانکونه په بشپړ ډول دصنعت په برخه کې فعاليت کوي . معاملاتي بانکونه:
دپانګې اچونې له طريقه دموسساتو په رامنځته کولو اويا پراختيا کې پرمستقيم اشتراک سره
ددغو بانکونو دفعاليت ساحه پيژندل کيږي، ددغه بانکونو فعاليت دصنعتي بانکونو په څيرده.
زراعتي بانکونه: زراعتي بانکونه خپل فعاليت دزراعت او کرنې په برخه کې سرته رسوی.
تعميراتي بانکونه: ددې بانکونو فعاليت دساختماني فعاليتونو اودځمکو معاملاتو په ساحه کې
ترسـره کيږی.دبانک مامور بايد دلاندې خواصـو لرونکی وي ۱-هوښـياراوځيرک۲-کارته
چمتو۳-پوه او فني۴-ديپلومات او په ادب ۵-شـيک او ښـه لباس لرونکی وي۶-له تکنالووژۍ
سره اشـنايي ولري۷-دبانک درازی ساتونکی وي . مزارعه : دغه بانکي کړنه په حقيقت کې
يوه زراعتي معامله ده چې بانک خپله ځمکه دکارکولو لپاره بل شـــخص ته ورکوي اودواړه
په ګټه او تاوان کې مساوي شريکان وي.مسافات : دغه معامله دباغدارۍ او ځنګل په برخه
کې دبانک او دبل حقوقي شـــخص ترمنځ قرار داد پواســـطه چې بانک خپل باغ اويا ځنګل
دکارکولو اوحاصـل ټولولو په منظور بل چاته ورکوي او حاصـلاتو کې سـره شـريک وي.
دصـرافۍ ماشـين پواسطه مشتريان کولای شي لاندينې کارونه ترسره کړي ۱-حساب څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

برداشت۲-دبانکي صورت حساب غوشتنه۳-دچک يا نقدوجهي حساب ته کېښودل. داماشين کولای شي دبانک ديوې شعبې دنده ترسره کړي او دبانک ډيری اصلي دندې سرته ورسوي . دپلور دنقطې ماشين : يوه دستگاه ده چې دهغې په ذريعه يو مشتري په يوه زماني نقطه کې کالي يا خدمات پيري . تيلفوني بانکداري : دبانک اومشتري ترمنځ ديوې معاملي سرته رسو ل دتيلفون له طريقې څخه عبارت دي .دالکترونيکي بانکدارۍ دوسايلو څخه يوه وسيله هم پلاستيکي کارتونه دي او په لاندې ډول دي ۱-ډيبيټ کارډ: دغه کارډ مشتري لپاره جوړشوی ده چې غواړي خپلو پرداختونو په برخه کې دکارت نه گټه واخلي مگر نه غواړي داعتبار نه گټه واخلي. ۲-کريديت کارډ: کريديت کارتونه دځينو بانکونو يا کمپنيو لکه ماســـټر کارډ، ســيټيCitiيا visa cardاونورو له خوا عرضـــه کيږي ددې کارتونو نه گټه اخيســتنه په دې معنا ده چې مشــتري دخپل بانکي حســاب څخه نه بلکې دبانک يا کمپنۍ له حســاب چې دهغې مشــتري گرځيدلي دخپلو پرداختونو لپاره استفاده کوي ، چې ځان قرضــداره کوي اووروســته ديوې مودې څخه خپله قرضـــــه دربحي ســـــره يو ځای ورکوي. ۳-Change Card: دغه کارټونه دکريديت کارټونو ته ورته دي يوازې په دې توپير سره چې دمياشتې په پای کې بايد ټول صورت حساب تصفيه شي .دوديزې اوالکترونيکي بانکدارۍ ترمنځ توپير

| نوي الکترونيکي بانکداري | دوديزه الکترونيکي بانکداري |
|---|---|
| دمکان په لحاظ لامحدوده بازار | محدودبازار |
| دپراخو خدمتونو وړاندې کيدل | دمحدودو خدمتونو وړاندې کيدل |
| دنوښت اومشتري اړتياوو پر بنسټ | په يو ه ځانگړي ډول دخدمتونو وړاندې کول |
| بيلابيل خدمات وړاندي کول | پرشعباتو اتکا |
| په الکترونيکي امکاناتو مجهز څو منظوره بانکونه | دبـانکونو ترمنځ دنژدې او تړلي اړيکو نـه شتون |
| په زماني لحاظ نامحدود ۲۴ ســــاعته ايز فعاليت | په اداري ساعتونو پورې تړلي خدمات |
| دډار،غلا، او ورکيدو نه خلاصون | ډار، غلا، او ورکيدو امکان |

داســـلامي بانکدارۍ له مورده دهغو مواردو نومونه چې بانک يې له افرادو ســـره کولای شــي.۱-قرضــه الحسـنه۲-مضــاربه۳-مزارعه۴-مسـاقات۵-مدني شـرکت۶-حقوقي شـرکت۷-مســتقيمه پانگه اچونه۸-دسـلف معاملات ۹-دتاسـيسـاتو ، ماشـين الاتو،وسـايطو پلور۱۰-په

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسطونو دکورونو پلورل۱۱-داولیه موادو احتیاطي سامان الاتو او دکاروسایلو پلورل۱۲-جعاله۱۳-رد دین.دکریدیت اعتبارلرونکي پانه چې دباطیلیدو وړتیا لري او هروخت کیدای شي فسخه شي. اوږدمهاله اعتبارات له پنځوکلونو څخه زیات موده په برکې نیسي .داقتصادي سرچینو ساتنه او څارنه اودمنابعو دکاروني په طرز کې دسپمولو عملییې ته سپما وایی. په کال ۱۹۶۱ م کي دپانګې اچونې بانک دزراعتي بانک، سوداګریز بانک، ښاروالی بانک په شکل رامنځ ته شو. نه فسخ کیدونکي اعتبارپانه نه ګرځیدونکې ده ، چې له ټاکلي وخت نه وروسته بیا دفسخ کیدو وړ ګرځي . سویفټ په کال ۱۹۷۷ م کې په ژوندۍ بڼه دعمل ډګر ته راووت.دپیسو دنشرولو دنده دټولې نړۍ په بانکي سیتمونو کې په مرکزي بانک پورې اړه لري .سوداګریز بانکونه لنډ مهاله بانکي عملیات او امانتونه ترسره کوی . اسلامي بانکداري دلومړي ځل لپاره په ایران کې رامنځ ته شوه . دیو کس دمجبوریت په اداکولو سره دشخصي عمل په مقابل کې جعاله نومیږي. په ۱۹۳۹ م کال کې دافغانستان بانک دهیواد مرکزي بانک په حیث تاسیس شو. بانکي نظامونو کې لاندې نظامونه شامل دي۱-غیرمتمرکزه ۲-متمرکز۳-اسلامي. داقتصادي سیاستونو له نظره مرکزي بانکونه دلاندې موخو درلودونکي دي ۱-دپیسو دداخلي او خارجي ارزښت ساتنه۲-دتادیاتو دبیلانس مطلوب والی.په عمومي توګه بانکي عملیات په ۴ کټګوریو کې څیړل کیږي. بانکونه دپانګونې عملیات په لاندې میتودونو کې ترسره کوي چې عبارت دي له ۱-ونډه ورکول۲-داقتصادی موسساتو تاسیس. هغه اسناد چې بانکي نظارت کوونکي یي دبانکي کړنو دتحلیل لپاره تري استفاده کوي عبارت دي له ۱-اساسي او مرکزي بانک قانون۲-دبانکداری قانون او بانکي مقررات. اصلي ذخیرې دڅومره کټګوریو ترنظارت لاندې راځي جواب د۴ لاندې راځي.دصنعتي بانکونو دفعالیت ساحه عبارت ده له ۱-دصنعتي واحدونو تقویه کول۲-په صنعتي پانګه کې ګډون. داسلامي بانکداری له نظره دافرادو سره په معاملاتو کې بانک په څو مواردو کې دمعاملې جواز لري عبارت له ۱۴ موارد دي. دلومړي ځل لپاره سویفټ ۵۰ بانکونو او ۲۵۳نهادونو له خوا دملاتړ وړوګرځید؟په نړۍ کې لومړي ځل لپاره بانک په ۱۱۵۷ م کال کې تاسیس شو . دسلف معاملات دکومو شیانو ددوام لپاره مرسته کوي جواب : تولیدات. دنړۍ ٪۸۰تجارتي معاملي دخلاص حساب په څیر اجرا کیږي. هغه کارتونه چې دیوه بانکي حساب پوري اړه لري او دهرې معاملي سرته رسولو وروسته ژر حساب نه اخیستل کیږي عبارت دي له ۱single transaction debit-۲monthly transaction debit.اعتباري کارتونه په دوه ډوله دي .بانکي سیاست :څوبانکي موخو ته درسید و په خاطریو لړتدابیرو طریقو طرحو له ټاکلو څخه عبارت دی چې دیو یاڅو وسایلو نه په ګټې اخیستنې سره چې بانکي او سوداګریز قوانینو سره ټکر ونه لري. دبانکداری ځنځیري عوامل : ۱-اساسي قانون۲-بانکي قانون(مرکزي بانک قانون) دولتي اوخصوصي بانکونو قوانین ۳-دپیسو او بانکداری قانون۴-بانکي ستراتیژي۵-بانکي پالیسي ۶-دبانکي عملیاتو دداېمنولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصـــولنامه او کړنلاره. بانکي عملیات عبارت دي له ۱-امانتونه۲-جاري حســـابون۳ه-اعتباروركول۴-دنوروارزښت لرونکو پانو او ونډو پورې اړوند عملیات، دهیواد په داخل او بهر کې دوجوهاتو انتقال ، ارزي(اســـعاري) معاملات ، دنجیبه یا قیمت لرونکو فلزاتو معاملات ، دضمانت تضمین، او صادرول، زراعت، رهن ، صنعت ، سوداګري ، ساختمان ، حمل او نقل چې دقانون سره په ټکر کې نه وي دبانکي عملیاتو اجرایی برخې دي.

# د تشبثاتو مدیریت

دتشبثاتو مدیریت دلوستلو موخې :دتشبث دپراختیا په مفهوم دتشبث په تیوریګانو او دتیوري او عمل ترمنځ په اړیکه باندې پوه شو۲-دیوهیواد داقتصاد په وده کې دمتشبثینو درول په اړه دپوهې دمعلوماتو ترلاســه کول۳-دمتشـبث داقتصــادي فعالیت او ابتکار رامنځ ته کیدو په اړه دیوې عمومي او جامعې پوهنې ترلاسه کول۴-دنویونظرونو دارزیابۍ یا ارزولو لپاره تحلیلي مهارتونو ته وده ورکول یا رامنځ ته کول او هم په دواړو یعنې هغه فرصـــتونو او ننګونو باندې پوهیدل کوم چې متشـــبثین ورســـره لاس او ګریوان وي یا ورســـره مخامخ کیږي۵-دتشـبثاتي کړنو ته دودې یا پراختیا لپاره دنویو نظرونو په اړه دپوهې ترلاســه کول. پیژندنه : اقتصـاد پوهان ، سـوداګر،اوکاروباري افراد دوي په دې موافقه دي چې متشـبث په اقتصـادي او نورو ټولو ټولنو کې دخوځنده یا متحرکه اقتصــادي ودې او کاري فرصـتونو په هڅولو او تشـویق کې مهم او حیاتي رول لوبوي په ځانګړي توګه پرمخ تللې نړۍ کې ریښـتیا ده چېرې چې بریالي او کامیاب کوچني کاروبارونه دکاردرامنځ ته کیدو او دغربت دکمولو اسـاسـي او بنسټیزه وسیله ده. تشبث څه ته وایي. دتشبث کلمه یو په زړه پورې تاریخي شالیداوسیر لري او دافرانســوي کلمې انترفریندا څخه اخیسـتل شــوي چې مانا یې اخیسـتل او تعهد کول دي. دبیلګې په توګه یو کاروباري شـــخص څوک چې نوی کاروبار خطر منې یا یې اخلي . ریچارډ کانتیلیون: خپله دفرانســـې وه او په۱۷۲۵ م کال کې یې دتشـــبث کلمه وکاروله دي وایي متشـــبث هغه څوک دی چې ګواښ اخلي او دیوې کړنې دترســـره کولو په وخت کې دناڅرګندتیاسـره مخامخ کیږي. سـربیره په دې هغه داخبره هم کړي چې یو متشـبث دهغه چا څخه توپیرلري څوک چې پانګه عرضـــه کوي یا یې چمتو کوي. ادم ســـمیت په ۱۷۷۶ کال متشـــبث دیوفرد په توګه تشـــویق کړی او ویلې یې دي چې یو متشـــبث هغه څوک دی چې دسوداګریزې موخې لپاره سازمان جوړوي څوک چې سرمایه دار وي یعنې دپانګې لرونکې کس ته متشبث ویل کیږي.جان بافیت: په ۱۸۰۳ کال کې ویلې دي دتولید دعواملو پراختیا یا زیاتوالی دمتشبث رول په توګه ګڼل کیږي. فرانسوي اقتصاد پوه: وویل چې متشبث دمولدیت دټیټې ســاحې نه دمولدیت لوړې ســاحې ته اقتصــادي ســرچینې لیږدوي او په دې توګه ګټه ترلاســه کوي.ســربیره په دې ده داهم وویل چې متشــبث یو اقتصـــادي نماینده ده څوک چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتولید توول وسـایل یاني انسـاني ځواک دیوه او  ځمکه، پانګه دنورو افرادو دیو تولید درامنځ ته کیدو په خاطر سره یوځای کوي.تشبث : یوه پروسـه ده دکومې دلاري چې متشبثین نوي تصـــدۍ جوړوي او وده ورکوي کاروبارونو ته . جان شــومپتر: وایي تشــبث دیوه هیواد په اقتصـادي پرمختیا کې یوه اساسـي  مرحله یا پروسـه ده. په همدې ترتیب ، ابتکار او تشبثات دیوکاروبار دکړنې دپراختیا اساسي او بنسټیزې مرحلې دي او دیو هیواد داقتصادي پرمختګ لپاره خورا مهم دي . دپیتر ایف ډروکرpeter f. drokerپه نظر تشـــبث نه علم دی نه هنر دایو پروسه ده دایو  عمل دی داعلمي بنسټ لري دتشبث په برخه کې پوهه نهایي یا وروستۍ پایله ده په حقیقت کې کومه پوهه چې په عمل کې رامنځ ته کیږي په لوړه او پراخه کچه دپایلو له مخې تعریف شـوي چې دادعمل له مخې دي. دپورته بحثونو څخه لاندې پایله اخلو: یو متشـبث : هغه کس دی چې نوي فرصـتونه کشـفوي ددوی ارزونه کوي دتولید توول عوامل راټولوي نواورې کوي دزیـان یـا نـاڅرګنـدتیـا یـا نـاڅـاپي پیښـــو ګواښ پـه غـاړه اخلي، او دخصـــوصـــیات: ۱-یووګړی یا دوګړو یوه ډله۲-دلاســـته راوړلو لپاره اړتیا۳-خپلواک یا خپلواکۍ ۵-دخطر اخیسـتل۶-نواورې یانوښـت۷-هدف لرونکی ۷-پریکړه کوونکی یاپریکړه کول۹په خپل ځان باور ۱۰-دابتکار رامنځ ته کول۱۱-هڅونکی وي۱۱-دانساني اړیکو وړتیا ولري۱۲-داقتصادي پلان جوړونکی.۱-یو وګړی یادوګړو یوه ډله وي: یومتشبث کیدای شي یو شـخص وي یاداشـخاصـو ډله وي۲-دلاسته راوړلو لپاره اړتیا : دمتشـبث دهڅولو لومړنۍ وســیله ده دوی ددې لپاره کړنه ترســره کوي چې ټاکلي اهداف لاســته راوړي۳-که څه هم یواځې داقتصادي کړنو دترسره کولو لپاره بیلابیلې هڅونې شتون لري مګر متشبث دمنځ  ته راتګ لپاره ترټولو لوی او اســـاســـي لامل خپلواکې ده او خپلواکې غوښـــتونکې دي دی نه غواړي دبل چا لپاره کار وکړي.۴-دخطر اخیستونکی  دی: متشبث دخطر داخیستلو اوتحمل کولو توان لري او په حقیقت کې دهمدې خاصـــیت له مخې دمدیر څّخه جلادی۵-نواوورې یانوښت کوونکی دی یو متشبث په خپل ذات کې نواوري کوونکي دی هغه تل دنویو نظرونو او نویو فرصـــتونو په لټه کې وي هغه غواړي نوي بازارونه نوي شـــیان په تولید کې دنویو میتودونو هم کاروالخلي۶-باهدفه : متشـبث : دځانګړو او خاصـو موخو لرونکی  وي هغه یو په یو اهدافو ته درسیدو لپاره هڅه کوي ترڅو ټاکلې موخې ترلاسـه شـي.۷-پریکړه کوونکی دی.یو متشـبث منطقي فکر درلودونکی دی هغه باید دخپلې کاروباري مفکورې او نظریې په اړه په واقعت کې څو پریکړي وکړي څو هغه  په عمل کې پلي شـي لکه څنکه وشـي چیرته وشـي او چاته وشـی.۸-په ځان باور لري . یو متشـبث دخپلو اهدافو په لاسـته راوړلو کې په لوړه کچه په خپل ځان باور لري او دځینو پیښـو پروا هم نه لري۹-ابتکار رامنځ ته کوونکي : متشـــبث تل هڅه کوي چې ابتکار رامنځ کړي دوی دمختلفو او بیلابیلو شـــیانو درامنځ ته کیدو  په خاطردنوو میتودونو لارچارودرامنځ هڅه کوي دبیلګې په توګه نوي یا تازه خام مواد دنوي تولید میتود ،نوي اعلانات، فیشن۱۰-هڅوونکی وي: یو متشبث یو  هڅوونکي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خپل کارمندان هڅوي او هغوي ته انګيزه ورکوي ددې لپاره چې دکاري ټيم په زړه پوري همکاري رامنځ ته کړي او خپلې موخې په ښه توګه ترلاسه کړي.۱۱-دانساني اړيکو وړتيا لري: يو متشبث دخپلو کارکوونکو پيرودونکو عرضه کوونکو پورورکوونکو او نورو سره راکړوورکړو دترلاسه کولو لپاره بايد دانساني اړيکو درامنځته کيدو او درلودو وړتيا ولري۱۲-اقتصادي پلان جوړونکی : پلان جوړونه اقتصادي اهدافو ته درسيدو لپاره يوه طرحه ده متشبث هره کړنه دپلان پورې اړه لري دبيلګې په توګه دتوليد پلان دپلورلو پلان مالي پلانونه دپيرودلو ،پلانونه دپلټنې او پرمختګ پلانونه . دتشبث نظريه په ۱۸ پيړۍ کې دکاروباراو مالي ساحو په برخه رامنځ ته شوه له دې وړاندې دامفهوم يواځې په انجينري او نظامي برخو کې کارول کيده له دې وروسته بيلابيل اقتصادي پوهانو او ټولنيز رواني چاروپوهانو په دې اړه نظرونه وړاندې کړه.په هر صورت چې دوی ددې اصطلاح ددقيقې معنا په اړه سره توافقت لري ، ويليم بونګو : وايي او ليکي : دتشبث موضوع دهميش لپاره مغشوش والی لري دګډوتيا يا confusionپه پايله کې دتشبث کلمه په مختلفو اوبيلابيلو شرايطو په بيلابيلو اصطلاحاتو وکارول شوي او تشبث معنا داقتصادي پرمختګ دبدلون سره هم بدليږي . دتشبث ماهيت:۱-دخطر اخيستلو يا منلو وړتيا: متشبث دکاروبار دپيل کيدو په وخت کې دناڅرګندتيا او ګواښونو دبيلابيلو ډولونو سره مخامخ کيږي. دکاروبار چاپيريال متحرک او تل بدلون لري. اوډيری ګواښونه ورته دپانګې له امله راځي اوددې دتنظيم وړتيا لری ،خو دناڅرګندتيا دکنترول وړتيا نلري.۲-entrepreneur traitتشبث فطري يا ذاتي صفت نه دی. تشبث په خپله ذاتي يا فطري صفت نه دی دشرکت يا تصدۍ برياليتوب دپريکړو کولو او دمتشبث دنورو وړتياوو پورې اړه لري نو په دې توګه خلک په خپل ځان کې داوړتيا راولې ۳-creative activityدفعاليت تخليق يا رامنځ ته کول.

What is creativity? simply creativity involves transforming your ideas imagination &dreams into reality.

دتشبث دندې : ابتکار دخطر منل اودبدلونونو منل.

ديو فعاليت تخليق : تشبث په اساسي ډول يو تخليقي کړنه ده اودنورو فرصتونو نوو نظريو دنوو تخليقونو او نورو لپاره پلټنه او تحقيق کوي دوی په تخليقي يا نوو شيانو په رامنځ ته کيدو باندې فکر کوي او په خپل شرکت کې نوي نظرونه عملي کوي داتشبث دی چې په ټولنه کې تخليق او بدلونونه هڅوي ۴-دبدلونو پايلې : د تشبث پايله دسياسي ټولنيزو علمي او تخنيکي بدلونو رامنځ ته کول په چاپيريال کې دايوازي اقتصادي پيښه يافعاليت نه ده او په ټولنيزو طريقو کې خلک مجبوروي چې طريقې بدلې کړي او پرمختګ وکړي۵- creative of resourceداتشبث په ټوله کې خامه مواد په کارتمامو يا نيم کاره موادو بدلوي نو په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه تشبث دافادې درامنځ ته کولو او اقتصادي ارزښت اودشتمنۍ درامنځ ته کولواو وړتيا مرحله ده ۶-: په ټولو کاروبارونو او اقتصادونو کې ضروري او مهم دی تشبث په ټولو کاروبارونو ټولو اقتصادونو کې اړين او مهم دي که هغه غټ وي يا وړوکی وي که پرمختللی وي او که دپرمختګ په حال کې وي۷-تشبث دژوند په هره کړنه کې مهم دیessential in every activity:په هره کړنه کې مهم او حتمي دي تشبث ته دژوند په هره برخه کې اړتيا ليدل کيږي يو شخص په هره سطحه په هره ساحه کې دخطر دفطرت او کاروباري چلند له لارې بريالی کيدای شي. په ښوونه اوروزنه تحقيق طب ، سياست ، نظامي او نورو ټولو برخو دژوند کې دبرياليتوب په خاطر دخطر اخيستلو ابتکار يا رهبرۍ ته اړتيا ليدل کيږي. ډروکر ويلې دي تشبث : معنا دانه ده چې مونږ يواځې داقتصادي سازمانونو پورې تړلې وي ۸-کم خطر والی : تشبث پراخه کچه دخطر په مخ کې لري مګر دتخنيکي اجتماعي او اقتصادي محيط له امله يو تشبث دنورو په نسبت کم خطر لرونکی وي ۹-دابتکار قابليت: ability of innovateيو تشبث يو ابتکاري فعاليت دی تشبث په ټوله کې هغه تخليقي نظريې عملي کوي يعني دهغې غوښتنه کوي. تشبث دنوې نظريي تخنيکونه ديو توليد نوی شکل، دمديريت نوی اصل ،نوي بازارونه ،نوي توليدات، او نورپروسيجرونه مني ددې له پاره چې مشتريانو ته ښه خدمات عرضه کړي او ګټه ترلاسه کړي.۱۰-دپوهې په اساسknowledge basedفيټرډروکړ ويل يو تشبث نه خدمت دی نه هنر دی دادپوهې په اساس باندې يو عمل دی۱۱-دچلند پربنسټ پايلې result oriented behavior يوه کمپنۍ يا يوه تصدۍ ترهغه وخته پورې بريالی کيدای نه شي چې کم ترکمه پايلې ګټه ورې وي تشبث په پايلو ټينګارکوی نه په نصيب او قسمت. متشبثين دخپلو هڅو اوسختو کارونو له امله ښې پايلې لري.۱۲-دچاپيريال په بنسټ فعاليتونه environmental oriented activityتشبث يو بيروني او خلاص محيط سره اړيکه لري متشبثين داقتصادي سياسي اجتماعي اومادي فکتورونو سره په پام کې نيولو سره توليدات کوی او خطرونه اخلي ددغې مفهوم په نظر کې نيولو سره شومپټر ويلي دي دادهر باندېنې لپاره يو تخليقي حالت ته غبرګون او ځواب ويل دي . خطر دپيش بيني وړ دی او کنتروليدونکی دی او ناڅرګندتيا دپيشبيني وړنه ده او نه کنتروليدونکې ديه .لکه زلزله سيلاب طبيعي افات. دلته يوه خبره کول ضروري دي تشبث داهميت په باره کې هغه کس چې يو نوی کارکشف کړي يانوی بازار ته راوښکې يا يو نوی ميتود نه کار واخلي هغه ته متشبث ويل کيږی او که دوام ورکړي هغه ته بزنس مين ويل کيږي.

Creativity or initiative: is relating to imagination

کريټويټي او انيشياټيف : دسوچ کولو پورې اړه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

Innovation is regard to implication or implementation

Innovation the action or process of innovating new ideas, new methods, new products etc.

یوه انیویشن یوپروسه ده دعملي کولو دانیوشن دنوي طریقو نویو ایډیاو او نوي تولید اوداسې نورو په باره کې. نوښت: داهمیشه فکر وهي دتولید په باره کې او تل هڅه کوي چې نوښت رامنځ ته کړي یا نوښت وکړي دمختلفو شیانو درامنځ ته کیدلو په باره کې ۲-دلاسته راوړلو لپاره اړتیا: دمتشبث دهڅولو لومړنی چلونک دی دوی ددې لپاره کړنه ترسره کوي ترڅو تاکلي اهداف ترلاسه کړي دلوړې کچې دلاسته راوړلو په اساس متشبث کولای چې دکړنو په ډګر کې دخپلو رقیبانو او همدارنګه دخپلو پخوانیو کړنو سره سیالي وکړي. ۱۳-دبدلون دپیژندنې بهیرprocess of identify transformationتشبث دمعلوماتو دتشخیص اوداصولو او کنثیفتونو بدلون دی یو سوداګر یا یو متشبث ترهغه وخته پورې په یوازې توګه متشبث کیدای نه شي ترڅو چې ددغه پورته ترڅنګ اینویشن ونلري یا په بل عبارت دایو فعالیت چې باید په خپل ذات کې دوامداره ډول باندې واوسې. د اودي پریخ او ندکمي (عالمان دي) په نظر تشبث یواځې دندې طریقې یا فعالیت خپلول نه دي مګر دادشخصي ملکیت یادځانګړي شتمنۍ یو بدلون دی او همدارنګه یا په خپله باندې دیو نوی شي تخصیصول.۱۴-مسلکي فعالیت:professional activityتشبث په پرمختللو هیوادونو کې دیو مسلک په توګه لکه طب ،قانونو او انجینرۍ کې رامنځ ته شوی دی کاروباري مهارتونو ته دروزنې او تعلیم له لارې وده ورکول کیږي لکه مدیریتي مهارتونه پرمختیایي هیوادونو کې حکومتونو پروګرامونو او پلانونه شروع کړي ترڅو خلک تشبث ته وهڅوي.۱۵-مدیریت دتشبث یو اساس دهmanagement is the basis of entrepreneurمدیریت دټولو تشباتي تصمیمونو یو اساس دی متشبث په کاروبار کې دمدیریت په واسطه ځینې بدلونونه او پرمختګونه منځ ته راوړي ډروکر وایي تشبث دنن ورځ دمدیریت دمهمو او اړینو دندو یوه برخه .۱۶-داصولو پربنسټ نه دپوهې یا درک په واسطه based on principle not on intuitionتشبث دځانګړو اصولو مفکورو اوځانګړو برخو دپوهې په اساس ده یعنې په دې ولاړ دی دادعلم او اصولو په بنسټ درک نه دی ، ځکه چې دوی داصلي مدیریت یو نسل یا یوه دوره ده . متشبث باید دبریالیتوب دلاسته راوړلو لپاره داقتصاد ،احصایې، قانون پوهنې، روانشناسۍ، او نورو موضوعاتو په اړه پوهه ولري.دتشبث اقسام: ۱-تقلیدي یا مقلد تشبث: دتشبث داډول پخپل ذات کې تقلیدونکی دی چې داموجوده تولید په نوي طریقې وړاندې کوي دنوروکمپنیو یا شرکتونو ګټورنظریات اخلي او په اسانۍ سره دبازار کنترول لپاره دوی دشرکت وزن منځته راوړي یعنې دتشبث څخه دمقیاس په ډول استفاده کوي دبیلګې په ډول جاپانیانو په امریکایي تولیداتو باندې څیړنه کړې او دخپلو تولیداتو دپرمختګ لپاره یې نوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

طريقې پيداکړي او دوی په ټيټ قيمت ســـره توکي توليدوي او امريکايي بازارونو ته يې صادروي چې دتشبث داډول دجاسوسی يوډول دی اومشتريان دارزانه خدماتو او توليداتو نه زياتې ګټې ترلاسه کوی.۲-incubate entrepreneurدادتشبث يو بل ډول دی چې په دې ډول تشـــبث نوې نظريې منځ ته راوړي او دوی په مولده توګه باندې د غه نظريات او ابتکارات تطبيقوي اوددې څخه دســـازمان ګټې لاســـته راوړي چې دوی مختلف تکنالوژيکي پرمختګونو له امله نوي ابتکاراتو ته وده ورکوي او مختلف ډوله توليدات منځ ته راوړي لکه نوکيا او مايکروســافټ۳-فرصــت لرونکی تشــبث په دې ډول تشــبث کې مديران مســوليتونه ســپاري اودمديريت موجوده ســلســلې مراتبو په اســاس راپورنه ورکوي دوی دنيمه خپلواکه کاري چاپيرياڵ څخه خوند اخلی اودنوښـــت لپاره يوه ســـاحه پريږدي۴-اداري تشـــبث : څېړونکې ددوې دســـوداګريزو حقيقتونو په اړه ددوې نظرياتو په اړه دشـــرکتونو دمنابعو دچمتوکولو په وخت کې مرســـته کوي نو په دې توګه اختراعات په شـــوق ســـره رامنځ ته کيږي اودوی ديو رهبر لخوا رهبري کيږي او اداره د نوي محصـــول رامنځته کولو ته چمتو کوی۵-acquisitive entrepreneurداتشـــبث داډول دودې او پرمختيا ددوديزو ميتودونو څخه مخکې يو ګام دی چې مونږ دلته ددوه شـــرکتونو يوځای کيدو لاســـته راوړنو او دګډې پانګې او نورو په واسطه دودې نورې بديلې ستراتيژۍ پيداکوي.

ديوبريالي متشبث ځانګړنې

1-imaganative: creative thinking and imagination are important for entrepreneur quality since innovation come with this quality2-shrap memory successful entrepreneur always have a memory shaper than people and generally every event of the recent fast should be in his mind.

۳-په ځان مطمينه يا باور ولري: متشــبث بايد باوريوي چې څه شــی ا ويا هغه څه شــی چې دی غواړي په راتلونکې کې يې ترســـره کړي بلکې هغه بايد يوځای دځان ســـره دذخيره په ډول وساتي دمثال په ډول هغه بايد ډيرمطمين وي مګر دهغه کړنې بايد دخاورو سره خاورې نه شـــي يعنې ښـــکاره نه شـــي.Emersonوايی دکاميابۍ راز په ځان اطمينان ولرئ يعنې په ځان اطمينان دکاميابۍ رازده ۴-کامل يا پوره والی : يو بشـــپړ او کامياب متشـــبث هغه څوک ده چې خپل وظايف په ښه شکل ترسره کوي او خپل مسوليتونه کې ايمانداره وي-او دهميش لپاره استفاده نه مني. او دخلکو سره خبري کوي او زيات تمرکز په بحث مباحثه باندې کوي او په بشپړ ډول بحث اومباحثه باندې کنترول ولري۵-پيشبيني کول: يو متشبث بايد ددې توان ولري چې دپيښـو ارزونه وکړي حتې چې واقع شـوی نوي او همدارنګه دموجوده کړنو پلان دپايلو ارزونه وکړي او هغه متشـــبث چې دارزونو يا اټکل کولو وړتيا لري نو هغوی بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکي مشـــکلات اټکل کړي او دهغې مخه ونیســـي  په راتلونکې کې.۶-دســـتونزولپاره چمتوالی: يو متشبث باید دنوو ستونزو لپاره چمتو وسي او هغه باید ومنې نودوی عموماهغه وظايفو ته چې ســـتونزمن وي ترجيح ورکوي ځکه چې دوی وايي چې غټ خطر ډيره ګټه . او متشـــبث باید دیو شـــرکت اراده ولري  او دا هغه خلک دي چې دننګونې او خونديتوب ترمنځ انتخاب کوي۷-دښې راتلونکې په هیله خوشبینانه وي: يو متشبث باید دخپل کاروبار په اړه ښـــه فکر ولري او هغه باید دناکامی دکامیابی يو بل قدم وګڼې او دوی باید چې دکاروبار په اړه بدبينانه نظر ونلري اوتل خوشبينانه نظر ولري۸-Ambitionدښو شیانو ترسره کول دي او په دې اړه دوې داســـې فکر ولري چې دنورو کاروبارونو په وړاندې مونږ کامیاب یو او دوی باید داســـې فکر وکړي چې مونږ له نورو کمپنيو څخه يوه مرحله مخکې يو او که چيرې متشـــبث موجود نه وي نوبيا دامشـــکله دی Davidوايي چې باید مونږ مخکې يوڅه لاســـته راړنې ولرو . انډريو کارنیګيAndrew Carnigiوايي که چيرې يو کس دکاروبار څخه دګټې دلاســـته راوړلو هیله ونلري نو داشـــخص ناکام دی۹-دوخت مديريت: يوکامیابه متشـــبث هغه څوک دی چې وخت ته ډير ارزښـــت ورکړي که چيرې يوه کمپنۍ ددې وړتیا ونلري چې وخت مديريت کړي نو بيا به داهدافو دلاسـته راوړلو کې ناکام اوسـي . دمتشـبث اهميت او ځرانګوالی: تشبث ديو هيواد په اقتصادي وده کې ستر رول لوبوي دهيواد دانساني او فزيکي منابعو په حرکت راوسـتل دمتشـبثينو ترټولو لوی او اسـاسـي دنده.متشـبث ددغې فزيکي او انســـاني منابعو څخه اســـتفاده کوي چې دوی ابتکار وکړي يعنې نوي نظريې په کاراچوي نوي توليد په کاراچوي او ديوي مهمې وســـيلې په توګه ترې اســـتفاده کوي. دوی عموما په ځینو فعالیتونو کې دخپل یارکوم چې داستخدام او فرصتونو په برابرولو کې مرسته کوي دوی مســـول دي اســـتخدام دفرصـــتونو په برابرولو کې په زرهاو خلکو ته دوی باید بهرنيو هيوادونو ته خپل توليدات وليږدوي هغه شيان چې ښه کيفيت لري ددوې دصادراتو په نتيجه کې زمونږ دتادياتو بيلانس رامنځ ته کيږي دسوداګرۍ دپاره دا ښکاره ده چې متشـبث ديو هيواد دګړندۍ اقتصادي ودې اصلي او اساسي عنصر دی په ټولنيز چاپيريال کې دتشبث پراختيا: تشبث په خپله په ټولنه کې پيداشوی دی دوی دټولنو دغړو په توګه مختلفو فعالیتونو کې مصروف یابوخت وي بغير دمتشبث نه دټولنې موجوديت دصفرسره مساوي دی مختلف اجتماعي عوامل لکه کيسټ casteيعنې دټولنيزو وجوهاتو په اساس ديوبل څخه ويشل شوی . عقيده ، ټولنه ، مذهب دکورنۍ پس منظر ټولنيزو ارزښـــتونو ښـــوونيز رواجونه تخنیکي پرمختګونه هڅونه ابتکار نوښت. مسلکي چاپيريال يا پس منظر اوداسې نورداټول يو حياتي رول لوبوي دمتشـــبث په پرمختيايي وده اودهغې په شـــخصـــيت په ټولنه کې رامنځ ته کيږی ټولنه برابروي دمتشـــبثينو دپاره دتشـــبثاتي کيفيتونو لپاره اړينې برخې اطمينان، ازادي ، ابتکار، وقار فرصـــتونه برابروي چې هغوی دوی ته تمه لري او د خطرونو توان او قدرت لري اوباید ويې لري.  دمتشـــبث لپاره لاربنـــود کتاب کې دا راغلي دي.مهارتونه تخنیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهارتونه۲دکاروبار کنترول اواداره کولو مهارتونه۳-دفعالیت لپاره وخت لرل.شـــخصـــي خصلتونه: ۱-صداقت۲-سبب یا علت۳-دتوکل کولو هنر۴-تصمیم نیونه۵-کورنی وضعیت۶-مالي وضـعیت. ددې لپاره چې دیو متشبث خصـوصـیات ترلاسـه کړئ نولاندې توضـیحات سـتاسـو لپاره دي ۱-دبریالي متشـبثینو سـره وګورئ او کارطریقې ترې ذده کړه۲-مرسـته وغواړئ او مشورې وکړئ۳-کتاب ولولئ۴-تعلیمې کورسونه ته لاړشئ. سوداګري هغه علم دی چې تاسـو ته دخپلو مشـتریانو اودهغوی دغوښـتنو اواړتیاوو په هکله ذده کړې درکوي. لومړی پانګه: هغه پیســـې دي چې دکاروبار دپیل کولو لپاره تاســو ورته ضـــرورت لری . دکاروباري مفکورې بیانول هغه اساسي قدمونه دي چې لاندې جهتونه لري۱-کوم محصولات او خدمات غواړی چې عرضـه کړی۲- په چا باندې به هغه وپلوری۳-محصـولات او خدمات په څه ډول وپلوری۴کومې غوښـتنې یاتولید به مشـتریان قانع کړي. دکاروباري مفکورې یو ډول سنجش دSWOTتحلیل دی. قوي اړخstrength:هغه اړخ دی چې تاسو په ښه حالت کې قرار لری دمثال په ډول ستاسو محصولات کیدلای شي درقیبانو په تناسب ښه وي او یاداچې ستاسو مغازه په یومناسب ځای کې موقیعت لري اوستاسو کارکوونکي په کارپوه خلک دي ۲-دضعفweaknessاړخونه: ستاسو دکاروبار ضعیف اړخونه دادي : ستاسو محصولات مثلا درقیبـانو پـه تنـاســـب قیمتـه دي یـادتبلیغـاتو لپـاره کـافي پیســـې نـه لری۳:امکاناتopportunityتولې هغه لارې چارې چې ستاسـو په شـاوخوا کې وجودلري مګر ســـتاســـو او ســـتاســـو له کارســـره مرســـته کوونکي دي امکانات بلل کیږي.۴-خطرونهRisks:هغه عوامل دي چې ســـتاســـو په شـــاوخوا کې وجودلري مګر ســـتاســـو دکارپرمختګ ســـره مســـاعد وي خطر بلل کیږي.بازارموندنه : دهغوفعالیتونو ټولګه ده چې تـاســـو یي دتخمیني پیرودونکو اوددهغوی دغوښـــتنو دمعلومولو لپـاره ترســـره کوی . بـازارمونـدنې پړاوونـه یـا مرحلې :۱-بـازارمونـدنـه دکـاروبـار لـه مفکورې څخـه پیلیږي چې دپیرودونکو په غوښـتنو اسـتواره ده۲-دکاروبار دمفکوري په واسـطه تاسـو باید خپل بازار وازمایي۳-دبازاردمعلوماتو له لارې تاسې کولای شی چې دبازارموندنې پلان ترتیب کړی۴-په دوامداره توګه باید بازارمطالعه کړی . دپیرودونکو او رقیبانو په اړه دزیاترو معلوماتو دموندلو لارې دلته توضیح کیږي.۱-دتخمیني پیردونکو سره خبري وکړي او لاندې پوښتنې له هغوی څخه وپوښـتی۲-خپل رقیبان وڅیری او پوه شـي۳-له هغو کسـانو چې تاسـو ته خام مواد برابروي او له نورودوکاندارانو څخه وپوښـتی. دبازارموندنې دپلان په وخت کې هرپه اړخیزه توګه فکروکړی چې محصـولات او خدمات څه خرڅ کړی په دې اړه څلور اسـاسـي رکنه په نظر کې ونیســـئ۱-محصـــولات ۲-بیه۳-دکاروبارځای۴-پرمخ وړل. دکاروباري مفکورې بیانول داروښـــانه کوي چې کارکوونکي کوم قابلیتونه باید ولري . ددې لپاره باید لاندینی ۴عملیي اجرا شـي.۱-دکاروباري مفکورې دبیان څخه پیل کړی اووایي چې ستاسو دکاروبار لپاره کومې وظیفې اجرا کیږي۲-معلوم کړی چې دکومو وظایفو لپاره ستاسو وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

اومهارتونه كفايت نه كوي.۳-معلوم كړی چې دكاركوونكو لپاره دكومو تجربو مهارتونه ضروري دي.۴-معلوم كړی : چې دهرفعاليت لپاره څو كاركونكو ته ضرورت دی. حقوقي مســـوليتونه عبارت دي له ۱-دمالياتو وركول۲-دكاردقوانينو رعايت كول اودكار جواز اخيستل.لومړنی پانګه هغه پيسې دې چې دكاروبار دپيلولو لپاره ضروري دي دكارپيل كې بايد تاسوته معلومه وي چې تاسو ته دلومړنی لپاره څومره پيسې لازمې دي او له كومه يې بايد پيداكړی لومړنی پانګه دلاندې موضــــوع لپاره اړينه ده۱-پانګه اچونه۲-دوراني پانګه . پانګه اچونه په دي معنا چې تاســو ځينو شــيانو ته چې يې زيات مهم دي دډيري مودي لپاره ضرورت لری.لكه ۱-تعمير۲-تجهيزات اووسايل:لكه دستګاه اسباب وسايل او وسايط نقليات موبل فرنيچر او نور شـــامل دي . دوراني پانګې دلاندېنې خرڅونه عبارت دي ۱-دتيارو محصــولاتو او خام شــيانو اخيســتل۲-دمال په مخ بيول۳-دكارمزد۴دپيسـو اجاره ۵-بيمه۶-نورمصـــارف۱-دلومړۍ پانګې منابع دی ۱-خپله پانګه يا پيســـې۲-كريديتونه(قرضـــې)۳-ليزينګونـه(تجهيزاتو قرض) ګرنټونـه (وړيـا مرســـتې) . لانـدې څو منـابع چې ذكر كيږي دكاروبار پرانيســـتلو كې دقرض اخيســـتلو لپاره هغوی ته ورشـــی۱-بانكونه۲-ليزينګ۳-ګرنټونه۴-ملي بانک. ســتاســو دكارخانې دمحصــولاتو تمام شــدقيمت محاســبې په دې وجه كوي۱-دمحصــولاتو دنرخونو ټاكل۲-دمصــارفو كمول او دهغوی نظارت۳-دمهمو تصــاميمو نيول دكارورباردفعاليتونو په جريان كې ۴-دكارخانې دراتلونكې كارلپاره مرســـته كوي. مختلف كاروبارونه مختلف خرڅونه لری مګر ټول كاروبارونه خاص مصـــرفونه لري۱-مستقيم مصارف۲-دكارمزد مصارف۳-مستقيم مادي مصارف هغه پولي زيرمې ته وايي چې ســتاســو كارخانه يي دموادو توليد او دتركيبي اجزاو لپاره په مصــرف رســوي.۲-دكارمزد مستقيم مصـارف : هغه پولي زيرمې ته وايي چې كارخانه دكار مزد كاركونكې او كارګرانو ته دتوليد په خاطر وركوي او همدارنګه كه كارخانې بيمه ولري هغې پيســـې چې دكار كوونكې له مزد څخه په معينه اندازه ګرځول كيږی او مكافت چې دمثمر كارونو لپاره ځينو كــاركوونــكو لــپــاره وركــول كــيــږي دكــارمــزد پــه مســـتــقــيــم مصـــــارفــو كــې راځي.مصارف(غيرمستقيم)ټول مصارف(غيرله مستقيمو مصارفو)چې كارخانه يي دفعاليت لپاره منونكې وي .اســتهلاک: دتجهيزاتو دارزښــت كميدل دوخت په تيريدو ســره دي چې ستاسـو دكارخانې دمصـارفو څخه شـميرل كيږي . عمده او پرچون سـوداګران څه كوي ۱-دوی محصـولات نه توليدوي دوی مال بايد وپلوري ددوی مالونه رانيول ددوی مستقيم مادي مصـارف تشـكيلوي۲-دوی دكارمزدمسـتقيم مصـارف نه لري دوی هغه چې نور خلک يې توليد كړي اخلي او خرڅ كوي دوی تل دمال دسـاتنې لپاره ددې لپاره مرستيال ته ضـرورت لری مګر دوی دتوليدي چارو ســـره كارنه لري ددې لپاره دكارمزد ټول مصـــارف په غيرمستقيم مصارفو كې راځي۳-غيرمستقيم مصارف۴-دپرچون او عمده دوكاندار دعمومي مصـــارفو دمعلومولو لپاره درې قدمې بايد ترســـره كړئ.مادي مســـتقيم مصـــارف ۱-داهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصـــارف دي چې عمده او پرچون ســـوداګران يي دمال درانيولو لپاره کاروي۲-غيرمســـتقيم مصـــارف نورټول مصـــارف دي چې په کارخانه کې کارول کيږي لکه دبرېښـــنا مصـــارف اونور،کله چې په خپل کار پيل کوي دوه مهم شرطونه بايد ستاسو لخوا رعايت شي ۱-ستاسو کاربايد ګټوروي ۲-تاسو بايد پانګه ولرئ. دمالي وضـعيت دجوړولو اوپه هغه دنظارت لپاره لازمه ده چې ۱-ددخل او خرڅ دپلان ترتيبول۲-دنغدو پيســـو ددوران پلان ترتيبول۳-ديادو شويو پلانونو پرتله کول دحسابدارۍ له اسنادو څخه په هره مياشت کې ۴-که چيرې ستونزې اونقايص رامنځ ته کيږي دهغو لپاره دحل دلارو چارو کتل. حسابداري ددې معلوماتو په باره کيږي۱-کارخانه څه ډول دپيســو عايد لرى ۲-دکارخاني څومره پيســي مصــرف شــوي. که چيرې دحســابدارۍ ښــه ډول انتخاب شــي اوپه ښــي طريقې ســره ورڅخه ګټه واخيســتل شــي دهغې په برکت کارخانه خپلې ګټې ته پراختيا ورکوي دحســابدارۍ ډولونه۱-دحســابدارۍ يو طرفه (يوګونى) سيستم دلته هغه سيستم راوړل کيږي چې ډير ساده وي او دکارخانې په باره کې مفيد او معين معلومات ورکوي . مګر يوازې دډيرې وړې کارخانې لپاره مفيد دى ترهِغه وخته چې پيشرفته سيستم نده کوي ۲-دليکلو دوه ګونى اساسي سيستم: دلته دحسابدارۍ پرمخ تللى سيستم راوړو چې په کافي اندازه اسانه دى اودوړوکارخانو لپاره مناسب دى ددې سيستم تشريح لپاره خپل کاروبار ته رواج ورکړي دلارښود څخه استفاده وکړي. مفصل توصيف: دمحاسبې ثبت تشريح کيږي. کســه : دلته ټولې هغه پيســي چې ستاسو په کســه کې دې تري وځي ليکل کييږي. مادي مســـتقيم مصـــارف : که چيرې مال توليدوي  ايا خدمت کوى دخپل مال دخرڅلاو قيمت وليکئ دکارمستقيم مادي مصــارف : که چيرې مال توليدوى او ياخدمت کوى په شـــتون کې دکارمزد ورســـوي دغه ســـتون دســـوداګرانو لپاره نه دى غيرمســـتقيم مصــارف :په ستون کې ټول هغه مصــارف چې دکارخانې دفعاليتونو دبرابرولو لپاره ترسره کيږي. ۳-دحسابدارۍ پرمختللى دوه ګونى سيستم: دحسابدارۍ دغه ډول سيستم هغو کارخانو ته په کاروي چې مختلفو معلوماتو ته ضـــرورت لري نظر دوه نورو ســـيســـتمونو ته يى اســتعمالول ګران دي دحســـابدارۍ حســـاب هغه لوى دفتر دى چې په هغه کې ديوې ســـاحې عمليات اودمتشــبث فعاليت ليکل کيږي. اکتيفونه: کارخانې ټول اکتيفونه ارزښــت لري اودغه ارزښـت داکتيف حسـاب لوى دفترکې ليکل شـوي دي . درامد: هغه پيسـي دې چې دکارخانې دخدماتو يا مالونو دخرڅولو څخه رامنځ ته کيږي دمصـــارفو لپاره درې ډولونه په کار دي په کارخانه کې ۱-مادي مستقيم مصارف۲-دمحنت مزد مستقيم مصارف۳-غيرمستقيم مصارف.

# د څيړنې ميتودولوژي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دڅیړنې پیژندنه : دڅیړنې کلمه د(تحقیق) چې عربې کلمه ده ،مترادفه معنا لري. په پښتو کې څیړنه، عربې ، کې تحقیق انګریزي کې researchپه یو مفهوم کاریږي . څیړونکو لخوا په مختلف ډول تعریف شوې ده لکه څیړنه دسمو او صحیحو معلوماتو لاسته راوړلو لپاره په یوه ځانګړې موضوع کې علمي او سیستماتیکه پلټنه ده. تحقیق دحقوقودریښې جوړه کلمه ده چې لغوي معنا یې حقیقت راسپړنه ده.څیړنه ، یو څو مرحلیزه پروسه ده چې په یوموضوع کې دمعلوماتو دراټولولو او تحلیولو څخه عبارت ده. دتحقیق کلمه په لغت کې پلټنې . مطالعې ، دحقایقو پیداکولو او دیوه کاربنسټ موندنې ته وایي . دتعریفونو پایله: څیړنه (تحقیق)ددلایلو په واسطه دمسلې ثبوتولو ته وایي او یاهم هغه محصول دی چې په علمي توګه دټینګو دلیلونو په واسطه ثبوت شوی وي . یا څیړنه : دسیستماتیک لټون هغه پروسه ده چې دموجوده پوهې دزیاتولو او یادنوي علم ترلاسه کولو لپاره دیوې مسلې په اړه دنویو معلوماتو پدیدو او حقیقتونو دکشف او ترلاسه کولو په موخه ترسره کیږي. څیړنه درې مرحلې لري لومړی:دپوښتنو راولاړول،بیا دهغې په اړه معلومات راټولول او اخر کې پوښتنې ته ځواب ورکول.دڅیړنې میتود: هغه طریقه او کړنلاره ده چې څیړونکی یې دیوې موضوع دڅیړنې په مهال تعقیبوي. هغه مشخص اصول او قوانین دي چې دڅیړنې او تحقیق په پروسه کې باید په نظر کې ونیول شي. میتودولوژي: ددووکلمو څخه جوړه شوي ده چې میتود(کړنلاره)اولوژي د(پوهې)څخه عبارت ده خو کله چې دڅیړنې کلمه هم ورسره وکارول شي نو بیا دڅیړنې میتودولوژي څخه عبارت دي. دڅیړنې میتودولوژي هغه علم دی چې د څیړنې لپاره چې دکوم میتودونو او تخنیکونو څخه ګټه اخیستل کیږي هغې په اړه پوهه ترلاسه کول. هغه علم دی چې دعلمي څیړنې اصول مونږ ته ښایي.دڅیړنې موخې۱-دیوې پیښې سره ځان اشنا کول او یا هغې کې کوم نوي څه پیداکول۲-دیومشخص ګروپ افرادو او حالاتو دځانګړنو بې پردې (بې نقابه) کول۳-دیوشي دپیښیدو فریکونسي روښانه کول او یا دبل شي سره دهغې تړاوو په ګوته کول۴-دیوې فرضیې امتحانول او دهغې دعلت اړیکه دنورو متحولونوسره معلومول. دڅیړنې تشویق: څیړونکی باید ددغه اصولو او قوانینو ،مقرراتو ضوابطو او لاروچارو څخه دعلمي او څیړنیزو مقالو،رسالو په ترتیب او لیکنه کې ګټې واخلي. او دا ډول قوانین باید دخپل کاردکړنلارې په توګه وټاکي . دڅیړنې په میتودونو پوهیدنه هغه پیاوړی،اسباب دی که نورو مهارتونو سره یوځای شي . لکه دنوښتګراستفادي او منطقي تفکر ، دنړۍ دپوهیدو لپاره به پیاوړي وسایل رامنځ ته شي. په څیړنه کې دمیتود :ګټه داده چې دهغه په بنسټ څیړنه منظمه ، سیستماتیکه ، او اسانه کیدای شي هغې پایلې چې لاسته راځي مطلوبې ، اغیزمنې ، او قانع کوونکي وي . دعلمي رتبې دترلاسه کولو په موخه څیړنه ترسره کول ، ټولنې ته خدمت میل درلودل ، لکه دامعلومول چې ولې په افغانانو کې دجرم کچه لوړه ده . په خلکو باندې دځان پیژندلو میل درلودل داسې کارونو څخه خوند اخیستل چې کوم نوښت او ابتکار په کې وي. دداسې ننګونو سره ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخامخول چې لاتراوســه نه وي حل شـوي او ته يي حل کړي.تولنيز فکر درلودل، ددې ميل درلودل چې خپله پوهه زياته کړي او داسې نور . څېړنه يوه پروسه ده چې دغه پروسه بايد سمه او دقيقه اوسي دځينو ځانګړنو درلودونکې وي. علمي څېړنه ځينې ځانګړنې لري چې عبارت دي له١-معلومات بايد په سيستماتيکه توګه تفسير شي او تحليل شي٢-معلومات بايد په سيستماتيکه توګه ترلاسه شوي وي٣-ديوې ځانګړې موخې لپاره معلومات راجمع شوي وي او يوه نوي لاســـته راوړنه ولري ددې ترڅنګ ځينې نورې ځانګړنې لري چې بايد په نظر کې ونيول شـــي ترڅو څيرنه علمي راشـــي دغه ځانګړنې دڅېړنې داصـــولو په نامه ياديږي. ١-موخه لرونکې : وي علمي څېړنه بايد يو روښـــانه موخه ولري دغه موخه دســـتونزې حل او يادمعلوماتو زياتوالی وي او همدارنګه ســـازمان او يا ټولنې ته يي ګټه ورسيږي٢-دقت والی: دقت څخه موخه په څېړنه کې پاملرنه ، ځيروالی اوکره والی دی، کله چې ديو څېړنې لپاره قوي تيوريکي بنسټ او سمې مناسبې کړنلارې وټاکل شي دقتوالی په خپله رامنځ ته کيږي٣-ازمايښـت وړ: څېړنه بايد دازمايښـت وړ اوسـي په دې معنا کله چې څېرونکی فرضيه وټاکي نو دغه فرضيه بايد دازمايلو وړ او اندازه شي.۴-ورته والی لرل: که څېرونکی دا ترلاســـه کړي چې په ســـازمان کې تصـــميم نيونه کې ګډون يو له مهمو فکتورونو څخه ګڼل کيږي. کوم چې دکارکوونکو متعهدوالی زياتوي.اوس که يو بل څوک په همدې ســـازمان په اړونده برخه کې څېرنه ترســـره کړي، دوهم څېرونکی بايد ورته پايله ترلاسـه کړي په څېرنه کې همدغه اصـل ته دورته والي اصـل وايي ۵-بې طرفه والی: کومه پايله چې دڅېړنې څخه ترلاســـه وي بايد ديوبې طرفه قضـــاوت پايله کې وي او دڅېرونکې دشـــخصـــي نظر څخه پاکه وي. که چيرې کمي څېړنه وي نو پايله بايد په مفعولي بڼه وي په دې معنا چې خپله راټول شو معلوماتو له مخې پايله ترلاسه شوي وي او دڅېرونکي درک په کې شامل وي۶-عمومي والی : اصل څومره چې په يوه څېرنه کې عمومي والي اصل زيات ترسترګو شي په همغه کچه دڅېړنې ارزښت او اعتبار زيات وي دعمومي والي اصل څخه موخه کومه پايله چې ترلاســه کيږي هغه عمومي وي او په نوروســازمانونو کې هم دتطبيق وړ وي. ٧-ســپما اصــل: ددې اصــل څخه موخه دڅېړنې ساده والی دی لکه چې څېرونکی څېرنه کوي نو بايد هڅه وکړي چې تراخره حده پورې څېرنه ســـاده راولې اوددې پيچلتيا څخه وســـاتي په دې معنا که چيرې څېرونکی په خپله څېرنه کې پنځه متحولونو ته اړتيا ولري همدابســـنه کوي. او دهغه متحولونو څخه دي ډډه وکړي کوم چې په څېرنه باندې تاثيرات ونه لري. دڅېړنې اهميت: څېرنه نه يوازې په علمي ســـاحو کې داهميت وړده بلکې په ورځينې ژوند کې هم خپل اهميت لري زمونږ په ژوند کې هره ورځ نوېســتونزه ، پيښــې او پديدې رامنځ ته کيږي،نو په علمي ژوند کې دغه ســـتونزو او پيښـــو ته جواب ويل يو اساسي ضرورت دی څېرونکی په دې اند دی چې دغه ستونزو علت حل لارې ، شرحه او نورې برخې پيداشـــي په دقيقه توګه څيرنه په طبيعت کې دپيښـــو دپوهيدو لپاره کارول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي.څیړونکی هغه ســـتونزې دحل لپاره څیړنه کوي چې خپله څیړونکې ، کمپنې ، تولنې او دولتي اداري ورســره مخامخ وي .ـــپه موجوده نظریاتو باندې څیړنه مونږ ســره مرســته کوي چې یو حد او اندازه دحل راپه گوته کړي‌ـــــحســابې او منطقي څیړنه په ســوداگری او صــنعت کې دســتونزو اعظمي ټکې راپه گوته کوي. دڅیړنې ډلبندي : په دریو ډولو ویشــل شـــوي ده(۱)-ماهیت ته په کتو ۱-بنیادي۲-عملي .(۲) هدف ته په کتو دڅیړنې ډولونه: ۱-تشـریحي ۲-پیوسته۳-اکتشـافي۴-توضیعي (۳)-معلوماتو ته په کتو ۱-کمي۲-کیفي.هدف ته په کتو دغه ډلبندی کې څیړنه دڅیړنې اصـــلي موخه په گوته کوی داچې څیړنه ولې ترســـره کیږي همدغه جواب ترلاســه کول یې اصـلي موخه وي۱-تشـریحي : په تشـریحي څیړنه کې دیو شـــي خلکو ، گروپونو، اوســـازمانونو ځانگړنې رابرســـیره کیږي او تشـــریح کیږي. په تشریحي څیړنو کې معلومات په کمي او کیفي بڼو ترلاسه کیږي او دڅه او څومره پوښتنې ته ځواب پیداکیږي.۲-پیوسته : په پیوسته کې دیو شي اړیکه دملگرتیا او تکیه په بل شي باندې په گوته کوي یا په دغه څیړنو کې ددو شـیانو اړیکه چې دیو بل سـره څه ډول پیښـیږي مثال په ډول : څومره چې پلور زیاتیږی په همغه اندازه گټه زیاتیږي په دغه مثال کې دپلور او گټې ترمنځ اړیکه فقط کتل کیږي۳-توضـــیعي څیړنه: په دې څیړنه کې هڅه کیږي چې ولې پوښتنې ته ځواب وموندل شـي. دولې پوښتنې په ځوابولو سره مونږ دعلت اړیکه پیداکوو۴-اکتشـافي څیړنه : هغه وخت ترسـره کیږي کله چې دیوه ځانگړې موضـوع داحتمالاتو په اړه څیړنه کوي. معلوماتو ته په کتوڅیړنه:۱-کمي څیړنه : هغه څیړنه ده چې په کمي معلوماتو ولاړه وي کمي معلومات هغه معلوماتو ته ویل کیږي چې داندازې وړ وي ځکه په دې ډول معلوماتو کې شمیرل کیدونکې معلومات وي چې دشمیر په بڼه وړاندې کیږي۲-کیفي څیړنه: هغه څیړنه ده چې په کیفي معلوماتو ولاړه وي کیفي معلومات هغه معلوماتو ته ویل کیږي چې دشـــمیرنې او اندازې وړنه وي او دشـــمیر په بڼه نه وړاندې کیږي. بلکې دکلمو په بڼه وړاندې کیږي. کوم تخنیکونه چې په کې اســـتعمالیږي عبارت له گروپې مرکو ، پروژې تخنیکونو او نورو څخه دي . هغه وســـایل چې دکیفي معلوماتو په لاســـته راوړلو کې په کاروړل کیږي عبارت دي له : مصاحبې ، داسنادوتحلیل، دگډون کوونکو دتولید شو کارونو کارونو تحلیل لکه ژورنالونه ، ځینې یاداښـــتونه ، انځورونه، او نور. ماهیت ته په کتو : عملي څیړنه: دورځنې ژوند په عملي ســـتونزو دحل په موخه ترې گټه اخیســـتل کیږي چې اوس وخت کې داکثرو څیړونکو دا رایه ده چې په سازمانونو او صنعت په برخه ددغه ډول څیړنو څخه گټه اخیســـتل کیږي۲-نکه څیړنه: داڅیړنه بنیادي څیړنو په نوم هم یادیږي ، داډول څیړنې دعلمي تیوري دزیاتوالي لپاره په علمي برخه کې ترســـره کیږي او په دې برخه کې ترســره کیږي په دې څیړنه کې دموضــوع په اړه معلومات پیداکیږي ســتونزې په اړه ، نکه څیړنه ډیرزیات وخت په برکې نیســي لکه څیړنه دیو ځانگړي ســازمان پورې نه وي تړلې بلکې ټولو ســازمانونو لپاره وي شــه مثال یې دکارکوونکو تشــویقونه ده څیړونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړي هغه فکتورونه پيداکړي چې څرنګه کارکوونکو ته جرت ورکړی چې خپل ځانونه دسازمان دموخو دلاسته راوړلو لپاره وقف کړي.

دڅيړنې څخه ليدنه:دموضـــوع ټاکل---څيړنيزه پوښـــتنه پيداکول---تيروليکنو ته کتنه---فرضـــيه---متحولونو ټاکل---دڅيړنې ډيزاين ټاکل---معلوماتو ټاکل او دنمونې ټاکل---دمعلوماتو پروســـيس او تحليل—–دڅيړنې ليکل. ١-دڅيړنې موضـــوع ټاکل: دڅيړنې پيل دموضـوع ټاکلو څخه کيږي*څيړنه کې موضـوع ټاکل مهمه برخه ده او همدغه برخه نورې برخې متاثره کوي*څيړنه کې دموضوع ټاکل يوه ستونزمنه برخه ده*څيړونکی بايد موضوع ټاکلو وخت کې دموضوع پراخوالی په نظر کې ونيسي*څيړونکی بايد داسې موضوع وټاکي چې ليوالتيا ورسره ولري*دڅيړنې موضـوع چې څومره روښـانه او مشخصـه وي په هماغه اندازه ښـه وي*څيړونکی دموضـوع ټاکلو کې بايد اخلاقي اړخ ته يې پاملرنه وکړي*څيړنه کې هڅه وشـــي چې نورو ته يې زيان ونه رســـيږي. دڅيړنيزو اخلاقو پيژندنه: څيړونکی دڅيړنې پرمهال داسې رويه خپله کړي چې دخلکو حقوق په پام کې ونيسي او هغوی زيانمن نشي دارويه څيړنيزو اخلاقو په نامه يادېږي. دڅيړنې عمومي اصول: څيړنه : دځينو اصولو تابع ده او پرمختللو هيوادونو کې دغه اصـــول عبارت دي له:١-نورو ته احترام٢-دضـــرر مخنيوی٣-دبرخوالو معلومات پټ ساتل۴-دبرخوالو خپلواکه ساتل۵-دڅيړونکي روغتيا۶-که چيرې دوهم لاس معلومات څخه ګټه اخلي نو دامعلومات بايد دقانوني لارو څخه ترلاســـه کړي٧-څيړونکی بايد دادبې غلا څخه مخنيوی وکړي.څيړنيزه ســـتونزه : هرهغه څه چې ته يې په هکله څيرنه کوي يا هغه ادعا چې ته يې ثابتول غواړې يا هغه پوښـــتنه چې ته يې ځوابول غواړې څيرنيزه ستونزه ده يا ==هغه ستونزه چې ته يې په اړه څيرنه کول غواړې څيرنيزه ستونزه ده چې همدغه ستونزه ستا دڅيرنې دموضوع محتوا برابروي*ستونزې ته بايد خپل فکر کې جوړښـت ورکړي ترڅو راتلونکو پړاوونو لپاره يو سـمه لاره خپله کړي. دڅيرنېزې ســـتونزې اهميت:١-څيرنې پروســـه کې مهم کار دڅيرنې دســـتونزې جوړښـــت برابرول دي دا داســـې مثال لري لکه : مخکې دســـفر ځان ته موقيعت معلومول.٢-که څيرنه کې په څيرنيزه ســـتونزه زيات فکر وشـــي په هماغه اندازه ښـــه راځي٣-که ته غواړې يوه ستونزه حل کړې نو دامهمه ده چې په ټوله معنا ستونزه وپيژنې۴-څيرنيزه ستونزه چې کله ؟؟؟نودازمونږ دڅيرنې په نورو برخو کې همکاري کوي لکه: کوم ډول څيرنه وکړو او کوم ډول ستراتيژي پکاروانچوو. ديوې ښـې موضـوع ټاکل: ١-ديوې ښـې موضـوع ټاکل دڅيرنې لپاره دحالاتو پورې اړه لري٢-که دپوهنتون محصـل ياسـت دتحصـيلي ديپلوم ترلاسـه کولو لپاره څيرنه کوی نو داسـې موضـوع بايد وټاکې چې داړوند پوهنتون شـرايط پوره کړي٣-موضـوع بايد دمحصـل دمسـلک مطابق وي۴-دڅيرنې موضـوع لپاره بايد مالي امکانات او مناسب وخت په پام کې ونيسي ۵-اکثره څيرونکي وايي چې دڅيرنې لپاره ښه موضوع هغه وخت شـــونې ده چې کله روښـــانه څيرنيزه پوښـــتنه او روښـــانه موخې ولري. دڅيرنيزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستونزې په ټاکلو کې دپام وړ ټکي۱-لیوالتیا: څېړنیزې ستونزې ټاکلو وخت کې څېړونکی باید خپلې لیوالتیا وګورې چې ایا دغه موضوع کې لیوالتیا لري که نه۲-څېړونکي سره باید دڅېړنې دپروسې په اړه په زیاته اندازه معلومات پراته وي. ترڅو وکولای شي چې ځان سره دغه څېړنه انځورکړي چې څومره وخت او څرنګه یي پای ته ورسوي۳-دمفکورې اندازه کول: کله چې څېړونکی کومه څېړنه ترسره کوي باید دهغې مفکورې داندازه ګیرئ او شاخصونو په اړه معلومات ولری۴-دتخصص کچه: داچې څېړونکی په غاړه ده نو باید څېړنه په خپله سرته ورسوي که څه هم لاربنود استاد ورسره مرسته کوي۵-معلوماتو شتون: څېړونکی باید داړوند ستونزې معلوماتو دراجمع کولوفکرمند وسي ۶-اخلاقي موضوعات:څېړونکی باید څېړنه کې اخلاقي اړخ په پام کې ونیسي . دڅېړنې موضوع ټاکل: کومار دڅېړنې دموضوع ټاکلو لپاره لاندې اووه مرحلې ښودلې دي۱-هغه ساحه چې ته په کې دخپل مسلک له مخې لیواله یی هغه وټاکه۲-لمړي قدم کې مو یوازې دخپلې خوښې موضوع وټاکله ،په دې برخه کې اوس هغې پورې تړلې کوچنې برخې دیو لست په بڼه ترتیب ول۳-دغه مرحله کې دخپلې لیوالتیا له مخې دلست شوو ستونزو کوچنیو موضوعاتو څخه یوه موضوع ټاکو۴-دې مرحله کې دڅېړنیزې پوښتنې راولاړول دي ۵-دموخو تشکیلول (برابرول) چې هغه څېړنه دکوم هدف لپاره ترسره کوو. څېړنیزه پوښتنه او څېړنیزې موخې ترمنځ فرق دادی چې څېړنیزه پوښتنه هغه پوښتنه ده چې په څېړنه کې ورته ځواب ویل کیږي او هماغه سوال الفاظو ته بدلون ورکوي او بیانیه شکل ته یي اړول موخې دي۶-دې برخه کې دخپلې څېړنې اړوند سرچینې ګورو معنا وخت، او مالي امکانات لرم او که نه لرم ترڅو دغه څېړنه ترسره کړم۷-دې برخه یو ځل بیا پورته ټوله پروسه وګوری که مو پوره اندازه منابعو او نوره کومه ستونزه نه وه. نو ځان څخه بیا وپوښته چې ایا زه حقیقي توګه لیواله یم چې دغه څېړنه ترسره کړم . ایا زما لپاره دغه منابع بسنه کوي. دغو پوښتنو ته په حقیقي بڼه ځواب ترلاسه کړی که ځواب مو منفي وه نو دڅېړنې پوښتنو ته بیا کتنه وکړه. دڅېړنیزې پوښتنې ټاکل (پیداکول)دڅېړنې موضوع ټاکلو وروسته دموضوع اړوند څېړونکې لخوا څېړنیزه پوښتنه راولاړیږي *دڅېړنې پوښتنه هغه پوښتنه ده چې څېړونکی یي په خپله څېړنه کې ځوابول غواړي*څېړنیزه پوښتنه څېړنه کې مرکزي نقش یا رول لري*څنګه چې څېړونکی پوښتنه رامنځ ته کوي باید خپلو منابعو او په نښه شو معلوماتو ته وګوري له هغې وروسته دې پوښتنه رامنځ ته کړي . څېړونکی دڅېړنې په وخت کې لاندې نقاط په نظر کې ونیسي ۱-دڅېړنې لپاره سمه موضوع ټاکل: داسې موضوع وټاکي چې زړه راښکوونکې، جالبه او ټولنې ته یي ګټه ورسیږي۲-که علمي رتبې ترلاسه کولو په موخه وي نو باید همغه پوهنتون شرایطو ته په کتو موضوع وټاکي۳-څېړنه باید روښانه وي۳-تیرولیکنو ته کتنه: ۱-تیرولیکنو ته کتنه دڅېړنې هغه برخه ده چې څېړونکي ته دڅېړنې موضوع په اړه ژور معلومات ورکوي۲-تیرولیکنو ته کتنه داګټه لري چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دڅیړنې دمیتودونو په اړه نقل ورکړي او ستا په میتود کې چې کومه نیمګړتیا وې هغه درته په ګوته کړي ۳-پخوانیو لیکنو لوستل څیړونکي سره مرسته کوي چې ایاداموضوع دڅیړنې وړده که نه ده۴-تیرو لیکنو ته کتنه څیړونکي ته یوه روښانه لارښوونه کوي چې دغه څیړنه کوم محدودیت لري۵-اکســفورډ په قاموس کې (لټریچر)دوه معناګانې لری۱-دادبیاتو په معنا سره ۲-په یو ه مشخصه موضوع کې چاپ او لیکل شوو معلوماتو ته وایی۶-تیرو لیکنو ته کتنه په دوو برخو کې کارول کیږي۱-دپروپوزل په مهال۲-څیړونکی دلیکنو په برخه کې تري کاراخیستل کیږي. تیرولیکنو ته د کتنې ګټې۱-څیړنیزه موضوع روښانه کوي۲دڅیړنې میتودولوژي ښــه کوي۳-تیرولیکنو ته کتنه څیړونکي ســره مرســته کوي چې ټاکل شــوې موضــوع دڅیړنې وړده او که نه ده .څرنګه تیرو لیکنو ته کتنه وکړو. تیرو لیکنو ته دکتنې په موخه په اړونده برخه کې دنورو لیکوالانو لیکنې خلاصــه کول دي چې په دې برخه کې لاندې چارې وړاندې شوي۱-دکومې ژبې دلیکنې څخه ګټه واخلم انګلیش،دري ، عربي *زما موضوع کوم مضمون پورې اړه لري حسابداری مدیریت، او که عامه اداره*موضوع کومې برخې پورې اړه لري، دولتي که خصوصي یا صنعتي یا سوداګریز*جغرافیایي سرحد داسیا که افغانستان ختیځ که لویدیځ*دنشر موده دتیروڅو کالو لیکنې راوخلی۲-دوهم قدم کې ټاکلې موضوع په اړه مهم ټکي په ګوته کړی--۱-لکه دموسمونو تاثیرات په جرایمودغه موضوع کې موسمونه او جرایم مهم ټکي دي۳-کله چې موضوع کې مهم ټکي په ګوته شو نو بیا دې اړونده مواد پیداکړي چې دې کې تیرو لیکنو ته توجه وکړي چې تیرو لیکنو ته دکتلو لپاره زیاتې سرچینې شتون لري لکه:۱-درسي کتابونه۲-جورنالونه۳-علمي ویب پاڼې۴-تیزسونه. درســي کتابونه یو له شــو منابعو څخه دي۴-دلټون طریقه: په انټرنیټ کې دخپلې ټاکل شــوې موضـــوع لټول*که په کتابونو کې دموضـــوع لټول غواړی نولمړی خپله موضـــوع پوره ولټوی*که جورنال څخه ګټه اخلی لمړی مشـــخص جورنال خلاص کړه په هغې کې لمړی پوره موضوع ورکړی که ونشوه، بیایي مهم ټکي ولټوه ترڅو ټاکل شوې برخه موضوعات پیداکړی ۵-اکثره څیړونکي دنورو څیړونکو پوښـتنه کوي چې څومره علمي څیړنې راجمع کړي، دعلمي څیړنو راجمع کولو لپاره کوم معیار نه دی ټاکل شـــوی خو بیا هم باید دومره زیات نه وي چې راټولول یې امکان ونه لري او نه دومره کم وي چې یو یا دوه لیکنې وي. خو ځینو کتابونو یې حد تر۵۰ پورې ښـــودلی دی*کله دې چې دغه لیکنه پیداکړه الف احمد لیکنه ب محمود لیکنه چې دغه برخه بیبلو ګرافي په نوم یادیږي. ۶-ورپســـې دې راټولې شــوې مقالې او لیکنې له نظر څخه تیرې کړي چې انګلیســې کې ورته سـکیمینګ وایي۷-بیادهرې مقالې اړونده برخې له ځان سـره یاداشـت کړی--سـکیمینګ دراټولو شـولیکنو او مقالو څخه مطلب نقاط یا دموضـوع مطابق نقاط اخیسـتل عبارت دسـکیمنګ څخه دی.کله مو چې راټولې شـــوې مقالې او لیکنې له نظر څخه تیرې کړې بیادهرې مقالې اړونده برخې په لاندې ډول سـره یاداښـت کړی. بیبلوګرافي یاداشـول: په دې برخه کې دمقالې کتاب او نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخو په تړاوو او هغه مکمل معلومات چې دنشر په برخه کې ترې کار اخیستل کیږي. هغه باید ولیکل شي که مقاله وي نو دلیکوال نو م دلیکوال دکورنۍ نوم دنشر تاریخ ولیکل شي. که کتاب وي دکتاب اړوند معلومات له ځان سره ولیکې په دغه برخه (ای پي ای)apaډیزاین څخه ګټه واخلئ۲-دمتن لنډه خلاصه: هرڅه چې لولی په هغې کې اړونده برخې یاداښت په ښه ترتیب او دهغې خلاصه ولیکئ او دا دوخت سپما او زیاته مرسته کوي .نوټ: چې دې سره اړوند موضوع په اسانۍ سره پیداکولای شو۳-تکمیلوونکي معلومات : : په دې برخه کې دلیکنو زیاتې معلومات لکه دکتاب د(اې بي اس این)isbnنمبر اوداسې نور ځان سره ثبت کړئ ددې کارګټه داده چې که انلاین کتاب پیداکول غواړی نو په اسانۍ سره پیداکیږي*دخلاصه کیدو وروسته په منظمه توګه جوړښت ورکړه چې همدغه پروسه چې دې حل کړه دي ته دتیرولیکنو کتنو وایي چې دڅیړنې پروپوزل او دمقالې لیکنه کې ترې ګټه اخیستل کیږي.دلیکلو ارزیابي څپله کیږي.داچې انټرنیټ په واسطه کولای شو چې دیو موضوع په اړوند په لسګونو مقالې یا موضوعات لاس ته راوړو څیړونکی به څنګه وپوهیږي چې اړونده موضوع یا مقاله زما دټاکل شوېموضوع مطابق ده دپورته پوښتنې لپاره کوم معیار نشته خو بیا هم داسې ټکې شته چې لیکوال سره همکاري کوي چې په لاندې ډول دي ۱-کله چې کومه موضوع لولی نو لومړی دڅپلې موضوع پوښتنه او موخو ته وګوره بیا له هغې وروسته موضوع ته وګوره که داموضوع ستا دټاکل شوې موضوع او موخو سره ورته یا نږدې وي نو ویې لوله او که ستا دموضوع مطابق نه وي نوبیا مه لوله۲-که څیړونکی په دې ونه توانیږي چې کیفیت یې معلوم کړي بیادې دنشر جورنال لټه دې وکړي چې دغه جورنال په کومه کټه ګورۍ کې راځي .دتیرولیکنو په اړه مهم ټکې کوم دي۱-تیرولیکنو په اړه مهم ټکې په لاندې ډول دي ۱-دتیرولیکنو کتنه باید په منطقي ترتیب سره ولیکل شي یعنې هغه په څپل فکر کې انځور اوترتیب یې برابر کړي۲-دلیکلو پرمهال دنورو خلکو دکړنو نقل کول یو اساسي شرط دی که دغه کارونه کړي نو څیړونکی دادبې غلا مرتکب شوی ۳-کله چې دتیرو لیکنو کتنه پای ته ورسیده څو ځله یې ځان سره تکرار کړي ترڅو نیمګړتیاوې ترې ختمې شي ۴-ځینو کتابونو کې بیا دتیرولکینو لپاره یوه نقشه جوړیږي او بیا هغې ته په کتو سره دنقشې منځ برخې راخلې او هغې څخه په لیکنه کې ګټه اخلې *مخکې له دې چې څیرونکی دتیرولیکنو دبرخو په اړه لټه وکړي نو لومړی دی دڅیړنې موضوع موخې او څیرنیزه پوښتنه په روښانه توګه وټاکي او همدارنګه په دې وپوهیږي چې ایا زه ددې توانایي دمالي او بدني اړخه لرم چې دغه څیرنه ترسره کړی *دتیرو لیکنوو کتنه په کیفي څیرنه کې دڅیړنیزې ستونزو دپوهیدو په برخه کې مرسته کول او ددې ترڅنګ دڅیرنیزي پوښتنې او فرضیه ټاکلو کې مرسته کوي همدارنګه دمعلوماتو راټولولو او تګ لاره هم داپه ګوته کوي .دڅیړنې پروپوزل: څیرنیز پروپوزل دڅیړنې یوه مهمه برخه ده*څیرنیز پروپوزل هغه پلان دی کوم چې څیرونکی څپله څیرنه څرنګه ترسره


(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي دهغې په اړه معلومات ورکوي.دڅېړنې دپروپوزل اړتیا: ۱-یوه روښانه تګلاره دڅېړنې لپاره برابروي یعنې څېړنه چیرته څنګه او څرنګه ترسـره شـې۲-دتاثیرکوونکي دغوښـتنو سـره ورته والی ولري کوم سـازمان لپاره څېړنه کوي دهغې سـازمان شـرایط په نظر کې ونیسي ۳-دامکان وړ وي: داچې څېړنه یوه پروسه ده چې نوي شیان پکې پیداکیږي نو کله چې یو موضـوع ډېر جالبه وي وي نوهغې برخه کې دڅېړنې عملي کول امکان ونه لري نو همدا وجه ده چې څېرونکی پروپوزل برابروي پکې داپه ګوته کوي چې دغه څېړنه کې دکوم میتود څخه کار اخیسـتل شـوی یا واخلي.دپروپوزل دلیکلو برخې: داچې پروپوزل څرنګه ولیکل شـي په دې تړاوو دوه جوړښـتونه شتون لري۱-هغه جوړښت چې په نړیواله کچه ترې ګټه اخیستل کیږي اوشوي ده۲-هغه جوړښتونه چې هرسازمان دځان لپاره بیل بیل جوړ کړي وي. نوټ: هغه پروپوزل چې په نړیوالو انګلیسـي کتابونو کې ترې یادونه شـوي هغه په خپل وجود کې دعنوان-تایید –څېړنیزه پوښتنه او موخه میتودولوژي –تقسیم اوقات –اواخځلیکونو برخې هریوجلاجلا تشـریح کوي. همدارنګه دڅېړنې عنوان او نوم باید سـاده او لنډ وي همدارنګه څېرونکی هڅه وکړي چې داسې نوم څېړنې ته ورکړي چې لوستونکو پام ځان خوا ته راوړوي او دې ته اړ شـي چې ویې لولي . میتودولوژي *دڅېړنې پروپوزل کې دمیتودولوژي برخه ډېره مهمه ده*دې برخه کې هغه معلومات وي چې څرنګه دغه څېړنه ترسـره کړم دکوم میتود څخه ګټه واخلم *همدارنګه په دې برخې کې هغه معلومات وي چې څرنګه معلومات راټولوي او څرنګه یی پروسـیس کوي*ددې لپاره چې دغه برخه سـمه اوسـي نو څېرونکی دڅېړنیز ډیزاین –ګډوانوالو شـمیر-اخلاق اړخ او تګ لاره ټول روښـانه کول غواړي. تقسـیم اوقات دپروپوزل په دې برخه کې څېرونکی دخپلې څېړنې وخت مقابل لورې ته وړاندې کوي چې دغه څېړنه دومره وخت په برکې نیسـي.لګښـت ؛په دې برخه کې څېرونکی دکوم سـازمان لپاره څېړنه کوي یا داسـې ارګان وي چې څېړنې مقابـل کې څېرونکې تـه مزد ورکوي نو څېرونکی بـایـد لګښـت منظم لسـت برابر کړي.اخځلیکونـه: برخـه: *پروپوزل اخرنی برخـه اخځلیکونـه دي*څېرونکی دکومو منـابعو څخه ګټه واخلي هغه باید دلته ذکر کړي.کله چې څېرونکی دخپلې څېړنې لپاره پروپوزل برابروي دلاندې نیمګړتیاوو له کبله نه قبلیږي.۱-موخه روښـانه نه وي: کله چې پروپوزل کې دڅېړنې موخه او هدف روښـانه نه وي دمقابل لوري لخوا نه قبلیږي۲-کله چې دبیا ټاکل شـوی میتود اواړونده موضـوع ترمنځ توافق سم نه وي معنا داچې---که دغه میتود وکارول شي نو څېړنه به سمه نه وي۳-کومه موضوع چې ټاکل شوي وي هغه ډېره پراخه وي نوپه ټاکلې وخت کې داناشونې وي چې په اړونده برخه کې څېړنه وکړي یا ==کوم تقسیم اوقات چې جوړشـوی وي حقیقت څخه لري وي لکه په یومیاشـت کې دافغانسـتان دولایتونو څخه لومړني لاس معلومات راټولول۴-په ځینو پروپوزلونو کې دمعلوماتو راټولولو تګ لاره سمه نه وي روښانه شوي او هم معلوماتو تحلیل په اړه سم معلومات نه وي راټول شوي چې داهم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپروپوزل دنه قبلیدو سـبب ګرځي. دمتحولونو ټاکل (تشـخیصـول)دمتحولونو ټاکل په څېړنه کې یوه اړینه او مهمه برخه ده دمتحولونو درامنځ ته کولو پروســـه په دواړو کمي او کیفي څېړنو کې شـــته خو په کمي څېړنه کې نظر کیفي ته یو څه زیات کارول کیږي. دمتحول او مفکورې ترمنځ فرق مفکوره خپلـه یوه ذهني انځور یـا درکونـه ده۲-دمفکورې او متحول ترمنځ فرق په اندازه والې کې دی کله چې یوه مفکوره اندازه شــي متحول ترې جوړیږي۳-مفکور ترهغې نه اندازه کیږي چې متحول ترې جوړ نه شــي چې متحول بیا داندازې وړدی . متحول : دڅېړنې دبرخوالو هغه ځانګړنه ده چې مختلف قیمتونه اخلي لکه جندر ښـــځه او نر دوه قیمتونه دي چې دجندر متحول یي اخلي)عمر عایدات او داســـې نور*یا متحول هغه مفکوره ده چې داندازه کیدو وړ وي *هرمتحول باید حد اقل دوه قیمتونه واخلي*متحولونه یواځې داندازه کیدولپاره نه کارول کیږي بلکې داهمغه برخه ده چې څېړونکی په کې لاس وهنه هم کولای شــي. یو څېړنه کې څو متحولونه شـتون باید ولري ځواب: دمتحولونو تعداد هره څیړنه کې دبلې سره فرق کوي چې دغه تعداد هره څېړنه کې دڅېړنیزې موضوع پورې اړه لري کله چې څېړونکی موضـوع وټاکي نوهغې وروسـته دي فکر وکړي چې کوم شـیان دی چې په ترلې متحول تاثیر اچوي له هغې وروســـته دي همغه متحولونو په اړه معلومات ورکړل شــــي. لنډ دول: دمتحولونو تعداد دڅېړنې دموضـــوع تابع دی په دې معنا که یوه موضـــوع دوه متحوله لري خو بله لس متحولونه لري نو څېړونکی باید هڅه وکړي چې اړونده موضـــوع پورې ترلي متحولونـه پـه نظر کې ونیســـي . کـه پـه کومـه څېړنـه کې دمتحولونو تعداد زیات یا کم شــي نوسـتونزه به یي څه وي؟ ځواب داچې څېړونکی غواړي حقیقت ته ځان ورســوي نو که چیرته دمتحولونو تعداد زیات شـــي نواصــلي ځواب څخه کم راځي چې دغه کار دواقعیت دکم اټکلولو سـبب ګرځي خو که دغه تعداد داصـلي حالت څخه کم شـي نو دنورو اټکلونو سـبب ګرځي چې داکار په هغه وخت کې صـورت نیسـي کله چې دوه متحولونه خپل منځ کې یو بل سره خپل منځې اړیکه ولر ي نوټ: کله چې یوه څېړنه کې دمتحولونو شمیر زیات وي په همغه اندازه څېړنه او دمعلوماتو تحلیل سخت وي

(c) ketabton.com: The Digital Library




داندازه کيدو واحد ته په کتو دمتحول ډولونه: ۱-متداوم پرله پسي متحول:هغه متحول دی چې اعشـــاريه لرونکي اعداد په خپل وجود کې قبلوي۲-جلا متحول : هغه متحول ته وايي چې خپال وجود کې اعشـاريه دارقيمتونه نه اخلي لکه جندر کې ځيرونکې نشــي ليکلای چې نيم ســړی چې جلامتحول بيا په دوه ډوله دی۱-دوه قيمته متحول: هغه متحول ته وايی چې خپل وجود کې فقط دوه قيمته اخلي لکه سړی ښځه هوا اونور۲-څوقيمته متحول : هغه متحول دی چې په خپل وجود کې څو قيمتونه اخلي لکه ذده کړي دولسم ،ليسـانس ،ماسـتري، او داسـي نور.۲-دځيرنـې ډيزاين ته په کتو دمتحول ډولونه۱-خصيصه اي متحول: هغه متحول دی چې ځيرونکی په هغې کې لاس وهنه نشـــي کولای چې دغه متحولونه اکثره دخپلواکه متحول په توګه پيژندل کيږي.لکه جندر عمر۲-فعال متحول: هغه متحول ته ويل کيږي چې ځيرونکی په هغې کې لاس وهنه کولای شـــي اويا هغه کنترولولی شـــي۳-معلوماتو ته په کتو دمتحول ډولونه: ا-په دوه ډوله دي چې ځينو کې دکمي او کيفي متحول په نوم هم يادشـــوي۱-طبقاتي متحول: هغه متحول چې ديو ګروپ يا يوه کټګورۍ ځانګړنو پورې اړه لري مثال: دهو او نه پوښـــتنو ته ځواب ويل۲-عددي متحول : عبارت له هغه متحول څخه ده چې په هغه کې معلومات په عددي ډول وي. لکه ، دبازارموندني دلګښـــت تاثيرات په توليدباندې ۴-دعلت اړيکي ته په کتو دمتحول ډولونه : په څلور ډوله دی۱-بيرونی متحول: هغه متحولونه دي چې په شـــکل داشـــکالو خپلواک متحول دتاثير لاندې راولي او اغيز پرې کوي لکه چاپيريال، هوا او داســـي نور۲-مداخله کوونکی متحول: هغه متحول دی چې خپلواکه او تړلي متغييرو ترمنځ اړيکه رامنځ ته کوي۳-خپلواکه متحول: هغه متحول دی چې کوم په يوه پيښـــه حالاتو کې دبدلون راوستلو مسوليت په غاړه لري*خپلواک متحول دتغيير کوونکي متحول په نوم هم يادېږي*کومه څيرنه کې چې خپلواک متحولونه زيات وي په همغه کچه (نيوکې)کچه هم کم

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي خو خپلواکه متحول باید په تړلي متحول تاثیرات ولري مثلا(سوداقتصادي وضعه،کورنۍ تربیه،دخپلواک متحولونو مثالونه دي)۴-تړلی متحول(حاصل متحول)هغه متحولونه دي چې په یوه علمي څېړنه کې دنورو شیانو تغییرات په همدې متحول کې کتل کیږي. تړلي متحول: ته ځکه تړلی متحول وایی چې داخپلواکه متحولونو پورې تړلی وي یا په یوه علمي څېړنه کې پېښه باید یو ه همدغه تړلي متحول تشکیلوي مثال دکارکوونکو مزد دجرایمو کچه داتړلي متحولونه دي. دمتحولونو داندازه ګیرۍ –خپله اندازه کول هغه پروسه ده چې دیو شي اندازه او کمیت په کې پیداکیږي*داندازه کولو نه هدف دلته نومرې(عدد) ورکول دي داچې مونږ دوه ډوله متحولونه لرو یو هغه چې مفعولي شــکل لري په اســانۍ ســره اندازه کیږي. او بل خلکو کې دفاعي بڼه لري اندازه کول یې ســـخت وي نو ددې لپاره لمړی مفکوره په وړو برخو ویشــوو او هغه وړو برخو ته عناصــر پیداکوو او په داســې ډول یې رامنځ کوو چې دښکاره کیدووړ وګرځي*ځینې شیان په اسانۍ سره عدداخلي لکه لوړوالی یا وزن خو ځینې نوریي دعدد په بڼه نه وي لکه (ښــځه یا نر)نو اوس کله چې متحول په معیاري بڼه عددنه اخلي هغه ته مونږ دلیکنو داصــولو له مخې دمعیار په مټ نومرې ورکوو دمفکورې داندازه کولو لپاره څلورمرحلې شتون لري ۱-مرحله:خپله مفکورې رامنځ ته کول په دې برخه کې څېړونکی دخپلې موضوع په اړه پوهه ترلاسه کوي چې په مفهوم یې پوه شي.۲-قدم دهمدغه ټاکل شــوې مفکورې بعدونه وټاکه: دې برخه کې څېړونکی فکر کوي چې کوم شــیان دغه مفکورې ســره پیوســته دي۳-دبعدونو دمشــخصــولو وروســته داندازه کولو په خاطر غنام (شاخصونه)رامنځ ته کول: شاخصونه: هغه مشخص پوښتنې مقیاسونه دي په کوم سره چې ځواب ورکوونکي پو هه اونظریات اندازه کیږي.۴-په تعلیمي جوړشـــت کې ذده کړې یوه مهمه مفکورو څخه ده نوددذه کړې مفکوره باید په بعدونو وویشـــو لکه۱-پوهه۲-دغه پوهه ځان ســره ســاتل۳-دغه ســاتل شــوې پوهې څخه په عمل کې ګټه اخیســتل. داندازه کولو مقیاســونه: مقیاس یوه وســیله یا میکانیزم دی چې دیومتحول په داخل کې دوګړو او شــیانو توپیرونه راپه ګوته کوي چې له یو بل ســـره څومره فرق لري*څېړونکی په مختلفو لارو کولای شي چې متحول اندازه کړي لکه: نومول شوی مقیاس : ترتیبي مقیاس –وقفه لرونکی مقیاس او نســـبتي مقیاس*نومول شـــوی مقیاس او ترتیبي مقیاس دکیفي معلوماتو لپاره او فاصله لرونکی او نسبتي مقیاس دکمي معلوماتو لپاره په کاروړل کیږي نومول شوی مقیاس : یو دســاده ســیســتمونو دمقیاس څخه شــمیرل کیږي*په دغه اندازه ګیرۍ کې څېړونکی یو متحول په دوه ډلو او برخو ویشـــې او هرې برخې ته ؟؟دلیبل په بڼه ورکوي ورکوي ترڅو هغه وپیژنې نومول شوی مقیاس کې کیفي معلومات په کمي معلوماتو بدلوو*دامقیاس دیوشي اړیکه دبل شـــي ســـره نه ښـــایي فقط ددوه برخو توپیر لپاره رامنځ ته کیږي۲-ترتیبي مقیاس :*داترتیب دصــعود څخه دنزول دښــه نه دخراب په لور دلوړ څخه دټیټ په لور او په داســې نورو طریقو ســـره ترتیبیږي.*ترتیبي مقیاس کې دمیډیان څخه کاراخیســـتل کیږي۳-وقفه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرونکی مقیاس په دغه اندازه کې دڅیرونکي دبرخو ترمنځ داصـــولو له مخې مســـاویانه اندازه یو فاصـــله یا وقفه تاکي*په دغه مقیاس کې دپیل اوپای ټکی معلوم او هره برخه یي په مســـاوي برخو تقسـیم شـوي وي همدارنګه په دې مقیاس کې دجمع او تفریق عملیه ســرته رسـیږي .نسـبتي مقیاس: *دغه میتود کې اندازه دتناسـب په واسـطه ټاکې *په دغه مقیاس کې احصـــایوي ازمایښـــتونه ترســـره کیږي*دغه مقیاس دنومول شـــوي ترتیبي وقفه لرونکی مقیاســونو دمیتودونو په ګټه اخیســتو رامنځ ته شــوي. فرضــیه جوړول : عمومي معلومات .دفرضـــیې څخه یواځې په کمي معلوماتو کې ګټه اخیســـتل کیږی۲دفرضـــیې څخه موخه دڅیړنیزې ستونزې واضح کول او مشخصول او په هغې باندې تمرکز کول دي۳-په څیړنه کې یو یا څو فرضـــیي رامنځ ته کولای شـــو . فرضـــیي دګومان په مټ رامنځ ته کیږي. دفرضـیي تعریف: فرضـیه دجمعییت دپرامیترو په اړه ادعا یا انګیرنه ده : یا فرضـیه دیوې پیښـې اړیکې اوحالاتو په اړه یو ګمان –انګیرنه ، شـک یا یو نظر دي کوم حقیقت یا واقعیت چې تردې دمه تاته معلوم نه وي دفرضـــیي اهمیت په لاندې ډول دی ۱-فرضـــیه څیړنیزه ستونزه روښانه او مشخصوي۲-دفرضیي رامنځ ته کول څیړونکي سره مرسته کوي چې کوم ډول معلومات راټول او کوم ډول معلوماتو راټوللو څخه ډډه وکړو۴-دفرضیي رامنځ ته کول دڅیړنې اهمیت لوړوي دفرضـــیي ځانګړتیاوی۱-فرضـــیه باید روښـــانه او دقیقه وي څیړونکی باید هڅه وکړي چې فرضیه داسې ترتیب کړي چې دپوهیدو وړوي ۲-فرضیه باید دازمایښت وړوي څیړونکی باید فرضیه داسې ترتیب کړي چې دازمایلو وړ وي۳-فرضـیه باید مشـخصـه وي څیرونکی باید دا هڅه وکړي چې فرضـیه وړه اومحدوده کړي۴-فرضـیه باید دمتحولونو ترمنځ اړیکه په ګوته کړي. دفرضـــیي ډولونه۱-جهت لرونکې فرضـــیه : عبارت دهغې فرضـــیی څخه دی چې دخپلواک متحول تاثیرات یا دارتباط جهت په تړلي متحول باندې معلوم وي یا ===هغه فرضـــیه ده چې ددوه متحولونو ترمنځ اړیکه (مثبته منفي)بیانوي۲-جهت لرونکې فرضـیه : هغه فرضـیه ده چې دیو متحول اړیکه یا توپیر دبل سره ښایي خو دمتحولونو لار ې نه په ګوته کوي.

پای

۶/۵/۱۴۰۱نیټه

ماسپښین مهال

یارمحمد شیرزی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**